د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې
د جوړېدو د دويمې کليزې په ويار

# افغانستان په شلمه پېړۍ کې

(د پوهنيز سيمينار د ليکنو ټولګه)

جرمني د کولن ښار

۱۳۷۸ کال

ACKU

PROPERTY OF ARIC
Established 1985

# افغانستان

## په شلمه پېړۍ کې

(د پوهنیز سیمینار د لیکنو ټولګه)

PROPERTY OF ACKU

جرمني - د کولن ښار

فروشگاه کتاب الازهر
مؤسسه نشر و پخش کتب فارسی
دهکی نعلبندی بازار قصه خوانی
پشاور پاکستان- تلفن :2564414
E-mail: alazhar@psh.paknet.com.pk

۱۳۷۸ل کال

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00008667 7

ARIC

## کتاب پیژندنه:


د کتاب نوم : افغانستان په شلمه پېړۍ کې

څرنګوالی : (د پوهنیز سیمینار د لیکنو ټولګه) [بېلا بېل لیکوال].

خپرندوی : د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه – جرمني

د خپرونو لړ : (۱۱).

مهتمم : حفیظ الله غښتلی.

چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه.

چاپ نېټه : ۱۳۷۸ل – ۲۰۰۰م کال.

کمپوز : ایشیاسافټ.


د چاپ حقوق له [خپرندویې ټولنې] سره خوندي دي.


بیه : په افغانستان کې (   ) افغانۍ

په پاکستان کې (۵۰) روپۍ.

په نورو هېوادو کې (   ) ډالره او یا د هغو انډول.

بسم الله الرحمن الرحیم

ACKU

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | لیکوال او ویناوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱. | سریزه | —— | ۱ |
| ۲. | د ټولنې د مشرتابه جرګې په استازیتوب وینا | زرین انځور | ۲ |
| ۳. | په شلمه پېړۍ کې د افغانستان لنډ پېښلیک | غوث خیبري | ۷ |
| ۴. | پرافغانستان دانګریزانو او شورویانو د یرغلونو پرتلیزه څېړنه | پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ | ۳۴ |
| ۵. | په شلمه پېړۍ کې د افغانستان د سیاسي نهضتونو او | | |
| ٦. | بهیرونو تاریخي څېړنه | پوهاند ډاکتر حبیب الله تږی | ۴۹ |
| ۷. | په شلمه پېړۍ کې افغان اردو او ملي دندې یې | جنرال رحمت الله سنړی | ۵٦ |
| ۸. | نقش اقوام در پروسه تشکیل ملت در تاریخ معاصر افغانستان | پوهنوال ډاکتر روستار تره کی | ۸۵ |
| ۹. | په شلمه پېړۍ کې د افغانستان قوانینو ته یوه لنډه کتنه | پوهاند قانونپوه ډاکتر بورګی | ۱۰۰ |
| ۱۰. | په شلمه پېړۍ کې د افغانستان د ښځو د نهضت څرنګوالی | صالحه خالقي | ۱۲۸ |
| ۱۱. | په شلمه پېړۍ کې د افغانستان کتاب پېژندنه | حبیب الله رفیع | ۱۵۲ |
| ۱۲. | شلمه پېړۍ او د افغانستان سیاسي بدلونونه | محمد ګل وطنپال دیانی | ۱٦۲ |
| ۱۳. | په شلمه پېړۍ کې د افغانستان بهرنی سیاست | نبي مصداق | ۱۷۳ |
| ۱۴. | شلمه پېړۍ او افغاني مطبوعات | ډاکتر داود جنبش | ۱۹۰ |
| ۱۵. | توسعه و رشد فرهنگی افغانستان در سدهٔ بیستم | آذرخش حافظی | ۱۹۷ |
| ۱٦. | په شلمه پېړۍ کې د هېواد اقتصادي سیاست ته یوه کتنه | شریف بهاند | ۲۱۳ |
| ۱۷. | غازي امان الله خان دخپل عصرددوو تاریخي نادودوپه وړاندې | ع. ترنک | ۲۴۷ |
| ۱۸. | ایران او د افغانستان له خپلواکۍ سره مخالفت | ډاکتر طارق رشاد | ۲٦۰ |
| ۱۹. | سالگرد پیروزی استقلال معضلهٔ ما | پوهاند داکتر روستامل | ۲٦۲ |
| ۲۰. | له افغانستان نه د کندهار ۸۸۸ ورځنی بېلتون | ډاکتر نثار احمد صمد | ۲٦۷ |
| ۲۱ | په لرې او برې پښتونخوا کې د روڼ فکرانو سیاسي... | ډاکتر رحمت ربي زیرکیار | ۲۸۰ |

# سریزه

سږ کال له انګرېزي ښکېلاك څخه زموږ د تاریخي وطن د سیاسي خپلواکۍ د بېرته ګټلو اتیایمه کالیزه ده. دغه ورځ زموږ د تاریخ د ویاړ یو ځرکی دی. زموږ هېواد چې د خپل تاریخ په اوږدو کې یې هېڅکله هم کوم پردي یرغلګر ته د تسلیم سر نه دی ټیټ کړی او تل یې په جګړو او مبارزو کې خپل ازاد دریځ او د خپلې خپلواکۍ ثبوت وړاندې کړی دی. په دغه تاریخي ورځ خپله یرغلګر هم دې ته اړ شول چې د دوی خپلواکي په رسمیت وپېژني او بیا چېرې هم دغه د زمرینو کور ته په کږو و نه ګوري.

په جرمني کې مېشتې، "د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې" د روان کال د اګست په میاشت کې د کولن په ښار کې د هېواد د سیاسي خپلواکۍ د بېرته ګټلو د اتیایمې کالیزې په ویاړ یو علمي سیمینار جوړ کړی و، چې "افغانستان په شلمه پېړۍ کې" سرلیك یې لاره. موږ په سیمینار کې ژمنه کړې وه، چې د سیمینار د مقالو ټولګه به خپروو. زموږ لپاره د خوښۍ ځای دی چې هغه ژمنه سر ته رسوو او د دغه دړانده علمي سیمینار د مقالو ټولګه دا دی تاسې ته وړاندې کوو.

د دغه اثر د چاپ لپاره ښاغلي علي محمد مجبور درې سوه مارکه مرسته کړې ده، چې موږ ترې مننه څرګندوو. د کتاب د چاپ پاتې لګښت د ټولنې له پانګې برابر شوی دی.

موږ هیله من یو چې د دغه اثر مقالې به په شلمه پېړۍ کې د افغانستان د ولس د ژوند د ځینو مهمو اړخونو د هنداري په توګه ارزښتمن وي او په تاریخي علمي څېړنو کې به یې یو شمېر نوي ټکي وړاندې کړي وي.

*په درنښت*

*د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه*

*جرمني*

۱۹۹۹/۱۰/۹ ع



ACKU

د ټولنې د مشرتابه جرګې په استازيتوب
د زرين انځور پرانيستونکې وينا

# د لوی او مهربان خدای په نامه

درنو هېوادوالو؛ ګرانو دوستانو، قدرمنو خوېندو او ورونو، نن دلته د دوو سترو مناسبتونو په وياړ سره را ټول شوي يوو، له يوې خوا د زمري د ۲۸ له انګريزي يرغلګرو څخه د افغانستان د سياسي خپلواکۍ د بېرته ګټلو د ورځې وياړلې ياد دی او له بلې خوا په تېره يوه پېړۍ کې د افغانستان د تاريخ د لوړو ژورو يو شمېر بنستيزو اړخونو ته د تمېدنې تامل او غور امکان برابر شوی دی.



د افغانستان په تاريخ کې د خپلواکۍ د بېرته ګټلو ورځ زموږ او زموږ د راتلونکيو نسلونو لپاره بايد د وياړ د يوې ورځې په توګه پوره ارزښتمنه او درنه وي.

موږ په دغه ډول يادونو کې بايد د هېواد راتلونکي نسلونه د خپلواکۍ له سپېڅلو ولولو سره ورو‌زو. سږ کال له هغې سترې تاريخي پېښې څخه پوره اتيا کاله تېرېږي او لازمه وه چې دغه ورځ د ټولو افغانانو د پرتم په توګه ځلول شوې وای.

ACKU

د انګرېزي ښکېلاک پر ضد، زموږ د ولس مبارزې، سرښندنې او جګړې، زموږ د تاریخ د پانو ښکلا جوړوي. دغه ښکلا سره له دې چې د سرښندنو په سرو وینو کښل شوې ده، خو تقدس او پرتم یې د یوې معنوي - ملي ښکلا زېرې له ځانه سره لري.

د افغانستان د تاریخ د نولسمې پېړۍ دویمه نیمایي او د شلمې پېړۍ د پیلامې کلونه له انګرېزي ښکېلاک سره زموږ د ولس د ډغرو او جګړو کلونه دي. دا خبره به تاسې ټولو ته ځرګنده وي، چې د یرغل په دغو ټولو کلونو کې هېڅکله هم افغانستان په بشپړ ډول د چا په منګولو کې ښکېل نه و، دغه ولس تل د انګرېزي یرغلونو په وړاندې په مېړانه جنګېدلی او ځان یې د چا "مستعمره" کړی نه دی. د ۱۲۹۸ المریز (۱۹۱۹ع) کال د افغان او انګرېز دریمه او وروستۍ جګړه هم په پیل کې د بشپړې سیاسي خپلواکۍ لپاره او د نولسمې پېړۍ د راپاتې میراث یعنې د انګرېزي ښکېلاک له خوا د افغانستان له خاورې څخه د یوې برخې د پرې کولو پر ضد یو عمومي پاڅون، جهاد او غزا وه. د دغه پاڅون دویمه موخه سره له دې چې تر سره نه شوه، خو انګرېزان له افغانانو سره خبرو ته کښېناستل او په پای کې د افغانستان بشپړه سیاسي خپلواکي هم په رسمیت وپېژندله او دغه پېښه زموږ په تاریخ کې د ویاړ یو ځپرکی دی.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې وټېیله چې د هېواد د سیاسي خپلواکۍ د بېرته ګټلو د اتیایمې کالیزې په ویاړ هم یو علمي سیمینار جوړ کړي او هم د جشني لمانځنې د عنعنې پر لور یو ګام واخلي او کلتوري او هنري اړخونه هم په دغه لمانځنه کې په نظر کې ولري.

ځرنګه چې شلمه پېړۍ د پای ته رسېدو خوا ته نږدې کېږي، موږ غوره وګڼله چې په دغه پېړۍ کې زموږ د ولس د ژوند بېلا بېلو اړخونو په اړه پوهان، مورخان او څېړونکي خپلې خپلې لیکنې او څېړنې وړاندې کړي.

شلمه پېړۍ د ټولې نړۍ د ژوند په بهیر کې د پوره زیاتې پاملرنې وړ ده. په دغه پېړۍ کې بشریت له مادي اړخه پوره زیات پرمختګ وکړ او د نوي تمدن او تخنیک دغنې پېړۍ د ژوند پر بېلا بېلو اړخونو خپل اغېز جوت کړ. له مادي ګرېدي پرمختګ سره سره، له بده مرغه دغې پېړۍ ټول بشریت ته، د نېکمرغۍ پر ځای، له ځان سره بدمرغي راوړې وه. بېلا بېلې سیمه ییزې جګړې، قومي او ملي کرکې او شخړې، دوه سترې نړیوالې

جګړې، د دوو زبرځواکونو تر منځ اوږد. سترې کوونکې سيالي او سوړ جنګ او پر بېوزلو ولسونو د دوی د ساړه جنګ، اورني اثرات او نورې ډېرې بدمرغۍ د شلمې پېړۍ ډالۍ وې.

شلمه پېړۍ زموږ د هېواد لپاره هم د اوږدو ځميزو پېړۍ ده. د دې پېړۍ په پيل کې د انګريزي يرغل پر ضد او په وروستيو کلونو کې يې د روس د سرو يرغلګرو پوځونو په وړاندې د ولس سپېڅلی جهاد او غزا زموږ د مېړني ولس د سربښندنو په زړه پورې بابونه دي. د روس د سره لښکر د يرغل اغېزې لا تر اوسه هم زموږ د زخمي خو اتل ولس پر بدن څرګندې دي او لا نښې نښانې يې هم بشپړې نه دي ورکې شوې.

"د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې" د مشرتابه جرګې د کار ډلې له نن څخه څلور مياشتې وړاندې د هېواد له يو شمېر پوهانو او څېړونکيو څخه په شلمې پېړۍ کې زموږ د هېواد د حالاتو په بېلا بېلو اړخونو د ځانګړيو مقالو غوښتنه وکړه، له نېکه مرغه له يو څو پوهانو پرته چې ځانګړې بوختياوې يې لرلې، نورو ټولو پوهانو او څېړونکو زموږ غوښتنې ته مثبت ځواب راکړ او خپلې ژورې او هر اړخيزې مقالې يې راولېږلې. تر اوسه پورې موږ ته د هماغه جوړ کړي پروګرام له مخې د دغو دوستانو مقالې را رسېدلې دي:

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ، پوهاند ډاکټر حبيب الله تږی، جنرال رحمت الله ساپی، پوهنوال ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی، قانونپوه پوهاند ډاکټر محمد طاهر بورګی، ښاغلی نبي مصداق، ښاغلی حبيب الله رفيع، ښاغلی آذرخش حافظی، ډاکټر داود جنبش، مېرمن صالحه خالقي، ښاغلی محمد شريف بهاند، ښاغلی محمد ګل وطنپال ديانی، ښاغلی غوث خيبري، ع. ش ترنګ، ډاکټر نثار احمد صد او ډاکټر رحمت ربي زيرکيار.

"د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه په دې برياله شوه، چې د خپلواکۍ د دغې نېکمرغې کاليزې په وياړ يو شمېر خورا مهم کتابونه چاپ کړي. موږ د دغې کاليزې لپاره خپل ولس ته پينځه سترې ډالۍ لرو:

**لومړۍ ډالۍ:** په افغانستان کې توپان: د هېواد د نومالي ليکوال ښاغلي غوث خيبري مهم اثر دی چې د ارواښاد داود خان د دورې په ګډون

د وطن د شل کلني غميزې يو په زړه پورې تاريخ دی، د غه اثر ټولنې په (۵۰۰) مخونو کې د همدې سيمينار لپاره چاپ کړ.

**دويمه ډالۍ**: د شلمې پېړۍ تر نيمايي د افغانستان د بهرنيو اړيکو تاريخ، د نامتو اتريشي الاصله امريکايي افغانستان پوه لوډيك اډاميك څېړنيز اثر دی چې ښاغلي ډاکټر نثار احمد صمد ژباړلی او په (۶۰۲) مخونو کې چاپ شوی دی.

**درېيمه ډالۍ**: د مشهور انګريز سراولف کارو هغه تحقيقي تاريخي اثر چې په ټوله نړۍ کې د پښتنو د تاريخي – کلتوري څېړنې په لړ کې د شهرت لرونکی و او سرليك يې و: پښتانه (پټانز). له نېکه مرغه زموږ ټولنه په دې بريالۍ شوه چې دغه مشهور اثر په (۷۴۷) مخونو کې د دغې کاليزې په وياړ خپور کړي. دغه اثر د الحاج تورن جنرال شېر محمد کريمي له خوا ژباړل شوی دی.

**څلورمه ډالۍ**: په افغانستان کې رښتيا څه تېرېدل؟ د شوروي پوځونو د يوې وتلې څېرې او د يرغل په پيلامه کې په افغانستان کې د شوروي د لوی پوځي سلاکار ستر جنرال مايوروف خاطرات دي چې د ښاغلي ډاکټر داود جنبش په قلم ژباړل شوي او د دې سيمينار په وياړ په (۴۱۰) مخونو کې خپور شوی دی. په دغه کتاب کې د لومړي ځل لپاره د يرغل د روسي واکدارانو او د هغوی د افغاني نانځکو په اړه د پردې تر شا ټولې خبرې را څرګندې شوې دي.

**پينځمه ډالۍ**: افغانستان په شلمه پېړۍ کې: د همدغه سيمينار د مقالو او ويناوالو ټولګه ده چې د دغې درنې غونډې له پای ته رسېدو سره سم به يې چاپ ته لېږو.

په دې ډول موږ د دغې کاليزې نمانځنې ته د (۲۲۵۹) په ټوليز شمېر مخونه چاپ او خپاره کړي دي. د دغو کتابونو د چاپ زيارکښ مسوول ښاغلی پوهنيار محمد اسماعيل يون راته له پېښوره په يو ليك کې ليکلي دي: "د دې څلورو غبرګو زامنو (څلورو کتابونو) چاپ زموږ په فرهنګي تاريخ کې يوه بې سارې مثبته پېښه ده. زه يې د ټولنې ټولو درنو غړيو او د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته ګټلو د اتيايمې کاليزې په وياړ په دغه بختور سيمينار کې ټولو برخوالو ته مبارکۍ وړاندې کوم."

زه د ټولنې له اړخه د ښاغلي یون او نورو ټولو هغو دوستانو له هلو ځلو څخه مننه کوم چې د دې کتابو په چاپ کې یې تر سره کړې دي. دغه راز زموږ هغه دوستان هم د پوره ستاینې وړ دي چې د دغو کتابونو په چاپ کې یې مالي مرسته کړې ده.

درنو پوهانو، قدرمنو دوستانو؛

د ټولنې د مشرتابه جرګې په استازیتوب له ټولو هغو دوستانو څخه چې له شاوخوا اروپایي هېوادونو څخه دغې غونډې ته راغلي دي، د زړه له کومې مننه، دغه راز له هغو هېوادوالو څخه چې د جرمنې له لرې او نږدې ښارونو څخه راغلي هم مننه لازمه ګڼم. په دغه ګڼ شمېر کې ستاسې له ولولو ډک ګډون له خپل غم ځپلي خو ګران هېواد سره د ژورې مینې یوه ژوندۍ بېلګه ده.

هغو ټولو دوستانو ته کوروداني وایم چې د سیمینار لپاره یې مقالې رالېږلې دي. هغه ټول کسان هم د پوره ستاینې وړ دي چې د سیمینار د جوړېدو په ټولو هلو ځلو کې یې ونډه اخیستې ده. د ټولنې د کار د ډلې هر اړخیزې هڅې په هېڅ ډول د هېرولو نه دي.

په یو ازاد، سرلوړي، ملي اسلامي متمدن افغانستان کې د ټولو خورو ورو افغانانو د بېرته راټولېدلو او ګډ خوږ ژوند په هیله. له تاسو ټولو څخه یو ځل بیا دلته د راتګ له امله مننه کوم او هیله لرم چې د سیمینار علمي مقالې او ویناوې او دغه راز د غونډې دویمه کلتوري برخه ستاسو لپاره په زړه پورې وي.

د اروانښاد استاد الفت وینا:

یو پټ غلی احساس دی چې ارام مې نه پرېږدي
په اور مې کړوي لکه چې خام مې نه پرېږدي
جرئت مې زیاتوي دومره په ځان یمه پوه شوی
غافل له خپله حقه او غلام مې نه پرېږدي

*مننه.*

غوث خيبري

# په شلمه پېړۍ کې د افغانستان لنډ پېښليک

د تاريخي حقايقو له مخې، د افغان ولس لپاره د شلمې پېړۍ پيل او د ۱۹ پېړۍ وروستي کلونه د کړاو او ناخوالو دوام و. امير عبدالرحمن خان په دغو کلونو کې د خپلې ۲۱ کلنې واکمنۍ وروستۍ مياشتې تېرولې او په هېواد کې ډېرې خواشينوونکې تاريخي پېښې له



همدې وخت څخه رامنځته کېږي چې په لنډيز سره يې دلته يادونه کوم.

**امير عبدالرحمن خان هوښيارخومستبد واکمن** (۱۸۸۰-۱۹۰۱م)

ايا د دغه امير واکمني د روسانو او پېرنګيانو د سازش نتيجه وه؟ د دې پوښتنې ځواب د امير عبدالرحمن خان په خپله وينا کې تر ټولو ښه موندل کېدای شي، نوموړی په خپل ژوندليک کې داسې وايي:

"د ۱۲۹۷هـ کال د جمادی الاول په مياشت کې، (ګريفن صاحب) يو ځل بيا ما ته ليک راواستاوه او غوښتنه يې وکړه چې بايد کابل ته لاړ شم او د افغانستان د سلطنت واکې په خپل لاس کې واخلم. د ۱۲۹۷ هـ ل کال د شعبان په مياشت کې چې ټول سرداران او د افغانستان د قومونو مشران حاضر وو، زه په چاريکار کې په اميرۍ ومنل شوم. ګريفن صاحب پر دې

وخت په کابل کې د انګریزي صاحب منصبانو او د افغانستان د سردارانو په حضور کې یوه غونډه جوړه کړې وه او هغه په همدې غونډه کې زما امارت اعلان کړ." (تاج التواریخ، لومړی توك، ۱۶۲-۱۶۵ مخونه)

امیر عبد الرحمن خان د ژوندلیك په یوه بل ځای کې وایي: "زه سردار عبدالرحمن خان خپل محترم دوست ګریفن صاحب، د برتانیای عظمی د دولت استازی ته خپل ډېر ډېر سلامونه رسوم، دا چې تاسې پوښتنه کړې چې څنګه له روسیې نه قطغن ته را رسېدلی یم، عرض کوم چې ما د روس د دولت د فرمانفرما جنرال کافمن په اجازه او موافقه د هېواد په لوري حرکت کړی دی. (تاج التواریخ، ۱۶۲ مخ، په فرانسه کې د افغانستان د فرهنګ د ټولنې چاپ)

نوموړی امیر چې د روسانو او پېرنګیانو د باور نه په ګټه اخیستو امارت ته رسېدلی و، د ژوند تر پای پورې د برتانوي ښکېلاك دوست او د ازادۍ غوښتونکو او د هېواد د قومي مشرانو دښمن پاتې شو. امیر د هغو سترو ملي شخصیتونو او اتلانو په ضد ودرېد چا چې د برتانوي ښکېلاك خلاف مبارزه کوله. لکه د میوند فاتح غازي محمد ایوب خان، د پېرنګیانو دښمن غازي محمد جان خان وردګ، ورور یې محمد افضل خان، عصمت الله خان جبارخېل، بهرام خان جبارخېل، ارسلا خان او نور چې نومونه یې د هېواد د تاریخ په پاڼو کې شته دي. سربېره په دې عبدالرحمن خان د مجاهدو دیني شخصیتونو سره هم دښمني لرله، ځکه چې دغو شخصیتونو د برتانوي ښکېلاك خلاف خپله توده مبارزه مخ په وړاندې بېوله چې له دې جملې نه د ملا دین محمد چې په ملا مشك عالم مشهور و، نوم د یادولو وړ دی. امیر دغه انګریز دښمن غازي د ملا موش عالم په نوم یاداوه. (افغانستان در مسیر تاریخ، غبار، ۲۰۵ مخ)

**امیر عبدالرحمن خان او د افغانستان د خاورې تجزیه:** که څه هم کورنیو او بهرنیو تاریخ لیکونکیو امیر د یو هوښیار لیکن مستبد پاچا په نوم یاد کړی دی، خو د همده د واکمنۍ په دوره کې د افغاني خاورې یوه غټه برخه روسانو او پېرنګیانو وشوکوله چې دلته یې لنډه یادونه کېږي:

پر ۱۸۸۵ کال روسانو د پنجده سیمه د افغاني خاورې نه بېله کړه، پر ۱۸۹۳ کال امیر د انګریزانو سره د ډیورنډ کرښه لاسلیك کړه، چې د

افغانستان ډېرې سرحدي سيمې له دې هېواد څخه جلا کړای شوې او دغه برخې بيا پر ۱۹۴۷ کال د پېرنګيانو تر وتلو وروسته پاکستان ته پاتې شوې. برتانوي سياست پوه او مورخ (سرفرايزر تيتلر) په خپل ليکلي کتاب (افغانستان) کې د ډيورنډ کرښې په هکله داسې وايي:

"د ډيورنډ کرښه، د محاسنو پرځای عيبونه زيات لري او د اتنوګرافی (خلك پېژندنې) پوځي او جغرافيايي او نورو له نقطه نظره يوه غير منطقي کرښه ده. دغه کرښه له امير عبدالرحمن خان سره د مصالحې يو وچ سمبول او د بې منطقی د سياست يوه ځرګنده بېلګه ده." *(افغانستان، ۹۸ مخ، د لندن چاپ، ۱۹۵۰ کال).*

**د امير د واکمنی د وخت مهمې جګړې او پېښې:** که څه هم د امير عبد الرحمن خان د واکمنی زيات کلونه په جګړو تېر شول، خو په دې بريالی شو، چې په هېواد کې د لويو فيوډالانو ځواك پای ته ورسوي او اوسنی افغانستان د ټاکلو سرحدي کرښو په چوکاټ کې افغانانو ته په ميراث پرېږدي او سوله په هېواد کې خوندي کړي. امير په خپله دغه لاندې جګړې مهمې ګڼلې او په خپل ژوندليك کې يې د هغو يادونه کړې ده:

پر ۱۲۹۶ل له غازي محمد ايوب خان سره جګړه، په همدې کال کې د سيد محمد کونړي سره جګړه چې د وزير غازي محمد اکبر خان زوم و.

پر ۱۳۰۰هـ د زرمت او منګلو له قومونو سره جګړه، پر ۱۳۰۱هـ د ميمنې له والي دلاورخان سره جګړه چې خپل استقلال يې اعلان کړی و.

پر ۱۳۰۵ هـ له سردار محمد اسحق خان سره جګړه، پر ۱۳۰۸، ۱۳۰۹ او ۱۳۱۰ د هزاره جاتو جګړه چې څلورمه لويه کورنی جګړه وه.

پر ۱۸۸۷ کال د افغانستان د شمالي سرحدي کرښې ټاکل کېدل. پر ۱۸۸۸ کال د غلجيانو پاڅون، پر ۱۸۹۲ د شينوارو پاڅون. پر ۱۸۹۶ له آمو نه تر هريرود پورې د واخان د سرحد ټاکل کېدل.

په هېواد کې دننه نوموړي امير د يوې کلکې مطلق العنانې ادارې خاوند و، څکه خو ورته مخالفينو د مستبد نوم ورکړ، خو دی په خپل ژوندليك کې وايي چې د وخت شرايطو او غوښتنو دی مجبور کړی و چې دغسې اداره ولري او ښايي هغه تر يوه حده حق په جانب هم وي. نوموړی امير له استبداد سره سره د هېواد په ټولنيزو، صنعتي او اقتصادي چارو کې هم زيات بدلونونه راوستل چې ده په خپل ژوندليك او د هېواد

مورخانو په خپلو تاريخي څېړنو کې د هغو يادونه کړې ده. دی په خپله د دې حقيقت يادونه کوي چې د لومړي ځل لپاره يې بهرني ماهران هېواد ته د کارونو د ښودلو په مقصد راوستل. همدغو ماهرانو د صنعت او حرفت په برخه کې خپله پوهه افغاني ځوانانو ته ور زده کړه. امير د لومړي ځل لپاره په هېواد کې د مارتيني او شنايدر ټوپکونو لپاره د د کارتوسو جوړولو فابريکه په کار واچوله. د خرادۍ ستر ماشينونه، د برګس د ذخيره کولو ماشين، د توپونو جوړولو، د بوټ ګنډولو او سراجۍ د باروتو جوړولو صابون جوړولو ماشينونه، د سکې وهلو يا ضراب خانې ماشين، د ځرمنې د پخولو او رنګولو ماشينونه، د کرنې او باغوانۍ سامانونه، د معدني ډبرو د اوبه کولو او فلزو توليدولو کورې، د سترو توپونو د جوړولو لپاره او داسې نور او نور په کار واچول. (تاج التواريخ، ۲۲ مخ).

همدغه ډول امير عبدالرحمن خان يوه نوې دولتي اداره منځ ته راوړه، چې عدلي محکمې، پوځي، طبي، د ودانيو جوړولو او معدني چارې يې په نويو طريقو سره پر مخ بيولې. د تجارت زده کړې، پسته خانو او نورو برخو کې هم نوښتونه وليدل شول.

راښئ چې د امير عبدالرحمن خان په هکله د افغان دښمن ايراني مورخ او ديپلومات سيد مهدي فرخ د (تاريخ سياسي افغانستان) د کتاب د ليکونکي نظر واورو، دی وايي: "امير عبدالرحمن خان د افغانستان يوازينی هوښيار، مدبر، عاقل د فکر ور خاوند امير و او د ده د عملياتو برکت و چې زوی يې امير حبيب الله خان په دې بريالی شو چې ۱۸ کاله امارت وکړي." (د کتاب ۴۲۲ مخ) امير پر ۱۹۰۱ کال مړ شو.

## د امير حبيب الله خان امارت او تاريخي پېښې ۱۹۰۱-۱۹۱۹:

امير عبد الرحمن خان تر ۲۱ کالو واکمنۍ وروسته پر ۱۹۰۱م کال وفات شو. نوموړي د راتلونکي لپاره خپله هيله داسې څرګنده کړې وه: "هيله لرم، زما ولس پوره شعور او ځواک ولري او زما هغه زوی چې د پاچا کېدلو د درونډ مسوليت د اخيستلو قابليت ولري، د افغانستان په کورنيو چارو کې د بهرنيانو له لاسوهنې پرته په پاچاهۍ وټاکي." (تاج التواريخ، ۲ ټوک ۹ مخ). ليکن داسې ونشول او د پاچا په ټاکنه کې ولس ته کوم حق ور نه کړای شو او برتانوي ښکېلاک د پخوا په شان د افغانستان په کورنيو چارو

کې ډېر فعال لاسوهونکی پاتې شو او امیر حبیب الله خان هم د برتانیې له دربار سره خپله دوستي نوره ټینګه کړه. حبیب الله خان په داسې وخت او شرائطو کې امارت ته ورسېد، چې په هېواد کې د سر سړی نه و پاتې او ۱۸ کاله یې په چوپ او خاموش افغانستان کې پاچاهي وکړه. امیر حبیب الله خان د ځینو تاریخ لیکونکیو له خوا یو عیاش او په لهو ولعب کې ډوب پاچا ښودل شوی دی. لیکن حقیقت دا دی چې نوموړي هم ځینې نوښتونه کړي او د خپل امارت په دوره کې یې مخ په وړاندې قدمونه اخیستي دي، که څه هغه د پوهې طبقې لپاره د قناعت وړ نه دی پېژندل شوی، چې دلته ورته لنډې اشارې کوو.

"امیر حبیب الله خان د خپل امارت په دوره کې د انګریز پلوی سیاسیت او د برتانوي له دربار سره د نژدې اړیکو درلودلو له کبله د هېواد د روښانفکرې او ازادۍ غوښتونکې طبقې یا قشر له کلک مخالفت او ضدیت سره مخامخ و او همدوی د افغانستان د لومړي او دویمې مشروطې بنسټ کېښود، چې زموږ د تاریخ یو ځلانده څپرکی جوړوي او همدغه غورځنګ د نوموړي امیر د امارت یوه ځانګړتیا ګڼل شوې ده. بهرني او کورني تاریخ پوهان عقیده ښکاره کوي چې امیر حبیب الله خان د مشروطیت د غورځنګ د یوه غړي (شجاع الدوله) په لاس شهید کړی شو. که څه هم ځینې بهرني او کورني لیکوال د امیر په وژنه کې د محمد نادرخان، سردار احمد شاه خان، سردار شاه ولیخان، علیاحضرت سرورسلطان د امیر مېرمن او د امیر امان الله خان د مور نومونه هم اخلي.

(تاریخ سیاسي افغانستان، فرخ، ۴۳۲ مخ، د ایران چاپ)

پوهاند عبدالحی حبیبي لیکي پر ۱۹۰۳ د هېواد یو شمېر روښانفکرانو او پوهانو، امیر حبیب الله خان ته وړاندیز وکړ، چې د افغاني پوهانو یو انجمن (ټولنه) دې منځ ته راشي، چې په کابل کې د (سراج الاخبار افغانستان) په نوم یوه اوونۍ ورځنۍ جریده خپره کړي. شاه اقاسي عبدالقدوس خان (اعتماد الدوله) په دې اړوند شاهي هدایات په خپل قلم ولیکل او هغه ټولنه جوړه شوه. د ټولنې مشر مولوي عبدالروف خان کندهاری چې خاکي تخلص یې کاوه او نومیالی علمي شخصیت و. وټاکل شو او د سراج الاخبار افغانستان د جریدې لومړۍ ګڼه پر ۱۲۸۴ کال د مولوي خاکي په مدیریت چې د شاهي مدرسې سرمدرس او د حضور ملا

و، چاپ او خپره شوه. (جنبش مشروطیت در افغانستان، ۲۵ -۲۹ مخونه، د ایران چاپ). په دې وخت کې د هېواد د ژورنالیزم پلار محمود طرزي هم له شام نه هېواد ته راستون شوی و، چې د جریدې د خپرولو په کار کې ورنه مشوره واخیستل شوه.

په ۱۹۰۳ کال د حبیبیې ښوونځی جوړ شو، په ۱۹۰۵ کال د سراج الاخبار جریده د دویم ځل لپاره خپره شوه، ځکه چې مخکې د یوې ګڼې تر خپرېدو وروسته بنده شوې وه. په همدې کال امیر د برتانوي هیئت له مشر ویلیام دین سره یو تړون لاسلیك کړ، چې د وطنپرستانو د غوسې موجب شو.

په ۱۹۰۷ کال امیر حبیب الله خان د هند د وایسرا په بلنه هند ته سفر وکړ، په همدې کال (۱۹۰۷) د جبل السراج د برېښنا فابریکه په کار واچول شوه او هم د کندهار د نهر سراج د جوړېدلو کار پیل شو. د هېواد د زړو لویو لار ترمیم او د نویو لویو لارو جوړېدل هم شروع شول.

په ۱۹۰۹ کال حبیب الله خان د مشروطه غوښتونکیو یوه ډله اعدام کړه. په همدې کال (۱۹۰۹) په کابل کې حربي ښوونځي تاسیس شو. په ۱۹۱۱ د محمود طرزي په چلونه د سراج الاخبار افغانیه جرېدې بیا خپلې خپرونې پیل کړې. په ۱۹۱۲ کال د راهدارۍ، واده او فاتحې نظامنامې جوړې او د عمل ډګر ته راووتلې او په همدې کال د منګلو قوم سر راپورته کړ. په ۱۹۱۳ کال د کابل د وړیو کارخانه جوړه او په کار یې پیل وکړ. امیر حبیب الله خان په هېواد کې د پوهنې (معارف) بنه نوې او د فرهنګ په ډګر کې نوي قدمونه پورته کړل، لیکن د هېواد د روښانفکرانو او پوهې طبقې غوښتنې نورې وې. اروابناد غبار وایي: "دغه ډول کارونو د هېواد روښانفکرانو او ولسواکۍ (ډموکراسۍ) غوښتونکیو ته قناعت نه شو ورکولای. ځکه دې ډلې خلکو په ۱۹۱۸ کال د امیر د بې کچه اختیاراتو، د افغانستان د خپلواکۍ او د نوي اساسي قانون د منځته راوړلو په مقصد خپلې نوې هڅې پیل او یو پټ سیاسي ګوند یې چې (حزب جمعیت سري ملي) په نوم یادېده، منځته راوړ. دې ګوند ۴۵ تنه غړي درلودل. (افغانستان در مسیر تاریخ ۱۸ -۱۹ مخونه).

په ۱۹۱۴ کال لومړۍ نړیواله جګړه پیل شوه، چې امیر حبیب الله خان د افغانستان د بې طرفۍ اعلان وکړ. په داسې حال کې چې د افغانستان

خلکو، په څرګنده د عثماني ترکانو او د اسلامي خلافت د مقام لپاره چې په استانبول کې و شعار ورکاوه او په هندوستان کې د خلافت ګوند د هند د ملیونونو مسلمانانو په زړه کې لاره کړې وه او د ترکانو د ځواکونو د پیاوړي کولو په مقصد یې بسپنې راټولولې او د مرستې وسایل یې برابرول. لیکن امیر حبیب الله خان چوپ پاتې و او د حرم له څنګه نه لېرې کېده او دغه کار په جګړه کې د برتانوي هند د حکومت د برې یوه منبع وه. (جنبش مشروطیت، ۱۱۴ مخ)

پر ۱۹۱۹ کال امیر د هند واسیرا، لارډ منتو ته په دې اړه لیک ور ولېږه چې د سولې په کنفرانس کې ګډون کوي، خو له دې لیک نه ۱۸ ورځې پس یانې د ۱۹۱۹ کال د فبروري پر ۲۰مه نېټه د لغمان په کله ګوش کې ووژل شو.

## غازي امیر امان الله خان – خپلواکي او ولسواکي ۱۹۱۹-۱۹۲۹م.

امیر امان الله خان د پلار تر مرګ وروسته په داسې وخت کې پاچا شو، چې په هېواد کې د یو سیاسي انقلاب او خوځښت وړمې په چلېدو راغلې وې، دغه ترقي غوښتونکی زلمی پاچا په دې حقیقت پوهېدلی و، چې افغان ولس نور د برتانوي ښکېلاک له سیوري هم کرکه کوي او د هر افغان په سر کې د ازادۍ او سیاسي خپلواکۍ مینه غزونې کوي. روښانفکران او د هېواد پوهه طبقه د دربارونو له غلامانه ذهنیت او سیاسته په تنګ راغلي دي، ځکه خو د تودې وینې خاوند امان الله خان د ۱۹۱۹ کال د فبروري پر ۲۳مه نېټه د پاچاهۍ تر اعلان وروسته د همدې میاشتې پر ۲۸مه نېټه د افغانستان د خلکو په نوم خپله تاریخي وینا وکړه او د همدې وینا په ترخ کې یې په افغاني غیرت او جرئت د هېواد خپلواکي اعلان او افغانستان یې د یو ازاد او خپلواک هېواد په توګه نړۍ ته ور وپېژانده. د امان الله خان د پاچاهۍ تر اعلان مخکې د ۱۹۱۹ کال د فبروري پر ۲۱نېټه سردار نصر الله خان هم په جلال آباد کې د خپلې پاچاهۍ اعلان کړی و، خو د همدې میاشتې پر ۲۸مه ورځ سردار نصر الله خان بندي کړی شو.

د ۱۹۱۹ کال د مارچ پر ۱۳مه نېټه امیر امان الله خان د هند وایسرا ته د افغانستان د خپلواکۍ په اړوند یو لیک ولېږه. د همدې کال د مارچ پر

۲۷مه نېټه شوروي هېواد د افغانستان خپلواکي په رسميت وپېژندله. د ۱۹۱۹ کال د اپرېل پر ۷ مه نېټه امير امان الله خان د شوروي خلکو د مشر لينن په نوم خپل د مننې ليك واستاوه او د ۱۹۱۹ کال د مي پر ۴مه نېټه د افغان انګليس درېيم جنګ پيل شو. د ۱۹۱۹ کال د مي پر ۲۷مه نېټه شوروي مشر ولادي مير ايليچ لينن د امير امان الله خان په نوم بل ليك ولېږه. دا هغه وخت و، چې افغانستان د برتانوي ښکېلاك پر ضد خپله درېيمه جګړه اعلان او په دې جګړه کې يې برى هم لاس ته راوړى و. تر دې نېټې يوه ورځ مخکې ياني د ۱۹۱۹ کال د مي پر ۲۶مه نېټه برتانوي الوتکو کابل ښار بمبارد کړى و. د ۱۹۱۹ کال د مي پر ۲۷ نېټه افغاني غازيانو د پکتيا په محاذ کې برتانوي قوتونه مات، د دښمن مورچلې يې فتح او د خپلواك افغانستان بېرغ يې هسك کړى و، د پکتيا د ډګر قوماندان جنرال محمد نادر خان سپاسالار و، چې د پکتيا قومونه يې په ملاتړ ولاړ وو.

د افغان انګليس په درېيمه جګړه کې پښتانه په دغو محاذونو کې وجنګېدل. د خيبر محاذ، د چترال محاذ، د کندهار محاذ، د پکتيا محاذ، د وزيرستان محاذ، د پيواړ محاذ، د ټل محاذ.

د خيبر په محاذ کې که څه هم جنرال صالح محمد خان د برتانوي جنرالانو ميجر جنرال کليمو، جنرال فاولر او بريګيډير کراکر او بالدوين په وړاندې ماتې وخوړه چې هغه هم د صالح محمد خان د تېروتنې نتيجه وه. *(افغانستان د پنج قرن اخير، فرهنګ)* خو دغه ماتې ډېر ژر پښتنو سرتېرو جبران کړه او د برتانوي الوتکو له بمباريو سره سره پيرنګيانو په ټولو ډګرونو کې ماتې وخوړه او په دې ډول افغان ولس خپله خپلواکي د سرونو په قرباني لاس ته راوړه او آزاد افغانستان د نړۍ په سياسي نقشه کې خپل له وياړه ډك ځاى ونيو. مورخ غبار ليکي: "لومړى د افغانستان په ازادو سرحدونو (پښتونستان) کې په زرګونو وسله وال پښتانه جګړې ته چمتو او بيا د ملي مشرانو لکه د ترنګزو او د چکنور ملا صاحب تر قوماندې لاندې له ازاد سرحد نه جلال اباد ته ورننوتل.) *[افغانستان در مسير تاريخ، ۷۵۷مخ]*

د ۱۹۱۹ کال په اګست کې د امير امان الله خان د حکومت او د برتانوي هيئت د مشر سرهملتن ګرانټ تر منځه د ۵ مادو د سولې تړون په

راولپنډۍ کې لاسلیك شو. د ۱۹۲۰ کال د راولپنډۍ د سولې تر تړون وروسته د افغانستان خپلواك دولت د هند له برتانوي حکومت سره په منصوري کې د برابرو حقوقو پر بنسټ د یو بشپړ تړون د لاسلیك کولو لپاره خبرې پیل کړې چې د افغاني هیئت مشر محمود طرزي او عبدالهادي خان داوي، غلام محمد، دیوان نرنجندانس، پیر محمد تره خېلی او غلام صدیق خان څرخي یې غړي وو.

پر ۱۹۲۱ کال د بخارا پاچا افغانستان ته پناه راوړه. د ۱۹۲۱ کال په فبروري کې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ د دوستۍ او تیري نه کولو تړون لاسلیك شو. په همدې کال د خپلواك افغانستان، ترکیې، ایټالیې او ایران تر منځ هم د دوستۍ تړونونه لاسلیك شول.

د ۱۹۲۱ کال د جولای او اګست په میاشتو کې افغاني هیئتونه امریکې او لندن ته هم ورسېدل.

**غازي امان الله خان او مخ په وړاندې قدمونه:** د ترقي غوښتونکي پاچا امیر امان الله خان په هدایت پر ۱۹۲۳ کال د استقلال لېسه تاسیس شوه. د ۱۹۲۳ کال په اپرېل کې اساسي اصولنامه یا د هېواد لومړنی اساسي قانون تصویب شو. پر ۱۹۲۳ کال د جزا نظامنامه تصویب شوه. د ۱۹۲۳ په دسمبر کې د اماني لېسې تاسیس او پر ۱۹۲۶ کال په افغانستان کې افغان پیسې (افغانۍ) او د لومړي ځل لپاره متریك سیستم رواج شو. پر ۱۹۲۷ کال د انیس په نوم ازاده جریده د غلام محی الدین انیس له خوا تاسیس شوه. پر همدې کال د غازي امان الله خان په هدایت د پښتو ژبې د پرمختګ لپاره د (پښتو مرکې) په نوم ټولنه جوړه کړی شوه. پر ۱۹۲۷ کال امیر بهرنیو هېوادونو ته سفر وکړ او د ۱۹۲۸ کال په جون کې بېرته هېواد ته راستون شو، چې دغه سفر په افغانستان کې د نویو اصلاحاتو سرېزه وګرځېده او د ۱۹۲۸ کال په جولای کې د پاچا له خوا نوي اصلاحات اعلان شول.

د ۱۹۲۸ کال په اګست کې د لویې جرګې د جوړېدلو کار پیل شو. د همدې کال په سپتمبر کې لویې جرګې په خپله وروستۍ غونډه کې نوی اساسي قانون او د هېواد درې رنګه بیرغه تصویب کړ.

کله چې افغانستان د یو خپلواك هېواد په توګه د برابرو حقوقو پر بنسټ د لینن په مشرتابه له شوروي سوسیالیستي دولت سره د سیاسي او اقتصادي اړیکو ټینګول پیل کړل او د همدې اړیکو له مخې اعلیحضرت غازي امان الله خان مسکو ته سفر وکړ او هلته له ډېر تود هرکلي سره مخامخ شو، نو برتانوي ښکېلاك د افغان زلمي پاچا له خوا د دغه حرکت زغم و نه شو کړای او د غازي امان الله خان د راپرزولو لپاره یې خپل پلان جوړ او کرار کرار یې د عمل په ډګر کې پلی کړ.

پېرنګیانو د خپلو پټو شبکو په وسیله په پښتني قبایلي سیمو کې د ناکرارۍ او بلوا راولاړولو هڅې پیل کړې. پر ۱۹۲۴ کال د منګلو قوم د پښتون پاچا خلاف سر را اوچت کړ او په مسلمان غازي امان الله خان غازي باندې یې د کفر تور ولګاوه. پر ۱۹۲۸ کال شینوارو هم عین کړنه تکرار کړه او دغه کار ورو ورو نورو سیمو ته هم لاړ وموندو. پېرنګیانو تر غازي امان الله خان مخکې د افغاني امیرانو لکه امیر دوست محمد خان، امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان له دربارونو سره ډېر نږدې اړیکې ساتلي وو او له همغه وخت نه یې په افغاني پرګنو کې خپل جاسوسان روزلي او د پټ فعالیت مرکزونه یې جوړ کړي وو او د همدغو جاسوسانو او د ورانکارۍ د مرکزونو په وسیله یې د ترقي غوښتونکي پاچا پښې ووهلې. ډاکټر عبدالحکیم طبیبي لیکي: لومړی د شمالي په کوهستان او ورپسې د افغانستان او برتانوي په سرحدي سیمو کې د امیر امان الله خان پر ضد بلواوې پیل شوې. (خاطرات ۱۳ مخ، د لیبیا چاپ، ۱۹۹۰ کال).

د کابل په شهر آرا کې د برتانیې سفارت په خپل ګاونډ کې د کلای جواد د حضرت صاحبانو او په عین وخت په کوهستان کې له خپل منتظر ګوډاګي حبیب الله کلکاني سره چې په تاریخ کې د سقو د زوی په نامه یاد شوی دی، پټ پلان د عملي کولو کار پیل کړ. "فرهنګ" عقیده ښکاره کوي چې حبیب الله د امان الله خان پر ضد عملي عملیات لومړی په کوهدامن او کوهستان کې پیل کړل او د همدې عملیاتو په پای کې یې پایتخت ونیو او د حبیب الله خادم دین رسول الله په نوم یې خپله پاچاهي اعلان کړه. امیر امان الله خان د ۱۹۲۹ کال د جنوري پر ۱۴مه نېټه کندهار ته ورسېد او د همدې کال د مې پر ۲۳مه نېټه له هېواد څخه د تل لپاره لاړ.

## د سقو د زوی حبیب الله پاچاهي او پېرنګیان ۱۹۲۹

د ۱۹۲۹ کال د جنوري پر ۱۸مه نېټه یانې کندهار ته د غازي امان الله خان تر رسېدلو ۴ ورځې وروسته د سقو زوی چې یو پېژندل شوی مشهور غل او لارې وهونکی و، پاچاهي اعلان کړه او هېواد یو ځل بیا د برتانوي ښکېلاك په هڅو یوې بلې تیارې او بدمرغې دورې ته ورداخل شو. د هېواد نومیالی دري ژبی درباري شاعر استاد خلیل الله خان خلیلي او د ده ځخه په پېروی میر محمد صدیق فرهنګ کوښښ کړی دی چې غل حبیب الله کلکانی د خپلو لیکنو له لارې د افغان ولس په منځ کې د یو عیار، پاك نفس، پرهېزګار، ځوان مرد، زړور، د خلکو دوست او د کابل د بزګرانو یوه کامل العیارې نمونې په توګه وروپېژني. *(وګورئ د استاد خلیلي عیاری از خراسان او د مرحوم فرهنګ افغانستان در ۵ قرن اخیر)* خو بې ځایه به نه وي چې د سقو شخصیت او د ده پاخون ته د افغان دښمن ایراني مورخ سید مهدي فرخ د لیکنې په هنداره کې وګورو. دغه ایرانی مورخ لیکي:

"د ۱۳۰۷ هـ کال اغتشاش په افغانستان کې پرته له کوم شکه د پېرنګیانو یانې د برتانوي هند د حکومت کار و او همدوی دغه اغتشاش نتیجې ته ورساوه. انګلیستانو د امیر امان الله خان د حکومت کلك مخالفان او دښمنان چې روحاني نفوذ لرونکي او دیني عالمان وو، د امیر د نسکورولو لپاره په کار راوستل." *[تاریخ سیاسي افغانستان، ۴۸۴مخ، د ایران چاپ]*

دغه ایرانی مورخ وړاندې لیکي: "په افغانستان کې راغلي انقلاب، د انګرېزانو مامورینو چې په هند کې وو له ډېر نږدې نه اداره کړ. (۴۸۵مخ) دی وایي: د انقلاب اداره کوونکیو د سقو زوی حبیب الله ته لارښوونه کوله او له هره پلوه یې هغه پیاوړی کاوه او ښې وسلې یې هغه ته رسولې. (۴۸۹مخ) نوموړی ایرانی مورخ د خپل تاریخ په یو بل ځای کې دا خبره بیا بیا تکراروي او لیکي: "لکه چې د انقلاب د پېښو په تړخ کې دغه ذکر وشو، د ۱۳۰۷ کال انقلاب د پېرنګیانو په لاس پیل، د همدوی له نقش سره سم پر مخ بوتلی شو او د همدوی په لاس پای ته ورسول شو." (د کتاب ۵۱۰ مخ) دغه دیپلومات مورخ دا حقیقت هم په ګوته کوي چې: "امیر امان الله خان په خپله استعفا نامه کې لیکلي وو چې زه د هېواد د صلاح د

رعایت کولو او د وینو تویېدلو د مخنیوي په خاطر له کاره ګوښه کېږم." (۴۹۴مخ)

پېرنګیانو د افغان ولس څخه د خپلواکۍ ګټلو غچ په دې ډول واخیست چې د سقوي حکومت په ټینګولو یې یو ځل بیا په افغانستان کې بلواکي مسطله کړه او د یو هوښیار وطندوست، ترقۍ غوښتونکي او ډیموکراسۍ خوښوونکي پاچا غازي امان الله خان پر ځای یې یو غل او د ډېر ناوړه نوم لرونکی سړی واکداری ته ورساوه او نهه میاشتې یې پر تخت پاتې کړ او د افغانستان په تاریخ کې یې یوه توره پاڼه ور زیاته کړه.

## د اعلیحضرت محمدنادرخان واکمني او تاریخي پېښې ۱۹۲۹-۱۹۳۳

په افغانستان کې د حبیب الله بچه سقو د پاچاهۍ یو څو میاشتې تېرې شوې وې، چې محمد نادرخان له فرانسې څخه د هند په لاره هېواد ته راستون او په پکتیا کې له پښتنو قومونو سره د مشورې او پرکابل باندې د یرغل په مقصد پاتې شو. محمد نادرخان د غازي امان الله خان د پوځ لوی قوماندان و، چې د علاج لپاره فرانسې ته تللی او هلته تم شوی و. ځینې عقیده لري چې نوموړی له امیر امان الله خان څخه خپه شوی و. په هر حال د ۱۹۲۹ په مارچ کې نادر خان هېواد ته راغی. د پکتیا زړورو قومونو د هغه ملا وتړله او د سقوي واکمنۍ د نسکورولو په تکل یې خپل یرغل پیل کړ. د کابل په یرغل کې له محمد نادرخان سره د نوموړي دوه ورونه سردار شاه ولي خان او سردارشاه محمود خان هم ملګري وو او د سردار شاه ولي خان پښتني قوتونو په کابل قبضه وکړه او حبیب الله کلکاني هم تښتېده وکړه. د ۱۹۲۹ کال په اګست کې د اصلاح په نوم جریده په پکتیا کې خپره شوه. د همدې کال د اکتوبر پر ۱۱نېټه د شاه ولي خان لښکرې پر کابل ورننوتې او د ۱۹۲۹کال د اکتوبر پر ۱۵مه نېټه محمد نادر خان د افغانستان ټولواک وټاکل شو او د همدې کال د نومبر پر ۳مه نېټه یې د سقو زوی له خپلو ملګرو سره اعدام کړ. په دې وخت کې د هېواد امنیت خراب و، چې باید ژر یې چاره شوې وای. د همدې موخې لپاره د ۱۹۲۹ کال په نومبر کې د محمد نادر خان ورور سردار محمد هاشم خان د صدر اعظم په توګه وټاکل شو. په کابینه کې سردار شاه

محمود خان د حربيه وزارت او محمد ګل خان مومند د کورنيو چارو د وزارت چارې په غاړه واخيستې. مير محمد صديق فرهنګ په خپل تاريخ کې د تعصب او تنګ نظرۍ له مخې وزير محمدګل خان د (سر دسته يې برترې خواهان پشتون) په نوم ياد کړى دى. (افغانستان در ۵ قرن اخير، ۴۰۹مخ.)

محمد نادر خان د اعليحضرت امان الله خان د وخت اساسي قانون او د اصلاحاتو پروګرام له پامه وغورځول او يوه جلا لاره يې غوره کړه. پر ۱۹۳۰ کال محمد نادر خان د امان الله خان د وکيل محمد ولي خان د محاکمه کولو حکم وکړ. د ۱۹۳۰ کال په سپتمبر کې يې لويه جرګه راوغوښته. د ۱۹۳۱ کال په جون کې يې له شوروي دولت سره د افغانستان د بېطرفۍ او تېرې نه کولو تړون لاسليک کړ. په همدې کال کې نوى اساسي قانون تصويب شو. په کابل کې يوه ادبي ټولنه يا انجمن جوړ او د کابل مجله د خپرېدو ډګر ته راووتله. د ۱۹۳۲ کال په جولاى کې ملي شورا يا ولسي جرګه پرانيستل شوه. د ۱۹۳۲ کال په اکتوبر کې د امير امان الله خان د دورې يو پېژندل شوى شخصيت غلام نبي خان کابل ته راغى او د همدې کال په نومبر کې د محمد نادر خان له خوا اعدام شو، چې د نوموړي په بدل کې د ۱۹۳۳ کال په جون کې د اعليحضرت محمد نادر خان ورور سردار محمد عزيز خان چې د برلين سفير و، د يو افغان زلمي له خوا ووژل شو.

د ۱۹۳۳ کال په سپتمبر کې محمد ولي خان له يوې ډلې نورو روښانفکرانو سره د پاچا محمد نادر خان له خوا اعدام کړى شول. د ۱۹۳۳ کال په نومبر کې اعليحضرت محمد نادر خان د نجات ليسې د زده کوونکي عبدالخالق له خوا د ارګ په بڼ کې د برى ليکونو د ورکولو پر وخت شهيد کړى شو.

بايد يادونه وشي، چې د محمد نادرشاه د واکدارۍ په دوره کې ځينې ورې ورې ناکرارۍ هم منځ ته راغلې، چې دلته ورته لنډه اشاره ضروري ده. پر ۱۹۳۱ کال د افغانستان په شمال کې د ابراهيم بېګ لقي، د غزني د کلات په سيمه کې د عبدالرحمن په مشرتابه د تره کيو د قوم، پر ۱۹۳۲ کال کې د ځدرانو د قبيلې پاڅونونه چې ټول د محمد نادرشاه د ځواکونو له خوا وځپل شول، د ذکر وړ ګڼل کېږي. په همدې کال د محمد نارشاه له

خوا په کابل کې د طب پوهنځي جوړېدل، پر ۱۹۳۱ د افغان ملي بانك منځته راتلل چې د عبدالمجيد زابلي په همت جوړ شو. د يادولو وړ دي. په اعليحضرت محمد نادرشاه دغه تورونه هم لګول کېدل چې نوموړی ګنې له پېرنګيانو سره پټ سازشونه درلودل، چې په دې هکله ځينو بهرنيو افغاني جريدو لکه په لاهور کې د "افغانستان" او په سويس کې د "فغان افغان" په نوم جريدو پرله پسې خپرونې هم کولې او د شاعرانو شعرونه يې خپرول. پر ۱۳۱۱ هـ کال کې د افغانستان کالنۍ خپرېدل هم د محمد نادرشاه شهيد د واکدارۍ د وخت يادګار دی.

## د محمد ظاهر خان پاچاهي

## د ولسواکۍ يو لنډ ځرک، ۱۹۳۳-۱۹۷۳

د ۱۹۳۳ کال په نومبر کې اعليحضرت محمدظاهرخان د افغانستان پاچا وټاکل شو او يو کال وروسته يانې د ۱۹۳۴ کال په سپتمبر کې افغانستان د ملتونو د ټولنې او بيا پر ۱۹۴۶ د ملګرو ملتونو د غړي په توګه وټاکل شو.

په شلمه پېړۍ کې تر ټولو اوږده پاچاهي په افغانستان کې محمد ظاهرشاه کړې ده، چې څلوېښت کاله يې په بر کې نيولې دي. په دومره اوږده موده کې ډېرې تاريخي پېښې هم شوې دي، چې موږ يې په لنډيز سره بيانوو.

پر ۱۹۳۵ کال د ترکيې په حکميت له ايران سره د افغانستان سرحدي اختلاف پای ته ورسېد. پر ۱۹۳۶ د افغانستان او امريکې تر منځ د دوستۍ تړون لاسليك شو. پر ۱۹۳۷ کال د ټولواك محمد ظاهرشاه له لوري د پښتو ملي ژبې د لا پرمختيا په هکله شاهي فرمان جاري شو، چې مير محمد صديق فرهنګ په خپل کتاب کې دغه عمل يو فاشيستي او د هټلر د نازيانو کړو ته ورته عمل ګڼلی دی. (وګورئ. *افغانستان در پنج قرن اخير. ۴۲۷مخ*)

د ۱۹۳۷ کال په جولای کې افغانستان له ترکيې، ايران او عراق سره د سعد آباد لوزنامه لاسليك کړه. د ۱۹۳۸ کال په جنوري کې افغانستان له ايران سره د هلمند د سيند د اوبو د وېش پر اړوند يو تړون لاسليك کړ. د ۱۹۳۹ کال په سپتمبر کې افغانستان په دويمې نړيوالې جګړې کې خپله

بې طرفي اعلان کړه او دا د محمد ظاهرشاه د حکومت يوه سياسي هوښياري او ښېداري وپېژندل شوه. په ۱۹۴۱ کال برتانيې او شوروي اتحاد دواړو له افغانستانه په کلکه وغوښتل چې د المان او ايټاليې تخنيکي، اقتصادي او نور ماهران له هېواده وشړي، خو افغانستان دغه کار و نه کړ.

په ۱۹۴۱ کال د افغانانو لويې جرګې د افغانستان د بې طرفۍ سياست تاييد کړ. په ۱۹۴۶ کال سردار محمد هاشم خان تر ۱۸ کاله صدارت وروسته له خپلې څوکۍ نه استعفا وکړه، چې ويل کېدل دغه کار د محمد ظاهرشاه له خوا شوی دی. دُ هغه پر ځای سردار شاه محمود خان صدر اعظم وټاکل شو. په ۱۹۴۷ کال د ښاروالۍ قانون جوړ او يو کال وروسته کابل ښاريانو د انتخاباتو پر بنسټ انجينير غلام محمد فرهاد کابل ښاروال وټاکه. دا هغه وخت و چې د پاکستان په نامه يو نوی هېواد د نړۍ په سياسي نقشه کې را پيدا شو. افغانستان د پښتونستان د مسئلې د اختلاف له کبله په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د منل کېدلو په خلاف رايه ورکړه. د ۱۹۴۷ کال په نومبر کې د افغانستان د پوهنې وزير ډاکتر نجيب الله توروايانا د افغانستان د حکومت د خاص استازي په توګه د سياسي اختلافاتو د اوارولو لپاره چې د پښتونستان مسئله يې په سر کې وه، د پاکستان له قائد اعظم محمد علي جناح سره خبرې پيل کړې.

په ۱۹۴۹ کال د ملي شورا (ولسي جرګې) د ۷ مه دورې انتخابات وشول او په همدې دورې کې د ملي شورا له خوا د سنبلې ۹ نېټه د پښتونستان د ملي ورځې په نوم وټاکل شوه. په ۱۹۵۱ کال د لومړي ځل لپاره په هېواد کې ملي ازادې جريدې خپرې شوې چې د مطبوعاتو د ازادۍ يوه بېلګې وګڼل شوه. په همدې دوره کې لومړی ځل په هېواد کې په خپل سر او په پرديو پورې تړلي ګوندونه منځته راغلل او فعاليت يې هم پيل کړ، په داسې حال کې چې د ګوندونو قانون نه و نافذ شوی.

په ۱۹۵۲ کال د ولسي جرګې د ۸ دورې لپاره انتخابات وشول او هم په کابل ښار کې زورورې مظاهرې وشوې، چې د بې قانونه ګوندونو لاس پکې و. په همدې کال کې يوه ډله ولسواکي غوښتونکي زندان ته وغورځول شول. په ۱۹۵۳ کال صدراعظم شاه محمود خان استعفا ورکړه او سردار محمد داود خان صدر اعظم وټاکل شو. په همدې کال د پاچا په

بلنه د امریکې د جمهور رئیس مرستیال ریچرډنېکسن کابل ته راغی. پر ۱۹۵۵ کال د کابل ښار د یوې سختې مظاهرې شاهد و، چې د پاکستان سفارت تر برید لاندې راغی او بیرغ یې وسوزول شو. یوه میاشت وروسته په پېښور کې د افغانستان پر ضد مظاهره وشوه او د قونسلګرۍ بیرغ وسوزول شو.

پر ۱۹۵۵ کال جمال عبد الناصر د مصر جمهور رئیس کابل ته سفر وکړ. د ۱۹۵۵ کال په جولای کې له پاکستان سره د سیاسي اوضاع د خرابۍ په وجه د سردار محمد داود خان له خوا په هېواد کې د عمومي سفربرۍ اعلان وشو. د همدې کال په نومبر کې په کابل کې لویه جرګه جوړه شوه او په دسمبر کې شوروي مشران خروشچف او بولګانین کابل ته راغلل. د ۱۹۵۶ کال د جولای او اګست په میاشتو کې د ترکیې صدراعظم مندرس او د پاکستان جمهور رئیس سکندرمیرزا کابل لاړل او د همدې کال په اکتوبر کې محمدداودخان شوروي اتحاد ته سفر وکړ او په نومبر کې سردار محمد داود پاکستان ته لاړ. پر ۱۹۵۷ کال د چین صدر اعظم چوین لاس او د پاکستان صدراعظم شهید سهراوردي کابل ته لاړل د همدې کال په جولای کې اعلیحضرت محمد ظاهرشاه مسکو ته سفر وکړ. پر ۱۹۵۸ کال ټولواك پاکستان هم وکوت او بیا هند ته په سفر لاړ. په همدې کال شوروي مشر وروشیلوف کابل ته راغی. پر ۱۹۵۹ کال محمد داود خان هند او د ملګرو ملتونو سرمنشي کابل ته سفرونه وکړل او د همدې کال په اګست کې حجاب لرې او افغان مېرمنې په ازاده جامه کې د خدمت ډګر ته راووتلې. د ۱۹۵۹ کال په سپتمبر کې پنډت نهرو د هند صدراعظم او په دسمبر کې د امریکې جمهوریس ایزنهاور کابل ته راغلل. په همدې کال کې محمد داود خان لندن ته لاړ او د همدې سفر په خوا کې د کندهار خلکو پاڅون وکړ. پر ۱۹۶۰ کال محمد داود خان ایران او مسکو ته هم سفر وکړ، چې دغو ټولو سفرونو سیاسي او اقتصادي موخې درلودلې. پر ۱۹۶۱ کال هم د محمد داود خان د سفرونو لړۍ جارې پاتې شوه، مسکو او لوېدیځ المان ته هم په سفر لاړ.

پر ۱۹۶۱ کال محمد داود په بلګراډ کې د ناپېیلو د غورځنګ د غړیو هېوادونو په غونډه کې برخه واخیسته او پر همدې کال د افغانستان او پاکستان سیاسي اړیکي پرې شول. پاکستان د ناپېیلتوب د غورځنګ،

غړي نه و. په همدې کال د شوروي پوځي هيئت افغانستان ته راغی او وريسې افغان وسله وال پوځ په شوروي وسلو سمبال شو. په ۱۹۶۲ کال د هېواد دويم اقتصادي پلان اعلان شو او د همدې کال په جولای کې د ايران پاچا کابل ته سفر وکړ او په اګست کې محمد ظاهر شاه شوروي اتحاد ته لاړ. په ۱۹۶۳ کال محمد داود د صدارت له څوکۍ نه استعفا ورکړه او درې ورځې وروسته د پاچا له خوا ډاکټر محمد يوسف د صدراعظم په توګه وټاکل شو، چې دا په هېواد کې د ولسواکۍ يوه بله غټه بېلګه وه، ځکه چې د هېواد په نږدې تاريخ (شلمه پېړۍ) کې دا لومړی صدراعظم و، چې تر شاهي کورنۍ پورې يې اړه نه درلوده. نوی صدراعظم د نوي اساسي قانون د تسويد لپاره يو کمېسيون وټاکه او د افغانستان او پاکستان تر منځه اړيکي بېرته عادي شول. په ۱۹۶۴ کال د پاکستان جمهور رئيس محمد ايوب خان په کابل کې تم شو او په همدې کال کې د نوي اساسي قانون مسوده د خلکو د خبرتيا لپاره خپره شوه. د همدې کال په سپتمبر کې د نوي اساسي قانون د تصويب لپاره لويه جرګه جوړه شوه او د سالنګ لويه لار هم پرانيستل شوه. په ۱۹۶۴ کال نوی اساسي قانون د پاچا له خوا توشيح شو او بيا تولواك چين ته په سفر لاړ. په ۱۹۶۵ کال صدر اعظم ډاکټر محمد يوسف هند ته سفر وکړ او په همدې کال د انتخاباتو قانون نافذ شو. پاچا محمد ظاهر شاه فرانسې او شوروي اتحاد ته په سفر لاړ او د ولسي جرګې لپاره نوي انتخابات پيل شو. په اکتوبر کې نوې ولسي جرګه پرانيستل شوه او ډاکټر محمد يوسف د باور رايه لاس ته راوړه. ليکن د همدې کال يانې د عقرب په ۳مه نېټه د پوهنتون د محصلانو مظاهرې د ولسي جرګې دېوالونه هم ولړزول چې د پوليسو د ډزو په نتيجه کې مرګ ژوبله هم وشوه. د ۱۹۶۵ کال د اکتوبر په ۲۹مه نېټه صدر اعظم ډاکټر محمد يوسف له وظيفې استعفا وکړه. وويل شول چې په دې مظاهره کې د سردار محمد داود، ببرك کارمل او ځينو نورو کسانو لاسونه هم وو.

د ډاکټر محمد يوسف تر استعفا وروسته د پاچا له خوا د هېواد يو بل پېژندل شوی سياسي شخصيت محمد هاشم ميوندوال د صدراعظم په توګه وټاکل شو. ميوندوال هم د شاهي کورنۍ غړی نه، بلکې د مټ...

PROPERTY OF ACKU 8667

ولسوالۍ یو پښتون و او ظاهر شاه په دې ډول د ولس باور غوښت او د ولسواکۍ د اړخ نور پیاوړي کول یې هم اصلي مقصد و.

د ۱۹۶۵ کال په نومبر کې محمد هاشم میوندوال صدر اعظم له ولسي جرګې نه د باور رایه واخیستله او دوه ورځې وروسته صدراعظم پوهنتون ته ورغی او محصلانو یې تود هرکلی وکړ.

پر ۱۹۶۶ کال میوندوال مسکو ته سفر وکړ او د همدې کال په سپتمبر او نومبر کې یې د مصر عربي جمهوریت او ترکیه وکتل. په ۱۹۶۷ کال پاچا هند او پاکستان ته سفر وکړ. او هم د ټولواك په بلنه د لویدیځ المان جمهور رئیس کابل ته راغی. د همدې کال په مارچ او اپریل کې محمد هاشم میوندوال امریکې او فرانسې ته لاړ او په جون کې یې د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې ګډون وکړ، چې د عربو او اسرائیلو د جګړې مسئله پکې تر بحث لاندې وه. د ۱۹۶۷ کال په اکتوبر کې ښاغلی میوندوال د صدارت له څوکۍ نه استعفا ورکړه او د همدې کال په نومبر کې نور احمد اعتمادي د صدراعظم په توګه وټاکل شو او د ولسي جرګې نه یې په سختۍ رایه واخیسته.

پر ۱۹۶۸ کال د یوګوسلاوې جمهور رئیس مارشال تیتو افغانستان ته سفر وکړ او په همدې کال جودت سونایي د ترکیې، پامپیدو د فرانسې، امیر عباس هویدا د ایران صدراعظمانو له افغانستان څخه لیدنه وکړه. د ۱۹۶۹ کال په جون کې اندراګاندي د هند صدراعظمه هم افغانستان ته په سفر لاړه. په همدې کال پاچا جاپان وکوت او هم د ولسي جرګې د ۱۴مې دورې انتخابات پیل شول. پر ۱۹۷۰ کال اګینو د امریکې د جمهوري ریاست مرستیال کابل ته راغی، چې د هغه په ضد مظاهره هم وشوه او موټر یې په کانو لوټو وویشتل شو. په همدې کال دیني عالمانو د پل خشتي په جومات کې تحصن غوره کړ او بیا وروسته د سعودي عربستان پاچا ملك فیصل کابل ته سفر وکړ او د ۱۹۷۰ کال په جون کې نور احمد اعتمادي له صدارت نه استعفا وکړه. پر ۱۹۷۱ کال د پاچا له خوا ډاکتر عبدالظاهر د صدراعظم په توګه وټاکل شو، په همدې کال پاچا برتانیې ته سفر وکړ. پر ۱۹۷۲ کال علي بوټو د پاکستان صدراعظم کابل ته لاړ او ډاکتر عبدالظاهر هم مسکو ته سفر وکړ. دا وخت په افغانستان کې ځینې ولایتونه له کاختۍ سره مخامخ وو. د مسکو تر سفر وروسته نوموړي د

صدارت له څوکۍ نه استعفا ورکړه او اعلیحضرت د صدراعظم په توګه محمد موسی شفیق وټاکه، چې پلار یې د هېواد نامتو دیني شخصیت مولوي محمد ابراهیم کاموي و. صدر اعظم موسی شفیق پر ۱۹۷۳ کال له ایران سره د هلمند د اوبو د وېش په هکله یو تړون لاسلیک کړ، دغه تړون وروسته د ولسي جرګې او مشرانو جرګې له خوا هم تصویب شو. په همدې کال شوروي مشر پودګورني کابل ته راغی او تر هغه یوه میاشت وروسته اعلیحضرت محمد ظاهر شاه اروپا ته لاړ چې بیا هېواد ته د راستنېدو جوګه نه شو، ځکه د یوې سپینې کودتا په وسیله شاهي نظام ړنګ او جمهوري نظام اعلان شو.

## د سردار محمد داود خان واکمني،
## نه سلطنت نه جمهوریت (۱۳۵۲-۱۳۵۷ل)

د ۱۳۵۲ل کال د چنګاښ پر ۲۶مه نېټه سردار محمد داود د افغانستان راډیو له لارې د شاهي نظام ړنګېدل او د جمهوري نظام ټینګېدل اعلان کړل او په دې اړوند یې خپله وینا افغان ولس ته واوروله. په دغه جمهوري نظام کې د افغانستان خلکو هغه لږې ډیموکراتیکې ازادۍ هم له لاسه ورکړې، چې د محمد ظاهر شاه په وخت کې ورکړل شوې وې. د جمهوري نظام د اعلان په همغه لومړیو کې هېوادوالو د خواشینۍ احساس وکړ، چې دلته ورته لنډه اشاره کوو:

د ۱۹۷۳ کال د سپتمبر پر ۲۲ نېټه راډیو افغانستان د حکومت دغه اعلامیه خپره کړه چې ګویا ځینو کسانو چې پخوانی صدراعظم محمد هاشم میوندوال جنرال خان محمد خان مرستیال، د هوایي ځواکونو پخوانی قوماندان جنرال عبدالرزاق خان او نور چې ټول شمېر یې ۴۵ تنه کېږي د نوي جمهوریت پر ضد د کودتا تکل کړی و، نیول شوي او تر تحقیق لاندې دي. دغه تحقیقات نوي پیل شوي وو، چې راډیو ناڅاپه خبر خپور کړ، چې پخواني صدراعظم میوندوال دننه په زندان کې په خپله نېکټایي ځان غرغره کړی دی. وروسته د نیول شویو کسانو له جملې نه جنرال خان محمد خان مرستیال سید امیر د هوایي ځواکونو یو تن قوماندان، سیف الرحمن د ولسي جرګې وکیل، محمد عارف سوداګر او پخوانی ډګروال ماما زرغون شاه اعدام او نور په بېلا بېلو مودو زنداني

محکوم شوي دي. د تحقيق په دوران کې خلکو ته دغه پته هم ولګېده چې د محمد هاشم ميوندوال ځخه تحقيق کوونکي کسان يو فيض محمد د کورنيو چارو وزير او بل عبدالصمد اظهر د هغه وزارت د پوليسو امر و، چې دواړه پېژندل شوي پرچميان ګڼل کېدل. سترجنرال نبي عظيمي چې په خپله ځان پرچمي معرفي کوي، د خپل کتاب (اردو و سياست) په يو ځای کې وايي چې ما ته د ميوندوال د نيولو امر راکړل شوی و او ما هغه له کور راوايست چې نوي ښار د شهيد په څلور لاري کې و (وګورئ اردو و سياست، ۱۰۴ مخ، د پېښور چاپ) دغه حقيقت د دې ثبوت ورکوي چې د محمد داود په کودتا کې د پرچم ډلې پوره برخه درلوده.

په ۱۹۷۵ کال محمد داود خان تهران ته لاړ او د ايران له پاچا سره يې په اړوند مسايلو خبرې وکړې. په ۱۹۷۶ کال يې پاکستان ته سفر وکړ او په ۱۹۷۷ کال مسکو ته لاړ او له بريژنف سره يې د خبرو په وخت د خپل افغاني ناسيوناليزم مظاهر وکړه او په غوسه د خبرو له خونې ووت، چې عبدالصمد غوث د سقوط افغانستان د کتاب ليکونکي ورته د (جواری مو بايلوده) نوم ورکړی دی. په ۱۹۷۷ کال محمد داود خان د ملي غورځنګ په نوم يو ګوند جوړ کړ او حسن شرق له نورو ملګرو سره داود خان ته د ملي رهبر نوم ورکړ او مطبوعات مجبور کړای شول چې دغه نوم په کار راولي. د همدغه کال په مارچ کې لويه جرګه جوړه او محمد داود خان پکې بيا جمهور رئيس وټاکل شو.

په ۱۹۷۸ کال جمهور رئيس عربي هېوادونو لکه ليبيا، سعودي عربستان، د مصر عربي جمهوريت او بيا ايران ته سفرونه وکړل. د مارچ په مياشت کې اسلام آباد ته په سفر لاړ او له جنرال ضياء الحق سره يې په اړوند مسايلو خبرې وکړې او په اګست کې ضياء الحق د محمد داود خان په بلنه کابل ته لاړ. په همدې کال کې د پرچم يو مشر مير اکبر خيبر ووژل شو او له سردار محمد داود سره د پرچم ډلې دښمني خطرناکه بڼه غوره کړه. جمهور رئيس اوس په دې حقيقت پوهېدلی و چې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د ده د راپرزولو په تکل راوتلی دی، ځکه خو يې د دغه ګوند د مشرانو نور محمد تره کي، ببرك کارمل، حفيظ الله امين، ډاکټر شاه ولي، دستګير پنجشيري، عبدالحکيم شرعي جوزجاني د نيولو حکم وکړ، ليکن ځينې نور مشران لکه سلطان علي کشتمند، نور احمد نور،

اناهتاراتب زاد، میثاق او لایق ازاد پرېښودل شول چې دا یوه ستره تېروتنه وه. امین امنیتي ځواکونو ته په لاس ورنغی او همده د محمد داود خلاف د خونړۍ کودتا لارښوونه په غاړه واخیستله.

۱۹۷۸ کال د اپرېل پر ۲۷مه چې دل هـ کال د ثور ۷مه ورځ وه، سردار محمد داود خان د خپلې کورنۍ له غړیو سره یو ځای د کودتا له خوا شهید کړی شو.

## د ۱۳۵۷ ل کال د غوایي کودتا او د دهریت توره تیاره

جنرال نبي عظیمي چې د کودتا ټاکونکي ګوند ستر جنرال و، د غوایي د کودتا په هکله لیکي: "د غوایي د کودتا پیل، د محمد داود او د هغه د کورنۍ د ۱۷ تنو غړیو په بېګناه، بې موجبه او بې دلیله وژنو سره وشو او کودتا په لومړیو ورځو کې د رژیم د وحشت، اختناق، ترور او وېرونې پالیسۍ څېره برملا کړه. د کودتایي دولت فاشیستي ډوله کرغېړنې قهرجنې دستګاه له محاکمې پرته پخوانی صدراعظم محمد موسی شفیق، د دفاع وزیر حید رسولي، لوی درستیز عبدالعزیز، جنرال عبدالعلي وردګ، عدلیه وزیر وفی الله سمیعی، وحید عبدالله، جنرال قدیر خلیق، صلاح الدین غازي، غلام نقشبند د کورنیو چارو معین او د هغه سکرتر ووژل او په ملي او بین المللي سطح یې ځان معرفي کړ." *(وګوری اردو و سیاست، ۱۶۸ مخ)* لیکن د وژنو دې لړۍ نور زیات دوام وکړ او خبره زرګونو کسانو ته ورسېده.

د ۱۳۵۷ کال د غوایي په ۷ ماښام حفیظ الله امین په راډیو افغانستان کې انونس ورکړ، چې دا دی ډګروال عبدالقادر او جګړن محمد اسلم وطنجار خپله وینا اوروي. دغو پوځي کودتا کوونکیو په ډېره خوښۍ د سردار محمد داود د وژل کېدو او د شاهي رژیم د پای ته رسېدلو اعلانونه وکړل. د همدې کال او همدې میاشتې پر ۸ اعلان وشو، چې نور محمد تره کی د انقلابي شورا د مشر او صدراعظم، ببرک کارمل د صدراعظم د مرستیال، حفیظ الله امین د صدراعظم د مرستیال او د بهرنیو چارو د وزیر په توګه وټاکل شول. کودتا کوونکیو خپلې خونړۍ

کودتا ته د ثور د پرتمین انقلاب نوم ورکړ. مارکسیزم لیننزم د ګوند عقیده او مفکوره اعلان شوه او د لینن عکسونه او مجسمې په وزارتونو او دفترونو کې کښېښودل شوې او د افغان ولس پر اسلامي او افغاني بنسټونو او اعتقادونو برید پیل شو. پر ۱۹۷۸ کال اته فرمانونه د دولت له خوا جاري شول او په دې ډول د افغانستان له مسلمان ملت سره د خلق دموکراتیک ګوند او په دهري مفکورې ولاړ دولت لاره جلا شوه. د ۱۹۷۹ کال په فروري کې د امریکې لوی سفیر ډابس ووژل شو او د همدې کال په سپتمبر کې د ګوند دننه د سختو اختلافونو او هم د شوروي اتحاد لاسوهنې په نتیجه کې د انقلابي شورا رئیس نور محمد تره کی د وفادار شاګرد حفیظ الله امین له خوا قتل کړی شو. د تره کي تر وژل کېدو وروسته سملاسي حفیظ الله امین د واکمن ګوند د عمومي منشي او هم د انقلابي شورا رئیس وټاکل شو، لیکن د ګوند او دولت دهري عقیدې او اسلام ضد کړنو خلاف افغان ولس خپل پاڅون پیل کړی و او د ۱۹۷۸ کال په جولای کې د کونړ غرنی لوا د دولت پر ضد خپل مخالفت څرګند کړ، چې ورسره جوخت د نورستان او ساپیو قومونو هم د محمد انور امین تر مشرتابه لاندې د کودتایي حکومت په مقابل کې خپلې مورچلې ټینګې کړې. *(د افغانستان در قرن پنج اخیر ۸۱-۸۲ مخونه)*

همدغه ډول د پکتیا د ځدراڼو قوم او د ۱۹۷۹ کال په ژمي کې هزاره جات او بدخشان هم د جهاد په مورچل کې ودرېدل. د جهاد ځلانده وړانګې کرار کرار په ټول هېواد کې خپرې شوې. د ۱۳۵۷ کال د چنداولو او سېدونکیو او همدغه راز په بالاحصار کې وسله والو ځواکونو او ورپسې په هرات کې د کودتایي رژیم پر ضد پاڅون وشو او دیني عالمانو په فتوی ګانو کې دولت په دهریت او اسلام ضد مفکورې تورن کړ. پر ۱۹۷۹ کال د اسمار عسکري قوماندان عبدالروف ساپي خپله لوا د رژیم پر ضد ودروله او د جهاد سپین بیرغ یې اوچت کړ. پر ۱۹۷۸ کال د کابل پوهنتون زړورو استادانو او حتی شاګردانو هم د کمونیستي رژیم پر ضد خپل غږ پورته کړ، چې په دې ګناه ګڼ شمېر استادان د څرخي پله زندان ته وغنورځول شول. د کام او اګسا ادارو یزیدي ظلمونه وکړل.

پر ۱۹۷۹ کال روسانو د حفیظ الله امین د وژلو پلان عملي کړ او د تاج بېګ ماڼۍ د امین د وژلو ننداره وکړه. د شپې ناوخته د تاشکند له



ACKU

راډیو نه د ببرك کارمل غږ واورېدل شو، چې د امین د وژل کېدلو اعلان یې وکړ. د ۱۹۷۹ کال د دسمبر پر ۲۷ نېټه ببرك کارمل او شوروي پوځونه یو ځای افغانستان ته راغلل. کارمل د افغانستان د خلك ډیموکراتیك ګوند عمومي منشي او د انقلابي شورا رئیس شو. لیکن ولس ورته د دویم شاه شجاع نوم ورکړ. ډاکټر حق شناس، صدیق فرهنګ او جنرال نبي عظیمي لیکلي دي چې شوروي پوځ د نور محمد تره کي او حفیظ الله امین د موافقي له مخې افغانستان ته راغلی و. کارمل پر ۱۳۵۹، ۱۳۶۰- او ۱۳۶۱ کلونو اوه واري مسکو ته رسمي سفرونه وکړل چې د غیر رسمي سفرونو شمېره تر دې زیاته وه. د ۱۹۸۲ کال په نومبر کې ولادي میرکوزیچکین د کې جي بي افسر چې لوېدیځ ته یې پناه وړې وه، د امریکې د ټایم په مجله کې د «افغانستان کې کودتاګانې او وژنې» تر سرلیك لاندې مقاله کې ولیکل چې کارمل له واکمنېدو نه ډېر مخکې د کې جي بي جاسوس و. (حقایق پشت پرده. ۲۲۴ مخ) پر ۱۹۸۲ کال بریژنف مړ شو او ځای یې اندروپوف ونیو. پر ۱۹۸۴ اندروپوف هم مړ او ورپسې چرننکو هم د افغان جهاد قرباني شو.

پر ۱۹۸۰ کال کارمل د ګورباچف له خوا مسکو ته وغوښتل شو او د نوموړي ځای یې ډاکټر نجیب الله ته ورکړ. پر ۱۹۸۶ کال ډاکټر نجیب د ملي روغې جوړې طرحه اعلان کړه. پر افغانستان باندې د سرو لښکرو تر یرغل یوه میاشت وروسته امریکې له افغان مجاهدینو سره د پیسو او وسلو د مرستو پلان د عمل په ډګر کې پلی کړ او جمهور رئیس جیمي کارتر اعلان وکړ چې امریکا به په ملیاردونو ډالر د دې مقصد لپاره ولګوي چې شوروي اتحاد د افغانانو په جهاد کې ماتې وخوري. د ملګرو ملتونو تولنې پر افغانستان باندې د سرو لښکرو د یرغل په لومړیو وختونو کې له شوروي اتحاد نه وغوښتل چې له افغانستان نه خپلې لښکرې ډېر ژر وباسي، خو دغسې پرېکړو کومه نتیجه ور نه کړه. پر ۱۹۸۲ کال کوردوویز د افغانستان د مسئلې د سوله ییز حل لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی وټاکل شو او همده د ژنیو د خبرو اترو لړۍ پیل کړه.

**د ژنیو خبرې او د شوروي اتحاد ګټې:** په ژنیو کې د افغانستان او پاکستان تر منځ غیر مستقیمې خبرې پر ۱۹۸۲ کال پیل او

پر ۱۹۸۸ کال پای ته ورسېدې، چې شپږ کاله وخت یې ونیو. په دې خبرو کې د مجاهدینو استازي ته د برخې اخیستو حق ور نه کړل شو او گورباچف هم د همدې خبرو تر پردې لاندې د سرو لښکرو ماتې پټه کړه. شوروي پوځونه چې په افغانستان کې له سترې تباهۍ سره مخامخ شوي وو، د ژنیو د تړون له مخې د نهو کالو تر تېرولو وروسته له افغانستان څخه ووتل او نړیوالو د ژنیو موافقه لیك یوازې د شوروي اتحاد په گټه وگڼله. سرې لښکرې د ۱۹۸۹ کال د جنوري تر ۱۵نېټې پورې له افغانستان نه ووتلې او جنرال بوریس گروموف وروستی سړی و، چې د حیرتانو له پله نه تېر شو. پر ۱۹۸۶ کال ډاکتر نجیب الله د کارمل پر ځای کېناست او د افغانستان د خلق دیموکراتیك گوند نوم یې د وطن گوند په نامه واړاوه. چې په همدې کار سره په گوند کې د کارمل پلوی ډله د نجیب الله پر ضد ودرېده او د نجیب الله د راپرزولو لپاره یې د شمال ائتلاف منځته راوړ او د یوې کودتا په وسیله یې د ملگرو ملتونو د سولې پلان له ناکامۍ سره مخامخ کړ. د ۱۹۸۹ کال په وروستیو کې د ملگرو ملتونو سرمنشي بطروس غالي د افغانستان د مسئلې د سوله ییز حل په مقصد (بینن سیوان) د خپل استازي په توگه وټاکه، چې تر ډېرو خبرو وروسته بینن سیوان په دې بریالی شو چې ډاکتر نجیب الله د سوله ییزې لارې د قدرت انتقال ته راضي کړي.

بینن سیوان د مجاهدینو له نمایندگانو او یو شمیر افغاني شخصیتونو سره په سلا مشوره یوه ۱۳ کسیزه کمېټه یا کمسیون منځته راوړ، چې ډاکتر نجیب الله سیاسي قدرت باید همدغه کمېسیون یا کمېټې ته سپارلی وای. د ۱۹۹۲ کال د اپرېل پر ۱۵نېټه په غوڅه توگه د قدرت د لېږدونې لپاره وټاکل شوه، خو له دې نېټې څخه ۲۴ گړۍ مخکې د وطن د گوند مخالف لوري د احمدشاه مسعود د نظار شورا د ځواکونو، د دوستم د ازبك ملېشو او ځینو نورو په مرسته د سولې دغه پلان شنډ او له یوې نوې کودتا په ترڅ کې یې ډاکتر نجیب الله بې واکه او تر څارنې لاندې اعلان کړ، نجیب الله د ځان ژغورنې په هیله په کابل کې د ملگرو ملتونو اداري ته پناه یوړه. د حیرانتیا ځای دی چې ملگرو ملتونو د دغې فاجعې یانې د سولې د پلان په ناکامۍ سوڼ قدر هم له خولې و نه ویست.

ACKU

## د پروفېسرانو واکداري، د افغان ولس د جهاد د بدنامی غټه وسیله

په افغانستان کې د پروفېسر صبغت الله مجددي او پروفېسر برهان الدين رباني د واکدارۍ پیل د افغان ولس لپاره د روانې پېړۍ د سترې غمیزې پیل و. د ۱۹۹۲ کال د اپرېل په میاشت کې دغې واکدارۍ په افغاني ټولنه کې د طاعون د ناروغۍ مثال غوره کړ. پروفېسر حضرت صبغت الله مجددي د راولپنډۍ د پرېکړې له مخې دوه میاشتې جمهور رئیس پاتې شو او پروفېسر رباني چې باید څلور میاشتې پاتې شوی وای، د احمد شاه مسعود د نظار شورا د ځواکونو په زور څه کم پنځه کاله د جمهوري ریاست پر څوکۍ پورې نښتې پاتې شو او دا څلور کاله چې د طالبانو اسلامي غورځنګ د افغانستان ۹۰ په سلو کې خاوره تر خپل حاکمیت لاندې راوستې ده، بیا هم پروفېسر رباني ځان د افغانستان جمهور رئیس ګڼي او په ملګرو ملتونو کې هم د رباني د ناموجود حکومت استازی ناست دی او په دې ډول ملګرو ملتونو په خپله خپل منشور تر پښو لاندې کړی دی.

د پروفېسرانو د حکومت کړنو، د افغانستان د مسلمان ولس په سرونو ګټلی جهاد په نړیواله سطح له بدناميو سره مخامخ کړ. د دغې واکدارۍ په لومړیو څو میاشتو کې د کابل ښار پنځوس زره اوسېدونکي د مرګ خوراك شول. د ښاریانو په پت او عزت لوبې وشوې. د ښاریانو او حتی د افغان ولس د سوونو کالونو مادي او معنوي شتمني لوټ او بهر ته یوړل شوه او خلکو د بدې ورځې له لاسه د نجیب الله د وخت ارمان وکړ. د کابل ښار ورانېدل، د ملي موزیم لوټېدل، د ملي کتابتونو او ارشیفونو غلا کېدل، یا له منځه وړل. د کابل پوهنتون نړېدل، د ملي او دولتي مطبعو تباه کېدل، د وزارتونو او لویو دولتي او شخصي ادارو او موسسو شتمني پټول، د بازارونو او واټونو کنډواله کېدل او داسې نور د پروفېسرانو یا تنظیمونو د واکمنۍ یادګارونه دي. پروفېسر رباني د افغانستان له تاریخ او افغاني عنعنې او کلتور سره د دښمنۍ په جذبه د لویې جرګې نوم لغو او د شورای حل و عقد غیر افغاني نوم یې د لویې جرګې پر ځای وکاروه، چې دا هم له افغان ولس سره لویه جفا وګڼل شوه. ملګرو ملتونو د پروفیسرانو د حکومت په دوره کې درې تنه نور (محمود مستیري، ډاکټر

هول او لخدر ابراهيمي) د افغانستان د مسئلې د سوله ييز حل په مقصد وټاکل، ليکن دغه درې وارړه په خپلو دندو کې ناکام ثابت شول.

**د افغانستان خلک او جهادي تنظيمونه:** په پېښور کې جوړ اووه او په ايران کې جوړ ۹ يا د ايراني ليکوال (سيد هادي خسرو شاهي) په وينا شل تنظيمونه چې د ايران د حکومت په هدايت او کومک منځته راغلي وو (وګورئ نهضت هاى اسلامى افغانستان، ايران چاپ)، د افغانستان د خلکو د ملاتړ او حمايت نه بې برخې او بې باوره پاتې شول، ځکه ولس په دې حقيقت خبر و، چې دغه ټول تنظيمونه د پرديو په مرسته جوړ او د پرديو په ګټه کار کوي. د دوی تر منځه جګړې او د ښارونو تباهي ټول د پرديو د مشورو او لارښونو نتيجه ده. دغه تنظيمونه په هېواد کې د پرديو د وران کاريو او لاسوهنو ډېره ښه وسيله وه.

**د طالبانو اسلامي غورځنګ او د افغانستان پېښليک ۱۹۹۵**
دغه سوچه اسلامي او افغاني غورځنګ د ۱۹۹۴ په پای او د ۱۹۹۵ په پيل کې د پښتنو په لرغوني تاريخي سيمه کندهار کې منځته راغی. افغان ولس د دې ځرګند حقيقت تصديق کوي چې د طالبانو په نامه اسلامي تحريک د تنظيمونو د وسله والو ډلو او د دوی د بې رحمه قوماندانانو د ناروا کړنو، اخلاقي انحطاط او له افغاني او اسلامي اصولو نه د سرکښۍ او د ملت د ملي او تاريخي رواياتو پر ضد د دغه ډلو تېلو د بدعت او ياغيتوب نتيجه وه. دې افغاني تحريک د خپل پاڅون په لومړۍ ورځ اعلان وکړ، چې دا نه کوم سياسي ګوند يا تنظيم دی او نه له کوم ګوند يا تنظيم سره تړاو لري. طالبانو پر ۱۹۹۶ کال د کابل ښار د نيولو پر وخت پخوانی جمهور رئيس ډاکټر نجيب الله هم وواژه، خو پروفيسر رباني له کابل نه وتلی و.

**د طالب غورځنګ لومړنۍ موخې او مقصدونه:** نوموړي تحريک په پيل کې خپل سرلوړي ولس او نړۍ ته خپل هدفونه داسې وښودل چې په ټول هېواد کې به سوله راولي، د وسله والو ډلو او سرکښو قوماندانانو زورواکي به پای ته رسوي، وسلې به راغونډوي، د افغانستان

د خاورې بشپړتیا به تامینوي او په افغانستان کې به د یو مضبوط اسلامي حکومت له منځته راوړو سره سم شرعي قانون جاري کوي. اسلامي تحریك دغه موخې او مقصدونه پوره کړل. افغانستان تجزیې او توکړې کېدو نه بچ کړای شو. په شمال، جنوب، ختیځ او لوېدیځ کې د امیرانو او قوماندانانو جوړې کړې پاچاهی له منځه یوړل شوې او هېواد تر یو اسلامي قانون لاندې راوستل شو. افغانستان یو اسلامي امارت اعلان شو او د ۲۱ پېړۍ په درشل او د شلمې پېړۍ په پای کې دغه اسلامي تحریك په هېواد کې د ۱۸ او ۱۹ پېړیو عنعنه بېرته نوي کړه، خو له دې توپیر سره چې د هغه وخت د امارتونو واکمنان امیران یادېدل او د نوي امارت مشر د امیر المومنین په نوم یاد شو.

## د طالبانو د اسلامي غورځنګ کړنې او د خلکو قضاوت:

بهرنیو هېوادونو (امریکې او اروپا) د طالب غورځنګ له کړنو سره د مخالفت په وجه دغه تحریك اسلامي بنسټپال او اختناق راوستونکي بللی دی. د هېواد دننه مخالفو جګړه مارو ډلو او ملګرو یې طالب غورځنګ د پښتونیزم بیا ژوندي کېدل او په هېواد کې د پښتنو د ۳۰۰ کلنۍ واکمنۍ د دوام په نوم یاد کړی دی او د افغان ولس عامو طبقو نوموړی غورځنګ د تنظیمونو د بې کفایته حکومت او د هغه د ظلم او جبر څخه د ژغورنې لویه وسیله وګڼله او د هغه ملاتړ یې وکړ. پوهانو او روښانفکرانو د طالبانو کړنې د نوي نظر او بیا کتنې او اصلاح وړ وګڼلې او دغه بیا کتنه او اصلاح د اسلامي غورځنګ افغان ولس او افغانستان په ګټه بولي.

ایا د طالبانو اسلامي تحریك واکمنې په ۲۰ پېړۍ کې د افغانستان د پېښلیك د پای ټکی دی؟

ایا د ملیونو افغاني مهاجرو د بې وطنۍ برخلیك به د شلمې پېړۍ تر پای پورې معلوم شي، لوی څښتن په خپله ښه پوهېږي.

یمه اوس زه داسې چې پنجرې ته چمن وایم
او په دې مسافرۍ کې غم خانې ته وطن وایم.

*په درناوی*

*۱۹۹۹ اجون ۷*

پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

# په افغانستان د انګرېزانو او شورويانو د يرغلونو پرتليزه څېړنه

درنو اورېدونکو!

ښه به دا واى چې ما خپله ليکنه په خپله تاسې محترمانو ته اورولې واى، خو پر دې کار بريالى نه شوم. هيله کوم چې هغه تاسې ته جالبه وي. په هر حال، له تاسې نه مننه کوم، چې هغه اوروئ. د دغه سيمينار له چلوونکيو په تېره له ښاغلي زرين انځور نه خوښي کوم، چې زه يې ورته بللى وم. د دغسې سيمينارونو په جوړولو کې ستاسې ټولو برى غواړم. م.ح.ک

له دغې ليکنې نه مې مقصد دا دى چې پر ۱۸۷۸ کال پر افغانستان د انګريزانو يا په دقيق ډول د برتانوي هند د حکومت او يوه پېړۍ وروسته پر ۱۹۷۹ کال د شوروي اتحاد د حکومت يرغلونه په پرتليز ډول تر بحث لاندې ونيسم. پر افغانستان د انګريزانو لومړي يرغل باندې بحث نه کوم. د موضوع په دغسې طرح سره زما د بحث موضوع د دغو يرغلونو تر منځ ورته والى او نه ورته والى او د هغې عواقب دي. هغه هم د واقع شويو پېښو پر اساس، نه په مجرد ډول د انګرېزانو پر اساس چې د هغو مطالعه د فلسفې د شاګردانو کسب دى. له دې امله زما بحث به نسبتاً محدود وي.

د ۱۸۷۸ کال د نومبر پر ۲۰مه د هندوستان د وايسراى او لوى ناظم، لارډليټن (Lord Lytton) په افغانستان باندې په رسمي ډول د جنګ

اعلان وکړ او د هندوستان درې نظامي واحدونه د بولان، خیبر او کرمې له لارې افغانستان ته ننوتل. د افغانستان پاچا امیر شېرعلي خان، که څه هم د شپږ پنځوس زره منظمه او په عصري وسلو سمبال اردو او شا ته ټینګ مدافع ولس لاره، له مخامخ مقابلې نه ډډه وکړه. دی مزار ته لاړ، چې له هغه ځایه روسیې ته لاړ شي او د روسانو هغه نظامي مرستې وطن ته شېوه کړي، چې هغو پر افغانستان بهرني تجاوز په مقابل کې په یوې معاهدې کې د هغو د استولو ژمنه کړې وه. خو په روسي ترکستان کې د روسانو اعلی ناظم جنرال فان کافمن (Von Kaffman) نه مرسته وکړه او نه یې امیر روسیې ته پرېښود.

امیر شېرعلي خان د غم او توبرکلوز د ناروغۍ د شدت له امله د بل کال (۱۹۸۹) د فبرورۍ پر ۲۱ مه مړ شو. په کابل کې د هغه زوی سردار محمد یقوب خان، امیر شو او هغه د خپلو مشاورینو د موافقې په خلاف د ګندمک تړون (مې ۱۸۷۹) په لاسلیك کولو سره د انګرېزانو ټولې هغه غوښتنې ومنلې، چې هغوی له امیر شېرعلي خان نه درلودې، انګرېزانو په دغه تړون سره ومنله چې خپلې لښکرې به له افغانستان څخه وباسي. خو افغانستان به د امیر له لارې اداره کوي، په دې ډول چې په کابل کې به د دوی یو خپلواك استازی او د افغانستان په شمال - غربي سرحداتو کې انګلیس الاصل نظامي افسران مېشت وي. خو د افغانستان ساتونکي په کابل کې د انګرېزانو پر ضد جګ شول. د هغو استازی لویس کوګناري (Louis Cavaganarie)، درې نظامي افسران او زیات شمېر هندي ساتونکي یې د هماغه کال د ستمبر پر ۳مه ووژل، انګرېزانو خپلو لښکرو ته چې څه یې وتلي او څه یې لا په افغانستان کې وو، بیا د مارش امر وکړ او د یرغل دویمه مرحله پیل شوه. کابل یې تر یوې سختې مقابلې وروسته ونیو او امیر محمد یعقوب خان له پاچایي نه استعفا وکړه. انګریزانو یا په دقیق ډول لارډلیټن د افغانستان د ټوټه کولو پلان وایست، په دې ډول چې د هندوکش نه د جنوب په لور افغانستان به د دوی په لاس کې وي. کندهار به په هندوستان پورې تړلی یو بېل سیاسي واحد وي، هرات به چې د سردار محمد ایوب خان په لاس کې و. ایران ته بخښي او تر هندوکش اخوا سیمې باندې چې د هر چا لاس بر شو، د هغه به وي. لیټن پر خپله دغه طرحه د "نوي نظم" نوم کېښود.

سل کاله وروسته پر ۱۹۷۹ کال د اتحاد شوروي سوشلستي جمهوریتونو حکومت پر افغانستان هم نظامي یرغل وکړ. بې له دې چې د هغه پر ضد یې د جنګ اعلان کړی وي، یا یې تر هغه دمخه د افغانستان دموکراتیك حکومت نه په رسمي ډول تقاضا ګانې کړې وي. د شوروي حکومت په دغه یرغل سره د افغانستان د خلق دموکراتیك ګوند د خلق له ګوندګي نه د حفیظ الله امین په سروالی حکومت له منځه یووړ او پر ځای یې د همدغه ګوند د پرچم د ګوندګي مشر ببرك کارمل په سروالی سره یو نوی خو پوره تابع حکومت پر پښو ودراوه. د افغانستان د خلق ډموکراتیك ګوند په اصل کې شوروي پاله ګوند و، په دې تفاوت چې د خلق په ګوندګي کې ملي تمایل قوي و او د پرچم په ګوند کې د کمونیزم بین المللي تمایل قوي و.

اوس د بحث غټ ټکی دا دی چې انګرېزانو او بیا سل کاله وروسته شورویانو د څه لپاره پر افغانستان ودانګل او د دوی د یرغلونو تر منځ د ورته والي او نه ورته والي ټکي کوم دي؟

د دغو یرغلونو تر منځ غټ ګډ ټکي دا دي چې دواړه د دې لپاره وشول چې په هغو سره امپراتوری خوندي وساتلی شي او یا هم پراخې شي.

انګرېزانو په هندوستان کې یوه لویه امپراتوري جوړه کړې وه. د هغې شروع یې په اوولسمې پېړۍ کې له بنګال نه د ختیځ هند شرکت له لارې کړې وه، پر افغانستان یې د یرغل په وخت کې ټولې هغه سیمې په لاس کې وې چې اوس د هندوستان، پاکستان، بنګله دېش او سري لانکا په نومونو یادېږي. دغه پراخ هندوستان د دوی د ویاړ مستعمره او له افغانستان سره چم ګاونډی وه.

انګرېزان د خپلې دغې مستعمرې د ساتلو په اندېښنه کې وو. دغه اندېښنه وروسته له هغه چې د نولسمې پېړۍ په سر کې د ناپلیون خطر له منځه لاړ، د همدغې پېړۍ په دویمې نیمایي کې په جدي ډول حس شوه. دا هغه وخت وو چې تزاري روسیې په منځنی اسیا کې د ملکونو پر لاندې کولو پیل کړی و. تزاري روسیه د کرایمیا په جنګ کې (۱۸۵۴-۱۸۵۶) د فرانسې، انګلستان، ترکیې او ساردینیا نه تر خپلې ماتې وروسته چې په اروپا کې یې د خپل پرمختګ مخه بنده ولیدله، منځنی اسیا ته متوجه شوه. پر ۱۸۵۷ چې په هندوستان کې د هندوستانیانو له خوا د انګرېزانو

د حاکمیت په مقابل کې یو لوی پاخون وشو او د انګرېزانو حاکمیت د لومړي ځل لپاره ولړزېد. تزاري روسیه لا په ملك نیولو کې زړوره شوه، په دې ډول چې په بله لسیزې کې یې د خوقند، بخارا او خوارزم پراج خان واکمنی ونیولې. یوازې د لوی پامیر او د افغانستان په شمال - غرب کې د ترکمنو سیمې لا پر ځای پاتې وې. تزاري روسیه په دې ډول له افغانستان سره هم سرحده شوه، یانې هم یې افغانستان ته خطر پېښ کړ او هم یې په منځنۍ اسیا کې د ملك نیولو هغه مسابقه قوي کړه، چې د "ستري لوبې" په نامه یادېده. د هندوستان برتانوي واکمنان هم په اندېښنه کې شول

د هندوستان ګرځندویانو د نولسمې پېړۍ په شلورمه لسیزه کې تثبیت کړې وه چې که روسان هندوستان ته خطر پېښ کړي، هغه به د هرات، کندهار، چمن، کوټې له لارې وي. له هغه وروسته د هندوستان رسمي حلقې په دې فکر شوې چې "هندوستان له پولو نه د باندې د ټولو باندینو نفوذو له ډلې نه په منځنۍ اسیا کې د روسانو پرمختګ چې افغانستان کې د انګرېزانو لوړ موقف ترټي، تر ټولو لوی خطر دی." دا چې هندوستان ته د روسانو خطر واقعي وو، معلومه نه ده. شاید واقعي نه و، خو په هندوستان کې یې وېره واقعي وه، په تېره هغه وخت چې په خپله په برتانیې کې د ټوري یا محافظه کار ګوند پر واك و. د دغه ګوند لویان په دې فکر وو چې له هندوستان څخه به هغه وخت په اغېزمن ډول دفاع شوې وي چې د هغه په سرحداتو کې دفاعي نظامي ترتیبات ونیول شي او د ضرورت پر وخت ګاونډي هېوادونه هم تر نفوذ لاندې راوستل شي. له بلې خوا د وېګ (Whig) یا لبرال ګوند لویان په دې فکر وو چې اغېزمنه دفاع هغه ده چې هندوستان په ښه ډول اداره شي او اصلاحات پکې وشي

د ۱۸۷۷ کال د جولای پر ۲۲مه د برتانیې د محافظه کار ګوند صدراعظم لارډ بیکنسفیلډ (Bexons field) د منځنۍ اسیا په باب د خپل حکومت دریځ څرګند کړ. دا هغه وخت وو، چې روسیه له ترکیې سره په جنګ وه او دا وېره موجوده وه چې هغه به د ترکیې پایتخت، قسطنطنیه ونیسي چې په هغه حال کې به هندوستان ته د برتانیې لاره نامامونه شي. نو د هغه په فکر په هغه حال کې "... پر روسیې د اسیا له لارې حمله وشي او لښکرې دې د فارس خلیج ته واستول شي نیې او د هندوستان ملکه دې خپلې لښکرې واستوي چې منځنۍ اسیا له مسکویانو څخه خالي کړي او

هغوی کسپین ته وشړي. "د هندوستان وایسرای لارډلېټن، دغه مشروطه څرګندونه کافي وبلله چې په افغانستان د ستراتیجکي له لحاظ مهم هېواد کې ازاد لاس ولري په دې ډول چې یو شمېر انګلیس الاصل نظامي منصبداران د هرات په سرحداتو کې ځای پر ځای کړي. د افغانستان باندې چارې ځانله منحصرې کړي، د امیر شېرعلي خان د کورنۍ واکمنۍ تضمین وکړي. افغانستان په داخلي چارو کې د امیر پر واکمنۍ ازاد پرېږدي او مالي مرسته ورسره وکړي. افغانستان به په دغسې حال کې د هندوستان د راجاګانو د قلمرونو په څېر یو تابع هېواد ګرځېدلی وي. لیټن څکه دغه نوې پالیسي غوره کړه چې د هغه په فکر څنګه چې د صناعتي کېدو په نتیجه کې د روسیې امپراتوري هم د برتانیې د امپراتورۍ په شان پراخه کېږي هندوستان باید د هغې په مقابل کې دوه دفاعي کرښې تاسیس کړي: بېروني دفاعي کرښه به یې له پامیر نه د امو په امتداد او دننی دفاعي کرښه به یې له پامېر نه د بامیان په امتداد تر هلمند او په پای کې د عرب تر بحیرې غزېدلې وي. لیټن فیصله کړې وه چې دی به امیر شېرعلي خان یا د ډیپلوماسۍ یانې د خبرو اترو له لارې یا پر نظامي زور باندې د دغه نوي سیاست منلو ته مجبور کړي، خو څنګه چې افغانستان په دغه حال کې د هندوستان د راجاګانو د قلمرونو په شان یو تابع هېواد کېده، هغه نه د امیر او نه د هغه د سلاکارانو لپاره د منلو و. دوی په دې فکر وو چې افغانان په خپل ملک کې د کافرو عیسوي منصبدارانو وجود نه مني او که دوی په افغانستان کې ځای پر ځای شول، دوی به افغانستان د افغانانو له اختیار نه وباسي، لکه هسې چې هندوستانیان یې بېواکه کړي دي. سره له دې هم د همدغې موضوع پر سر د دوارو هېوادونو د استازیو تر منځ یو شمېر ډیپلوماتیکي مذاکرې وشوې، خو هغه ټولې ناکامه شوې. امیر شېرعلي خان په پای کې د ځینو تغیراتو په راوستلو سره موافقې ته حاضر شو، خو لېټن تر پایه پورې پر خپلو غوښتنو ټینګ ولاړ وو، سره له دې چې د روسیې یرغل یې غیر محتمل ګاڼه. دا هغه وخت وو چې د اروپا امپیرلستي هېوادونو اسلامي نړۍ تر نفوذ لاندې راوستې وه، مسلمانانو اسلام په خطر کې لیده او یو ځای بل ځای یې پاڅونونه هم کړي وو او د پان- اسلام غورځنګ چې په اصل کې سید جمال الدین پیل کړی و، په قوت کې و.

د ۱۸۷۸ کال په مارچ کې د برتانیې او روسیې روابط د عثماني ترکیې پر سر نور هم خراب شول. برتانوي هند د ترکیې د ملاتړ لپاره یوه نظامي قوه مالتا ته واستوله او کشاله د جولای په میاشت کې د برلین په کانګرس سره په ظاهر کې هواره شوه. سره له دې هم په منځنۍ اسیا کې د روسیې اعلی حاکم، کافمن یو روسي نظامي هیئت د جنرال ستالي توف په مشرۍ پر امیر شېرعلي خان تحمیل کړ. دغه هیئت د اګست پر ۸مه کابل ته ورسېد. جنرال ستالي توف د روسیې په استازیتوب له امیر سره یو دفاعي او تعرضي تړون لاسلیك کړ او په هغه سره یې ژمنه وکړه، چې که پر افغانستان یرغل وشو، روسیه به له امیر سره نظامي مرسته کوي، خو روسیه د خپلې ژمنې په هکله صمیمي نه وه او هیئت یې بس د دې لپاره استولی و، چې انګرېزان په افغانستان کې بښکېل کړي. همدغسې هم وشول. دغه هیئت د لیتن لپاره د عمل کولو پلمه برابره کړه او له امیر نه یې وغوښتل چې روسي هیئت رخصت کړي او یو برتانوي هیئت ونیوال چمبرلین په مشرۍ، چې یوه اته سوه کسیزه نظامي قوه به ورسره وي، په کابل کې ومني او له هغه سره یو تړون وکړي. امیر شېرعلي خان د هیئت له منلو نه انکار وکړ او د خیبر افغان ساتونکیو هیئت له دې نه منع کړ، چې د افغانستان په خاوره کې قدم ووهي. د ۱۸۷۸ کال د نومبر پر ۲۰مه لیتن خپلو لښکرو ته پر افغانستان د مارش امر وکړ او هندوستان یې له افغانستان سره په جنګ اخته کړ.

هغه نظامي یرغل چې له هغه یوه پېړۍ وروسته شوروي اتحاد پر افغانستان وکړ، هم په دې مقصد و، چې د افغانستان په تاوان خپل جنوبي جمهوریتونه مامون کړي. شوروي اتحاد په ظاهر کې د شوروي اتحاد سوشلستي جمهوریتونو په نامه یادېده، خو هغه په واقع کې د تزاري روسیې پراخه شوې امپراتوري وه، چې د کمونیستي ګوند د سیاسي دفتر یا پولټبورو له خوا د کارګرو د دکتاتورۍ په نامه د ډېر ضیق او متمرکز اصل له مخې له پاسه د ښکته په لور اداره کېده او په دغه فکر یې عمل کاوه، چې د شوروي اتحاد ګاونډي هېوادونه هم سوشلستي نظامونه ومني او شوروي په کامپ یا کتار کې ودرېږي. دغه امپراتوري پر افغانستان د یرغل پر وخت په غرب کې د اروپا د ختیځو هېوادونو تر غربي پولو، په شرق کې تر ولادي وستوك، پورته تر شمالي قطب او ښکته تر افغانستان

پورې غزېدلې وه او د امریکې په شان د زبرځواك په نامه هم يادېده. سره له دې یا د خپل قوت په سبب دغه شوروي اتحاد، لکه څنګه چې مې دمخه وویل، د ۱۹۷۹ کال د دسمبر پر ۲۷مه د پنجشبې په ماښام پر افغانستان ودانګل او واکمنو یې د خپل یرغل د پر ځای ښودلو لپاره د يوه پر ځای څو دليلونه راوړل. غټ دلیل یې دا و چې افغانستان له بهر نه تر وسله والې مداخلې لاندې راغلی او شوروي اتحاد د هغه ترون له مخې ورسره نظامي مرسته کوي چې د ۱۹۷۸ کال په دسمبر کې د دوارو هېوادونو تر منځ لاسلیك شوی و. د "نظامي مرستې" په هکله یې څرګنده کړه چې بس "محدود قطعات" یې هلته استولي، په دې مقصد چې د باندنیو وسله والو لاسوهنو مخه ونیسي او همدا چې هغه دلایل له منځه لاړل، نو د هغو په سبب د همدغو "محدودو قطعاتو" استول ضروري شوي وو، هغه به بېرته وغواړي. دغه څرګندونه سرې ته د ولادي میر لینن او د شوروي نورو لويانو هغه وینا په زړه کوي چې د همدغې پېرۍ په دويمه لسيزه کې یې د خیوې او بخارا په هکله کړې وه. هلته یې هم لبنكرې استولې وې او د "ځوانو بخارايانو" په نامه یې د خپلې خوښې يوه ډله بخاریان په واك راوستي وو، خو خپلې قواوې یې له هغه ځایه هغه وخت وایستلې، چې د شوروي امپراتورۍ منحله شوه. د شوروي لويانو بل غټ دلیل دا وو څنګه چې امریکې په ایران کې د امام خمیني له واکمنېدو سره زموږ خاورې ته په پټه ځانونه رسولې دي. شوروي لويانو دغه څرګندونه خپل ګوند په رسمي اخبار، پراوډا کې کړې وه. له دغې څرګندونې شپږ میاشتې وروسته بيا ليونيد برېژنيف، د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند لوی منشي، چې په واقع کې د شوروي اعلی واکمن و، ادعا وکړه چې ټول هغه پلانونه شنډ شول چې مقصد یې "... د جنوب له خوا زموږ په هېواد کې د تهديد پيدا کول وو." د شوروي لويانو دغه دوه دليلونه یو له بل سره سر نه خوري او د وروستي نه یې مقصد دا وو چې د افغانستان له لارې، د شوروي اتحاد جنوبي سيمې نامصونې شوې، یانې د شوروي اتحاد امپراتورۍ ته خطر پېښ شوی او دوی دغه خطر افغانستان ته د "محدودو قطعاتو" په استولو سره شنډ کړ.

شوروي واکمنو د خپلو ادعاګانو د تثبیت لپاره تر اخره پورې اعتبار وړ لیکل شوي شواهد و نه ښودل، خو په هغو ټينګ ودرېدل او عمل یې

پرې وکړ. چې هغه ما په خپل کتاب کې بې اساسه ثابتې کړې او دلته پرې له بحث کولو نه تېرېږم او دومره وايم چې د يرغل له هماغه اول سر نه د افغانستان ساتونکيو په خپل وطن کې د کوم بل ملك له نظامي قواوو سره نه، بلکې د شوروي اتحاد له لښکرو سره مقابله وکړه. مقابلې لس کاله دوام وکړ، چې په پای کې د شوروي اتحاد عالي شورا د ليونيد برېژنيف او نورو لويانو ادعاګانې نه دا چې رد کړې، بلکې هغه يې د اتلسو رايو په مقابل کې په ۱۶۷۸ رايو سره په دغو عباراتو د اساسي قانون پر خلاف اعلام کړ، چې افغانستان ته د لښکرو د استولو فيصله "... د يوې وړې حلقې له خوا د شوروي اتحاد قانون پر خلاف وشوه، چې د هغه له مخې دغسې موضوعات د دولتي لوړو هيئتونو صلاحيت ګڼل شوی دی." دلته پر دغه ټکي لږ څه مکث په کار دی، چې پر افغانستان د ليونيد برېژنيف او نورو د يرغل اصلي مقصد څه و؟

شواهد په قانع کوونکي ډول سره ثابتوي چې د شوروي واکمنو او په سر کې يې برېژنيف غوښتل افغانستان هغسې لاندې کړي، لکه چې لينن او ستالين دمخه بخارا او خېوه لاندې کړي وو او هغسې چې په هغه کې هغوی غوښتل بخارا د "ځوانو بخارايانو" له لارې اداره کړي. برېژنيف او نورو هم غوښتل چې افغانستان د پرچم د ګوندګي له خوا د ببرك کارمل په سروالي اداره کړي. دوی ځکه غوښتل دغسې وکړي چې دوی د دېرشو کلونو په موده کې په افغانستان کې د کريډتونو په ورکولو او د کمونستي فکرونو په خپرولو سره نفوذ خپور کړی و، خو د يرغل په وخت کې د شوروي واکمنو د انتظار په خلاف حفيظ الله امين چې د نور محمد تره کي له منځه وړلو وروسته يې اعلی واك په خپل لاس کې متمرکز کړی و، غوښتل افغانستان په خپلواك ډول د خپل ګوندګي له لارې اداره کړي. دغه څه په خپله د شوروي اتحاد د کمونيستي ګوند د مرکزي کمېټې د پولټبورو له هغه پرېکړه ليك نه واضح دي چې تر يرغل دمخه د ۱۹۷۹ کال د اکتوبر پر ۳۱مه يې ثبت کړی او هغه د شوروي اتحاد تر انحلال وروسته برالاشوی دی. په هغه کې حفيظ الله امين د شوروي په برابر کې "دوه - مخي او غير صميمي" ښودل شوی، چې "نه يوازې د شوروي - ضد چلندونو مخه نه نيسي، بلکې تشويقوي يې." په پرېکړه ليك کې دا هم راغلي چې "د امين د هغو هلو ځلو په هکله چې غواړي له حکومتي ضد

مسلمانو مخالفینو او د قومي سرانو لـه استازیو سره تماسونه ونیسي، چې د هغو په جریان کې هغه خپله اماده ګي ښودلې چې د موجود حکومت پر ضد د موافقې په کولو کې دا هم راغلي چې امین غواړي د لویدیزو قدرتونو په برابر کې "لامتعادل سیاست" غوره کړي. پرېکړه لیك امین د یوه نوي جوړ شوي ګوند "د افغانستان ملي دموکراتیك ګوند" موسس هم ګڼي. د شوروي پولټبورو د دغو او نورو ورته ټکیو تر ذکر وروسته دې نتیجې ته رسېدلې چې "...دا پوره ممکنه ده چې امین د دې لپاره خپل قدرت خوندي وساتي چې د رجیم د سیاسیت جهت واړوي." د کې جي بي د یوه لوړ رتبې مامور جنرال لیونید شبرشین (Sheburshin) په قول کې جي بي په دې فکر شوې وه چې د امین پلان دا و چې "پر موږ د سادات کانه وکړي." محمد انور السادات د مصر جمهور رئیس هغه شخص و، چې تر ۱۹۷۲ کال پورې یې خپل ملك د شوروي لـه کتاره وایست او د غربي نړۍ په کتار کې یې ودراوه.

د انګلیسانو او شوروي یرغلونو په جریان کې د افغانستان دننه د دوی سیاسي او نظامي عاملانو دغسې چلندونه کول او داسې سلوکونه یې غوره کول چې هغه په ځینو خواوو کې سره ورته او په ځینو کې سره مخالف وو، د دوی دغه سلوکونه د دوی په هېوادونو کې د سیاسي نظمونو انعکاس و.

انګریزانو د ګندمك تړون وروسته لـه افغانستانه د خپلو لښکرو په ایستلو پیل وکړ او په دې یې اکتفا وکړه، چې په کابل کې د خپل سفیر او نظامي منصبدارانو او د سیاسي عاملانو لـه لارې به د امیر محمد یعقوب خان په واکمنۍ سره د افغانستان حکومت تر دې حده تر نفوذ لاندې کړي چې په پای کې به عالي واك دوی ته منتقل شي. لکه هسې چې د هندوستان لـه راجاګانو نه یې واك خپل کړی و، خو د افغانستان ساتونکیو په کابل کې په یوه پاڅون سره دغه طرح رد کړه، په دې ډول چې د ۱۸۷۹ کال د سپتمبر پر ۳مه یې هلته د انګلیس سفیر، درې تنه نظامي افسران او د هغوی ۷۵ تنه هندوستاني ساتونکي لـه منځه یوړل. لیتن تر هغه وروسته د افغانستان د تجزیې پلان وایست، چې د هغه غټ ټکي مې دمخه بیان کړي. د دغه پلان لـه مخې به افغانستان به د هندوستان، ایران او هم ممکن د روسیې تر منځ وېشل شوی وي. د هندوستان برخه به پکې

غـته وي، پـه دې ډول چـې د هندوکش جنوبـي سيمې بـه د کندهـار پـه ګډون د هندوستان پـه لاس کـې وي. يـانې هندوستان بـه د ليتـن د مخکـې يـادې شـوې ستراتيجيکي دفـاع دننـې کـرښې تـه رسـېدلی وي. انګريزانـو تـر پـاڅون وروسـته کـابل پـه نظـامي زور سـره نيولـی او امـير محمـد يعقـوب خـان استعفی کـړې وه، يـا استعفی کولـو تـه مجبـور شـوی و، خـو وروسـته د همدغـه کـال (۱۸۷۹) پـه دسمبر کـې هغـه ټينـګ مقـاومت چـې د کابلستان پښتنو او تـاجکو وښود، هم پـه هندوستان او هـم پـه برتـانيې کـې انعکـاسات وکـړل. انګليسـانو د ۱۸۸۰ کـال د اپـرېل پـه عمومـي انتخابـاتو کـې چـې افغانسـتان يـوه انتخابـاتي موضـوع شـوې وه، محافظـه کـار ګونـد تـه مـاتې ورکـړه او د هغـه رقيـب وېګ يـا لـبرال ګونـد يـې پـر واك کـړ، چـې د هغـه مشـر ګليدسـتون (Gladstone) وعـده کـړې وه چـې کـه د ده ګونـد پـه واك شـي، لښکـرې بـه لـه افغانسـتان څخـه پـه عـزت سـره وباسـي. ده همدغسـې وکـړل. کندهـار يـې هـم کـابل تـه وسپاره. سره لـه دې چـې د هغـه واکمنـي د انګرېزانـو د يـوه لاس پـوڅي پـه کورنـۍ کـې مـيراتي اعـلان شـوې وه. البتـه دا هغـه وخـت و چـې د افغانسـتان سـاتونکيو د جنـرال محمـد ايـوب خـان پـه مشرۍ پـه ميونـد کـې د ۱۸۸۰ کـال د جولاۍ پـر ۲۷مـه د انګرېزانـو يـو لښکـر تـار و مـار کـړی و. د بـل کـال پـه سپتمبر کـې امـير عبدالرحمـن خـان چـل زينـې تـه نـږدې پـه زاړه ښار کـې کندهـار لـه جنـګ سـره لـه غـازي محمـد ايـوب خـان نـه ګاټه. د اکتوبـر پـر درېيمـه يـې هرات هـم تـرې ونيـو او افغانسـتان يـې لـه ځينـو سـرحدي ځايونـو نـه پرتـه چـې انګرېزانـو پـه خپـل لاس کـې وسـاتل د ليتـن د تجزيـې د پـلان پـه خـلاف بېرتـه متحـد کـړ. د انګرېزانـو پـه وسـلو او مـالي مرسـتې سـره يـې پيـاوړی کـړ. افغانسـتان د ده پـه واکمنـۍ کـې پـه واقـع کـې ازاد و، خـو باندنـۍ چـارې يـې د انګرېزانـو پـه لاس کـې وې.

د انګرېزانـو تـر يرغـل سـل کالـه وروسـته پـه افغانسـتان کـې د مقـاومت پـه دوره کـې د شـوروي د لويـانو او عـاملانو چلنـد د برتـانوي هنـد د واکمنـو او عـاملو لـه چنـد نـه پـه ځينـو برخـو کـې پـه اساسـي ډول متفـاوت و، اساسـي تفـاوت دا و چـې د شـوروي حکومـت د انګليسـانو د حکومـت پـه تناسـب پـه نظـامي زور بـاندې زياتـه ډډه وکـړه، داسـې چـې پـه افغانسـتان کـې يـې لـه اټومـي وسـلو نـه غير لـه ټولـو عصـري وسـلو پـه تېره لـه هوايـي قـوې نـه پـه پـراخ ډول کـار واخيسـت. سـره لـه دې هـم د افغانسـتان سـاتونکيو پـه ټول

افغانستان کې د يرغلو او د هغوی د پرچمي تابع رژيم پر ضد په دغسې ټينګ او پرله پسې مقاومت باندې لاس پورې کړ چې شورويان په هر هغه بل هېواد کې چې پرې دانګلي يې وو - نه و ورسره مخامخ شوي. هو، دوستو هېوادونو د افغانستان له ساتندويانو سره د وسلو لوجستيکي او طبي موادو او نغدي مرستې کولې، خو د دفاع او مقاومت اراده چې د جنګ د نتيجې ټاکونکې ده، يوازې او يوازې د افغانستان د ساتندويانو وه. په نتيجه کې د شلمې پېړۍ په اتمه لسيزه کې دننه په افغانستان کې د يوه ۲۸۰ مليونيي زبرځواك او د پنځلس مېليونو افغانانو تر منځ د تجاوز او دفاع دغسې يوه صحنه جوړه شوې وه، چې په دغه پېړۍ کې يوازې پر ويتنام د يرغل او دفاع صحنه ورسره پرتله کېدلای شي. که د شوروي واکمنان د برتانيې او برتانوي هند د واکمنو په څېر واقع کېدونکي انسانان وای. او يا که شورويان د انګرېزانو غوندې د دموکراسۍ پر اصولو اداره کېدلی د شوروي واکمنو به په کابل کې د حوت تر ياقوت وروسته د وتلو تجويز کړی وای. لکه چې سل کاله دمخه د برتانيې واکمنو دغسې وکړل. يا امريکايانو شپاړلس کاله دمخه تر هغه په ويتنام کې وکړل. خو شوروي اتحاد تر لس کاله سر زورۍ وروسته د ميخايل ګورباچوف په مشرۍ ژنيو د توافقاتو له مخې خپلې لښکرې له افغانستان څخه هغه وخت وايستلې چې نږدې له هرو پنځلسو افغانانو نه يو مړی شوی، له هر درېيم افغان نه يو کډوال شوی، افغانستان تر زياتې اندازې وران شوی او په خپله زبرځواك شوروي اتحاد د ځنکدن حال ته رسېدلی و. په دې ډول د شوروي واکمنو او نورو حکومتي عاملانو په عمل کې وښودله چې د عقيدې، ايډيالوجي او انحصاري سياست نتيجه سرزوري او ورانی دی.

له افغانستانه د شوروي لښکرو تر وتنې سل کاله مخه د انګريزي لښکرو دوتلې په تناسب ډېر جنجالونه افغانانو ته پرېښودل. انګرېزانو تر وتلو دمخه خيبر، مچنې، سيبي او کرمه له افغا نستانه جلا کړل او په هند پورې يې وتړل، خو له هغه وروسته يې له امير عبدالرحمن خان سره د افغانستان په پياوړي کولو او متحد کولو کې مرستې وکړې، لکه هسې چې دمخه مې دغه ټکی ياد کړ. داسې يې هم ټول هغه اشخاص او ځينې ډلې او لړه کې قومونه چې د جنګ په وخت کې يې د غازيانو په مخالفت د



ACKU

يرغلګرو ملا تړ کړې و، د امير عبدالرحمن خان رحم يا بې رحمي ته وسپارل. خو پر ۱۸۹۲ کال يې بيا هم د هند نه د دفاع په مقصد د نوې ستراتيجۍ په عملي کولو سره پر همدغه دوست امير د ډيورنډ موافقه تحميل کړه او په هغې سره يې پښتانه په دوو برخو ووېشل، هغه قوم چې د دوی پر ضد يې تر هر بل قومه زيات د وطن دفاع په ټينګه کړې وه، دغه تحميل پر افغانستان دومره بد تاثيرات وکړل چې نتيجه يې سل کاله وروسته د شوروي يرغل شو. خو برتانوي لويانو د جنګ په وخت کې دومره شرافت وښود چې د افغانستان مقاومت کوونکي يې د "ملي ګوند" يا "غربي ګوند" په نامه يادول، په داسې حال کې چې د شوروي واکمنو او عاملانو او د هغوی په اطاعت پرچمي ببواکو ساه کښانو د افغانستان مقاومت کوونکي د "داړه مارو"، "اجيرانو" او "په ډالرو او کلدارو خرڅ شوي" نومونه يادول.

د شوروي لويانو په افغانستان کې د خپل يرغل په دوره کې له نظامي او زور له لارې سربېره په عين حال کې نورې لارې هم غوره کړې، د قومي لمسون او د افغانستان د تجزيه کولو لار، انګرېزانو هم دغه وروستۍ لار غوره کړې وه، لکه چې دمخه مې د هغې يادونه وکړه، خو هغوی د شورويانو په اندازه جدي نه وو.

د شوروي واکمنو، لکه چې دمخه مې وويل: د خپل يرغل په سر کې څرګنده کړه چې خپلې لښکرې به له افغانستانه د پرديو د لاسوهنو تر شنډولو وروسته وباسي. نو دوی او په افغانستان کې د دوی عمالو په عمل کې وښودله چې دوی په خپلو وينا وو کې رښتيني نه وو. دوی په عمل کې په دې پيل وکړ، چې افغانستان د ختيځې اروپا د هېوادونو په څېر لاندې کړي او که دا يې ونه کړای شول، تجزيه به يې کړي. په دې ډول چې د هندوکش نه تر آمو پورې غزېدلې سيمې له افغانستان نه بېلې کړي او په پای کې يې پر خپلې امپراتورۍ پورې وتړي. دوی هغه وخت په دغه پلان باندې پيل وکړ چې د ټول افغانستان پر لاندې کولو شکمن شول. د همدغه پلان له مخې يې په مزار کې يو فرعي حکومت جوړ کړ، په دې ډول چې د صدر اعظم سلطان علي کشتمند د مرستيال په سرواليۍ يې هلته د ټولو وزارتونو معينان مېشت کړل. له شمالي ولايتونو نه يې صلاحيت ورکړ، چې د شوروي اتحاد د منځنۍ اسيا له جمهوريتونو سره نېغ په نېغه اړيکې

ولري او ورسره هيئتونه په تېره په سوداګرۍ کې مبادله کړي. په دې ډول په ټول افغانستان کې يوازې د شمال ولايتونو کولای شول چې بې له دې چې له کابل نه اجازه ترلاسه کړي، د شوروي اتحاد د منځنۍ اسيا له جمهوريتونو سره په مستقيم ډول هر اړخيزه مراوده ولري. په عين حال کې يې د قومي ملېشا يا قومي غونډونو د تشکيل پروژه پيل کړه چې په هغو کې د جنرال عبدالرشيد دوستم ملېشه تر ټولو لويه وه او د بېلا بېلو منابعو په قول تر ۱۹۹۲ پورې تر شپېتو زرو پورې رسېدلې وه. د قومي غونډونو پروژه د هغې طرحې برخه وه چې په هغې سره به له لږکيو قومونو وسله وال غونډونه راوځي.

همداراز يې د مليتونو د پاليسي په ايستلو سره د افغانستان قومونه په حقوقو کې سره برابر وګڼل، مانا دا وه چې د پښتون قوم به چې د افغانستان د نفوسو ډېره غټه برخه تشکيلوي د جمشيدي غونډې واړه قوم سره برابر حقوق ولري. په اصل کې د قوم موضوع په دغسې ډول سره طرح کول په دې مقصد وه چې د وطن په قومونو کې حساسيت خلق شي او ټول قومونه د پښتون قوم په مقابل کې په يوه صف کې ودرېږي. دا هماغه ستمي فکر و، چې د شوروي عمالو د پرچم د رژيم له لارې عملي کاوه او د هغه د عملي کولو لپاره يې په ډېرو برخو کې کار کاوه. د همدغه فکر له مخې يې د پښتنو سيمې تر سوزوونکيو بمباريو لاندې ونيولې، چې د هغو په اثر په پاکستان کې په مهاجرو افغانانو کې د پښتنو شمېر په سلو کې پنځه اتيا ته ورسېد. دا ټول په دې مقصد کېدل چې د افغانستان قومي جوړښت واړول شي او اکثريت په اقليت بدل شي او افغانستان په ظاهر کې د پرچمي رژيم خو په واقع کې د شوروي لپاره ارام او اداره شي او که سره له دې هم داسې و نه شوه، دوه برخې شي او په هر حال کې شمالي افغانستان په اول سر کې په يوه فيدرالي سيستم کې خودمختار وګرځي او په تدريج سره د شوروي اتحاد يوه برخه يا د ببرك كارمل په وينا د اتحاد شوروي شپاړسم جمهوريت جز وګرځي او په دې ډول شوروي اتحاد تر هندوکش پورې چې يو طبيعي سنګر ګڼل کېږي خان ورسوي. البته هندوکش ته خان رسول د شورويانو لپاره نوی فکر نه و. دغه فکر اول د تزاري روسيې د عمالو له خوا د انګرېزانو د دويم يرغل په دوران کې هغه وخت ښودل شوی و، چې امير شېرعلي خان مړ شو او امير محمد يعقوب

خان هندوستان ته تبعید شوی و. د تزاري روسیې عمالو سردار عبدالرحمن خان چې یوولس کاله یې په تاشکند او سمرقند کې د یوه مهاجر په ډول تېر کړي وو، د همدغه فکر له مخې شمالي افغانستان ته د تللو لپاره وهڅاوه او د دې امکان و چې هغه به هلته د روسیې تر نفوذ لاندې ځانله یو دولت جوړ کړي.

د شوروي عمالو د پرچم د ببواکو ساه کښانو، ستمیانو او د تولو فیدریشن غوښتونکیو په همکاري سره د پورته طرحې د عملي کولو لپاره دومره ډېر فعالیتونه کړي چې هغه د شوروي اتحاد په انحلال سره هم ترک نه شول. دغه طرح د فیدرالي روسیې او ایران په فعالې مرستې سره اول په ۱۹۹۲ کال د مارچ پر ۲۱مه د شمال په ائتلاف کې او وروسته د ۱۹۹۶ کال د اکتوبر پر ۱۰مه د خنجان په تړون کې سر هسك کړ، خو طالبانو د سترو قربانیو په ورکولو سره هغه شنډه کړه او افغانستان یې د یو موټي کولو درشل ته ورساوه. اوس دوی د افغانستان په یوه ګوټ کې د هغې د یوازنۍ پاتې قدرت په ځپلو اخته دي، چې د احمد شاه مسعود په قوماندانۍ د افغانستان د تمامیت په قیمت د "لوی تاجکستان" طرحې لپاره د ایران او فیدرالي روسیې په وسلو او پیسو او ملاتړ کار کوي. دغه طرح هم د شنډېدلو په حال کې ده. د افغانستان د تمامیت د خوندي کولو په مقصد د طالبانو په نامه د هېواد د کلیو او بانډو ځوانانو به د خپلو مشرانو په رهبرۍ دغسې کارنامې کړې وي، چې د معاصر افغانستان د سترو کارنامو په کتار کې به د تل لپاره اوچت مقام ولري.

پر افغانستان اول د انګرېزانو او تر هغه یوه پېړۍ وروسته د شورویانو یرغلونه د نړۍ په دغې مهمې ستراتیجیکي سیمې کې له شمال نه جنوب ته او برعکس د یرغلیزو حرکتونو تمثیل کوونکي وو. خو د افغانستان ساتونکیو د وطن پالیسي او ازاد اوسېدلو په روحیې سره هغه دواړه په نره ختنۍ کړل. دوی په واقع کې په خپلو بریالیو مقاومتونو سره د زبرځواکونو د ملکونو نیولو هڅې ناکامې کړې او خپل هېواد یې هم له تجزیې نه وژغوره، که څه هم ځینې سرحدې سیمې یې له لاسه ورکړې. د زبرځواکونو د ملکونو نیولو د هڅو په شنډولو سره بې له دې چې پام یې شوی وي، نړیوالو ته هم خدمت وکړ، که د افراطي تنظیمونو او افراطي قومي ملېشه سروالانو د بدنیتو ګاونډیو په لسمونو سره په خپلو کې نه وای خوړلي او

خپل هېواد يې وران کړی نه وای، د افغانانو او افغانستان حيثيت به په جهان کې هم خوندي پاتې وای، خو دوی د کورني جنګ په پيلولو سره چې د هغه په دوران کې يې خپل وطنوال ووژل او خپل هېواد يې لا هم وران کړ، نه يوازې خپل ځانونه د تل لپاره بدنام کړل، د افغانستان حيثيت يې هم پر ځمکه وواهه. دوی له هغه څه څخه چې د مقاومت په دوره کې پېژندل شوي وو، ځانونه په کراتو واړه کړل. بده يې لا دا ده چې دوی هم د کمونستانو په څېر د ميرويس هوتك او احمد شاه دراني په وياړلي هېواد کې ګاونډي هېوادونه پر لاسوهنو معتاد کړل. دا هغه څه وو چې بدنيته ګاونډيان ورته کلونه کلونه په انتظار کې وو. افغانستان چې هر وخت، په هر علت ضعيف شوی، بد نيتو ګاونډيو له هغه نه د ځان په ګټه استفاده کړې، نو اوس په داسې حال کې چې د افراطي مذهبيونو افراطي قومي ملېشه، افراطي چپيو او افراطي ستميانو لويانو د وطن په چارو کې بدنيته ګاونډيان په لاسوهنو معتاد کړي، يوازې په وطن ولسي واکمنی او ملي ناموس باندې مين افغانان د امن ضامنان کېدلی شي، يوازې دوی د دې درك کولی شي چې يوازې په خپلواك او متمدن وطن کې ژوند مفهوم لرلی شي، يوازې دوی د دې درك کولی شي چې دغه وطن دوی ته د دوی د نيکونو د زرګونو کلونو ميراث دی او دا د دوی مسوولیت دی چې خپلو اولادونو ته دغه ميراث اباد کړی وسپاري.

يادښت:

د دې ليکنې په برابرولو کې د لاندينيو آثارو مربوط فصلونه کتل شوي دي:


۱- کاکړ، محمد حسن: جنګ دوم افغان - انګليس، د افغانستان اسلامي ملي محاذ، پېښور، ۱۳۶۷ل.

۲- کاکړ، محمد حسن: افغانستان د شوروي يرغل او د افغانانو ځواب، د کليفورنيا پوهنتون خپرونه، برکلي، لندن، ۱۹۹۵.

۳- هنري، براډشير: افغانستان او شوروي اتحاد، د ډيوك پوهنتون خپرونه، د درهم ښار، ۱۹۸۵.

۴- ډي، يي، سنګهل: هندوستان او افغانستان، ۱۸۷۶، ۱۹۰۷، د کويتر لينډ د پوهنتون خپرونه، کويترلينډ، ښار، استراليا، ۱۹۶۳.

پوهاند ډاکټر حبیب الله تږی

# په شلمه پېړۍ کې د افغانستان د سیاسي نهضتونو او بهیرونو تاریخي څېړنه

په افغانستان کې د یوه مقتدر مرکزي حکومت د جوړولو لومړۍ هڅې د نولسمې پېړۍ په اواسطو کې پیل شوې، خو په دې لاره کې ډېرې کلکې او کامیابې هڅې، د دغې پېړۍ د وروستیو دوو لسیزو په سر کې امیر عبدالرحمن شروع کړې او په نتیجه کې یې یو ډېر مضبوط مطلقه مرکزي حکومت جوړ کړ او په هېواد کې یې امنیت تامین کړ.

امیر د دې تر څنګه یو شمېر محلي مذهبي مشران د سیاسي ملاحظاتو پر اساس او د درباري او دفتري چارو د چلولو لپاره کابل ته ور وستل او له یو تعداد سردارانو او کاردارانو سره یې په کارونو وګومارل. په عین وخت کې هغه د متنفذو محلي او قومي مشرانو زامن هم په کابل کې وو، چې په دربار کې یې د غلام بچه ګانو په حیث ژوند کاوه او نه یوازې یو څه سبق یې لوستی و، بلکې پر جهاني سیاسي حالاتو یې هم تر یوه حده ځانونه خبر کړي وو. په دې ډول په کابل کې د اجتماعي او ثقافتي تحول لپاره یو څه لومړني ضروري شرایط برابر شوي وو.

کله چې حبیب الله پاچا شو، له دې زمینې نه یې استفاده وکړه او د ټولنې عصري کولو او انکشاف ته یې توجه ورواړوله، خو څرنګه چې په فردي استبدادي او مطلقه نظام کې د سیاسي، اجتماعي او ثقافتي نهضتونو د انکشاف امکانات بیخي کم وي، نو حبیب الله په اول قدم کې د خپل پلار استبدادي سلوک پرېښود، د

انساني کرامت کومې منافي سزاوې چې د عبدالرحمن په مطلقه واکداری کې ورخینی دود و، هغه یې بندي کړې او ډېر بندیان یې عفو او خوشې کړل. له دې سره یو شمېر هغه افغانان هم بېرته هېواد ته روان شول چې د استبداد په زمانه کې خارج ته فرار شوي وو او په نتیجه کې په کابل کې د هغو په څه پوه خلکو شمېر نور هم زیات شو، چې د اصلاحي او انکشافي پروګرامونو د چارو د چلولو لپاره یې موجودیت ضرور و. علاوه پر دې حکومت یو شمېر خارجي په تېره بیا هندي او ترکي ماهران هم په همدې مطلب استخدام کړل.

په څه پوه افغانانو کې یو شمېر داسې کسان هم وو، چې لکه امیر غوندې یې د غربي مدنیت او مترقي ژوند مزایا په یوه یا بله سویه درك کړې وې او له هغه سره یې نه یوازې د اصلاحي او انکشافي پروګرامونو د تطبیق په برخه کې فعاله برخه واخیسته، بلکې د امیر د تشویقولو کوښښ یې هم کاوه، یو شمېر منورینو له موقع نه استفاده وکړه او د هېواد د خپلواکۍ د احساس او جذبې او نویو نظریو او افکارو د خپرولو او تقویې لپاره یې هلې ځلې زیاتې کړې. د افغانستان د معاصرو تاریخي پېښو لیکونکیو د دغه وخت ډېر زیات په څه پوه افغانان چې قاطع اکثریت یې د دربار کارداران او حکومتي مامورین وو، "د مشروطه غوښتونکیو" په نامه یاد کړي دي او د افغاني ټولنې د سیاسي او فکري نهضت ابتدا هم همدې ته منسوبوي. دا د تاریخي پېښو لیکونکي، په مشخص ډول د هغه څه مطالعه چې خپله یې د اول مشروطیت نهضت بولي، د سراج الاخبار د ورځپاڼې له انجمن نه چې پر ۱۹۰۵ کال تاسیس شو، پیلوي او د مشروطیت د تحریك باني هم د همدې انجمن یو وتلی غړی، محمد سرور واصف بولي. دغه راز دوی د هغه څه ابتدا هم د سراج الاخبار له دویم ځل خپرېدو نه پیلوي، چې د دویم ځل مشروطیت د تحریك په نامه یې یادوي او په دې ډول د افغانانو ثقافتي او سیاسي نهضت کلك سره تړي.

څرنګه چې د افغانستان د شلمې پېړۍ د اولو څو لسیزو د سیاسي او اجتماعي تحریك یا د "مشروطیت د نهضت" په باره کې ډېر معتبر منابع همدغه د افغانستان د معاصرو تاریخي مسایلو په باره کې د افغانانو یو څو لیکنې دي، نو موږ هم د خپل دې مضمون د لیکلو لپاره همدې لیکنو ته مراجعه وکړه او و مو کتلې. د کتلو په نتیجه کې د استفادې تر څنګه د دې آثارو د محتویاتو په ارتباط ډېر داسې اساسي سوالونه هم راته پیدا شول چې موږ ته یې پرته د ځوابونو له پیدا کېدو نه د افغانستان د شلمې پېړۍ د هغو اجتماعي او سیاسي حالاتو په باره کې افاقي تحلیل او قضاوت بیخي ګران ښکاره شو، چې د "مشروطیت" د نهضت یا

تحریك په نامه یاد شوی دی؛ ځکه نو مو فیصله وکړه، چې "د افغانستان د سیاسي نهضتونو او بهیرونو د تاریخي څېړنې" یا هغې موضوع پر ځای چې د دې غونډې جوړوونکیو راته ټاکلې وه. د همدې لیکنو د محتویاتو په باره کې ځینې پوښتنې راپورته کړو، خو مطلب دا نه دی چې دې پوښتنو ته سملاسي ځوابونه ورکړل شي. بلکې اصلي مقصد دا دی چې اول دا پوښتنې راپورته شي او بیا یې افاقي او منطقي ځوابونه ولټول شي او په عین وخت کې یو بل ډېر مهم ضرورت هم پوره شي او هغه د افغاني ټولنې د معاصرو تاریخي پېښو د لیکنو څرنګوالی او جدي کره کتنې ته د بیخې کلکې توجه ور اړول دي.

موږ په دې بحث کې هغو یو څو لیکنو ته د اشارې پر وخت چې د افغانستان د معاصرو تاریخي مسایلو په ارتباط په دا تېرو څو لسیزو کې شوې دي، د کوم خاص اثر او یا د هغه د لیکوال نوم نه اخلو خو اورېدونکو ته په کلکه ډاډ ورکوو، چې هر مطلب او مفهوم په دې مضمون کې ورته منسوبېږي، هغه مسلماً په همدې آثارو کې راغلی دی او هر لوستونکی یې په ډېره اسانۍ پکې پیدا کولای شي، موږ دغو تاریخي لیکنو ته وروسته له دې د کار د اسانتیا لپاره فقط دا "یو څو لیکنې" وایو.

لکه څنګه چې په دا یو څو لیکنو کې هم د نورو معتبرو آثارو په شان په صراحت ویل شوي دي، د افغاني ټولنې د اجتماعي او ثقافتي اصلاحاتو او ترقۍ لپاره نسبتاً پراخې هڅې د امیر حبیب الله په وخت کې او اکثره یې خپله د همده په اراده او غوښتنه پیل شوې او د افغانانو لپاره د یو څه په ارامه ساه ایستلو او په اجتماعي – سیاسي فعالیتونو کې د نسبي اشتراك زمینه هم په همدې وخت کې برابره شوه، خو کله چې سړی دا لیکنې لولي، نو ګوري چې تقریباً ټول هغه کسان چې د مشروطه غوښتونکیو په کتار کې درول شوي دي، د اصلاحاتو، ترقۍ او دموکراسۍ طرفداران ګڼل شوي دي. خو امیر حبیب الله ته د استبداد او ارتجاع تورې خاورې ور په برخه شوې دي. دا ولې؟ یوه اساسي پوښتنه همدا ده. خو د دې یو څو لیکنو مطالعه ډېرې نورې لویې او وړې پوښتنې هم د سړي په ذهن کې پیدا کوي.

په دې لیکنو کې د اول مشروطیت د تحریك ډله یو مخفي "حزب" بلل شوی دی، خو د حزب د نامه په باره کې د دغو لیکنو لیکونکي اتفاق نه سره لري. یو وایي چې د دې حزب نوم "اخوان افغان" و او بل یې وایي چې د دې ډلې د "جمعیت

سري ملي" نوم پر خان ايښی و. خو له دي دوو نومونو نه د يوه په باره کي هم کوم تحريري سند نه دی ښودل شوی.

د حزب مرام په منظم ډول او په بېلا بېلو مادو کي ليکل شوی دی او حزبي تشکيلات يې داسي مضبوط ښودل شوي دي لکه د نړۍ په ځينو بيخي پخو سري او چپي انقلابي حزبونو کي چې ليدل کېږي. مگر په دي برخه کي هم هېڅ تحريري سند درك نه لري. د دي تکيو په ارتباط پوښتني ډېري دي او دا دی فقط يو څو يې دلته را اخلو:

۱- د يوه حزب د نامه په باره کي چې داسي موثوق سند نه وي، چې د مشروطيت د تحريك د څېړني دوه تنه برازنده ليکوال اتفاق پرې وکړي، نو د حزب د مرام او تشکيلاتو په باره کي بيا هغه مطالب څنگه منل کېدلای شي، چې دغو ليکوالو پرته د هېڅ تحريري سند له موجوديت نه په خپل قلم د شفاهي رواياتو په حواله او يا هسې د يوه روايت په بنه ليکلي دي؟

۲- د امير حبيب الله حکومت اجتماعي اصلاحات او انکشافي پروگرامونه بيخي نوي پيل کړل او کومو خلکو چې په هېواد کي د ترقی او اجتماعي او سياسي اصلاحاتو تحريك پيل کړ، هغوی قاطع اکثريت معتدل خلك او د حکومت مامورين او همکاران وو او د حرکت په ابتدا کي امير د هغوی د ځپلو يا اختناق لپاره هېڅ دليل نه لاره. په دي يو څو ليکنو کي هم دا خبره په صراحت شوې ده، چې په دي وخت کي خپله امير د مشروطيت د تحريك طرفدار و، علاوه پر دې په همدې يو څو ليکنو کي پر دې خبره تاکيد شوی دی، چې د دغو خلکو يو شمېر له ځينو درباريانو او د شاهي کورنۍ له غړيو سره هم ارتباط لاره.

۳- کوم شی چې په دي ليکنو کي د اول مشروطيت د حزب د مرامنامې په نامه په لسو مادو کي ثبت شوی دی، په هغه کي هم هېڅ داسي ماده نه شته چې عملي کول يې د پټ حزب جوړولو ته ضرورت ولري. نو په داسي يوه حالت کي يوه د اصلاحاتو طرفداره ډله ولې او په څه دليل د سري يا تر ځمکې لاندې حزب جوړولو ته اقدام کوي؟ داسي يوه ډله چې حتی ښايسته وروسته يانې پر ۱۳۲۷ ل کال هم خپله ډېره لويه جلسه په يوه سرکاري ودانۍ کي جوړوي او د اصلاحاتو د پروگرام په باره کي خپله فيصله نامه هم د عريضې په حيث د پاچا حضور ته ورلېږي.

۴- په دي ليکنو کي ويل شوي دي چې د مشروطه غوښتونکيو په حزب کي يو شمېر هنديانو هم فعاليت کاوه، چې ډېر معروف شخص يې د هغه وخت د حبيبيې د مکتب مدير، ډاکتر عبدالغني و، چې خپله د امير حبيب الله د ورور، سردار

ACKU

نصرالله په بلنه کابل ته ورغلی و. په دې لیکنو کې کله ویل شوي دي چې دا د هندیانو ډله د مشروطه غوښتونکیو د مخفي حزب یو فراکسیون و، چې ځانونه یې "جان نثاران ملت" بلل (کوم ملت؟؟؟) خو کله بیا ویل شوي دي چې له حزب سره یې د بېلو بېلو غړیو په حیث په ګډه فعالیت کاوه.

هر څه چې وو، عبدالغني او ځینې نور هندوستانیان له مشروطه غوښتونکیو افغانانو سره یو ځای بندي هم شول او د امیر امان الله تر پاچا کېدلو پورې په زندان کې وو.

پوښتنه دا ده چې یو شمېر د بریتانوي هند هندوستانیان د افغانانو له داسې یو مخفي حزب سره څنګه یو ځای کېدی شي، چې یو هدف یې د بریتانوي هند له واکدرانو نه د افغانستان د کامل استقلال تر لاسه کول دي او خپله په دې لیکنو کې هم ویل شوي دي چې دا هندوستانیان د انګرېزانو جاسوسان بلل کېدل؟

په دې لیکنو کې د علمي مطالعاتو له نظره یو بل د اندېښنې وړ ټکی دا دی چې بیخي زیات مطالب یې روایتونه او حکایتونه دي او سړی دا نه شي ویلی چې د افغانانو او یا د افغانانو په شان نورو ټولنو کې دغه شان روایات او حکایات له حقیقت او واقعیت سره څومره اړخ لګولی شي؟ علاوه پر دې دغه روایات کله په دا څو لیکنو کې له یو بل سره توپیر لري کله مبهم دي او کله بیا سړی نه پوهېږي چې دغه شان روایات د دې لیکنو لیکونکیو ته څنګه رسېدلي دي؟

په دې روایتونو کې ځینې د بیخي ساده مسایلو په باره کې دي، مګر بیا هم له یو بل سره په تضاد کې دي. مثلاً د دې لیکنو په ځینو کې ویل شوي دي، چې تاج محمد بلوڅ، مولوي عبدالواسع کندهاری، مولوي عبدالرب کندهاری او غلام محی الدین افغان "مشروطیت د قضیې" په ارتباط بندي شول. مګر د همدې لیکنو له ځینو نورو نه بیا داسې ښکاري چې د دې څلورو تنو یو هم په دې "قضیه" کې نه دی بندي شوی.

د دې لیکنو په یوه کې راغلي دي، چې کوم مهم تحریري سند چې د اول مشروطیت لوی مشر، محمد سرور واصف د اعدامېدو پر وخت ولیکه، هغه له عبدالهادي داوي سره شته دی، خو ده ته یې د استفادې لپاره ور نه کړ، مګر د همدې لیکنو په یوه بله کې بیا خپله د عبدالهادي له خولې ویل شوي دي چې نه دا سند ورسره و او نه ورسره شته.

په دې لیکنو کې د روایتونو په ارتباط یوه بله خبره دا ده چې د هر څله یوه جاسوس، پاچا او یا کوم مامور ته شخصاً خپله خبر ور وړي، خو هغه څه چې

جاسوس دغه مقام ته ویلي دي، هغه ټکي په ټکي د دې لیکنو په یوه یا بله کې راغلي دي. سړی نه پوهېږي چې لیکوال دا د جاسوس خبرې په کوم حکمت اورېدلي دي؟

په دې لیکنو کې داسې خبرې ډېرې دي، خو دلته همدا یو دوه مثاله کافي دي.

په دې لیکنو کې دا هم راغلي دي چې د امیر حبیب الله د قتل مسوول د دربار یو غلام بچه شجاع الدوله غوربندی و، دوی په دې خبره کې په هغه یوازیني روایت استناد کوي، چې په المان کې د یوه افغان محصل له خولې نقل شوی دی او هغه دا چې شجاع الدوله ورته ویلي دي چې امیر حبیب الله یې د یوه بل غلام بچه، جوهر شاه غوربندي، د انتقام د اخیستلو لپاره وواژه.

جوهر شاه غوربندی د امیر تر مرګ پخوا حکومت وژلی و او نوم یې د جمهوریت غوښتونکو په لست کې ثبت شوی دی. په دې لیکنو کې هم عام فهم دا دی چې د امیر قاتل جوهر شاه و او هغه یې د مشروطه غوښتونکیو په تجویز وواژه.

د دې مطلب څو ټکي د غور وړ دي، یو دا چې د دغه محصل د خولې روایت ولې هرو مرو ومنل شي؟ بله دا چې په افغاني ټولنه کې ډېر ځله ځینې مهم کارونه یوه او بل ځانته منسوب کړي دي او غلام بچه شجاع الدوله هم یو افغان و، خو که دا روایت رښتیا وي، نو بیا هم یو غوربندی غلام بچه پاڅېدلی او امیر یې د یوه بل غوربندي غلام بچه د انتقام د اخیستلو لپاره وژلی دی او ځکه نو دا ضرور نه ده چې د امیر قتل دې سیاسي وګڼل شي. علاوه پر دې که د امیر قاتل یو غلام بچه وي او له دربار سره د غلام بچه ګانو د روابطو ماهیت او انساني عقدې هېرې نه شي، نو بیا هم سړی دا احتمال په قاطع ډول نه شي ردولای چې د امیر قتل به شخصي ریښې لرلې نه دا چې سیاسي.

کله چې سړی د هغه وخت د شاهي کورنۍ داخلي وضع ګوري، نو دا احتمال هم په اسانۍ نه شي ردولای چې د امیر د قتل عامل دې خپله دننه د دربار تضادونه وي. لکه څنګه چې په دا یو څو لیکنو او نورو آثارو کې راغلي دي، د امیر د قتل یوه ناکامه دسیسه پخوا هم درباریانو طرحه کړې وه.

په دې لیکنو کې د همدې پېښې په ارتباط په یوه روایت کې یو بل روایت هم ځای شوی دی او هغه دا چې کله قاتل د امیر حبیب الله تر وژلو وروسته د هغه له خېمې نه ووت او په تېښته کې و، له خېمې نه بهر یوه وظیفه دار مامور ونیو، خو په همدې وخت کې سردار محمد نادرخان راغی او موظف مامور یې په څپېړه

ACKU

وواهه او ویې ویل چې امیر ویده دی، کرار شئ. لیکونکی وایي چې محمد نادر خان په دې ډول د امیر قاتل له وظیفه دار مامور نه خلاص کړ. خو په دې باره کې بیا هېڅ نه وایي چې سردار نادر خان دا کار قصداً څکه وکړ چې خپله یې هم په قتل کې لاس لاره او نه یې غوښتل چې اسرار افشا شي، یا دا چې نادر خان رښتیا هم بیخي ناخبره او دومره ساده و، چې په داسې یوه استثنایي قضیه کې یو مشکوك انسان بې پوښتنې خوشې کړي؟ خو یو بل احتمال دا هم کېدی شي چې د نادر خان په باب دا ټوله خبره یوه افسانه وي.

د دې لیکنو یو بل مطلب چې سړی له ډېر لوی سوال سره مخامخوي هغه د امیر د شخصیت او اجراتو څرنګوالی دی، کله چې سړی دا یو څو لیکنې لولي، نو ګوري چې یو وخت امیر د یوه قصاب حیثیت لري او مشروطه غوښتونکیو مثلاً محمد سرور واصف او د هغه د کورنۍ ځینې نور غړي او جوهر شاه او لعل محمد غلام بچه ګان او ځینې نور لکه یوه جلاد غوندې محض په دې خاطر سملاسي او خای پر خای په توپ کې الوزوي او چانواری کوي یې چې د "جمهوریت په قضیه" کې یې لاس لاره. خو بل وخت بیا د خپل سر قاتل عبدالرحمن خان لودین چې د تومانچې ډزې یې پرې وکړې، نه وژني او حتی د اعدام د امر له صادرولو نه یې ژغوري. دا ولې؟

له همدې لیکنو نه په یوه کې راغلي چې امیر د عبدالرحمن لودین د اعدام امر په دې صادر نه کړ چې له تاریخي بدنامۍ نه یې ډارېده. ایا د دې نورو کسانو مرګ چې د "مشروطیت په قضیه" کې اعدام شول، تاریخي مسوولیت نه لاره؟

د لودین په ارتباط یوه بله خبره هم د یادولو ده او هغه دا چې په همدې لیکنو کې ویل شوي دي چې لودین د هغې یوې وړې سیاسي ډلې غړی و، چې یو شمېر تندروان لکه میر غلام محمد غبار، تاج محمد بلوڅ او محمد انور بسمل او نور پکې شامل وو، خو پر امیر باندې د عبدالرحمن لودین د ډزو له امله د تندروانو یو هم و نه نیول شو. مګر عبدالهادي داوي چې د دغو لیکنو په قول د معتدلینو په ډله کې شامل و او له لودین سره یې فقط یو ځای د سراج الاخبار په اداره کې کار کاوه، ونیول شو. البته له لودین سره یو شمېر نور خلك هم ونیول شول، خو د هغوی د یوه نوم هم په معروفو مشروطه غوښتونکیو کې نه دی راغلی.

خبرې ډېرې دي، خو بیا همدلته ودرېږم، که نه وي نو د مقالې پر ځای به مې رساله در لېږلې وای.

۱۹۹۹ - اګست - ۲۳

جنرال رحمت الله ساپی

# په شلمه پېړۍ کې افغان اردو او ملي دندې يې

**مقدمه:**

درنو حاضرينو السلام عليکم!

د ګران افغانستان د ازادۍ د بېرته ګټلو د اتيايمې کليزې د نمانځنې مېلمه پالو د ملي درد او احساس يادونه او له بلنې يې مننه کوم او ويارم چې د دې مقدسې ورځې د نمانځنې په ستره او شانداره غونډه کې ستاسې په شان د وطن د ليلا د مجنونانو په خدمت کې مشرف يم.



وطندارانو! په سياسي لحاظ د هېواد د ازادۍ د بېرته اخيستلو کاليزې مو ډېرې نمانځلې دي او دغه شانداره ورځ بايد زموږ راتلونکي تر موږ ښه ونمانځي. وايي چې: "لېوه د ژمي په واورو کې په سپي مېلمه شو، سپي ووېل: چې لېوه ملګريه، ما ته ګوره چې څرنګه چاغ او له وازدو ډک يم. راځه له ما سره پاتې شه،

چې د ژوند په مزه وپوهېږي. لېوه تر خواب مخکې پوښتنه وکړه چې په غاړه دې دا لیکه او داغ ولې؟

سپي وویل چې کله کله مې څښتن په غاړه کې غاړکۍ اچوي.

لېوه وویل: له بده مرغه زما غاړه غاړکۍ ته جوړه نه ده.

درنو افغانانو! زه تباه شوم، ته هم تباه شوې او لا به تباه شوو، خو نړیوالو دې پلار پېژانده، تا پېژني او ستا بچیان به هم وپېژني چې غاړې مو د غاړکیو لپاره جوړې نه دي.

اجازه راکړئ چې د هېواد د ازادۍ د بېرته اخیستلو په اړه خپل شخصي نظر وړاندې کړم.

په تاریخي لحاظ افغانستان د غلیمانو تر یرغلونو لاندې ډېر راغلی، خو داسې شواهد نه شته چې اشغال شوی وي. غلیمان خو لا پرېږده چې زموږ خپل مرکزي دولتونه هم په ټوله خاوره حاکم نه وو. په جرګو یې ځانونه ساتل. د یو افغان لپاره په تړلې خونه کې لا ژوند ګران دی.

په تګاب کې د غفور په نامه چې له کوچنیتوب څخه څلورویشت کاله زموږ په کاله کې همکار و او په جهاد کې د حزب اسلامي قوماندان شو. ما له ځانه سره کابل ته راوست، چې په مکرویان کې به له ما سره همکار شي، د ضرورت په وخت کې به د کمود پر ځای یو کیلو متر د سمټ خانې تر شا ته. په کابل کې یې زړه په تنګ شو او بېرته تګاب ته ولاړ. له دې خبرې څخه زما مطلب دا دی چې افغان هېڅکله د چا مریې نه و، چې ازاد شوی وي. دا قوم د افغان د پاک نوم له پیدایښت سره ازاد پیدا شوی دی، پرون ازاد و، نن ازاد دی او سبا به هم ازاد وي. (ان شاء الله).

د نړۍ په نقشه کې اوس هم د افغانانو منطقه د ازادۍ یا د غیر علاقې په نامه یادېږي، تر دریو میلیونو زیات یې کوچیان دي، افغانستان خو لا پرېږده چې په کراچۍ او لاهور کې هم ازاد وو. د ایمان تعریف په اسلامي نړۍ کې یو شان خو په افغانانو کې ایمان غیرت ته وایي. د دې قوم د هرې درې دود فلسفه او هر دستور یې قانون دی. د دوی په ټنده کې بادارېده د نړۍ په عسکري تاریخ کې یو ډېر مهم پرنسیپ دا دی چې په عملیاتو کې باید د غلیم د لښکر قوماندان له منځه لاړ شي، چې لښکر یې بې سره او تسلیم شي خو دوی معجزه قوم د شلو کالونو نه زیات شرقیانو او غربیانو خپلو او پردو کافرو مسلمانو د دوی سرونه له منځه یوړل، خو

بیا هم ځلمی طالب یې امیر المومنین شو. پرون به چا ملا نه لیده او سیال به یې نه و، نن د کلنتن سیال شو.

د څرخي پله په جګړه کې هغه وخت چې مشر ملا شهید شو، زه کندهار ته لاړم. د امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد په حضور مې د ملا مشر د شهادت په هکله خواشیني ښکاره کړه. هغه مهرباني وکړه ویې ویل چې څه پروا نه لري، له هر افغان نه ملا مشر جوړېږي. که تاسې حاضرین چې زموږ د وطن منلي کسان یاستئ، یو ځل سوچ او قضاوت وکړئ، نن سبا افغانستان د خدای په ټوله دنیا کې هېڅ دوست نه لري. د بودا د منکه تر درمساله، له کلسیا نه تر جوماته د پاپ نه تر چلتاره ټول یې دښمنان دي، خو بیا هم دا وطن لاژوندی او ډېر ښه ژوندی دی. لکه څرنګه چې د دې قوم سرښندونکي بې ساري دي، همدا شان ملي خاینن او سست عنصره کسان یې هم بې ساري دي. دا قوم له خپلې خوش باورۍ، بې پروایۍ او استغنی نه تباه شوی دی او اور یې له خپلې لمن نه لګېدلی دی. د انګرېزانو بیا د روسانو وارونه تېر شول اوس امریکا څه سرکوزی پیدا کړی دی او اور راته لګوي.

دا وطن هېڅکله د تهاجماتو هدف نه و، خو په لاره کې یې پروت دی، افغان د دغې سیمې ډېر پخوانی، یو ځای او ازاد قوم دی. نیالګي مو نوې مراندې وکړې، چې توپان یې را چپه کړي. تش په نامه ځینې پست او ډالرمست افغانان لکه د ونې د منځ چینجان ډله توپان سره مرسته کوي.

که داسې فرض کړو چې افغان ولس د بزکشۍ قهرمان اس دی، خو کله کله د ماهر چاپ انداز کمبود لیدل شوی دی.

درنو حاضرینو!

اجازه راکړئ چې د اصل موضوع دمخه ځینې شیان چې له موضوع سره رابطه لري، جلا جلا ولیکم چې په ګذښت کې مطلب ورک نه شي.

## افغان او افغانستان:

په افغانستان کې حاضره حالات دا ایجابوي چې د افغان او افغانستان په مورد کې څه لنډ توضیحات ورکړم.

موږ او تاسې د "ستان" له نامه سره په خپله منطقه کې اشنا او بلد یو. افغان قوم دی او ستان یې وطن دی. لکه هندو - ستان، تاجک - ستان، ازبک - ستان، ترکمن - ستان او همداسې بیا افغان - ستان او دا خبره بیا کوم چې افغان په دغه ستان کې ډېر پخوانی، یو ځای، ستر او ازاد قوم دی.



ACKU

زموږ د شمال ډېرې نرۍ اوږدې سرحدي پولې نه هاخوا ته شخص ته تاجك، ازبك، ترکمن او هېواد ته يې ستان- ستان او ستان وايي.

د پولې جنوب ته د شخص لپاره افغان او منطقې ته يې ستان ويل کېږي. دا چې موږ ته هزاره تاجك ازبك او ترکمن اوغو – اوغان – اوغانه – افغاني وايي دا د هغوی ژبنۍ لهجه يا اصطلاح ده، خو اصلي مانا يې افغان او افغانان ده.

که څوك د پاکستان د سرحدي حکومت راجستر وګوري هلته د قوم په نامه سرحدي يا پاکستانی نه شته، که ختك که يوسفزي که مومند دي که شينواري، که مسعود دي که وزير تر نورزيو او اڅکزيو پورې د افغان په نامه ليکل شوي دي.

ځينې وايي چې د افغان لغوي مانا بهادري ته وايي او دا اسم صفت دی چې د دوی د تباهۍ سبب شوی دی. احمدشاه مسعود يو ځل د عشق آباد په غونډه کې اعلان وکړ، چې قدرت بايد په اقوامو وويشل شي. افغانستان مړ نه دی چې ښځه يې اتمه برخه واخلي او نه په طلاق عادت لري.

ولي مسعود په لندن کې د پيام مجاهد په نامه اخبار توزيع کوي. د دې اخبار د ۱۹۹۹ کال د مې شلمه، په نهمه ګڼه د ويليام ميلر په اسلام آباد کې د امريکې د سفير له قوله ليکي چې هغه په افغانستان کې د څو مليتي حکومت حمايت کوي. دغه برخه يې ډېره په مزه او خوشحالتيا سره ليکلې ده او هغه ورونه بايد همدغه شان وليکي، ځکه چې د نورو په خدمت کې عادت شوي دي او د نورو د رضايت تامين د دوی د خوشحالتيا سبب کېږي.

دغه سفير بايد وپوهېږي چې افغانستان نه مانيکالوونيسکي ده او نه پالـه جون. بابا مو انګريزانو شهيد کړ، پلا مو روسانو شهيد کړ او امريکايان به موږ شيهدان کړي، خو حکومت يې راباندې حرام دی. لکه څرنګه چې تره کی، امين، کارمل او نجيب ورك شول د امريکې لاس پوڅي به هم ورك شي. (ان شاء الله).

که د پاك افغان په مقدس نوم څوك وياړ کوي، نو زموږ هم د سترګو تور دی، او که ډا نه کوي، نو ښه دا ده چې تر پولې پښه واړوي او د خپل تره له زامنو سره يو ځای شي. د اکسفورډ په کنفرانس کې چې ډاکټر موسوي هزاره ترتيب کړی و، هلته ياده شوې ده چې اعليحضرت غازي امان الله خان (دا زما ليکنه) امان الله، دا د هغه وياند خبره ده، چې د مهاجرو تاجکو سره يې ډېره بېوفايي کړې وه. کله چې څو سوه زره تاجك د بخارا له پاچا سره د اعليحضرت د جنګي مرستې په اميد افغانستان ته راغلل ده ورسره مرسته و نه کړه او له مجبوريته د افغانستان په خاوره کې پاتې شول، چې د هغوی له جملې نه مسعوديان د پاردريا او رابانيان د

دوشنبې ملاصاحبان دي. یو متل دی وایي چې اېړا نور غواړي بېړا پور غواړي. موږ د پنجده په سوچ کې یو، ولې مسعود جان رانه نور غواړي. په کنفرانس کې یوه انګریز ویلي وو چې په بامیانو کې هزاره اکثریت لري ولې د هزاره ستان په نامه یاد نه شي؟ په ځواب کې ورته وویل شول چې دا انګلیستان په سوت هال کې هندوان هم اکثریت دي ولې ورته هندوستان نه وایي؟

په دې ځواب انګریز رسمي عفوه غوښتې وه. هزاره یو قوم دی، دوی تاجك نه دي، دوه سیاه ګوش او قزلباش نه دي او اکثریت یې لاشیعه هم نه دي دوی مذهب لري امامیان نه دي. خو په ایران کې روزل شوي ګوډاګیان غواړي چې د دې شریف قوم جنتیك ساختمان بدل او ایراني کړي.

مسعودوف باید وپوهېږي چې د افغان په پاکه وینه یوازې افغانستان لیکل کېدلای شي. حقیقي افغان هغه دی چې د افغانستان د ټولو مدعي اوسي. هر هغه څوك چې پر یو یا بل نوم غواړي افغانستان کوچنی کړي، هغه د افغان او اسلام دښمن دی. سروهلی مال یې غنیمت دی.

## حق او مسوولیت:

په عمومي توګه په هېوادونو کې دوه ډوله انسانان ژوند کوي چې اکثریت یې د مسوولیت پر بنا ژوند کوي او بله ډله اقلیت یې د ژوند د حق پر بنا اوسي.

د مثال په توګه موږ په اروپا کې ژوند کوو، موږ دلته له برابرو حقوقو سره د ژوند حق لرو، خو که په دغه هېواد څه افت نازل شي نو مسوولین یې مخه نیسي او موږ بستره تر شا او خدای پامان وایو. افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی، د ژبې، قوم او نژاد په نامه سکه او ناسکه نه شته، هر څه جذب او منحل شوي دي. دهر چا د ژوندانه حقوق مساوي دي. هر تاجك هر ازبك او هر هزاره حق لري، چې د افغانستان د ریاست – صدارت – وزارت او د ستمیانو وروسته د سفارت دعوی وکړي او موږ یې هم تر شا ولاړ یو، خو په مقدس افغانستان کې د بل ستان دعوی شرك او الحاد دی. که دوی د برابرو حقوقو د ژوند حق لري افغان یې بیا د ساتنې مسوولیت لري. د افغانستان په تاریخ کې دا خبره ډېره تکرار شوې ده چې افغان د افغانستان په ساتنې سر ورکوي، خو مسعودیان یې په خرابولو کې وینې تویوي.

د هغو افغانانو چې د پنجده خوبونه ګوري، له هغوی سره چې په پار دریا کې د خپل بابا د قبر نه مرنجان او یا هم د اخوندانو ګوډاګیان زموږ د هزاره ورور قوم نه قزلباش جوړوي، ځمکه او اسمان توپیر دی.

له دې لیکنې څخه مطلب دا دی چې د وطن د پاینښت مسوولین باید د خپل مسوولیت احساس وکړي او متوجه وي چې خدایه مه کړې سیاف ترې جوړ نه شي.

## د قربانۍ انګېزه او عقیده:

د قربانۍ انګېزه که مادي وي او که معنوي په منافعو استواره وي. د یوې تولنې برى د انګېزې معیار دی او پر انګېزې اړه لري. په هغه اندازه چې انګېزه اوچته لاړه شي د قربانۍ معیار هم اوچت ځي او نتیجه خامخا برى وي. که انګېزه مړه شوه، بیا قرباني هم مري او چې قرباني نه وي بیا خو برى هم نه وي.

په جهاد کې د قربانۍ انګېزه د ملي اسلامي عقیدې په جوش او خروش سره پر مخ لاړه او د ښه افغانیت او اسلامیت ثبوت ډېره قرباني وه.

شهید د کورنیو د افتخار او ویاړ سمبول وګرځېد. کله چې جهاد د شورویانو په ماته پای ته ورسېده ولس تر خپلې شا له ریکارد شویو ملي اسلامي شعارونو نه پرته نور څه و نه لیدل.

دغه د سربښندنو لویه د یو څو تګانو او مداریانو په ګټه تمامه شوه. افغان ولس د مایوسۍ په کنده کې ولوېده، ملي او اسلامي عقیده مخ پر مړه کېدو شوه.

وروسته بیا دغه انګېزه پر دوه برخو جلا شوه، له یوې خوا د طالبانو د ملي اسلامي تحریك په نامه نوې ملي اسلامي عقیده د ملا محمد عمر مجاهد په قیادت، له بلې خوا د تجزیې او تخریب پلان شوې عقیده د بهرنیو په ګټه د مسعودوف په مشرۍ. مانا دا چې یوې خوا ته قوای نجات او دې بلې خوا قوای جنایات شول.

د انګېزې تولید د تولیدوونکي پر عقیده پورې اړه لري. هر څومره چې رهبر یا د انګېزې تولیدوونکي پر خپلو اعمالو حاکمیت ولري اعمال یې له ګفتار سره برابر وي او په خپله هم د عقیدې خاوند وي، هغه خامخا برې ته رسېږي. هغه کسان چې عقیده و نه لري او د خپلې عقیدې مجنون نه وي، د هغوی منځ خالي تلاش او شعار د عمومي انګېزې او د قربانۍ د احساس د وژنې او نابودۍ سبب ګرځي. د مسعودوف لور ته د خلکو د ښځې او اقتصادي مجبوریت نه استفاده د هېواد د تباهۍ لپاره هغوی د دښمنانو په پیسو اجاره کول دي. په مطبوعاتي تبلیغاتو کې یوه ورځ لیکي چې اتیا زره پاکستاني په افغانستان کې د طالبانو په ګټه جګړه کوي په بله ورځ لیکي چې د پاکستانیو یو زیات تعداد افغانان د کشمیر جنګ ته د هندوستان پر ضد استخدام کړي دي، چې په حقیقت کې یو بیان دویم بیان په خپله ردوي. په سیاسي ډګر کې ستمیان- پرچمیان، له تولنې څخه رټل شوي څو

کسان، د ملي خیانت مجرمین، د سي آی ای مستخدمین او یوه دوه هم پکې منفوره- مردوده، بې عاطفلې او بې انساني احساسه کسان له بده مرغه همدغه مسعودوف د کسانو او پلان په نوبښت ګویا د لویې جرګې دول ته اتن کوي.

دغه شان نامطلوبه طاقت د نامطلوبه هدف لپاره چې د وطن خرابي ده، موفق وي خو دوام نه لري. دا شان بې عقیدې، بې انګېزې او بې مبارزې خیالي لویې جرګې هېڅکله نه جوړېدای ګو نه بریالۍ کېدای شي خو په ملي صف کې درز، تشویش او انتظار تولیدولای شي چې مانا یې په دغه حساس وخت کې خیانت دی.

په لاندیني لنډ مثال کې تاسې کولای شئ چې د انګېزې او عقیدې توپیر او تاثیر وګورئ. پخوانۍ قیادي شورا او رباني چې تر مخ یې مسعودوف دی، کله کافر کله مسلمان کله ستمي کله هم افغان شي کله ائتلاف او کله اتحاد وکړي، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان روس، سغردي، امریکه، انګلیس، فرانسه او هندوستان ذا ټول یې تر شا ولاړ دي او بالقوت یې حمایه کوي. بیا هم چې ورځ تېرېږي ټول یې په داخل او خارج کې بې غرته او مسخره کېږي. په مقابل کې ملا محمد عمر مجاهد په ثابته عقیده مستقیمه لار روان دی. وایي ږیره به پرېږدئ، وطني جامې به اغوندئ، لمونځ به کوئ، ستر به اوسی، وسله به ږدئ، په جرګو او سازشونو کې دې نه یم، د تاجکستان تر هندوسنان، د سعودي او تر ایرانه دې لاس ازاد. روس او امریکه انګرېز او فرانسه دې هم تر شا اوسه بیا هم چې ورځ تېرېږي موفقیت یې لا زیاتېږي. هغه د کمپونو وحشي تربیه شوی نسل یې د خدای او د اسانیت په لاره سم کړ.

که دا نه وای نو زموږ ولس ستومانه و، شیدو سوی و، شرمبې یې پو کولې. د قربانۍ انګېزه په چور او تالان بدله شوې وه، له کورنۍ او نړیوال خطر سره مخامخ وو.

یو ځل بیا تکراروم چې که د مسعودوف نه د نفرت مانا د طالبانو تایید وي، نو زما تایید دی.

له دغه مقدماتي او زما په نظر په اوسني وخت کې له مهمو خبرو وروسته به اوس په افغانستان کې د اردو (پوځ) په باب خبرو ته راوګرځم.

## د اردو تعریف په نظامي پرنسیپ

هغه نظامي طاقت چې په یو منظم تشکیل کې جوړ او د هېواد د دفاع مسوولیت ولري، هغې ته اردو وایي. اردو د یو هېواد د قانوني حکومت درېیم شرط دی.

نفوس، اراضي او حاکمیت چې هغې ته اردو وایي، د یو قانوني نظام، اساسي شرایط دي.

## د اردو دندې:

یوه اردو په عمومي توګه دوه دندې لري، چې یوه داخلي او بله یې خارجي ده، هغه کورنۍ نارامي چې د موظفو امنیتي قواوو له کنترول او ادارې نه بهر شي او په هېواد کې انارشي جوړه شي او قانون له تطبیق نه معزوره شي بیا اضطراري حالت اعلان او د امنیت د تامین مسوولیت د اردو پر غاړه ولوېږي.

دویمه اساسي دنده له بهرنیو تجاوزاتو او یرغلونو څخه د هېواد د فاع او د اراضي تمامیت ساتل او تضمین دی.

## د اردو جوړښت په نظالمي اصولو

د اردو جوړښت د شخصي یا د اشخاصو د احساس او خواهش پر بنا نه ترسره کېږي. د اردو جوړښت ځانته ثابت اصولي اساسات لري.

د اردو په جوړولو کې د هغه هېواد نفوس، د اراضي جوړښت، اقتصادي توان، له ګاونډیو سره اړیکي او مناسبات او د حالاتو مطابق ځینې نور شیان په نظر کې نیول کېږي، چې له تفصیل څخه یې ډډه کوم او لازم یې نه بولم.

## د اردو تشکیل په نظامي پرنسیپ:

اردو په دوه ډوله حضري او سفري تشکیل لري. په عمومي توګه اکثر هېوادونه د مالي مصاروفو او نورو مشکلاتو په خاطر نه شي کولای چې د تل لپاره اردو په سفري تشکیلاتو کې وساتي.

که یو عسکر په حضر کې د ورځې له دوه نیمو نه تر درېو زرو پورې کالوري مصرف ولري په سفر کې هغه دوه چنده کېږي، د تمرین مسایل هم ډېر اوچت ځي.

په حضر کې یوه اردو باید داسې تشکیل ولري چې د دښمن د هر راز لومړنیو ضرباتو او حملاتو مخه ونیسي تر هغې چې د سفري اردو احضارات بشپړ شي او سفري اردو مقابلې حملې ته اماده شي.

په عمومي توګه اساسي تشکیل کې څه توپیر نه وي، هر څه د سفري احتمالاتو لپاره مخ کې له مخکې نه پلان شوي وي، د مثال په توګه که یو غونډ پنځه کنډه ولري، په حضر کې درې کنډکه فعال او دوه نور غیر فعال وي، چې په سفر کې هغه فعالیږي، د دې موضوع زیات تفصیل ته څه ضرورت نه شته.

## اردو د استخدام له نظره:

د استخدام له نظره اردو په درې ډوله وي:

**اجیره اردو:** اجیره اردو له پردیو عسکرو څخه د معاش په بدل کې جوړیږي، پخوا دا شان اردوګانې ډېرې وې. دا شان اردو به سرمایه داره خاینو په خپلو بې اعتماده زعیمانو ساتلې. په سعودي کې د پاکستان قواوې د اجیرې اردو په نامه یادېدلې. په منځني ختیځ او ځینو افریقایي هېوادونو کې به هم اجیرې اردوګانې استخدامېدلې. دا شان اردو هم ګټې او هم تاوان لري، چې تفصیل یې لازم نه بولم.

امریکایي او انګلیسي قواوې چې د کویټ او سعودي په ګټه د عراق د اردو پر ضد استعمال شوې او سنټ او پنس لګښت یې لږ تر لږه په لسو کې ضرب د سعودي او کویټ نه په پونډونو او ډالرو واخیستلې دا هم ظاهراً اجیرې اردوګانې وې، په هغه ځای کې د سعودي د کورنۍ او د کویټ د امیرانو ساتنې پخوا د انګرېزانو او اوس د امریکایانو له خوا مدافع او حمایه کېږي.

د عراق تر کمپیان وروسته اوس د امریکا او انګلیس قواوې په سعودي کې د اجیرو په نامه نه یادېږي اوس یې د اشغالي قواوو بڼه غوره کړې ده.

### معاشخوره او رضاکاره اردوګانې

نن سبا د نړۍ اردوګانې په عمومي توګه معاشخوره رضاکاره دي. د دې اردوګانو تعداد ثابت اما د کیفیت له لحاظه بڼې وي. دا اردوګانې نه شي کولای چې د جګړو په نتیجه کې د ملت نه خپل کمبود په لږه موده کې پوره کړي، ځکه چې عام ولس د وسلې په استعمال او د جګړې په فن نه پوهېږي.

## د ملي مکلیفت اردو

د افغانستان اردو د ملي مکلفیت پر اصولو تشکیله شوې وه. دا شان اردو د مسلکي کیفیت له لحاظه ډېره ښه نه وي، خو د شمېر له اړخه محدوده نه وي. دا خبره د جهاد په کلونو کې ثابته شوه، چې تقریباً ټول ملت څه ناڅه له عسکري پوهې او دانش سره بلد او اشنا و.

## اعلی قوماندان د پرنسیپ له نظره

د محترمو حاضرینو زیاته توجه دغې موضوع ته را جلبوم: اعلی قوماندان په بدن کې د روح مانا لري. چې څه مو د اردو په برخه کې وویل او یا یې وایو دا ټول یې یوه خوا یوازې اعلی قوماندان بلې خوا ته لا اهمیت لري.

که یوه اردو په ډېره لوړه سطحه تسلیح او تجهیز شوې وي، خو چې اعلی قوماندان د خپلې دندې ښه او مناسب تمثیل و نه شي کړای هغه اردو ناکامه ده.

د نړۍ په هېوادونو کې اعلی قوماندانې هغې مرجع ته وایي چې سیاسي چارې او اردو په موازي شکل له یوې مرج نه اداره کوي. دغه دواړه یو د بل په چارو کې لاسوهنه نه شي کولای، خو په موازي شکل پر مخ ځي او یو د بل متمم وي.

## د اردوپو وضع الجیش له اصولي اړخه

د اردو قطعات او قرارګاوې باید د لویو ښارونو له مرکز نه په یوه لازمه فاصله کې لرې وي. چې د دښمن د هوايي بمباردمان په نتیجه کې ښارونه خراب نه شي او ښاریانو ته تلفات و نه رسېږي. د اردو قواوې باید داسې ځای پر ځای شوې وي چې د دښمن د لومړۍ حملې د مدافع او توقف توان ولري.

ښايي د کال په هر وخت کې د قواوو اکمالات اسانه او په سرعت وشي، په هغه استقامت چې د خطر احتمالات زیات وي، باید عملي مدافعوي تدابیر نیول شوي وي.

باید کوښښ وشي چې د قواوو له ځای پر ځای کېدو سره د منطقې ملکي خلکو ته مادي تاوان و نه رسېږي. قوتونه باید یو تر بله ګډه همکاري وکړای شي. یو تر بله شناخت او علایق ولري. د اردو منسوبینو ته باید څه ناڅه د مسوولیت په چوکاټ کې احتمالي وظایف معلوم وي. د اردو قواوې باید د اراضي مساعدت او د امکاناتو په نظر کې نیولو سره ځای پر ځای شي. د دې موضوع تفصیل ته هم څه ضرورت نه شته.

د اراضي او شرايطو په نظر کې نيولو سره بايد عمومي قوماندان په خپله ساحه کې څه ناڅه د حرکت ازادي ولري، چې وخت او زمان له لاس ور نه کړي. اردو بايد د احتماعي خطر په مخ کې ځای پر ځای شي، خو زموږ د اردو ورته شا وه.

## افغان اردو

افغان اردو د نړۍ د اکثرو هېوادونو له اردوګانو سره توپير لري. عموماً اردوګانې د معاشخوره مامور په شان د يو قرارداد په چوکاټ کې راغونډې او تشکلېږي، د معاشخورۍ په لحاظ دا شان اردوګاني ملي نه وي، ځکه چې په دې اردوګانو کې ملي قرباني نه شته، خو دندې او وظيفې يې د ملي سياست په ګټه اجرا کړې دي.

افغان اردو د تل لپاره د ملت په قربانۍ تشکيل او جوړه وه، خو له بده مرغه چې د وظيفې او دندې له لحاظه عموماً تر شخص پورې تړل شوې ده او د نامعلومه، مجهوله، ګونګ، رنګ او کوږ سياست په کندو کې لوېدلې ده. لنډه مطلب دا چې نورې اردوګانې غير ملي جوړې بيا ملي شوې دي. افغان اردو ملي جوړه بيا غير ملي شوې ده. نورې اردوګانې د معاش په بدله قرباني ورکوي، خو افغان اردو د خپل ولس د قربانۍ په بدله قرباني ورکوي.

نورې اردوګانې له ملت نه جلا د هېواد دفاعي مسووليت او يا د سياسي ګټو د ساتنې مسووليت پر غاړه لري، د افغانستان په دفاعي چارو کې ولس اردو او اردو ولس دی. هغه د سړو او ګرمو د لوږې او تندې طاقت چې په افغان اردو کې دی، په نورو اردوګانو کې نه شته.

يو افغان کولای شي چې په ډېرو بدو شرايطو کې مقاومت وکړي او ژوندی پاتې شي، چې نورې اردوګانې دا کار نه شي کولای.

هغه شناخت چې په افغان اردو کې و، په نورو اردوګانو کې دا شان شناخت او علايق نه شته. نورې اردوګانې د خپلې منطقې نه بهر بيا بېګانه وي، افغان اردو د هېواد په ګوټ ګوټ کې د بېګانګۍ احساس نه کوي او ان چې د اردو له برکته يې معرفت او شناخت پيدا شوی وي.

په نورو اردو ګانو کې تخريبي طاقت ډېر، خو اشغالي توان يې لږ وي. د افغان اردو تخريبي طاقت لږ خو د اشغال توان يې ډېر دی.

يو افغان په فردي لحاظ او يا په ډېر کوچني ګروپ کې شپه او ورځ په غرونو او په دښتو واورو او باران کې مقاومت او وظيفه اجرا کولای شي چې نور دا کار نه

شي کولای. یو افغان په یوه بېګانه منطقه کې ډېر ژر بلد او اشنا کېږي، ژبه زده کوي او له هغه ځای سره عادت اخلي، چې په نورو کې دغه فطري کفایت نه شته. نورې اردوګانې د دښمن په تخریبي ضرباتو خپل معنویات له لاسه ورکوي، خو افغان لاعصبي او انتقام اخیستونکی کېږي. دا په افغانانو کې یو مثال دی چې قرض تر سلو زیات شو مرغ پلو خوره.

## افغان اردو په څو دورو کې

### ۱- امان شاهي:

اعلیحضرت غازي امان الله خان ډېر وطندوسته، احساساتي، افراطي ترقي غوښتونکی، افراطي مقلد او د خیالاتو په نړۍ کې ډوب یو شاه زلمی و. ده د عیاش او بې کفایته پلار تر مرګ وروسته د چارو واګې تر لاسه کړې او په خپله توره یې ځان د هېواد اعلی قوماندان کړ.

غازي امان الله خان د خپل پلار د قتل په اړه متهم دی. ویل کېږي چې پلار یې د ده له خوا د لغمان په کله ګوش کې په قتل ورسېد. که دا کار یې په رښتیا سره کړی وي نو د یو مقدس ملي هدف لپاره یې کړی دی. د دې جریان تفصیل ما اورېدلی دی، خو لیکنې ته یې څه ضرورت نه شته. د اعلیحضرت غازي امان الله خان اردو ملي وه، خو د ده په نامه یادېدله. ده په ملي اردو او ملي لښکر د انګرېزانو اردو ته ماته ورکړه او د انګرېزانو امپراتوري یې مجبوره کړه چې د افغانستان د پاکې خاورې نه یې په اول ځل بشپړ تغر تول شي او د ده په توره بېرته ازادي لاس ته راشي.

غازي امان الله خان زموږ د هېواد د لرغوني تاریخ ډېر قیمتي ویاړ دی. د هغه د ملا توره د هر افغان بچي لپاره د سترګو د مچولو وړ ده. د هغه په مبارک شخصیت تنقید ګناه ده، خو د هېوادوالو پوهول هم ضروري دي او ثواب لري.

اعلیحضرت غازي امان الله خان نه د خپلو هېوادوالو په سادګۍ پوهېده او نه د انګرېزانو په منافقت. امان الله خان په ډېره خوش باورۍ بې پروا پر مخ روان و. دی نه پوهېده چې د انګرېزانو د امپراتورۍ پوروړي دی او پر هغوی یې لمرخاته غروب کړی دی. هغوی به مخامخا له ده نه شخصي انتقام اخلي. که څه هم پر دې پوهېده چې د اسلام د پاك دین تر سیوري لاندې ناپاکي، تر رڼا لاندې تاریکي، تر روحانیت لاندې شیطانت او د انګرېزانو تنخواه خواره شته دي. خو دا یې باور نه

راته چې د خدرانو د پخه ري ګوډ ملا په غړ به د ده خپله اردو او ملي لښکر له ده نه مخ واړوي.

د انګرېزانو لپاره دا ګرانه وه چې د غازي امان الله خان پر ځای اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید راولي، ځکه چې هغه د امان الله خان جنرال و. دا یې امان الله خان ته وښودله چې تا دې د ملت په توره زما امپراتوري لمر ختیځ رنګ کړ، نو زه به هم د خپلو اینجنټانو په شعار ستا په خپل ولس لزې کړم او یو غل به دې پر ځای راولم، لکه نن چې مسعودوف ته تیتو وايي، حبیب الله خان هم د انګرېزانو تیتو و. په هغه وخت کې د امان الله خان افراطي مترقي تګلاره، پر افغاني ټولنه زیاتی و. بیا هم دلته ثابتېږي چې کله د اردو اهداف ملي وو، ډېره موفقه وه، خو کله چې شخصي شوه، ده ته اجنبي شوه. غازي امان الله خان په کارونو کې یوازې و، اعتمادي او د کورنۍ ټیم یې نه درلوده او ځینې خو یې لاپاچایۍ ته هم غله وو. یو ملت د سرقوماندان په امر سر ورکوي، خو سرقوماندان نه شي ساتلای. دا د سرقوماندان وظیفه ده او باید کفایت ولري چې هم ځان وساتي هم ملت او هم هېواد.

په هر حال د غازي اعلیحضرت امان الله خان په وخت کې داسې کار شوی دی چې د هغه پر ټولو کمزوریو سیوری اچوي او هغه پټوي. لنډه دا چې اعلیحضرت غازي امان الله خان د افغانستان د تاریخ ډېوه وه، د اعلیحضرت غازي امان الله یوازینی ارمان دا و چې خپل ولس د ترقۍ او تمدن په ډګر کې د مترقي هېوادونو سیال کړي، خو دا چا ته وايي؟

## ۲- نادر شاهي دوره

د افغانستان په تاریخي شخصیتونو کې اعلیحضرت شهید محمد نادر خان یو غښتلی شخصیت بلل کېږي. په نظامي لحاظ ډېر جنګي په مسلك پوه، بادسپلینه، فعال، باخبره جنرال و، په سیاسي لحاظ ډېر ځیرك، با تدبیره، موقع شناس، حوصله مند، بریالی، لوبغاړی و. په قومي لحاظ د خپلې ټولنې په سیکالوژۍ بلد و، پوهېده چې په قوم کې ساده او شیطانان شته دي. زه یقین لرم چې د انګرېزانو تنخواه خواره روحاني نمایان یې پېژندل، چې څوك، څومره تنخوا د سرحد له کوم پولټیکل نه اخلي. په دې پوهېده چې د شیطانانو په ډېرو وېشتل د ده د نابودۍ سبب ګرځي. مجبوره شو چې هغوی ځان ته او ځان هغوی ته ور نږدې کړي. یو د بل متم شول. ده ځان د هغوی په تبلیغاتو ساته او هغوی بیا د ده په مساعدت بې پطرولو او ماشینه پروازونه کول. جنت یې د کاغذ په لیك تحفه

ورکاوه. کبیره گناه به په دعا معاف شوه. اعلیحضرت شهید محمد نادر خان د وزیرستان ساپیو افغانانو په مرسته د حبیب الله خان سقاو پر ضد پکتیا ته ور داخل شو. د سقاو په وخت کې اردو خپل نظم له لاسه ورکړی و، په هېواد کې د مسعودوف حالت راغلی و، لکه څرنګه چې نن ځینې اجیره افغانان د مسعودوف تر څنګ ولاړ دي، په هغه وخت کې هم ځینې د سقاو په خدمت کې وو چې د نادري سقاوي په نامه یادېدل.

محمد نادر خان ته د اعلیحضرت غازي امان الله خان اشتباهګانې د عبرت یوه مدرسه وه. د اعلیحضرت محمد نادر شاه شهید عقل پر احساساتو غالب و. د خوش باورۍ او اعتماد نه یې ځان ساته. په خپلو اصولو او پرنسیپونو روان و، ډېر محتاط او په خپل وخت کې بیا ډېر زړور و. په کار کې قاطع و. د کار ټیم یې بې مثاله و. په خپله توره یې ځان د هېواد اعلی قوماندان کړ. سردار محمد هاشم خان، سپه سالار غازي شاه محمود خان، مارشال شاه ولي خان یې د کارونو ټیم و. د شهید اعلیحضرت محمد نادرشاه په وخت کې افغان اردو یو اساسي شکل غوره کړ. د خپلې مخې موانع به یې په ډېر قاطعیت سره له منځه وړل. کله چې قدرت ته ورسېد، د پکتیا ولایت ته یې د هغه د منطقې د خلکو په نظر امتیازات ورکړل.

پکتیاوال د پېچې - هشت نفري او مکلیفت نه معاف وو. لارې او مکتبونه منع وو. چې دا عمل ظاهراً امتیازات، خو په حقیقت کې د هغه ولس تباهي وه. له هر څه نه وروسته پاتې وو. په خاصه توګه پکتیاوال یې د خپلو ظاهري امتیازاتو په خاطر سخت حامیان او طرفداران وو. د ده په وخت کې هم ملي اردو د نادرشاهي په نامه یادېدله. محمد نادرشاه شهید د ادارې او ملي مسوولیت په مقابل کې په لحاظ او مراعت عقیده نه لرله. لنډه دا چې په خپله توره قدرت ته راغی او د ده له برکته یې کورنۍ تر ډېره وخته په قدرت پاتې شوه.

له تاریخي لحاظه هغه مشران چې زموږ په هېواد کې په قدرت راغلي دي، عموماً بریالي وو او هغو مشرانو ته چې قدرت په میراث رسېدلی دی نو هغوی بیا له ستونزو سره مخامخ شوي دي او له لږ توپان سره یې هر څه له لاسه ورکړي دي.

د اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید هغه کسان چې له ده سره قدرت ته ورسېدل او سیالي یې کوله، هغه یې له مخې نه لرې کړل او د هغوی پر ځای یې خپل شخصي اعتمادي په ګټه او تاوان کې شریک کسان قدرت ته ورسول. فردي حکمراني د کورنۍ په حکمرانۍ بدله شوه.

دغه دوره د محمدزايانو بيا د سردارانو او په خاصه توگه د والاحضرتانو د معراج پيل او شروع وه.

### ۳- ظاهرشاهي دوره

اعليحضرت محمد ظاهرشاه د پلار تر شهادت وروسته د ځوانۍ په پيل کې د موروثي پر اصولو پاچا شو. محمد ظاهرشاه ته د خپل پلار د کار او اداري ټيم پاتې شو. که د کاکاگانو ټيم نه وای نو د اعليحضرت لپاره د بې تجربه گۍ او د لږ عمرۍ په خاطر په افغانستان کې پاچايي کول څه اسانه خبره نه وه.

اعليحضرت د طبيعت له لحاظه په افغاني ټولنه کې د لېوه او د هوسۍ تفاوت و، فطري شريف انسان و، قصی القلب، انتقام اخيستونکی، کينه گر او ظالم نه و. محمد ظاهرشاه ته پاچايي ناڅاپه او په تعارف ورسېده. دی له افغانستان او افغانانو سره بلد او اشنا نه و. ده ته د افغانستان اعلی قوماندانۍ په لزوم ديد ورکړل شوه. خو اصلي اداري قدرت د کاکاگانو په لاس کې و. په همدې خاطر تر اخره پورې فورمولتي او تشريفاتي اعلی قوماندان ښکارېده.

اعليحضرت محمد ظاهر شاه ډېر کلونه د شهيد پلار د ټيم له برکته او بيا يې هم ډېر کلونه د کاکا د زامنو په همکارۍ ښه ښغمه پاچايي وکړه.

که د اعليحضرت محمد ظاهرشاه د شخصيت او د ښه سرېتوب له لحاظه ډېرې پاڼې ډکې کړم، بيا به هم کمې وي. داسې د ښو صفاتو کسان لږ پيدا کېږي. زه فکر کوم چې دغه پورتنۍ دوه جملې کافي دي او اکثريت افغانان به راسره قانع شي.

له بده مرغه ما ته د اعليحضرت معظم همايون شخصيت په مورد کې وظيفه نه راکړل شوې چې زه تر دې جامع جملو نه زيات تفصيلات وليکم او که نه دا به ما ته ويار و. ځکه چې د هغه عالي شخصيت په ښه او ډېره يادونه ارزي.

که د اعليحضرت د اردو په چوکاټ کې د هېواد د اعلی قوماندان په صفت څېړنه وکړم، بيا نو سوال تش په ښه سرېتوب نه حل کېږي. بايد مسله همه جانبه وڅېړل شي.

د همايوني اعليحضرت د سلطنت په دوران کې اردو ته يو اساسي چوکاټ جوړ شو، اردو يو بين المللي ستندرډ ونيو. افغان اردو د نفوس، اقتصاد، گاونډيو سره د مناسباتو او د اراضي د ايجاباتو په لحاظ معقوله وه. افغان اردو د شورويانو د کاپي نه مخکې ترکي کاپي وه، اردو د تشکيلاتو، ښوونې او روزنې، پرسونل، اکمالاتو، دسپلين او اواري له لحاظه تر اخره پورې د تکامل پر لور روانه وه او دې پړاو ته ورسېده چې خارج ته د صاحبمنصبانو د تعليم لپاره له لېږلو څخه بې نيازه

شوي وه. کـه دا ووایـم چـې زمـوږ اردو پـه ځینـو شیانو کـې د ډېرو هېوادونـو تـر اردوګانو ځڼه غوره وه، نو مبالغه به نه وي.

په پارسي کې وايي: "تام رستم به از رستم". افغان اردو د غـازي سپه سالار شاه محمود خان او د سرادر محمد داود خان د وخت اردوګانو سره مقایسه نه کېږي.

سپه سالار شاه محمود خان د دوو جګړو استقلال او نجات یو فاتح جنرال و. په افغاني ټولنه کې یې شناخت ډېر و. په ولس کې یې عزت او احترام د اعلیحضرت نه دویم و، هر افغان ته دا خبره امتحان شوي وه چې سپه سالار د اول خط یو جنګي قوماندان دی. د اردو مادي کمبود د شاه محمـود خان پـه معنـوي شخصیت ډك شوی و.

سردار محمد داود خان د وطن د لیلا مجنون و. یو ملي پېژندل شوی شخصیت و، خو له ولس سره یې چندان راشه درشه نه وه. د اردو زیات عالي رتبه منصبداران د ده په قلم لوړو مقاماتو او رتبو ته رسېدلي وو، نو ځکه اردو تر اخره پورې د ده تر شخصي اغېز لاندې وه.

را په یاد شي چې څوك له خارجه راته. نور احمد خان صدراعظم و او په خواجه رواش کې له ځینو مشرانو سره ولاړ و، سـردار محمـد داود خـان له خلکـو لـرې او ګوښه ولاړ و، کله چې بـه جنرالان لـه موټره کوز شول، د دې پر ځای چې نور احمد خان ته ور شي، له سردار محمد داود خان نه بـه راتـاو شـول. د دې لیکنـې څخه زمـا مطلب دا دی چې د تعلیم او مسلکي دانش او د رتبې په لحاظ ستر جـنرال خـان محمد خان مخکې و خو په افغاني ټولنه کې د سپه سالار غازي شاه محمـود خان او سردار محمد داود خان سره خان محمد خان نه شي مقایسه کېدلای. خان محمد خان په ټولنه کې د دربار له برکته د محمد رحیم خان پنجشیري عزت هم نه درلوده.

د اعلیحضرت د څلوېښتو کالو د سـلطنت پـه دوره کې چې اعلی قومـاندان و، سرې ویلای شي چې د سپه سالار شاه محمود خان او سردار محمد داود خـان د دورو اردوګانې افغاني وې. خپل اختیاره وې او تر خارجي تاثیر لاندې نه وې او دا ددې لپـاره چـې هغـوی دواړه د پـردې تـر شـا اصلـي اعلـی قوماندانـان وو، د اعلیحضرت اعلی قوماندانې د هغوی لپاره تشریفاتي جنبه لرله. د ستر جنرال خان محمد خان په وخت کې اردو په هر لحاظ تکامل وکړ، خو د مملکت په چوکاټ کې یې پر اردو د امر او قوماندې په لحاظ صلاحیت نـه درلـود او کـه دا ووایـم چـې رتبـه او مقام یې تش په نامه او اعزازي و، څه غلطه خبره به نه وي.



ACKU

له محترمو لوستونکیو نه هیله کوم چې زما مثال ته متوجه وي، هغه دا چې "نام رستم به از رستم". د دې خبرې مطلب دا دی چې سردار محمد داود خان قدرت درلوده، ولې عسکري قرار یې مسلکي او مشورتي نه و، په احساساتي خودسرۍ کې یې ځینې د یادونې وړ غلطۍ کړې دي.

د مثال په توګه: د باجوړ په جګړه کې یې غلام فاروق خان عثمان ته اوامر ورکړل. غلام فاروق خان د لوی ننګرهار د نایب الحکومه په صفت ولس راغونډ کړ، زاړه ټوپك یې له مهماتو پرته ورته توزیع کړل، د پاکستان له خوا باجوړیانو تر مرورۍ پورې زموږ په خاوره کې پرمختګ وکړ.

د غلام فاروق خان عثمان تر ماتې وروسته جنرال خان محمد خان مرستیال مقرر او موظف شو، خان محمد خان خپله سیمه ازاده کړه او د ډیورند له کرښې په هاخوا سیمه کې یې پرمختګ وکړ. که خان محمد خان ته د توقف امر نه وای شوی، لا به پر مخ تللی و، خو پاورش یې اعدام شو.

په عمومي توګه په درباري سیستم کې د همېشه لپاره دغه مصیبت وي چې په خپله نه پوهېږي او مشوره ورته عیب او توهین ښکاري.

درباریان ځینې داسې وي چې ځان له غرونو او ګرنګونو را اچوي او ځینې بیا داسې محافظه کاره وي چې په غارونو کې هم ځای نه لري چې پټ شي.

په لاندینیو کرښو کې د حاضرینو او لوستونکیو توجه غواړم.

۱- ایا افغانستان ته په هغه وخت کې د یوې با مصرفه اردو ضرورت و او که نه؟

۲- ایا د افغانستان د اردو وضع الجیش او تحشد معقول و او که نه؟

۳- د اعلی قوماندانانو صلاحیت او مسوولیت څه و؟

### افغانستان ته د اردو ضرورت

ایا زموږ اردو تعرضي وه او که مدافعوي؟

زموږ اقتصادي حالت، جغرافیایي دریځ او بین المللي شرایط داسې وو، چې موږ په کوم ګاونډي هېواد نه د تعرض توان درلود او نه مو ورته ضرورت و. پاکستان او ایران هم زموږ پر خاوره کوم تعرضي پلان نه لاره او نه ورته اړ و. په هغه وخت کې د پاکستان او ایران له خوا زموږ پر هېواد تجاوز پر مسکو د تجاوز مانا لرله

د هندوستان په موجویت کې د پاکستان تعرضي پلان په خپل ذات کې شنډېږي. ایران هم د شوروي په ګاونډیتوب کې دا جرئت نه شو کولای او مهمه دا

چې دواړو هېوادونو سره د تجاوز کومه بهانه نه وه. زما په عقیده زموږ د هېواد لپاره په هغه وخت کې ډېره بامصرفه اردو په کار نه وه. خفیفه او متوسطه وسله د ولس د مسلح کېدلو لپاره ډېره په کار وه. ښه به دا وه چې د د درنې وسلې پر ځای مو زراعتي او صنعتي ماشین الات درلوډلای او د دې پر ځای چې موږ هر کال پینځه میاشتې د سنبلې په لومړۍ نېټه په جشن کې د پنځوسو ګامو رسم ګذشت لپاره ضایع کولې ښه دا وه چې اردو د دښتو په ابادولو کې استخدام کېدلای، چې د وطن په ابادۍ کې خدمت شوی وای.

## د افغانستان د اردو وضع الجیش او تحشد

که موږ یو ازاد، بې طرفه او مستقل هېواد و، بیا دا لازمه نه وه چې زموږ د اردو تشکیلات د شورویانو په اختیار کې وي. وسله مو د شوروي وي. عسکري تکتیك مو د شوروي وي. د افغانستان د اردو وضع الجیش داسې جوړ شوی و، لکه پاکستانیو چې په سرحداتو کې د مجاهدینو پاخه، دایم او مستحکم مرکزونه جوړ کړي وو، چې هدف یې د خپل هېواد دفاع وه.

زموږ په قوت کې یې د خپل مملکت دفاعي اول خط جوړ کړی و، په هغه وخت زموږ اردو داسې ځای پر ځای شوې وه لکه چې موږ د شوروي د دفاع لپاره د مدافع خط و. ټول دار او ندار د هېواد جنوب کې راغونډ شوي وو.

که شوروي زموږ با اعتماده دوست هېواد و، بیا نو زموږ لپاره هغه شان پُر-مصرفه اردو ته ضرورت نه و او که دا قبوله کړو، چې موږ بېطرفه او ازاد هېواد و او شوروي ته مو د پاکستان او ایران په سترګو کتل، بیا نو موږ ولې د هندوکش بابا او فیروزکوه په شمال کې دفاعي طاقت نه درلوده او ولې مو شا ورته اړولې وه.

په ټول شمال کې یوه ناقصه فرقه وه. الوتکې او د الوتکو میدان د هېواد د شمال د دفاع لپاره نه وو، بلکې هغه د جنوب لپاره وو. که فکر کېده چې موږ به دا واقعې په صورت کې شمال ته د کابل نه اکمالات کړي وای، خو دا نظر احمقانه و. لارې نه وې، اکمالاتو توان نه و او هر اکمالات د دښمن د بمباردمان لپاره ښه هدف و او تر ټولو نه د تونل تخریبول اسانه کار و.

د پاکستان په مقابل کې چې زموږ پوروړی دی او پر موږ د تجاوز حتی خوب نه شي لیدلای او بلکې د پاکستان پنجابي او سندي قطعات په خپل سرحد کې د تطبیقاتو او ګشت اجازه او توان نه لري. د هغې په مقابل کې د کندهار قول اردو، د پکتیا قول اردو، د ننګرهار تقریباً یوه قول اردو، مرکزي قول اردو، زرهدار دوه

ACKU

فرقې، توپچې راکټونه هوايي غونډونه او مخصوصې قواوې او نور مستقل قطعات. د ایران په مقابل کې د هرات فرقه وه او بس. د شینډنډ هوايي قواې هم د جنوب لپاره وې.

د قواوو دغه وضع الجیش تش په نامه افغاني و. د کورنۍ اداري لپاره د اراضي د ایجاباتو په خاطر باید په شمال کې زموږ اساسي، باصلاحیته، اکمال شوی او پر ځان متکي دفاعي تاسیسات موجود وای. د افغانستان په جنوب کې هغه اقوام او افغانان دي چې د تاریخ په اوږدو کې یې هره تیره د شهیدانو په وینو رنګ شوې ده. دوی ته د همېش لپاره د ژوند د حق پر ځای د ساتنې مسوولیت ور په غاړه و. د مسعودوف او دوستم ببرك په شان کسان نه شي پیدا کېدلای. جنوب کې اردو ته ضرورت نه و. د سرحد قبایل او د افغانستان ستر اقوام د پاکستان په مقابل کې د ماژینو دفاعي سیستم و. د هغه توپ مخه چې د افغانستان په لور ګرځېدلې وه هندوستان بیا په طبیعي لحاظ په لاهور حمله کوله. هندوستان پاکستان ته په منطقو کې د جاګیرداری اجازه نه شي ورکولای. د شرق له خوا پاکستان تعرض نه شي کولای، په غربي ساحه کې بیا ایران هم تحمل نه کوي او اجازه نه ورکوي. البته دا یو مسلکي بحث دی، چې کتاب پرې لیکل کېدلای شي. خو امید دی چې دغه لنډ یادون هم مفهوم ادا کړی وي.

## اعلی قوماندان

د افغانستان ښه او بد مرګ او ژوند ټول په دې موضوع کې توضیح کېږي. د نړۍ هر هېواد که شاهي وي که جمهوري، که اسلامي وي که کمونیستي که دیموکراسي وي، که دیکتاتوري د اعلی قوماندان وظایف یو شان او معلوم وي. د اعلی قوماندان امتیاز د خدای نعمت او مسوولیت یې بیا د خدای قهر او غضب دی. اعلی قوماندان د دین حافظ او د خاورې د ځمکنۍ بشپړتیا مسوول وي.

د محمد داود خان کودتا زموږ د دین او ځمکنۍ بشپړتیا بنیادونو ته انفلاقیه مواد کېښودل. اعلیحضرت معظم همایون په حضر کې د اردو او په سفر کې د ټول ملت اعلی قوماندان و. دا ځکه چې زموږ اردو له ملت نه جوړه وه.

پوښتنه: که ملوکانه ذات اعلی قوماندان و، بیا یې نو مسوولیت څه و او په قانون کې یې ولې مسوولیت نه درلوده؟

دویم: د خدای ﷻ پیغمبران مسوولیت لري، ولې زموږ پاچا عام او تام صلاحیت درلوده، خو له مسوولیت نه خلاص و. اعلی قوماندان په حقیقت کې د ستر



ACKU

مسوولیت نوم دی. لږ صلاحیت لږ مسوولیت لري او ډېر صلاحیت ډېر مسوولیت لري.

داسې یو قانون چې هغه د قران پاك د اوامرو پر اساس او مطابق جوړ شي، څنګه بیا یو شخص له هغې نه مافوق کېدلای شي.

زه په رښتیا سره نه پوهېږم چې ملوکانه ذات د افغان ملت د ساتنې مسوول او که افغان ملت د همایون د حفاظت مسوول و؟

که معظم حضور د افغان ملت د حفاظت مسوول و، نو بیا یې څه وکړل؟ او که اتلس مېلیونه افغانان د حضور ملوکانه د ساتنې مسوول وو، بیا نو د څه لپاره او ولې؟ که حضور اعلیحضرت اعلی قوماندان نه و، بیا نو څوك و؟ که حضور د محمد داود خان په کودتا خبر و، څه یې وکړل او څه یې باید کړي وای؟ که ذات عالی د محمد داود خان پر کودتا خبر نه و، بیا نو ولې؟

په یو هېواد کې اعلی قوماندان د رمې شپانه ته ورته والی لري. که شپون تکړه و، نو رمه چاغه او ارامه وي او که شپون ویده او د رمې په کیسه کې نه و، بیا نو رمه د لېوانو خوراك ده.

اعلی حضرت په تفصیل سره په وار وار له کودتا څخه خبر و. جنرال الوزی خان، عتیق خان یاور، حمیرا ولي او مور ورته لندن ته تیلیفون وکړ، جنرال عبدالولي خان له اعلیحضرت سره په لندن کې و. زمور په تیلیفون عاجل کابل ته راغی. د پینځو منابعو له خوا هغه ته چې زه خبر یم مفصل راپور ورکړل شو.

زه دا عرض کوم چې اعلیحضرت په هغه ډول حساس وخت کې چې د کودتا له مجلسونو او پلانونو څخه له پخوا نه خبر و د دې پر ځای چې هغه شنډه کړي ولې خارج ته لاړ؟

ایا د حضور مبارك سترګه مهمه وه، که اتلس مېلیونه افغانان او د افغانانو هېواد؟ که مطلب رالنډ کړم، هغه به دا وي چې حضور اعلیحضرت معظم همایوني شاه وطندوست او غریب پرور د اعلی قوماندان وظیفه اجرا نه کړه. نن چې د نړۍ په هر ګوټ کې د هغه د وخت د ارذو قوماندانان په حقارت سره ژوند کوي سوال یې اعلیحضرت ته متوجه کېږي چې ځواب او قناعت ورکړي.

## داود شاهي دوره

د سردار محمد داود خان د صدارت او د جمهوریت دورې تر منځ ډېر توپیر و، د صدارت په دوره کې سردار محمد داود خان د اعلیحضرت د کار د تیم یو

خودمختاره غړی، په عمر متوسط او ډېر فعال و. منفي کارونه يې په ټيم کې پټ او مثبت يې هر چا ته معلوم وو.

په نورو کارونو يې زما غرض نه شته، خو افغان اردو يې پر پښو ودروله. محمد داود خان له صدارت څخه دمخه په دفاع وزارت کې يا هغه اندازه چې د کيفيت طرفدار و د صدارت په کلونو کې يې مخه کميت ته کړه او له کيفيت نه بې پروا شو.

د اردو صاحبمنصبانو د انتخاب په مورد کې د اعليحضرت شهيد محمد نادر خان قوانين او مقررات محمد داود خان بدل کړل او له بده مرغه چې د جنرال غلام فاروق خان لوی درستيز د استعمال وسيله وګرځېد.

اردو خپل معنوي ارزښت له لاسه ورکړ. په عمومي توګه د مستعجل په نامه ځينې ناوړه کسان په اردو کې منصبداران شول. د ده د صدارت په وخت کې اردو شوروي ته ډېره نژدې شوه. هغه وخت چې د صدارت له مقامه لرې شو. د ده په تمايل تشويق او قوت د پرچم کمونيستي ګوند کې تر زيات نه زيات تاجك مستعجل ضابطان جذب او جلب شول. ډاکټر حسن شرق چې د محمد داود خان هر کاره او کل اختياره و، په دې هکله يې ډېر فعاليت وکړ. کله چې محمد داود خان د صدارت له مقام نه لرې شو. د کورنۍ په چوکاټ کې يې درز پيدا شو. په سياسي ډګر کې د محمد داود خان ملګرو ډېرو کوښښ وکړ، چې حکومتونو ته ستونزې پيدا شي. بيا هم د شورويانو د قرابت او نژدېوالي په نتيجه کې پرچم ته جذب او جلب شوي صاحب منصبان لاګمراه او فعال شول. د پرچميانو غوږونو ته کمونيستي الحادي يوازينۍ اواز رسېده. د اردو اعلی قوماندان همايون اعليحضرت د دې پر ځای چې د دغه نامطلوبه توپان او سېلاب مخه د قران مجيد په اوامرو ونيسي ځان يې غلی او خاموش کړ. د وخت په تېرېدلو سره په خاصه توګه پرچمي منصبداران پر دې باوري شول چې شايد اعليحضرت په خپله دغه لاره وي، دا ځکه چې د پټې خولې مانا رضايت دی.

کمونستانو په دولت او حکومت په ډاګه حملې پيل کړې، د دوی پر ضد مدافعوي ترتيبات نه وو. دغه لوبه يو اړخه او يو ټيمه وه. د محمد داود خان کودتا په وطن کې ډېره ساده فکره شوه. ډېرو به داود خان ته پاچا ويل کابليانو به ويل، ګل سيبم ازی جيبم به او جيبم اکثريت په ډرامه پوه وو.

دا چې د اعليحضرت او سردار محمد داود خان په منځ کې څه وو، خو بې شکه چې محمد داود خان ته شين څراغ ورکړی شو. د محمد داود خان کودتا د يو افغان

له نظره يوه جوړه شوې ډرامه وه. د جمهوري په نامه تر كودتا وروسته محمد داود خان پرچمي منصبدارانو ته تر دې حده امتيازات وركړل چې ډېرو حقدارو افسرانو ته د تحقير او توهين سبب شو.

يو د سوال وړ تورن په څو ساعتونو كې پنځلس كاله پر.مخ ولاړ، ډګروال شو، لايق، صادق او مسلمان تورن پنځلس كاله وروسته پاتې شو. دې كار ځينې منصبداران په لوى لاس د خلقيانو په لمن كې واچول. د پرچميانو هدف معلوم و، چې د محمد داود خان په قدرت كې به كودتا كوي، قدرت به تر لاسه كوي، بيا به محمد داود خان له منځه وړي. خلقيانو عقده پيدا كړه او د انتقام په سوچ كې شول. له يوې خوا پرچم او خلق سره متحده شول. له بلې خوا محمد داود خان په عمر زوړ او صحت يې له لاسه وركړ، په سياسي ډګر كې يوازې پاتې شو، ناخوداګاه ګوري چې د سترنج په لوبه كې ورسره ليونيد بريژنيف ناست دى. د كار د ټيم ملګرو يې د بېګانه وو لپاره كار كاوه.

ده دا فكر كاوه چې دى به همغه محمد داود خان وي او د زمان او وخت ساعت به د ده په خاطر ولاړ وي. د سردار محمد داود خان د ژوندانه په اخرو كلونو كې د پښتون او تاجك، د پرچمي او خلقي، د مستعجل منصبدار، خورد ضابط منصبدار او اصلي منصبدارانو په منځ كې درزونه پيدا شوي وو.

كې جي بي پخوا په اردو كې استخباراتي فعاليت درلوده. وروسته يې بيا پوره امر او قومانده تر لاسه كړه. د اعليحضرت په زمانو كې دا كفايت نه و. چې خپل پلار ته لكه د كاكاګانو او د كاكا د زامنو په شان ټيم شي. په خپله اعليحضرت هم د ټيم جوړولو توان نه درلود. پخواني ټيمونه ورته په خپله جوړ شوي وو. جنرال عبدالولي خان ډېر پاك، پوه او شريف انسان و، خو محمد داود خان نه شو كېدلاى، جنرال عبدالولي خان اعليحضرت ته اطاعت افراط ته رسولى و، سردار محمد داود خان ښه امر وركوونكى او بد امر منونكى و، سردار عبدالولي خان ښه امر منونكى او بد امر وركوونكى و.

## خلقي شاهي اردو

د افغانستان د خلق دموكراتيك ګوند له سردار محمد داود خان سره سياسي قدرت ته په رسېدو كې ډېره مرسته وكړه. دغه غير ملي او غير اسلامي پلورل شوى حزب د محمد داود خان په قوت پر قدرت راغى، هغه وخت چې سردار محمد داود خان صدراعظم و، شورويانو ته نږدې او په اردو كې د كمونستانو د نفوذ [illegible] او د زيات بدلون سبب شو.



ACKU

د شوروي وسله راغله. له وسلو سره د شوروي متخصصين راغلل، د نظامي زده کړې لپاره افغان محصلين شوروي ته لاړل. په اردو کې د ترکي نظامي تعليمي سيستم پر ځای د شوروي تعليمي سيستم جاري شو. له ترکانو سره تاريخي تاوده اړيکي ساړه او قطع شول.

کله چې سردار محمد داود خان د صدارت له مقامه لرې شو، د کورنۍ د شخصي انتقام په خاطر په سياسي ميدان کې د کمونستانو د تشويق، انکشاف او بې داره څرګند فعاليت سبب شو. کورنيو خاينانو او خارجي دښمنانو لپاره د افغانستان د ارګ مبارکې دروازې رنګول ستر سوال و او ناشونی ښکارېده چې دا کار يې په محمد داود خان وکړ. په دې کار ارګ خپل ملي او اسلامي اعزاز او مقام له لاسه ورکړ او ورو ورو د ماشومانو د لوبو ډګر شو او د شپنو بانډه ترې جوړه شو.

کله چې سردار محمد داود خان د کودتا په وسيله سياسي قدرت تر لاسه کړ، په اردو کې انقلابي بدلون راغی. د اردو وفاداره مسلمان، مسلکي لايق او رښتيني وطن دوسته جنرالان له منځه لاړل او پر ځای يې منصبداران شوي خورد ضابطان ډګرمن، ډګروال او جنرال شوي پرچمي مستعجل ضابطان مقرر او اردو يې اشغال کړه. اردو ملي شکل له لاسه ورکړ. د تره کي له راتګ سره په اردو کې په مسلحانه برخورد بيا هم بدلون راغی. اردو د داود شاهۍ نه تره کي شاهۍ ته واوښته. د تن په تن جګړو کې زيات منصبداران له منځه ولاړل. د امين په راتګ بل بدلون رامنځته شو او امين شاهي شروع شوه. د تره کي او کارمل پلويان څه زندان او څه هم په قتل ورسېدل. د کارمل شاهۍ په راتګ امين شاهي ختمه او بيا هم په اردو کې بدلون رامنځته شو. د نجيب شاهۍ په راتګ د اردو هر څه لانور هم بدل شول. اردو ثابته کړه چې دوی د ملت او ملت د دوی دی او دوی د افغان او مسلمان ملت نه راغونډ شوي دي. په همدې مفکوره، اردو له لاسپوڅي حکومت سره همکاري بنده کړه او زيات يې د مجاهدينو په لور واوښتل. پر دغه ګډوډيو کې اردو خپل بنيادي اصليت له لاسه ورکړ. هر چا په هره خوا کش کړه. له اردو سره څارندوی او د خاد قواوې هم زياتې شوې. اردو د کميت او کيفيت له لحاظه ورځ په ورځ مخ په کمزوري کېدو وه. د تشکيل له لحاظه په ټوله مانا روسي شوه. د قربانۍ انګېزه مړه او ستره مايوسي او نا اميدي خوره شوه.

## ائتلاف شاهي

د افغانستان په مورد کې د شمال او جنوب (د شوروي او امريکې) سياست شباهت درلود. شورويانو کمونيزم ترزيق او امريکايانو اخوانيزم پيچکاري کړ.

شورویانو د خپلو لاسپوڅیو الحادي حکومتونو په وسیله افغاني مشران ترور، قتل او زنداني کړل. امریکایانو په جهادي لویو ږیرو او چینو مشران ترورو، قتل او زنداني کړل. هجرت او فرار ته یې مجبوره کړل. شورویانو د افغانانو تر منځ قومي، ژبني او نژادي توپیر او اختلافونه د خپلو افغاني ایجنتانو په وسیله تشویق کړل. امریکایانو هم تنظیمي اختلافونو ته لمن وهله. د شورویانو او د امریکایانو تر منځ په یو مورد کې نظر ګډ او موافق و.

دواړه نه غوښتل چې د روسانو تر وتلو وروسته د اسلام فاتح، روس شکن، غښتلی او له وسلو نه ډک افغانستان وګوري. دواړه د قوي نشنلیزم او قوي اسلامیزم مخالف دي. که څه هم شورویان د امریکانو دښمنان وو، خو د افغانستان کورنۍ جګړې د دواړو له خوا په څخه پلان شوې وې. د دې خبرې ښه ثبوت دا دی چې مسعود له اوله نه د روسانو خادم و او انګریزان چې د امریکایانو استادان دي. مسعود ته یې د تیتنو لقب ورکړی و. مسعود د یو کار لپاره دواړو خواوو ساتلی و، چې افغانستان پرې خراب کړي.

د مسعود ستمي او د کارمل پرچمي ائتلاف په جوړه شوې او پلان شوې دسیسې منځ ته راغی. د پښتنو برخه اردو ډېره ژر تیت او پاشان شوه.

مسعود ستمي، پرچمي، ایراني، وحدتي، روسي دوستمي، برخه اردو لاتقویه کړه. مسعود د پخواني ارتباط په خاطر خاد لانور هم تقویه کړ.

له اوله تر اخره پورې دسیسې د پښتنو د نابودۍ لپاره وې. ملي اسلامي انګېزه مړه شوه، جهاد خپل ارزښتونه له لاسه ورکړل. مجاهدین بدنام شول. افغانستان له لوی خطر سره مخامخ شو. دوستان او دښمنان ټول د افغانانو دښمنان وګرځېدل. د هر چا چې مطلب پوره شو، په خپله مخه لاړ. اندېښنې ډېرې شوې نامیدي زیاته شوه.

د اعلیحضرت له ماحول نه کوښښ کېده، چې د ستمیانو او پرچمیانو په ملګرتیا په قدرت راشي، له ما سره همېشه دا سوال و، چې که افغانستان په داسې حالت کې له یو بل خارجي خطر سره مخامخ شي په کومه انګېزه به افغانان د چا په شعار او قومانده د وطن د دفاع لپاره حاضر شي او چا ته به دغه دنده او وظیفه ور په غاړه شي، چې د افغان ولس په سر کې ودرېږي. وایي چې د غریبانو یار خدای ﷻ دی.

ناڅاپه د طالبانو په نامه د امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد په قیادت نوی تحریک منځ ته راغی، د طالب تر بېرغ لاندې مړه انګېزه بېرته را ژوندۍ شوه.

د مجاهد حیثیت ببرته پر ځای شو، یو ځل بیا افغان ثابته کړه، چې که مطلوب قیادت ولري، دا قوم ژوندی دی.

## د افغانستان راتلونکې اردو

هره سهوه، اشتباه او غلطي د عبرت درس او سبق دی. مولانا وایي چې:

نــــه افیتدن کار مردان نیست
مرد انست که به افتد و برخیزد

د شلو کالو په دوامداره، تراژیدیو او فاجعو کې خامخا تېرو غلطیو ډېر اثر درلود. وایي چې هر وخت د غلطۍ مخه ونیول شي، لاهم ناوخته نه دی. د پاکې خاورې پاك غرونه مو پر ځای دي، د مقدس مور بچیان لاپرې ګرځي. دا پر موږ واجبه ده چې که په خپله د اصلاحاتو وخت، توان او اهمیت نه لرو، باید ویې لیکو چې راتلونکی نسل پرې عمل وکړي. باید په ډاګه او په لوړ اواز یې ووایو او بې پروا یې ووایو.

که څوك افغان وي، نو د افغانستان له ګټو دې قربان شي. هغه څوك چې افغانستان د خپلو ګټو قربانوي، هغه که هر څوك وي او په هر نامه وي. زموږ نه دی او افغان نه دی.

د خدای ﷻ، د هغه کلام او د هغه تر رسول ﷺ وروسته افغانستان موږ ته څلورم مقام دی، د داسې مقام د ساتنې لپاره باارزښته او با کیفیته اردو په کار ده.

کــه څه هــم د افغانســتان د راتلونکـي اردو پــه هکلــه مــا څو کالــه مخکــې "افغانستان څنګه تباه شو؟" تر سرلیك لاندې کتاب کې څه لیکلي وو، خو د موضوع د اهمیت په خاطر یې بیا لیکم او دا زما مسوولیت دی، چې ویې لیکم او ویې وایم. یو وخت ما د افغانستان د ستونزو حل په بین المللي تضمین او ګرنتۍ سره په خلع سلاح کې لیده چې باید اردو و نه لرو، خو ملي خاینان شته دي او ډېر دي نو اردو په کار ده.

زه د افغانستان د اردو پخوانی مسلکي منصبدار یم، په جریاناتو کې داخل او غلطۍ مې هم کړې او هم لیدلي دي. وایي "اب تا ګلو بچه زیر پای" په افغانستان کې باید نور د پس پس او سر سر سیاست لرې شي او هر څه باید معلوم وي. ملت باید د قانون په رڼا کې حرکت وکړي، نه دا چې ړوند ولس پر ړوند پسې وتړل شي او په کندو کې ولوېږي.



ACKU

## د افغانستان اعلی قوماندان

د نورو هېوادونو د قواوو قوماندانی زموږ له هېواد سره توپیر لري. لکه څرنګه چې مو دمخه ولیکل، د نورو هېوادونو یوازې وسله والې قواوې د هغه هېواد د مدافعې مسوول وي. خو زموږ په هېواد کې مسلحې قواوې ولس او ولس مسلحې قواوې دي. دا ځکه چې زموږ اردو تنخواه خوره نه وه، بلکې د مکلفیت په اصولو ملي وه.

که په راتلونکي کې د تنخواه خورې اردو شکل ونیسي، بیا هم باید د مکلفیت ملي شکل ولري، چې دا کار زموږ د بقا او موجودیت لوی سبب دی. په تاریخي لحاظ افغان ولس د ملي مسلحو قواوو د تولید کارخانه او فابریکه ده چې ختم او کمبود نه لري.

تر دې وروسته باید زموږ اعلی قوماندان د شخص پر ځای قانون وي او د قانون تطبیق کوونکي کسان باید قانون ته مسوولیت ولري.

په راس کې باید قانون وي، نه شخص. د صلاحیت معادل مسوولیت په چوکاټ کې د هر چا حقوق باید برابر وي. د افغانستان اعلی قوماندانی او ادارې سیستم باید د جهادي تنیظمونو لاره پرېږدي، که د تنظیم مشر به موجود و، تنظیم به موجود و، که د تنظیم مشر به غایب شو، د تنظیم کیلي به یې له ځانه سره په جیب کې وړې وه. که مشر به تشناب ته ولاړ، تنظیم به هم په شتناب کې ورسره و. چې د هېواد په قربانیو کې هر افغان حق ورکوي، نو د برخلیك په ټاکلو کې هم هر افغان حق لري. دا زما لنډ نظر دی چې تقدیم شو البته پر خپل وخت کې به مسول او مسلکي کسان ورته په تفصیل سره قانوني شکل ورکړي. په کورنیو چارو کې زه د پاکستان د اردو دریځ او تګلاره معقوله بولم.

## د افغانستان د اردو تشکیل

موږ ته تېر جهاد عملي درس راکړ. موږ ولیدل چې د افغانستان په اردو کې د اراضي، اب و هوا د عملي سوق او ادارې مسایل په نظر کې نیول شوي نه وو. د خلقي اردو او د روسي قواوو ناکامي مجاهدینو په مقابل کې تشکیلاتي سونزې او نیمګړتیاوې وې. چې افغان اردو د روسي اردو کاغذي غلطه کاپي وه.

د افغانستان په تنګو درو کې د هغوی د فرقو او قول اردوګانو د استعمال امکانات نه وو، نو ځکه مرکزي سوق او ادارې ورته مشکلات پېښ کړي وو.

اکمالات یې سخت وو، سوق او اداره گرانه وه، ارتباط مشکل و، دسپلین او انضباط یې له لاسه ورکړی و.

د افغانستان اردو باید د مستقلو قطعاتو، غونډونو او لواگانو په چوکاټ کې داسې جوړه شي چې اکمالات مستقل، اداره مستقله ولري او وظیفه اجرا کړي.

د قطعاتو په تشکیل کې باید د منطقې د ولس گډه همکاري ورسره په نظر کې نیول شوې وي. زموږ د راتلونکي اردو تعلیمي پروگرامونه باید د ستندرډ محاربوي تخنیك پر ځای کوماندویي گوریلایي، مخصوص او غرني تعلیماتو خوا ته وگرځي. د ډېرو درنو وسلو پر ځای باید خفیفې او متوسطه وسلې ډېرې شي.

که اردو بریالی شي، چې په کال کې یو ځل هسې د یوې اوونۍ لپاره د سیمې ولس د خپلو نژدې قواوو ته راغونډ کړي او څه ناڅه عملي نظامي حرکات وکړي دا به ډېره گټه ورسوي او د دوی لپاره لازمه وسله دقواوو په ډیپوگانو کې موجود وي.

دا نظر هم د یو فورمول په ډول په ډېره لنډه توگه تقدیم شو.

## د افغانستان د اردو وضع الجیش

شاید د یو هېواد په ځینو شیانو کې څه ملحوظات په نظر کې ونیول شي، خو له اردو سره دا کار نه کېږي، یو هېواد په هر مورد کې سهوه، اشتباه او غلطي زغملای شي، خو سیاسي او نظامي غلطي چې یو د بل متمم او یو پر بل موثر دي، نه شي زغملای. د نامطلوبې اردو نه چې اردو نه وي ډېره ښه ده.

په یوه هېواد کې یوازې بې گټې ډېره او ملاماتوونکې مصرفي بودجه د اردو ده. د هرې پروژې مصارف د گټې لپاره کېږي او دا له اول نه تخمینېږي، چې څومره مصارف به په څومره موده کې څومره گټه وکړي. خو د اردو بودجه چې یو ځل پاس شوه او د نظامیانو په لاس ورغله، بیا یې پوښتنه نه شته. دا ټول د کلونو کلونو مصرفونه یوازې د یوې ورځې لپاره کېږي، چې د ولس د هوساینې او د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې لپاره قرباني ورکړي.

که د یو هېواد د اردو مصارف په نورو چارو کې لکه تجارت، زراعت او صنعت وشي نو ډېر ژر به هغه هېواد پر خپلو پښو ودرېږي.

افغان اردو څلوېښت کاله د ولس خېټه تشه کړه، خو چې ورځ یې راغله، د دې پر ځای چې ولس ته دوا یې شي، ولس ته بلا شوه. دا د دې په خاطر چې مسوول قوماندان مسوولیت نه درلوده، د اردو تشکیل د افغانستان لپاره عملي نه و. وضع الجیش د سوق الجیش لپاره جوړ نه و.

که تاسې افغانانو له پخوانیو څخه پوښتنه وکړئ چې دا زموږ اردو د څه لپاره جوړه وه؟

که د شخص د ساتنې لپاره وه، نو د دې شخص کمال څه و، چې اهمیت او ارزښت یې د اتلسو میلیونو افغانانو او د هغوی د هیواد افغانستان نه زیات و؟ بیا نو د دې اردو قوماندان څوك و؟

که اردو بدن وي، نو قوماندان یې سر دی، زموږ یوازینی اردو وه چې بدن سر نه درلود. افغانستان د اردو وضع الجیش د خپلې خاورې د مدافعې د سوق الجیش لپاره نه و.

د جهاد په کلونو کې پاکستاني مقاماتو د خپلې خاورې د مدافعې لیکه د مجاهدینو په پخو او سمبال شویو دایمي سرحدي مرکزونو جوړه کړې وه. زموږ د اردو وضع الجیش داسې و، لکه چې موږ د پاکستان په استقامت د شوروي د دفاع لپاره اول خط و. په هغه استقامت چې خطر و، هلته څه نه، په هغه استقامت چې زموږ لپاره خطر نه و، هر څه را غونډ شوي وو.

په هر حال اوس دا خبره له واده نه وروسته نکریزې دي. ښه دا ده چې دا بحث لنډ کړم، او اصل مطلب ولیکم.

د افغانستان اراضي، اب و هوا، طبیعي موانع، طبیعي منابع، ولسي مناسبات، لارې، ملي خائنان او تجزیه طلبان، له ګاونډیانو سره په تجربه رسېدلی مناسبات او د نورو شیانو په نظر کې نیول سره زموږ اوله درجه مدافعوي استقامت باید د شمال لور ته وي.

که یوازې خارجي ګاونډي مد نظر وي نو د ایران استقامت به اوله درجه وي، خو زموږ د هیواد طبیعي ساختمان په ټولو حالاتو کې دا ایجابوي چې د شمال استقامت ته قدامت ورکړل شي. دویمه درجه باید ایران او د پاکستان استقامت په دریمه درجه راځي.

د شمال قواوې باید په ټوله مانا پر خپلو پښو درېدلې، اکمال شوې ازاده او با صلاحیته وي، د افغان اردو په چوکاټ کې د شمال عمومي قوماندانۍ باید د دویم ستر درستیز مانا ولري. باید په سختو شرایطو کې د ډېرې مودې لپاره د دښمن په مقابل کې د هیواد د شمال برخو سرحداتو د مدافعې توان ولري. د شمال د قواوو عمومي قرار ګاه باید د مزار شریف او د کندهار د عمومي لارو د تقاطع په مناسبو سیمو کې وي. د شمال عمومي قوماندانۍ باید داسې تسلیح او تجهیز وي، چې په جګړه کې د مرکز نه د مرستې تقاضا ونه کړي، یوازې د عملیاتو راپور ورکړي وي.

دویمه عمومي قوماندانی باید په کندهار کې وي او د مدافع اصلي استقامت یې ایران وي، د هرات او د میمنې د لارې ساتل به ځانګړې اهمیت ولري، چې دواړه خواوې یې په ساتنې کې توجه وکړي. د پاکستان په استقامت ننګرهار، پکتیا او پکتیکا یوه عمومي قوماندانی ولري. د احتیاط قواوې باید په مرکز کې وي. د مرکز مانا باید دا نه وي چې قواوې په کابل کې راټولې شي، په ټوله مانا باید سفري شرایط په نظر کې نیول شوي وي.

د راټلونکي اردو مرکز او هسته باید د طالبانو اوسنی اردو وي او دا ځکه چې په دوی کې د قرباني انګېزه ترزیق شوې ده. کیفیت یې ښه دی، خو په کمیت ورو ورو زیاته شي، تر څو خپل اصلي حالت ته ورسېږي.

دا د اوازو مطابق چې امریکایان راته اردو جوړوي او د هر عسکر لپاره د میاشتې دوه سوه ډالره معاش ورکوي دا زموږ لپاره لوی خیانت دی. امریکا به دغه کار د خپل مطلب لپاره شاید د څه مودې لپاره وکړي، خو تر اخره به نه وي. یو ځل که د ولس افراد د میاشتې په دوه سوه ډالره عادي او قانع شول، بیا تر اخره د هغوی اکمال سخت او ټیټ راوستل یې لاسختېږي.

په درناوی.

پوهنوال دوکتور م. عثمان روستار تره کی

# نقش اقوام در پروسهٔ تشکل ملت در تاریخ معاصر افغانستان

برخی دولت های ملی چون روسیه روی انگیزه توسعه طلبی پدید آمده




است. علت وجود بعضی دیگر مثل پاکستان و اسرائیل اتکا به دین واحد بوده است. دولت فدرال امریکا از توامیت و امیزش خوش به رضای مهاجرین دنیای قدیم عرض وجود کرد. شماری کشورهای افریقایی از جمله کانگو به مقتضای سیاست استعمار از انضمام چند نقطه ستراتژیک پا به عرصه وجود گذاشت.

بر خلاف آنچه ذکر کردیم، افغانستان کشور تاریخی است. سرنوشت مردم مسکون در افغانستان را حوادث تاریخی در طول پنج هزار سال با

هم گره زده و قریب بود اقوام آن را در کوره ملت واحد ذوب کند، که مصیبت جنگ ناشی از تجاوز شوروی پیش آمد.

افغانستان نقطه تقاطع مهاجرت ها و لشکرکشی های عظیم در پهنه تاریخ بوده است. این مهاجرت ها و لشکرکشی ها به جامعه کثیر الاقوام افغانستان تنوع بیشتر بخشید و کشور را در مسیر تاریخ به محل تلاقی تمدن های بزرگ تبدیل کرد.

اقوام مختلف شامل ترکیب جامعه افغانی برای بار اول در سال ۱۷۴۷م موفق به تشکیل یک دولت می شدند.

در افغانستان دولت ملی بر خلاف معمول در سایر کشورها از طریق فتوحات داخلی یک گروه مسلط نژاد بمیان نیامده. بلکه از مجرا اتحاد داوطلبانه اقوام مختلف برای تشکیل یک اداره واحد مرکزی و استفاده از آن به قصد حفظ استقلال و مقابله موثر با مداخلات احتمالی خارجی عرض وجود کرد.

سهمگیری خوش به رضای اقوام ۱۷۴۷ در ایجاد دولت ملی از طریق موسسه عنعوی لویه جرگه در ۱۸۴۸م که طی آن صابرشاه کابلی برای تاج گذاری احمد شاه درانی برخاست، یکی از عوامل عمده و موثر در رشد "ناسیونالیزم" افغانی به حساب می آید. به این عامل عمده سمت دهنده احساسات اقوام مختلف در جمعیت تامین اهداف ملی، باید عوامل دیگری را از قبیل دین اسلام و موسسه سلطنت علاوه کرد. اما متلفت باید بود که نقش دین اسلام و موسسه سلطنت در تامین وحدت ملی بیشتر بعد از تشکیل لویه جرگه و دولت ملی محسوس بوده است.

بناءً لویه جرگه ها افزارهای دیموکراتیک قویت تجانس (Assimilation) و همبستگی اقوام مختلف به حساب می آیند و در رشد ناسیونالیزم افغانی نقش کلیدی داشته اند!

دین اسلام نیز به نوبه خود در هم پیوستن احساسات اقوام رنگارنگ افغانی بیک مرکز واحد روحانیت رول برجسته ایفا کرده است.

در طول تاریخ نقش دین اسلام در ایجاد همبستگی ملی و دفاع خودی بیشتر در مقابله با قدرت متجاوز خارجی از طریق ایجاد همبستگی ملی و دفاع خودی بیشتر در مقابله جامعه افغانی را در پیکره واحد ملت مسلمان افغانستان قرار میدهد و آنرا در سخت ترین ازمون مرگ و

زندگی، به مقاومت، ایثار و از خودگذری در راه دفاع نوامیس ملی دعوت می نماید.

موسسه سلطنت بخصوص وقتیکه بر موازین دین اتکا کرده و قبیله مسلط نژادی و لویه جرگه مرکب از اقوام مختلف را برای توجیه حقوقی بشدت خود به خدمت گرفته، توانسته است، بیک افزار سپاس اتحاد و همبستگی ملی تبدیل گردد.

اقوام مختلف جامعه افغانی بیشتر در مواقع مقابله علیه قدرت متجاوز خارجی خود متحد و دارای سرنوشت مشترک احساس نموده اند. جنگ های ۱۸۳۹-۱۸۴۲، ۱۸۷۸-۱۸۸۰و ۱۹۱۹ افغانها علیه قدرت متجاوز انگلیس و جنگ ۱۹۷۹-۱۹۸۹م علیه تعرض اتحاد شوروی بدرستی نفوذ روحیه ناسیونالیزم را در بطن جامعه افغانی که با پشتوانه مذهبی برقاطعیت و رزمندگی آن افزود شده بود، ثابت ساخت.

در پنجا سوالیکه ارائه پاسخ بدان به قصد اعطای انسجام به صحبت حتمی به نظر می رسد، اینست، که چرا افغان ها پس از سه دوره جنگ با انگلیس وحدت ملی خود را حفظ کردند. در حالیکه پس از موفقیت در مقابله علیه تجاوز شوروی آنرا از دست دادند؟

به نظر ما علت اساسی این امر در کیفیت و خصلت قوای تجاوزگر از یک طرف و ماهیت هدفی که وی اصابت به آنرا از طریق تجاوز در نظرداشت، از جانب دیگر است: انگلیس ها به عنوان قدرت استعماری بدون مدعیات ایدیولوژیک صرفاً به مقصد به اسارت کشیدن افغانستان بکشور ما تجاوز کردند. در حالیکه شوروی ها با داشتن حربه قوی ایدیولوژیک علاوه بر در بند کشیدن ملت افغاستان در صدد تحمیل ایدیولوژی خود شدند. این ایدیولوژی ساختارهای اجتماعی، فرهنگی، دینی، سیاسی و اقتصادی ایرا که به جامعه ما تجانس و وحدت می بخشید، معروض به دگرگونی کرد. اختلافات قومی، منقطوی و مذهبی را به قصد بهره برداری های سیاسی به شدت دامن زد. اعتبار اجتماعی موسساتی چون سلطنت و لویه جرگه را که در طول تاریخ وحدت ملی افغان ها را تامین می نمودند، مستغنی نمود و با تبلیغ در اطراف جنگ طبقاتی نقش توحید کننده اسلام را که خود به حربه سرکوبگر در مناقشات و درگیری های سیاسی، تبدیل شده بود، ضعیف ساخت.

ما در رابطه اینکه شوروی با تجاوز به کشور ما مقصد داشت، ملت افغانستان را از هستی مادی و معنوی ساقط بسازد و اقوام برادر را به عنوان عناصر ترکیب کننده این ملت بخون یکدیگر تشنه کند، تا زمینه توسعه نفوذ استعمار سرخ که در عقب به اصطلاح انقلاب سنگر گرفته بود، میسر شده، بعداً اندکی مکث خواهیم کرد. عجالتاً بار دیگر در پی ارزیابی مراحل تکامل ناسیونالیزم افغانی صفحات دیگری از تاریخ کشور را ورق می زنم:

در افغانستان قرن ۱۸ ظهور هوتکیان (۱۷۰۷-۱۷۳۷م) مصادف است، به آغاز مبارزه سرنوشت ساز اقوام کشور برای بنیان گذاری یک دولت ملی و کسب استقلال از دولت صفوی.

آن چنانکه در تاریخ افغانستان معمول است، قیام ملی با دست آویز مذهبی سازمان داده شد. به این معنی که میرویس نیکه پس از بازگشت از بیت الله، جرگه بزرگ ملی مرکبه از اقوام مختلف کشور را که در منطقه "کورکران"، کنار دریای ارغنداب، سازمان دهی کرد و فتوای علمای حجاز را به مردم وانمود و از ایشان برای قیام ملی علیه گرگین حاکم خونخوار صفوی تعهد گرفت.

گرگین نماینده دولت صفوی بود. واضح است که درینجا اعلان جهاد علیه گرگین بمثابه یک فرد مطرح نبود، بلکه علیه دولتی مطرح بود، که گرگین از آن نمایندگی می نمود. جهاد یک دولت مسلمان علیه دولت دیگر مسلمان شرعاً توجیه پذیر نیست. مگر آنکه این واقعیت را به پذیریم که جهاد بمیانه یی بود برای سازماندهی یک قیام ملی به مقصد حصول اسقلال سیاسی از دولت صفوی.

بناءً مردمان افغانستان و ایران علی الرغم داشتن دین مشترک، دارای هویت های ملی مجزا از یکدیگر بودند که دین اسلام نتوانست، بهم پوستگی آنها را حفظ کند. این خود راه را برای تشکیل دولت ملی در افغانستان هموار کرد.

مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبی عصر هوتکیان را چنین ارزیابی می کند: "دوره سی ساله حکمروایی هوتکیان در تاریخ افغانستان از حیث نهضت داخلی و غلیا احساس استقلال طلبی خیلی مهم است. زیرا درین وقت اساس حکومت داخلی و ملی مکرراً در قندهار گذاشته شد، که بعداً

احمد شاه برهمان شالوده سلطنت مستقل افغانی و دولت نوین افغانستان را اعمار کرده.(۱)

در تاریخ قرن هژده افغانستان هیچیک تصادم قومی، نژادی و مذهبی ثبت نشده است. این واقعیت بیانگر آرزومندی اقوام و مذهب سراسر کشور برای زیستن در چارچوب یک کشور واحد به حساب می آید.

تاریخ قرن نزده افغانستان از وفات تیمور شاه (۱۷۹۳) تا استقرار سلطنت عبدالرحمن خان (۱۸۸۰) آگنده از وارد شدن ضربه های مدهش بر پیکر وحدت ملی است. چه در این مقطع تاریخ بالاثر رقابت ها و خصومت ها میان اولاده تیمورشاه (۲۲ پسر) و بعداً فرزندان دوست محمد خان (۲۹ پسر) و در مجموع برخوردهای خونین میان اقوام سدوزایی و باکزایی رشد، ناسیونالیزم نوپای افغانی بمثابه ظرف مخلوط کننده اقوام مختلف به شدت مختل شد.

این وضع قریب یک قرن دوام کرد، که طی آن افغانستان از داشتن یک حکومت واحد ملی و مرکزی محروم و راه برای مداخله قدرت های خارجی در امور داخلی کشور هموار گردید.

قابل یاداوری است که در طول قرن نزده با آنکه عواملی چون خانه جنگی، فقدان اداره واحد مرکزی و سازش حکمروایان محلی یا قدرت استعمای انگریز، موانعی در راه وحدت ملی ایجاد کرده بود، تهاجم انگلیس بر کشور در ۱۸۳۹م و ۱۸۷۸م اقوام مختلف در حال مناقشه و رقابت افغانستان را در صف واحدی بر ضد مجاوز قرار داد. بعبارت دیگر عوامل سازنده وحدت ملی بر عوامل باز دارنده وحدت ملی غالب آمد.

به شهادت تاریخ به استثنای موارد نادری، اقوام افغانستان غالباً در برابر حکمروایان داخلی اعم از آنکه شیوی استبدادی داشته اند و یا دیموکراتیک، مردم حرف شنو بوده اند. اما کشف وابستگی یک زمامدار بیک قدرت خارجی انگیزه آن شده است تا مردم با قیام های ملی نخست به حساب حکمروای داخلی رسیدگی کند و سپس از یک سنگر واحد ملی بر قدرت خارجی یورش برد. این خود می رساند که وقتی حکومت ها از امر دفاع منافع ملی عاجز شوند، مردم خود ابتکار عمل را بدست می گیرند و عملاً به ملت بمثابه چوکات طبعی زیست باهمی، هستی می بخشند.

از زمان ایجاد دولت نوین افغانستان تا اعلام سلطنت امیر شیرعلی خان (۱۸۶۸م) طی ۱۲۱ سال اقوام تاجک ازبک، هزاره، بلوچ، و غیره در مواقع مختلف و بدرجات مختلف در اداره امور دولت سهیم بودند و در حالات اضطراری چون بغاوت داخلی و یا تجاوز خارجی از دولت که قیادت آنرا پشتون ها بدست داشتند، حمایت می کردند.

امیر شیر علی خان بار اول در تشکیل دولت به تقلید از کشورهای پیشرفته کابینه وزراء را گنجانید. در راس این کابینه سید نور محمد شاه کندهاری قرار داشت. به قول پوهاند عبدالحی حبیبی "کابینه از اقوام مختلف سکنه افغانستان بدون تبعیض و امتیاز قومی و لسان تشکیل شده بود. در کابینه هیچ فردی از دودمان شاهی و یا اقارب امیر وجود نداشت. و این میرساند که امیر در امور سیاسی با وسعت نظر برخورد میکرد و مساوات را میان اهالی کشور رعایت می نمود. (۲)

امیر شیرعلی خان در دوره سلطنت خود دست بیک سلسله اقداماتی زد که خواهی نخواهی در تامین وحدت ملی مفید ثابت شد. مثلاً تاسیس چاپخانه و طلوع شمس النهار بمثابه اولین جریده در آسمان مطبوعات کشور برای تامین ارتباط ذات البینی میان عناصر مرکبه جامعه افغانی از یک طرف و ایجاد تماس بین هیئت حاکمه و مردم از جانب دیگر مفید ثابت شد. به همین سلسله تاسیس یک اردوی کم و بیش منظم با تشکیل و تجهیز نیمه عصری اما نامکمل و غیر کافی راه را برای استحکام قدرت دولت ملی هموار کرد و زمینه های تفاهم ملی را بیشتر نمود.

اما امیر شیر علي خان برای تقویت همبستگی ملی و اعطای زمینه اشتراک همه اقوام افغانستان در امور ملی هیچگاهی به نقش توحید کننده لویه جرگه توجه نکرد: امیر در مورد تعین سرحدات شمالی با روسیه، تقسیم آب هرمند با ایران به حکمت انگلیس، مذاکره با انگلیس ها در شمله (۱۸۷۳م) و پشاور (۱۸۷۷م)، هیچگاهی لویه جرگه را بغرض حصول مشورت دعوت نکرد.

امیر حتی در وقت تجاوز انگلیس (نوامبر ۱۸۷۸م) به لویه جرگه روی نیاورد، تا آنکه بعداً مردم خود ابتکار قیام ملی را بدست گرفتند. ناسیونالیزم دشمن کوب افغانی بار دیگر اقوام مختلف کشور را در سنگر واحد جهاد ملی علیه متجاوز قرار داد.

ACKU

به ترتیب فوق ناسیونالیزم افغانی بمثابه چوکات همبستگی ملی روی زمینه های مساعدت عینی که آنرا رشد طبعی اما بطی جامعه فراهم می نمود، بالتدریج و به آهستگی مراحل تکامل را طی میکرد. و اقوام افغانستان را برای تامین اهداف ملی بیش از پیش متمد می نمود. بخصوص در زمان سلطنت امیر شیر علی خان ناسیونالیزم افغانی برای آنکه بیک وسیله موثر دفاع خودی تبدیل میگردید. باید بیک اردوی مجهز به تکنولوژی مدرن حربی وقت متکی می شد. تا قدرت کامل دفاعی در برابر قوای متجاوز انگلیس می داشت. حال زار کشور عقب مانده افغانستان چنین تماس را برای ملیون افغانی مسیر نساخت. امیر در تحت الحمایگی انگلیس باقی ماند، بی آنکه بتواند از حربه ناسیونالیزم افغانی برای کسب استقلال ملی استفاده کند.

سید جمال الدین افغان (۱۸۶۶) که با بصیرت اوضاع را نظارت میکرد، در تلاش آن شد، تا با خیال پردازی ضعف ناسیونالیزم افغانی را در مقابله با قوای استعماری انگریز با "انترناسیونالیزم اسلامی" جبیره کند. سید شعار انترناسیونالیزم اسلامي را در شرایطی سر داد که هیچگونه امادگی عینی و ذهنی برای اتحاد میان کشورهای اسلامی که تقریباً همه در بند استعمار اسیر بودند، وجود نداشت. قریب یک قرن بعد تعالیم سید افغان منبع الهام برای جنبش های اخوان المسلمین در شرق میانه عربی قرار گرفت. اما داعیه اتحاد اسلام باز هم از حد تیوری و شعار پیش نرفت چه باناسیونالیزم قیام یافته ممالک اسلامی در اصطکاک قرار میگرفت.

دوره سلطنت ۲۱ ساله امیر عبدالرحمن خان (۱۸۸۰-۱۹۰۹م)، در تامین وحدت ملی از طریق استقرار حکومت مرکزی قوی، دارای بسیار برجستگی است. در اردوی امیر ۴۰۰ و ۱۴۸ نفر به حالت "تیارسی" در خدمت حکومت برای قلع و قمع هر نوع تمرد قرار داشت. این اردو را شبکه وسیع استخبارات در امر سرکوبی اشرار یاره می رساند.

امیر بدون تعصب قومی و مذهبی صرفاً به هدف ایجاد یک دولت قوی، اقوام سرکش و ماجراء آفرین را که از موضع رقابت با امیر برخورد میکردند، بلا تفریق و بدون استثناء تار و مار کرد. بعبارة دیگر امیر در برابر مشران قومی که به نحوه از نظر سیاسی تبارز میکردند و اتوریته سلطنت را در معرض سوال قرار می دادند، با قاطعیت و بی رحمی عمل

می کرد. وی عصیان هزاره ها را سرکوب کرد. قیام شنواری ها را درهم شکست و غلجایی های غزنی و کلات را وادار به اطاعت از سلطنت نمود. کافرستان با کسبه نام نورستان از نظر اداری، فرهنگی و دینی به قلمرو ملی ضمیمه شد.

قابل تذکر است، که در زمان سلطنت امیر اقوام مختلف افغانستان هیچگاهی درگیر منازعه بایکدیگر نبوده اند. اگر شمردن مطرح بود که از میان بردن آن دخالت خشونت بار امیر را ایجاب میکرد، صرفاً در چار چوب مناسبات دولت و مردم بود.

همبستگی ملی ایکه امیر با ایجاد ترس و وحشت از دولت، خلق کرده بود، بالتدریج به عادت میکانکی تبدیل گردید و برخی اقوام شرکش افغانستان را بعضاً قهراً معروض به قبول سرنوشت واحدی گردانید. وحدت ملی ایرا که امیر به زور سر نیزه بر اقوام عصیانگر تحمیل کرده بود، بمرور زمان به ضابطه قابل قبول زیست با همی اقوام کشور تبدیل شد.

یکی دیگر از کار روایی های امیر که در استحکام بافت اجتماعی جامعه کثیر الاقوام افغانی بسیار مفید ثابت شد. تطبیق پروگرام اسکان ناقلین است، که طی آن برخی قبایل جنوب افغانستان به شمال کشور کوچانیده شدند. امیر با این کار می خواست، تجانس قومی (Assimilation) مردمان شمال کشور را تامین نموده و از آن طریق هسته های مقاومت ملی را علیه پیشروی روس ها در آسیای مرکزی تقویت کند.

اگر امیر عبدالرحمن خان در پهلوی استفاده ناگزیر از طریق خشونت بار برای استحکام سلطنت که غایتاً مبنا برای تامین وحدت ملی قرار گرفت، از شیوه دیموکراسی عنعنوی تدویر لویه جرگه نیز استفاده می نمود. یقیناً پروسه همگون شاه زی جامعه و تفاهم ملی تسریع می شد و امیر را در امر مقاومت علیه فشارهای انگلیس یاری می رسانید. امیر در بسا موارد حیاتی برای ملت، چون اعلان سلطنت (۱۸۸۰)، عقد معاهده دوستی با لاردفرین گورنر جنرال هند (۱۸۸۵م)، اعلام سردار نصر الله به نیابت سلطنت (۱۸۹۵م) و بخصوص امضای معاهده خائنانه دیورند (۱۸۹۳) از لویه جرگه مشوره نگرفت.

ACKU

با اینهمه امیر بعد از وفات خود کشورش یک پارچه و ممتد بجا گذاشت، که غرور ملی اش را معاهده اشارت بار دیورند به سختی جریحه دار ساخته بود.

بعد از مرگ امیر عبدالرحمن و از میان رفتن ترس ناشی از دولتی که وی ایجاد کرده بود، اقوام افغانستان نه با یکدیگر در گیر منازعه غیر قابل حل شدند و نه هم دست به قیام علیه دولت زدند. مخالفت برخی گروه های سیاسی مشروطه خواه با دولت که بعد او با مساعد شدن جو سیاسی ظهور کرد، از دایره صحبت ها بیرون است.

امیر حبیب الله برای مدت هژده سال (۱۹۰۱-۱۹۱۹م) در کشوری زمام امور را بدست گرفت، که از رجال صاحبه ادعا خالی شده بود. در زمان سلطنت امیر به تقویه زمینه های مادی تفاهم و همبستگی ملی توجه بعمل آمد. تاسیس مدرسه حربیه و دارالعلوم حبیبیه، نشر سراج الاخبار، اعمار مطبعه و تمدید سرک ها و اعمار رباط ها مناطق و اقوام افغانستان را بیش از پیش با هم نزدیک ساخت.

مبارزه همه اقوام کشور برای حصول استقلال افغانستان (۱۹۱۹م) به قیادت اعلیحضرت امان الله خان نمایانگر عمیق تر شدن احساسات ملی در جامعی افغانی است. آنهم در شرایطی که هنوز پروسه تشکل ملت به پایه اکمال نرسیده بود.

برای بهم پیوستگی ملی و تامین وحدت اقوام مختلف جامعه افغانی تا مرحله نزدیک تر شدن آن به تشکیل یک ملت، طی ۶۰ سال پس از حصول استقلال تا تهاجم اتحاد شوری (۱۹۱۹-۱۹۷۹م) تلاش های پیگیر از طرف دولت های وقت صورت گرفت. که اعم آن عبارت است از:

الف: استحکام قدرت حکومت مرکزی و حتی المقدور بسط نفوذ آن در زوایای دور دست روستاها، این پدیده همه مرکبات جامعه را تحت پوشش اداره واحد قرار داد و تمامیت فزیکی و معنوی ملت را تامین کرد.

ب: تامین اتوریته حکومت مرکزی، احساس وابستگی مشترک به سیستم واحد اداری، سیاسی، اقتصادی و فرهنگی را تقویت نمود.

ج: تدارک زمینه سهمگیری منسوبین اقوام مختلف در اداره امور دولت.

د: تشکیل لویه جرگه ها و در مواردی چند پارلمان ها به اشتراک اقوام مختلف افغانستان برای تصمیم گیری در امور ملی.

هـ: انکشاف خطوط مواصلات، معارف و فرهنگ و وسایل مفاهمه جمعی (ماس مدیا). این انکشاف زمینه امیزش اقوام، مذاهب و فرهنگ های متنوع جامعه افغانی را فراهم نمود.

و: مهاجرت های اختیاری یا اجباری اقوام و مذاهب از یک محل به محل دیگر.

ز: تجلیل اعیاد و جشن های ملی.

ح: تدویر کانفرانس ها و تبلیغ مطبوعاتی و اموزش بغرض بزرگداشت شخصیت های ملی و تاریخی.

ط: کاوش اثار باستانی بغرض دادن عنابه موزیم ملی و روشن ساختن زوایای تاریک تاریخ ملی.

روی عوامل مساعد فوق زمینه دوستی ها، ازدواج ها و خویشاوندی ها میان منسوبین اقوام و مذاهب مختلف کشور فراهم گردید، و گام های استواری در جهت محکم بندی بافت اجتماعی جامعه افغانی برداشته شد.

شوروی ها در شرائطی به افغانستان لشکر کشیدند (۱۹۷۹م) که در انجا مانند همه کشورهای رو به انکشاف، پروسه تکامل ملت بپایه اکمال نرسیده بود. بعباره دیگر در حالیکه در جامعه افغانی ساختارهای قبیلوی در حال تغیر شکل به ساختار ملی بودند و مرکبات طبعی ملت در امیزش نمایی قرار نگرفته بود. افغانستان معروض به دگرگونی های در امیزش نمایی قرار نگرفته بود. افغانستان معروض به دگرگونی های بنیادی ناشی از تهاجم ایدیولوژی کمونست گردید.

انقلاب نام نهاد کمونیست ها که قصد به اشارت کشیدن ملت ها را زیر پرچم انترناسیونالیزم داشت، ناسیونالیزم نوپای افغانی را اولین دشمن سرسخت خود قیاس میکرد. امادگی های کافی رزمی علیه ناسیونالیزم افغاني گرفته شد. از جمله:

یک: بخشی از تاریخ معاصر افغانستان سر از نو نوشته شد که طی آن کشور ما موجودیت و شناسایی خود را در سطح بین المللی مرهون مساعدت های رهبران انقلاب شوروی باید می بود.

برمبنای این طرز استدلال، افغانستان از نظر تاریخی مدیون و متمد طبعی کامپ کمونیزم بین المللی بوده و در بیرون از آن وجود خارجی ندارد.

دو: برای تنزیل مرتبت معنوی شخصیت های ملی تاریخی افغانستان، تبلیغات وسیعی رویدست گرفته شد. به این مقصد اجیران بی شماری از سنگر مطبوعات به لجن پراگنی مصروف گردیدند که تا هنوز هم ادامه دارد.

سه: به مقصد درهم کوبیدن افغانستان بمیان به چوکات طبعی همبستگی ملی و گهواره رشد ناسیونالیزم افغانی، برای انضمام ساحات شمال افغانستان به سیستم اداری جمهوریت های اسیای مرکزی، تلاش های مداوم بعمل آمد.

چار: شخصیت های ملی کشته، زندانی و یا مجبور به فرار از کشور شدند.

پنج: بر مبنای یک پروگرام حساب شده، احساس.کینه، خصومت و انتقام جویی قومی و مذهبی دامن زده شد و اعتماد و همبستگی اقلیت های قومی علیه اکثریت قومی تشویق گردید.

شش: برای از میان بردن ضابطه اخلاقی ایکه مبتنی بر آن در میان خانواده واحد مرکب از اقوام کشور که ملت افغانستان را می سازند، اقوام اقلیت به قوم اکثریت به صفت "برادر بزرگ" با محبت و صمیمیت احترام میگذاشتند، تلاش های مداوم صورت گرفت.

از میان بردن سلسله مراتب اخلاقی ایرا که اقوام افغانستان را در آمیزش وجوشش خود بخودی و طبیعی قرار میداد، باید یک فاجعه ملی به حساب آورد، که تلافی آن به کار و "پیکار" متداوم ضرورت دارد.

شوروی ها پشتون ها را بعنون قوم داری نفوس اکثریت و متصدی تاریخی قدرت سیاسي در افغانستان، دشمن اصلی خود تلقی میکردند و ادعای طبیعی آنها را برای حفظ قدرت سیاسی مغایر پلان های هژمونیست خود تلقی می نمودند. بناءً به ذرایع مختلف تلاش کردند تا حصول قدرت سیاسی را در کشور معروض به رقابت سایر اقوام بسازند.

شوروی ها ناسیونالیزم پشتون را تبلور ناسیونالیزم افغانی قیاس میکردند. از همین رو علیه پشتون های ناسیونالیست اعم از آنکه در داخل ج.د.خ. بودند (در وقت حکومت امین) و یا خارج آن، موضوع بسیار خصمانه داشتند. آنهم در حالیکه ناسیونالیزم محلی سایر اقوام را تشویق میکردند. به همین مقصد ترجیح می دادند تا با اخلاق اصطلاح "ملیت" به اقوام اقلیت افغانستان، هویت آنها را در بطن جامعه افغاني به شیوه

مصنوعی متوم جلوه بدهند و احساس رقابت شانرا نسبت به پشتون ها زنده نگاه دارند.

بذری را که شوروی ها در قلب و دماغ افغانها به قصد شر اندازی و نفاق ریخته بودند، ده سال بعد از حمله آنها بر افغانستان، درست زمانیکه قوای متجاز افغانستان را ترک کرد، ثمر داد. اما در طول اشغال افغانستان، در مجموع اثرات پروسه تاریخی ایکه دست اندر کار تامین همبستگی ملی و تشکل ملت بود، به قوت خود باقی ماند.

وقتی اقوام مختلف کشور با مشت واحد برای دفاع از سرنوشت واحد که از آن یک ملت باید باشد، بر فرق متجاوز حوّاله می کنند. دیگر شکی باقی نمی ماند، که ملت در نشیب و فراز تاریخ، زنده سر از معرکه بیرون خواهد کرد.

تا دیر زمانی میان مبصرین سیاسی اعم از داخلی و یا خارجی در شک و تردید وجود داشت. اما با ملاحظه اینکه فعلاً دو گروپ عمده نژادی یعنی طالبان مرکب از پشتون (دارای نفوس اکثریت قومی) و ائتلاف شمال شامل اقلیت های قومی باهمدیگر می جنگید، تردیدی باقی نمانده است که جنگ جاری متاسفانه صبغه قومی بخود گرفته است.

ازین گذشته تنظیم جمیعت اسلامی بمثابه سرتنبه ترین گروه مقاوم علیه سلطه سیاسی طالبان بر افغانستان، در کانفرانس صلح ماه مارچ ۱۹۹۹م در "عشق آباد" با اعلام اینکه ما از طالبان می خواهیم که سائر اقوام افغان را در قدرت سیاسی شریک بسازند، جای شک باقی نماند که اصلاً آتش جنگ فعلی را طرح مدعیات قومی بر افروخته نگاه داشته است.

بعداً حینیکه طالبان اشتراک اقوام اقلیت را در تشکیل حکومت پذیرفتند، ائتلاف اقوام اقلیت اعلام کرد، که رهبری سیاسی طالبان را به رسمیت نمی شناسد. با این اعلام به شیوی معمول پس از تجاوز شوروی رهبری سیاسی پشتون های بصورت غیر مستقیم معروض به مخالفت اقوام اقلیت گردید و قدم اساسی برای پیگیری ستراتیژی تفرقه افگنی شوروی ها بالوسیله اقلیت های قومی که ما قبلاً بدان اشاره کردیم برداشته شد.

واقعیت اینست که در منازعه فعلی در کشور طرح مدعیات قومی، مقصد اصلی و بقیه چون دفاع از دیموکراسی از انتخابات از لویه جرگه،



ACKU

از قبول رهبری سیاسی شاه سابق و غیره تاکتیک کاموفلاژ (ستر و اخفاء) مقصد اصلی و از آن طریق کسبه امتیاز سیاسی، در مقایسه باطالبان است، طالبانی که هیچگاه زبان به تایید دیموکراسی و لویه جرگه نکشوده اند.

جمعیت اسلامی که در محور ائتلاف اقلیت های قومی علیه اکثریت قومی خود را قرار داده است، ابداً به دیموکراسی انتخابات، لویه جرگه و نقش سیاسی شاه سابق، چه در وخت احراز قدرت (۱۹۹۲) و چه بعد از آن عقیده نداشته و ندارد.

لازم به تذکر است که شعار تشکیل حکومت کثیر الاقوام که از منابع تبلیغاتی ائتلاف اقلیت های قومی شنیده می شود، یک شعار سیاسی است که با شعار ملی استقرار حکومت مرکزی را که طالبان در حالت اضطراری فعلی از آن دفاع می نمایند، در تقابل آشکار قرار می گیرد.

این خود نشان دهنده این مطلب است که ائتلاف اقوام اقلیت در موقعیت اضطراری فعلی که جمع وجود کردن افغانستان، اتحاد نظر و تحمل همه را ایجاب می کند، خود را از پروسه دفاع منافع ملی کنار کشیده است.

اقوام و مذاهب مختلف افغانستان در خارج مرزها با اقوام و مذهب کشورهای مجاور مناسبات زبانی، فرهنگی و عقیدوی دارند. این موضوع سبب مداخله کشورهای خارجی در امور داخلی افغانستان و غایتاً دوام جنگ شده است.

طرح مدعیات قومی در سطح منطقه و انعکاس آن در افغانستان بر پیچ و خم ابعاد جنگ داخلی افغانستان بقدر کافی افزوده است. دفاع پاکستانی ها از پشتون ها، ایرانی ها از تاجک ها و هزاره ها، تاجکستانی ها (در واقع روس ها) از تاجک ها، ازبکستانی ها از ازبک های افغانستان سبب شده است که اقوام و مذهب کشور محموله های پیشبرد ستراتیژی های مختلف و منافع متضاد کشورهای رقیب همسایه در داخل افغانستان باشند. این امر زیان های قابل ملاحظه به وحدت ملی وارد آورده که چرا آن به کار و "پیکار" متداوم ضرورت دارد.

در افغانستان در اوضاع و احوال فعلی در حالیکه امکان سازماندهی یک مبارزه ملی علیه کلیه اشکال مداخله وجود ندارد، ما چاره یی نداریم، جز آنکه در مورد آن مداخله خارجی که باحمایت اکثریت قومی مقصد

"استقرار حکومت مرکزی" را دارد، به امید آینده اطمینان بخش "استقرار حکومت ملي" از حوصله مندی کار بگیریم...

**نتیجه:**

الف: نخستین دولت ملی در افغانستان بالوسیله پشتون ها و به همکاری سایر اقوام پایه گذاری شد. پشتون ها با داشتن نفوس اکثریت بمقایسه سایر اقوام طی قریب دو نیم قرن از زمان تشکیل دولت ملی تا تجاوز اتحاد شوروي مسوولیت رهبری سیاسی دولت را بدست داشتند سایر اقوام یا احراز کرسی های کلیدی حکومت، مدین مسوولیت شریک شناخته می شدند.

در طول تاریخ معاصر در کشور کثیر الاقوام افغانستان معادله طبیعی قوای سیاسی به نفع پشتون ها که دارای نفوس اکثریت به مقایسه اقوام دیگر بودند، بمثابه چوکات مطمئن قدرت سیاسی در یک کشور رو به انکشاف، در امر تثبیت رهبری سیاسی پشتون ها ممد واقع گردید.

تحت شرایط فوق از میان اقوام پشتون افغانستان چنان رهبران سیاسی قیام کردند، که دارای اوصاف کامل برای دفاع منافع سایر اقوام و در نهایت احراز قیادت ملی بودند. این امر موجب جلب اعتماد سایر اقوام افغان گردید. بر مبنای چنین اعتمادی هسته های اولی تشکل "ملت افغان" در بامدادان طلوع آفتاب تاریخ نوین افغانستان جوانه زد.

ب: در تاریخ معاصر افغانستان قبل از تجاوز شوروی اقوام و مذهب مختلف، با دشمنان خارجی و حکومت های ضد ملی، بعضاً سر ناسازگاری داشته اند. اما هیچگاه بایکدیگر درگیر چنان خصومت و جنگ که وحدت ملی را مختل کند، نبوده اند.

ج: از قرن هژده به پروسه تشکل "ملت" از اختلاف اقوام و مذاهب مختلف افغانستان تحت تاثیر عوامل داخلی و خارجی معروض به مد و جذر زیادی شده است. طی این عملیه نهایتاً ناسیونالیزم افغانی بمثابه ضابطه امتزاج مرکبات ناهمگون جامعه به "ملت افغان" شکل و هویت داده است. این ناسیونالیزم بعنوان پاسبان استقلال ملی در برابر توسعه جویی قدرت های استعماری شمال و جنوب مورد استفاده قرار گرفته است.

د: افغانستان به دلیل داشتن موقعیت مهم ژیوپولیتکی همیشه معروض به لشکرکشی های دول استعماری بوده است. مقاومت دسته

جمعی علیه مداخله خارجی، اقوام و مذهب مختلف افغانی را معروض بداشتن سرنوشت مشترک کرده است.

انتقال نسل با نسل خاطره مقاومت ملی بالوسیله اوراق تاریخ از عوامل برجسته تامین وحدت ملی بشمار آمده است.

هـ: فعلاً افغانستان درگیر جنگ کثیف قومی است. این جنگ روی مناقشه دسترسی به رهبری سیاسی دولت، مشتعل است. نه طرح مدعیان قومی (مانند بوسنیا، کوسوو، کردستان و غیره.)

اقوام درگیر منازعه طی در مساعدترین شرایط ناشی از مداخله خارجی و فقدان حکومت مرکزی هیچگاهی انفصال خود را از پیکر واحد ملت افغانستان مطالبه نکرده اند. آرزوی خاطر استقلال سیاسی را در سر نه پرورانیده اند و نهایتاً معروض به وسوسه شیطانی انضمام خود بیک کشور خارجی نگردیده اند.

و: دوام جنگ طی مدت بیست سال امکانات وسعی را که باید برای احیای وحدت ملی بکار گرفته می شد، از دسترس ما بیرون کرده است.

ملت افغانستان غرور عظمتی را که از طریق دادن شکست به قوای متجاوز شوروی بدست آورده بود، در یک خانه جنگی تباه کن از دست داده است.

ادامه جنگ صرفاً برای دشمنان افغانستان شادی می آفریند. چه در برابر خود ملتی بی چاره، نیازمند و سخت آسیب پذیر می بینند. که با کمر خیمده زیر بارجنگ آماده هر نوع شازش با قدرت های خارجی است.

فعلاً مسوولیت خم جنگ بد بدوش ائتلاف اقوام اقلیت است، که با داعیه عمومی استقلال حکومت مرکزی و ملی که "برادر بزرگ" علم آنرا برافراشته نگاه داشته است، آهنگ جدال دارد.

واقعیت اینست که موضعگیری جنگی در حالت انزوا و تجرید از ملت بر ضد ملت، آنهم به تحریک خارجی، در سوراخ چند کوه پایه محدودی که بدسترس باقی مانده است، هیچگونه افتخاری در قبال ندارد.

فرانسه ۹۹-۱۵۵-۱۷

ماخذ:

۱- حبیبی، پوهاند عبدالحی: تاریخ معاصر افغانستان، ص۲۵۲، سازمان مهاجرین افغانستان، ۱۳۶۸هـ. ش.

۲- اثر یاد شده.



ACKU

پوهاند قانونپوه ډاکټر محمد طاهر بورګی

# په شلمه پېړۍ کې د افغانستان قوانینو ته یوه لنډه کتنه

مقدمه:

د افغانستان قوانینو ته هغه وخت، د حکومت له خوا، توجه وشوه، یا د افغانستان په حقوقي نظام کې هغه وخت یو بدلون راغی چې د دې هېواد زعامت او رهبري، د توریالي ملت په مرسته په ۱۹۱۹م کال خپل استقلال او بشپړه خپلواکي د انګریزانو له ولکې لاس ته راوړه. د انګریزي امپراتورۍ له اداري او حمایې څخه یې ځان خلاص او د ملي حاکمیت خاوند دولت په صفت یې سیاسي، مدني، تجارتي مناسبات، بې د قیم له وساطت، په مستقیمه توګه د جهان له ممالکو سره برقرار کړل.

تر دې پخوا هم افغانستان د حقوقي نظام یوه نه لرونکې ټولنه یا هېواد نه و، دلته د قبایلي تعاملي حقوقو او د اسلامي فقهي احکامو تر څنګ یو لړ اداري قواعد او قوانین هم موجود وو، چې د یوې له نړۍ تجرید شوې ټولنې د مناسباتو د تنظیم لپاره کافي ګڼل کېدل. خو یو مستقل او ازاد شوی د پرمختګ او ترقۍ لېوال حکومت، نویو شرایطو د مناسباتو د تنظیم لپاره، یو پراخ او ژور حقوقي ریفورم ته اړه او ضرورت درلود.



ACKU

د حقوقي ريفورم راوستل او د پراخو قوانينو نافذول، په افغاني ټولنه کې چې د پېړيو په اوږدو کې له نرۍ څخه لرې او په تجريد کې پاتې شوې وه، څه اسانه کار نه و، خو له دې سره سره د حقوقو راوستل ضرور و. نو د دولت رهبري ته دا پکار و، چې له ډېر احتياط او تدبير څخه کار واخلي. تر څو د هېواد داخلي او خارجي دښمنانو ته دا فرصت په لاس ور نه شي چې خلك د ريفورم پر ضد وراپاروي. د دولت رهبري هم له پوره احتياط او تدبير څخه کار واخيست. هغه مطالب چې د شارع له خوا تاکل شوي وو، هغو ته يې لاس ور نه وړ او هغو برخو ته يې لاس ور وغځاوه چې د اولوالامر په صلاحيت کې و او دا يې هم په خپل صوابدد و نه کړل، بلکې د يو مسلمان عثماني او د ترك د تجاربو او متخصصينو په مرسته يې مسودې جوړې کړې. داسې مسودې چې د افغاني ټولنې له خاصو شرايطو سره برابرې وې او دا يې هم د ډېر غور په منظور يو د کافي علمي صلاحيت لرونکې د تميز علماوو هيئت ته وړاندې کړې، چې که کوم نقص يا ضعف پکې وي، هغه رفع شي. د دې هيئت له تصويب څخه وروسته دا قانوني طرحې د پاچا امضا ته رسېدلې او نافذېدې.

دا تقنيني اسناد تر ډېره حده د اداري حقوقو او د اداري مناسباتو د تنظيم په برخه کې وو. له خصوصي حقوقو او د جزا د حقوقو سيمې سره ډېر په احتياط تماس ونيول شو. شخصي احوالو، مدني حقوقو، د فاميل حقوقو، د ميراث حقوقو ته لاس ور نه وړ شو، يوازې د تعدد زوجات د صغرې نکاح او د مهر محدودول په ريفورم کې راغلل چې بيا د دې ريفورم په مقابل کې عکس العمل وښودل شو. د جزا په برخه کې هم له قصاص او حدود سره تماس و نه نيول شو يوازې تعزيرات چې د اولوالامر له صلاحيت څخه وو، د تميز د علماوو له خوا تصويب او نافذ شول. مگر دا د مخالفت او اغتشاش سبب وګرځېدل د جزايي مسايلو په يوه بله برخه کې پر ۱۳۰۰ کال د مولوي عبدلواسع له خوا يو کتاب "تمسك اقضات امانيه" په نامه جوړ شو. چې په حقيقت کې له عربي ژباړل شوی فقهي مطالب وو. اعليحضرت امان الله خان د دې کتاب په مقدمه کې داسې ليکي: "چون کتب فقه در اين زمان داراى اقوال و روايات به عبارت عربى بود، استخراج حکم معلوم الصحه هر حادثه در آن صعوبتى دارد، که از عموم حکام و کارداران دولت، بلکه در خصوص ساير قضات و مفتيان اميد

کرده نمی شود. امر فرمودم تا علمای حضور روایات صحیحه مذهب حنفی را مطابق معمول فرصت حال یکجا کرده و بزبان فارسی... تدوین نمایند "(۱)

د جزا د حقوقو د متني یا مادي برخې تنظیم چې د اغتشاش سبب شو او دا باید د اغتشاش سبب شوی نه وای، اعلیحضرت امان الله خان د تمسك القضات په مقدمه کې داسې لیکي: "برای احکام تعزیرات شرعیه که حدود معین نداشته مفوض برای امام و الوالامر است، نظامنامه های علیحده ملکی، نظامی اجتماعی تالیف گردیده و مقادیر تعزیرات هر قباحت و جنجه و جنایت در آن مفصل ضبط و تحریر است، تا قضات دولت افغانستان در حکم جزاء تقلید مواد قضائی (تمسك القضات الامانیه) و پیروی مقررات است (نظامنامه های جزائیه) را در احکام تعزیریه کرده، رای غیر شرعی و حکم نفسانی و هوائی را در اعیاد و بلاد الهی جل شانه جاری ندارند."(۲)

په دې توګه د ا حقوقي ریفورم په عمومي توګه عمومي حقوقو Offentliches-recht ته متوجه و او له خصوصي حقوقو Privatesrecht او د جزا له حقوقو Strafrecht سره یې لږ ارتباط درلود.

*په دې مقاله کې به په لنډه توګه دې مطالبو ته کتنه وشي:*

۱- په لومړۍ برخه کې به وګورو چې اعلیحضرت امان الله عمومي حقوق خصوصاً اداري حقوق د روم - جرمني له حقوقي سیستم څخه په غیر مستقیمه توګه د ترکي متخصصینو له لارې د افغانستان د خاصو شرایطو په رعایت د نظامنانو تر نامه لاندې راواخیستل دا نظامنامې په یوې بلې دورې کې د اصونامو په نامه ونومول شوې.

۲- په دویمه برخه کې به د حقوقو دویم ریفورم ته د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه، په‌وروستۍ لسیزه کې له ۱۳۴۲ -۱۳۵۲ کال په لنډه توګه یوه کتنه وکړو

۳- په دریېمه برخه کې به دا وګورو چې سوسیالیستي حقوق څرنګه زموږ حقوقي نظام ته را ننوتل او بیا څه وشول.

## لومړی برخه

## د روم جرمن د حقوقو اخیستنه Rezeption

### د نظامنامو په شکل

### له ۱۲۹۸ه ل څخه تر ۱۳۰۸ ه ل

څرنګه چې وویل شول، د افغانستان د ترقۍ او پرمختګ لپاره حکومت له دې چې د هېواد د ترقۍ دښمنانو ته پلمې په لاس ور نه کړي، په ډېر احتیاط یې حقوقي ریفورم پیل کړ او له دې خاطره چې د عامه د ذهنیت رعایت یې کړی وي د قانون د نوم له په کارولو یې ډډه وکړه او د قانون د نامه پر ځای یې د نظامنامې نوم استعمال کړ. علامه محمود طرزي تخمین ۸ کاله پخوا تر دې چې د اعلیحضرت امان الله خان حقوقي ریفورم پیل شي، د سراج الاخبار په جریده کې داسې لیکي "زموږ په ګران هېواد کې ډېر وارې د قانون کلمه یوه د کرکې وړ کلمه ګڼل شوې ده. هر څوك په دې کلمه تږیدلي او له هغې لرې شوي دي. د دې یوازینی سبب دا عقیده ده چې ګویا (قانون) یې ضد د شرعي ګڼلی او هغه یې خاص د نصاراوو بللی دی. که چېرې کوم قانون هم جوړ شوی هغه یې د قانون په نامه نه دی بللی بلکې په هغه یې د (دستور العمل یا د نظامنامې نوم ایښی دی".(۳)

د همدې احتیاط د رعایت له کبله په اماني دوره کې قانون د نظامې په نامه نومول شوی او دا د نظامنامې نوم د مفهوم له نظره قانون ته نږدې هم و.

د نظامنامې نوم یو بل علت هم درلود او هغه دا و چې د روم جرمن د حقوقو اخیستنه یوه غیر مستقیمه اخیستنه د ترکیې له طریقه وه. د ترکانو په حقوقو کې تر ډېره حده د المان، د اتریش او د سویس له حقوقو استفاده شوې وه. د دې هېوادونو په حقوقو کې د نظام کلمه (Ordnung) معمول ده لکه (Zivilprozesordnung) د مدني اجراتو قانون یا (Strafprozesordnung) د جزا د اجراتو قانون یا Konkursordnung د افلاس قانون.

همدارنګه په نوموړیو هېوادونو کې د قانون د کلمې تر شاه د نامې، دفتر یا کتاب کلمه هم زیاتوي چې Gesetzbuch ورته وایي، لکه

B.G.B Burgerlichesgesetzbuch. یا Zirilgesetzbuch Z.G.B مدني قانون او STGB .Strefgesetzbuch د جزا قانون او زموږ په قوانينو کې له نظام څخه نظامنامه جوړه شوه.

په دې توګه د اعليحضرت امان الله خان د سلطنت په دوره کې يو لړ قوانين د نظام، نظامنامې يا نظاماتو تر نامه لاندې د معتبرو ديني علماوو په تاييد منځته راغلل چې د هغو په برخه کې په اوسنيو شرايطو کې دقيق معلومات وړاندې کول، څه اسانه کار نه دی. دلته به هڅه وشي، چې د هغې زمانې قوانين چې لاس ته راغلي او يا د هغو نظامنامو نومونه په نورو آثارو کې، بې د نشر له نېټې او د احکامو له محتوا، ذکر شوي، محترمو لوستونکيو ته وړاندې شي.

۱- د دار الامان د ښار د ابنيه وو نظامنامه:

دا نظامنامه پر ۱۳۰۲-۱۹ د اسد د وزيرانو د مجلس د تحريراتو په مطبعې کې چاپ شوه او يو موقتي قانون و چې د انفاذ دوره يې د ۱۳۰۳ په پای کې سرته رسېدله.

د دې نظامنامې پر اساس له هغو خلکو سره چې د دارالامان د ښار د عمومي نقشې په داخل کې يې غوښتل کور جوړ کړي، يو لړ مرستې او اسانتياوې د حکومت له خوا منل شوې وې، اعليحضرت غوښتل چې د پتزبورګ په شان يو ښار د دار الامان په نامه جوړ کړي. په دې کې يو ډله خارجي او داخلي مهندسينو کار کاوه، د خارجي مهندسينو شمېر (۵۰) کسو ته رسېده. د دې ښار ساحه ددار الامان له قصر تر اسمايي غره او تر پغمان رسېدله.

۲- د پخوانۍ محاسبې د تصفيې د اجراتو نظامنامه.

دا نظامنامه په ۵۴ مادو کې د وري پر ۲۰مه ۱۳۰۲ د ماليې د وزارت په مطبعې کې چاپ شوه او يو اساس يې د دولت د مالياتو د تحصيل لپاره کېښود.

۳- د دولت اساسي نظامنامه (اساسي قانون)

دا نظامنامه په ۷۳ مادو کې د ۱۳۰۲ د وري پر ۸مه د وزيرانو د مجلس د تحريراتو د داداري په مطبعې کې چاپ شوه. دا نظامنامه د بعدي اساس اصولنامې او نورو اساسي قوانينو لپاره يو اساس ورګرځېد.

۴- د ګمرک د رسمونو د اخيستلو نظامنامه.

خپله دا نظامنامه لاس ته را نغله، خو داسې ښکاري چې پر ۱۳۰۰ ل به نافذه شوې وي.

۵- د ملکي مامورينو د استعفا نظامنامه.

دا نظامنامه په ۸ مادو کې د ۱۳۰۲ ل کال د سلواغې پر ۱۵مه د وزيرانو دمجلس د تحريراتو په دايره کې طبع شوې ده. دا نظامنامه د مامورينو د قانون د يوې برخې اساس جوړوي.

۶- د مامورينو د جزايي محاکماتو د اصولو نظامنامه.

دا نظامنامه په ۳۳ مادو کې د ۱۳۰۲ ل کال د کب پر ۲۰مه د وزيرانو د مجلس د تحريراتو د دايرې په مطبعه کې چاپ شوې ده. دا نظامنامه د مامورينو د جزائيه اجرااتو د اصولنامې اساس وګرځېد.

۷- د اذوقې نظامنامه.

د دې نظامنامې متن لاس ته را نغی، خو پر ۱۳۰۵ به نافذه شوې وي.

۸- دليلې د ادارې د اعلاننامې نظامنامه.

د دې نظامنامې متن لاس ته را نغی، پر ۱,۳۰۲ ل کال به نافذه شوې وي.

۹- د بلديې نظامنامه.

دا نظامنامه پر ۱۱۱مادو کې د ۱۳۰۲ د سلواغې پر ۲۵مه د وزيرانو د مجلس د دايرې په مطبعې کې چاپ شوې، دې نظامنامې د ښاروالۍ د اصولنامې او د ښاروالۍ د قانون اساس کېښود.

۱۰- د عسکري البسې نظامنامه.

د دې نظامنامې متن لاس ته را نغی، خو د اټکل له مخې پر ۱۳۰۰ل کال به نافذه شوې وي.

۱۱- د عمومي بودجې نظامنامه

دا نظامنامه په ۵۰ مادو کې د ۱۳۰۵ د وږي پر ۱۴مه د رفيق شرکت په مطبعه کې د درېيم ځل لپاره چاپ شوه او اساس يې د بودجې د قوانينو لپاره کېښود.

۱۲- د دار المعلمينو د پروګرام نظامنامه

د دې نظامنامې متن لاس ته را نغی پر ۱۳۰۲ به خپره شوې وي.

۱۳- د نفوسو د تذکرې نظامنامه، د پاسپورټ اصول او د تابعيت قانون.

دا نظامنامه د ۱۳۰۲ د د وږي په میاشت کې د وزیرانو د مجلس د تحریراتو په دایره کې چاپ شوې ده.

۱۴- د یتیمو اطفالو د تربیې نظامنامه.

د دې نظامنامې متن لاس ته را نغی، پر ۱۳۰۵ کې به خپره شوې وي.

۱۵- د اساسي تشکیلاتو نظامنامه

دا نظامنامه پر ۲۴۳ مادو کې د ۱۳۰۲ د وږي پر ۱۵مه د وزیرانو دمجلس د تحریراتو په دایره کې چاپ شوې. دا نظامنامه د دولت له ډېرو مهمو نظامنامو څخه ده چې د اساسي قانون تر څنګ د هېواد عمومي حقوق تنظیمومي.

۱۶- د صنایعو د تشویق نظامنامه.

دا نظامنامه په ۳۱ مادو کې د ۱۳۰۲ کال د غوایي پر لومړۍ نېټه د وزیرانو د مجلس د تحریراتو د دایرې په مطبعه کې چاپ شوه. د صنایعو د تشویق نظامنامه په وروستیو دورو کې د مماثلو اصولنامو او قوانینو اساس جوړوي.

۱۷- د غمرازۍ (تعزیه دارۍ) د مراسمو نظامنامه

دا نظامنامه په ۳۰ مادو کې د ۱۳۰۱ د مالیې د وزارت په مطبعه کې چاپ شوه.

۱۸- د افغانستان د آمرانو او ضابطانو د تعلیمګاه نظامنامه.

دا نظامنامه په ۱۳ مادو کې د ۱۳۰۵ د چونګاښ پر ۲۹مه د رفیق شرکت په مطبعه کې چاپ شوه.

۱۹- د دولت د تعمیراتو نظامنامه.

د دې نظامنامې متن لاس ته را نغی. خو پر ۱۳۰۱ به نافذه شوې وي.

۲۰ د پغمان د تعمیراتو نظامنامه.

د دې نظامنامې متن لاس ته را نغی، پر ۱۳۰۵ به نافذه شوې وي.

۲۱- د افغانستان د ملکي تقسیماتو نظامنامه.

دا نظامنامه په ۳۰ مادو کې نافذه شوه، خو د نفاذ تاریخ یې ښودل شوی نه دی، مګر د هغې یوه ضمیمه د ۱۳۰۳ کال د چونګاښ پر ۱۷مه راونلې چې دا ښیي چې خپله نظامنامه پخوا خپره شوې ده.

۲۲- د توقیفخانو او محبوسانو نظامنامه (نظامنامه توقیفخانه ها و محبوسخانه ها)

دا نظامنامه په ۲۷ مادو کې نافذه شوه. دریم چاپ یې د ۱۳۰۵ کال د تلې پر ۱۰مه نېټه د رفیق شرکت په مطبعه کې شوې ده. دا نظامنامه د مربوطې ساحې د اصولنامې او قوانینو لپاره یو ښه اساس شو او د جزایي سیاست په برخه کې یې لوی بدلون له ځانه سره راوړ.

۲۳- د عسکري جزا نظامنامه (نظامنامه جزای عسکری).

دا نظامنامه په ۱۳۹ مادو کې د ۱۳۰۰ کال په وږي کې خپره شوه. دا نظامنامه د وروستیو اصولنامو او قوانینو لپاره په دې ساحه کې ښه اساس جوړوي.

۲۴- د مامورینو د رخصتي نظامنامه:

دا نظامنامه په ۱۶ مادو کې د ۱۳۰۲ کال د وري پر ۱۳مه د وزیرانو دمجلس د تحریراتو د دایرې په مطبعه کې چاپ شوه. دا نظامنامه د وروستیو اصولنامو او قوانینو لپاره په دې ساحه کې ښه اساس جوړوي.

۲۵- د سرکاري املاکو د خرڅولو نظامنامه:

دا نظامنامه په ۲۱ مادو کې د ۱۳۰۵ کال د سلواغې پر ۴مه نېټه د رفیق شرکت په مطبعه کې چاپ شوه.

۲۶- د مدیریت د اوراقو دفتر او د مکتوب د مدیریت نظامنامه (نظامنامه دفتر اوراق و مدیرت مکتوب)

دا نظامنامه په ۵۰ مادو کې د ۱۳۰۲ ل کال د چونګابښ پر ۲۵مه نېټه د وزیرانو مجلس د تحریراتو د دایرې په مطبعه کې چاپ شوې. د دې نظامنامې احکام د وروستیو مامورینو د اصولنامو او د مامورینو د قوانینو په تنظیم کې لویه برخه لرله.

۲۷- د بهرنیو چارو دوزارت د محاسبې دمدیریت نظامنامه:

د دې نظامنامې متن لاس ته رانغی پر کال ۱۳۰۲ بـه تدوین شوې وي

۲۸- د مطبوعاتو نظامنامه

دا نظامنامه په ۱۸ مادو کې د ۱۳۰۳ل کال د مرغومي پر ۱۰مه د وزیرانو مجلس د تحریراتو دایرې په مطبعه کې چاپ شوې ده. د دې نظامنامې د مطبوعاتو د وروستیو اصولنامو او قوانینو لپاره یو اساس کېښود.

ACKU

۲۹- د تجارتي معـاملاتو پـه بـاب د شـرعي محـاکمو نظامنامـه (نظامنامـه محـاکم شرعي در بـاب معـاملات تجـارتي)

دا نظامنامـه پـه ۲۹ مـادو کې د ۱۳۰۱ کـال د وري پر لومـړی نـېټه نـافذه شوه او دويم چاپ يې پر ۱۳۰۵ د رفيق شـرکت پـه مطبعـه کې وشـو.

۳۰- د مقياسـاتو نظامنامـه

دا نظامنامـه پـه ۱۵ مـادو کې د ۱۳۰۴ کـال د کـب پـر ۲۳مـه نـېټه دويـم چاپ د رفيق شرکت پـه مطبعـه کې چـاپ شـوه.

۳۱- د مـهاجرينو نظامنامـه

دا نظامنامـه پـه ۳۲ مـادو کې د ۱۳۰۲ ل کـال د چونـګاښ پـر ۱۸مـه د وزيرانـو د مجلـس د تحريراتـو د دايـرې پـه مطبعـه کې چـاپ شـوه. د دې نظامنـامې تـوپـير لـه نـورو نظامنـامو سـره پـه دې کـې دی چـې نـورې د دې دورې نظامنـامې پـه دري ژبـه دي خو دا نظامنامـه څنګ پـه څنګ پـه پښتـو او دري خپـره شـوې ده.

۳۲- د قطغن پـه لـور د نـاقلينو نظامنامـه

دا نظامنامـه پـه ۱۲ مـادو کې د ۱۳۰۲ ل کـال د تلې پـر ۱۴مـه نـېټه د وزيرانـو دمجلس د تحريراتـو د دايـرې پـه مطبعـه کـې چـاپ شـوې ده. د دې نظامنـامې پر اسـاس هر يـوه چا تـه چې قطغـن تـه بـه يې نقـل مکـان کـاوه، د سرې پر سـر ۸ جريبـه ځمکـه د دولـت لـه سـرکاري ځمکـو يـو جريـب پـه يـوه شـاهي (څلورمـه برخـه د افغانـي) ورکـول کېده او دا ځمکـه تـر ۶ کلونـو ماليـاتو ورکولـو معـاف وه. سربېره پر دې مرستو د پر لـږ خلـك نقـل مکـان تـه حـاضرېدل. د ځمکـو قيمـت د انقلابونـو تـر دورې د شـمال پـه ولايتونـو کـې د پخوا پـه شان ټيټ و. دولـت دخپـل مـامور د تقـاعد پـه بـدل کې خپلې زراعتـي ځمکـې ورکولـې. د مثـال پـه تـوګه د دې کـرښو د ليکونکـي خپلوانـو تـه د سـردار محمـد داود د صـدارت پـه دوره کې د لـس زره افغـانيو تقـاعد پـه بـدل کې زر جريبه زراعتي بې اوبو ځمکه پـه کيلـګي کې ورکـړل شـوه.

۳۳- د افغانسـتان د دولـت د ذيشـان نښانونـو نظامنامـه

دا نظامنامـه پـر ۱۲۹۹ کـال د کـابل د دار السـلطنې پـه مطبعـه کـې چـاپ شـوه. دا نښانونـه پـه دې ډول وو:

د لمـر اعلـی نشـان لـه پنځه سـوه جريبـو ځمکـې او ۲۵ زرو افغـانيو بخشش سـره.

د لمر عالي نشان له دوسوو جريبو ځمکې او ۷ زرو افغانيو بخشش سره. همدارنګه د سردار اعلی نښان، د سردار عالي نښان، د استقلال نښان، د ستوري نښان. د وفا نښان. د لوی خان نښان. پېژندل شوي وو.

۳۴- د معارف دنښان نظامنامه

دا نظامنامه په ۹ مادو کې پر ۱۳۰۲ ل کال د معارف په وزارت کې چاپ شوه.

۳۵- د نکاح، واده، او ختنه سوري نظامنامه

دا نظامنامه په ۲۲ مادو کې د ۱۳۰۳ل کال د سنبلې پر لومړۍ د وزیرانو دمجلس د تحریراتو د دایرې په مطبعه کې چاپ شوه.

۳۶- د حربيې دوزارت نظامنامه.

د دې نظامنامې متن لاس ته را نغی، په ۱۳۰۵ به تدوین او نافذ شوې وي.

۳۷- د دولت د تعلیقاتو لایحه

دا لایحه په ۱۲ مادو کې د ۱۳۰۳ کال د سلواغې پر ۸مه د وزیرانو د مجلس د تحریراتو د دایرې په مطبعه کې چاپ شوې ده.

۳۸- هدايات مجازات

دا د احکامو یوه مجموعه ده، چې د مستعلمیونو، جزاګانې تنظیموي. د معارف په مطبعه کې چاپ شوې ده.

په دې سند کې داسې جزاګانې راغلي دي. ملامت، محرومي، د زیاد سبق ورکول، وروسته له رخصتی. تر نیم ساعت د متعلم ستنول. د مکتب د مدیر یا د سرمعلم له خوا متعلم ته جسمي جزا ورکول، له یو څخه تر لسو ضربو او له مکتب څخه خارجول د معارف د وزارت په تصویب.

۳۹- د مساکینو د اداري لایحه

دا لایحه په ۲۹ مادو کې د ۱۳۰۳ کال د کب پر ۱۵مه نېټه د وزیرانو د مجلس د تحریراتو د دایرې په مطبعه کې چاپ شوې ده.

۴۰- د افغان د ملګرو د شرکت لایحه.

د دې لایحې متن لاسته را نغی. همدارنګه ډېر نور اسناد او نظامنامې دي چې ذکر یې په آثارو کې راغلی، خو د دې اسنادو متن لاس ته نه دی راغلی.

۴۱ - د عسکري د نويو او زړو رتبو د تطبيق لايحه. ۴۲- د وکيل النجار نظامنامه. ۴۳- د مستوفيانو، د اعلی سرشته دارانو او د ماتحت مامورينو د وظايفو نظامنامه. ۴۴ - د زراعت د مامورينو د وظايفو نظامنامه، چې د تجارت وزارت ته مربوط دی. ۴۵- د معارف د وزارت نظامنامه. ۴۶- د خورد ضابطانو د مکتبونو نظامنامه. ۴۷- د کورنيو ښوونځيو نظامنامه. ۴۸- د جرايمو په باب د شرعيه محاکمو نظامنامه. ۴۹- د محصول مواشي نظامنامه. ۵۰- د ماليې نظامنامه. ۵۱-د شين، تور او سور کلوپ نظامنه. ۵۲- د ماليې د کاګرانو نظامنامه. ۵۳- د افغانستان د دولت د قنسلګرۍ نظامنامه. ۵۴- د سرکاري تحويلخانو د اموالو د خرڅولو نظامنامه. ۵۴- د استقلال د فرقې او د مرامنامې د تجديد نظامنامه. ۵۶- د للمي زراعت نظامنامه. ۵۷- د عسکري رتبو نظامنامه. ۵۸- د ډاکخانې نظامنامه. ۵۹- د دولت د خزانه جاتو نظامنامه. ۶۰- د عسکرۍ د داخله خدماتو نظامنامه. ۶۱- د حاضرۍ نظامنامه. ۶۲- د طيارې د جمعيت نظامنامه. ۶۳- د تاجرانو د تقاوۍ نظامنامه. ۶۴- دقول اردو او د فرقې د لوازمو د ادارو د کاتبانو د وظايفو د تفريق نظامنامه. ۶۵- د حاکمانو او د مربوطو مامورينو د وظايفو د تفريق نظامنامه.

دا او داسې نور قانوني اسناد چې متن يې لاس ته نه دی راغلی، خو له ۱۳۰۱ تر ۱۳۰۷ کلونو پورې نافذ شوي دي.

## په اماني دوره کې د جزايي مسايلو تنظيم

## او د هغوی په مقابل کې عکس العمل

د اعليحضرت امان الله خان په دوره کې د نورو قوانينو تر څنګ د جزا د عمومي نظامنامې او د عسکري د جزا نظامې جوړې شوې چې په اولو کلونو کې يا څوك ورته متوجه نه وو او يا د اعليحضرت د داخلي او خارجي دښمنانو د تبليغاتو اثرات هومره خپاره شوي نه وو، چې د ۱۳۰۲ -۱۳۰۳ په څېر يې اغتشاش منځته راوړی وای. پر ۱۳۰۲ل کال دا اغتشاش د پکتيا په ولايت کې د نظامنامو خصوصاً د جزا د نظامنامې په مخالفت راپورته شو. د نظامنامو پر سر اغتشاش بايد نه وای را پورته شوی. دا ځکه چې دا نظامنامې د يوه معتبر هيئت د تميز د علماوو د هيئت له خوا تاييد او تصويبدلې، چې په هغو کې د هېواد مشهور

عالمان او د تقوا خاوندان موجود وو. یو له هغو جلسې د تمسك القضات الامانیه مولف و چې د سقو زوی "حبیب الله خادم دین رسول الله" ته یې بیعت و نه کړ او مخامخ یې ورته وویل ،غله او قطاع الطریق ته بیعت جایز نه دی. په دې خبرې دا د شهامت خاوند لوی عالم د«امیر» په حکم اعدام شو. همدارنګه د تمیز په هیئت کې ډېر داسې عالمان وو- لکه مولوي محمد ابراهیم کاموي، مولوي فضل الربي، مولوي عبدالحی پنجشیری او داسې نور.... نو له دې کبله د نظامنامو په سر اغتشاش ته ضرورت نه و. پر دې سربېره حکومت اغتشاشیونو ته بلنه ورکړه. ملا عبدالله او ملا عبدالرشید ته، چې راشي د تمیز له عالمانو سره پر دې موضوع بحث وکړي. که دوی د تمیز عالمانو ته قناعت ورکړ. نو نظامنامې به تعدیل شي او که د تمیز هیئت دوی ته قناعت ورکړ نو دوی به له اغتشاش څخه لاس واخلي. د اغتشاش کوونکو منظور قناعت کول یا قناعت ورکول نه وو. دوی یوازې دا غوښتل چې د افغانستان د ترقۍ او پرمختګ مخه په هره وسیله چې وي، ونیسي.

اغتشاش کوونکي په خپل هدف کې ښایسته ښه پرمخ هم ولاړل. له یوې خوا غزني ته را ورسېدل او له بلې خوا لوګر سیمې ته - ډېر څه نه و پاتې چې کابل ونیسي. په دې وخت کې یو څوك د عبدالکریم په نامه چې ځان یې د امیر محمد یعقوب خان د سلطنت وارث باله. له هندوستان څخه پکتیا ته راغی او خپله پاچاهي یې اعلان کړه. شورشیان په دې ډېر خوښ شول. د کابل فتح یې ډېره لنډه وګڼله. دوی اوس یو امیر میندلی و او نور نو یاغي او باغي نه وو. له بلې خوا دې خادثې پر ډېرو افغانانو بد اغیز وکړ. کله چې د افغانستان عامو خلکو د پاك زړه خاوندانو ولیدل چې دا امیر د هند له امپراتورۍ رانازل شوی د اغتشاشیونو په مخالفت را پورته شول. همدارنګه د افغانستان دوست دولتونه چې په کابل کې یې سفارتخانې لرلې، د انګریزي حکومت په دې بربنډه مداخله را وپارېدل او خپل‌.... یې د دې مداخلې پر ضد راپورته کړ. په کابل کې د جرمني سفارت استازي ډاکټر ګروبا د افغانستان حکومت ته وړاندیز وکړ، چې دی سره له درستو جرمنیانو چې په افغانستان کې دي، حاضر دی چې د انګریزي حکومت د مداخلې پر ضد د جنګ میدان ته لاړ شي او د افغانستان او د افغانانو د آزادۍ او استقلال په دفاع کې له هغو سره ګډه

برخه واخلي. د افغانستان حکومت د جرمني استازي له دې دوستانه احساساتو مننه وکړه او هغه ته یې ډاډ ورکړ چې دوی خپله دمسئلې له حل څخه وتلی شي او داسې هم وشول. کله چې خلک له اغتشاشیونو واوښتل، نازل شوی امیر بېرته هند ته وتښتېد او د شورشیانو مشران لکه عبدالله او عبدالرشید د حکومت لاس ته ورغلل او په خپله جزا ورسېدل. د هغو شهیدانو په یاد چې د وطن د مدافعې په لار کې یې سرونه ورکړي وو، په دهمزنګ کې یو ځلی د علم او جهل په نامه جوړ شو. د جزا د نظامنامې پر ضد کوم اغتشاش چې راپوته شوی و، که څه هم هغه مات شو، خو د جزا نظامنامې هم و نه شو کړای د عمل په میدان کې پاتې شي، چې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په اداره کې د جزا قانون ته بیا توجه وګرځېده او د دې قانون د تسوید لپاره یو مصري متخصص کابل ته دنوښتونو په دویم ریفورم کې راوبلل شو، چې پر خپل ځای به خبرې پرې وشي.

د جزایي ریفورم په تړخ کې په ځینو برخو کې د تعزیر بالمال او د حبس پر موضوع بحث وشو. د ۱۳۰۳ کال لویې جرګې له دې مطالبو سره مخالفت وکړ. حال دا چې دا مطالب د ۱۳۰۱ په لویې جرګې کې منل شوي وو، نافذ قوانین وو. په لویې جرګې کې د ریفورم مخالفینو د تعزیر بالمال په مقابل کې وویل چې دا پولي جزاګانې او جرماني یوازې د ابو یوسف(رح) په قول استناد لري او هغه هم داسې وایي چې دا پولي جزا د جرمانې باید وروسته له یوې مودې بېرته مجرم ته ورکړل شي. دا ځکه چې بې له کوم مشروع سبب د مسلمان د مال اخیستل جایز نه دي.

د حبس د تعین په برخه کې هم د ریفورم مخالفینو مخالفت وکړ او ویې ویل چې د یو مجرم د حبس موعد باید و نه ټاکل شي او مجرم دې تر هغه وخت پورې په حبس او بند کې وساتل شي چې د توبې او صلاح نښې یې په څېره کې ښکاره شي. اعلیحضرت د هغوی په مقابل کې وویل تاسې چې دا غواړئ نو خپل عالمان وټاکئ چې د توبې او صلاح د نښو د ښکاره‌والي لپاره قواعد جوړ کړي چې حکومت هغه بندیان وپېژندلای شي، چې د دوی په څېره کې د توبې نښې ښکاره شوي دي او که چېرې صلاح او توبه په ظاهري رنګ او هیئت مربوط وګڼل شي، نو په زړه پورې نتیجه به لاس ته را نه شي، یو غل چې تاسې بندیخانې ته ولېږئ، نو هغه به

دوړی خوړل پر ځان بند کړي، د سر او ږيرې وېښتان به پرېږدي: نو که چېرې د داسې يو سړي په ظاهره ښه او څېره چې له يوه ولي به کمه نه وي، وغولېږو، نو ښکاره ده چې يو لېوه يا زمري مو ښه وړی کړی او په داسې يوه موقع کې چې د غوښې د خوړلو ښه اشتها لري، هغه مو ازاد کړی وي.(۴)

د جزايي قوانينو په برخه کې د اعليحضرت امان الله تولې هلې ځلې د پولي جرماني د جزايي احکامو د تعين او د حبس او بند د معياد ټاکل د لويې جرګې د سخت دريځو علماوو او روحانيونو د مخالفت له کبله او د هغه وخت د عمومي فضا د ناوړې اوضاع او اغتشاشونو په سبب، چې د خلکو او حکومت تر منځ يې فاصله راوستلې وه، ناکامه شوې، خو په بعدي دورو کې دا احکام ومنل شول چې بيا به خبرې پرې وشي

## د مدني مسايلو تنظيم

## او د هغو په مقابل کې عکس العمل

د مدني مسايلو د تنظيم په برخه کې د جزا د عمومي نظامنامې په شان د کوم مدني قانون يا د مدني نظامنامې د تدوين موضوع منځته را نغله او يوازې د مدني ساحې په برخه کې ځينې مسايل تنظيم شول. لکه د زوجاتو د تعدد موضوع، د صغرې نکاح، د مهر محدودول، د بديو د رسمونو منع کول، د غمرازۍ يا د تعزيه دارۍ مسايل، چې دا درست په دوو نظامنامو کې تدوين شوي وو. يوه نظامنامه د نکاح، عروسي او ختنه سوري نظامنامه وه او بله يې د تعزيه نظامنامه.

اعليحضرت امان الله د پراخ او وسيع نظر خاوند علماوو په مرسته غوښتل د زوجاتو تعدد محدود کړي، د صغرې د نکاح مخه ونيسي، د مهر اندازه راټيټه کړي او د "توراوبد" حقوقي معاملات له منځه يوسي.

### ۱- د زوجاتو تعدد

اعليحضرت د زوجاتو د تعدد مخه نه نيوله، دا ځکه چې د زوجاتو د تعدد جواز په قران عظيم الشان کې راغلی او هېڅ يو مسلمان د قران پاك له حکم څخه سرغړونه نشي کولی. اعليحضرت هم د قران مجيد د حکم پر اساس ويل چې تاسې تر څلور ښځو پورې نکاح کولی شئ، خو که عدالت نه شئ کولی، د يوې ښځې نکاح غوره ده. اعليحضرت غوښتل د عدالت د تعين لپاره څه شرطونه او قيدونه راوړي. خو د ۱۳۰۳ د لويې جرګې

ځینې سخت دریځو علماوو دا ویلي چې د عدالت تامین د نکاح په برخه کې د ښځې د خاوند مکلفیت دی، نه دا چې حکومت په هغه کې مداخله وکړي. په دې اړوند اعلیحضرت وویل "هغه څوك چې یوه ښځه لري اوغواړي چې دویمه ښځه هم نکاح کړي، موږ دا تجویز ونیو چې د دویمې نکاح لپاره دوه شاهدان راولي چې دا د دویمې نکاح غوښتونکی عادل او د انصاف خاوند سړی دی. دا ځکه چې پر کومې ښځې چې دویمه ښځه راځي معلومه خبره ده، چې لومړۍ ښځه له یوه عالم زحماتو سره مخامخ کېږي، لیکن د مېړه د مظالمو له وېرې خپل غږ پورته کولی نه شي او غږ یې چېرته نه رسېږي، نو پوهغې ښځې هر څومره ظلم او تعدی چې کېږي هغه یې زغمي."(۵)

د اعلیحضرت بیاناتو مخالفینو ته قناعت ور نه کړی شو، د لویې جرګې یوه استازي وویل "دا چې څوك یوه ښځه کوي یا څلور دا د نارینه حق دی او د عدالت او مساوات په برخه کې ښځه حق لري چې محکمې ته شکایت وکړي"(۶)

په هر تقدیر اعلیحضرت په دې برخه کې د لویې جرګې د اکثریت نظر ته تغیر ور نه کړی شو او دی د مجلس نظر ته تسلیم شو.

## ۲- د صغرې نکاح

د نکاح نظامنامه چې پر ۱۳۰۱ هـ ل د جلال آباد په لویه جرګه کې نافذه شوې وه. د صغرې نکاح یې منع کړې وه، خو د ۱۳۰۳ په لویې جرګې کې د صغرې نکاح بېرته ومنل شوه، د یو وکیل د غوښتنې پر اساس چې د صغرې نکاح دې نه منع کېږي. اعلیحضرت وویل: "زموږ په هېواد کې د صغرې له نکاح ډېرې دښمنۍ راپورته شوې دي. دوه کسه په یوې بې وزلې نجلۍ چې هغه له یوه سره یې هم مینه نه لري، دعوی کوي او هره یوه مشروع او نا مشروع وسیله په کاروي چې هغه نجلۍ خپله کړي او هغه په دې دلیل چې دا مظلومه نجلۍ هغه ته په صغارت کې ورکړل شوې او یا نهوې ورکړل شوې اوس هر یو غواړي چې هغه نجلۍ په خپله نکاح کې راولي، هر یو مصارف او خرڅونه کوي او یو بل ته مالي او ځاني تاوانونه رسوي."(۷)

د اعلیحضرت هڅه دا وه چې د صغیرې نکاح دې منع وي. د ریفورم د مخالفینو له ډلې د شوربازار حضرت صاحب "د صغیرې نکاح یو مسنونه

عمل وباله او ويې ويل: "...عده از مرتاضين نكاح صغيره را بنا بر اينكه حضرت رسالت پناهی ام المومنين حضرت عايشه صديقه(رض) را در صغارت نكاح كرده اند. مسنون نيز شمرده اند. لذا رجا می شود كه نكاح صغيره جايز و دعا وی آن در محكمه مسموع گردد"(۸)

مولوي عبدالواسع چې د تميز د هيئت يو غړی و، د حضرت صاحب په خواب كې يې وويل: "... نكاح صغيره مباح است، چون با اين فعل مباح امر الوالامرا انضمام يافت ظاهراً حكم وجوب را در يافته از اينرو باينكه نكاح صغيره در كتب فقهيه صرف جواز داشت چون بر خلاف آن حكم همايونی صادر شدو ظاهراً و شرعاً ممنوع گرديد"(۹) په لويه جرگه كې يو ملا د حضرت صاحب په طرفداری، څه بيانات وركړل، خو كوم ځواب چې مولوي عبدالواسع وركړی او پوهغه پوهېدل. نن هم ډېر مهم دي دلته به نقل شي: "شما در تعريف سنت سهوه گرديد و بر مغالطه نكاح صغيره را مسنون فرموده ايد زيرا كه آن از سنن عادی و طبيعي است چنانچه حضرت رسول اكرم(ص) طعام تناول فرموده و خفته اند و تفريح مزاج و غيره اموراتيكه طبعاً يا يك انسان ملزوم است كرده اند. ضمناً صغيره را نيز نكاح فرموده اند. پس از آن عادت و طبيعت نبايست يك امر مسنونی را استخراج كرد.(۱۰). د مولوي عبدالواسع بياناتو هم د درستو علماوو قناعت حاصل نه شو كړای، نو اعليحضرت له خپلې غوښتنې او د پخوانی نظامي له حكم څخه تېر شو او د صغيرې نكاح يې ومنله. خو پر ۱۳۰۷ (برابر له ۱۹۲۸) سره كله چې اعليحضرت د اروپا له سفر څخه را وگرځېد، نو د صغيرې د نكاح جواز يې بېرته لغو كړ او د واده او نكاح سن يې د ښځو لپاره ۱۸ او د نارينه وو لپاره ۲۲ كلنی وټاكه.(۱۱)

### ۳- د مهر محدوديت او د بدو پور د رسومو منع

*الف- د مهر محدوديت:* د مهر په برخه كې چې حد اقل مهر ۳۰ افغانی وټاكل شوي وې او دې كوم شرعي مانع نه درلود، د جرگې د استازيو له خوا تاييد شوه. مهر مثل او مهر مسما د دواړو خواوو له توافق سره مطرح شو. اعليحضرت په دې خوښ شو او دا صرف يو ليكل شوی حكم و، خو عمل نه پرې كېده. پر ۱۳۵۷ كال دا مهر د "انقلابي شورا" له خوا د اوومې نومرې فرمان پر اساس ۳۰۰ افغانی وټاكل شو، خو دا فرمان ۱۱ كاله وروسته چې "انقلاب" بېرته په شا ولاړ، پر ۱۳۶۹هـ ل چې له

۱۹۹۰ سره مطابقت لري، د شرعي نيمګړتياوو او د ناوړو نتايجو له کبله له اعتباره ساقط او لغو شو. شرعي نيمګړتيا يې دا وښودل شوه چې د مهر دوه نور ډولونه مهر مثل يعني دا چې په هغه کور کهول کې د نورو نجونو مهر څومره ټاکل شوی او مهر پو اساس د توافق په نظر کې نيول شوی وي. د نوموړي فرمان ناوړه نتايج دا و چې د (۳۰۰) افغانيو پر اساس د طلاقونو شمېر ډېر زيات شو. په دولت او نظام کې د قدرت خاوندان چې د اجتماعي طبقې له نظره د زيار ويستونکيو اولاد و او کليوالې ښځې يې لرلې اوس هغو ښځو د دوی له نوي حکومتي موقف سره توافق نه درلود، نو پخوانۍ ښځې به يې طلاقولې او د ښځې مهر چې ډېر تيټ ټاکل شوی و، نوې ښځې به يې کولې او دې نوې ښځې يې هم زړه ډېر زر واهه هغه به يې طلاق کړه او بله ښځه به يې کوله. مهر چې په حقيقت کې د ښځې يو حق او د هغې لپاره د نکاح د ثبات او يو اقتصادي تضمين و، هغه له منځه ولاړ او هوسباز، بې بند و بار، د عنعناتو دښمن نارينه ته يې دا موقع په لاس ورکړه چې د خپلو هوسونو په خاطر د فرمان په اتکا ډېرې ښځې بد بختې کړي. لوړ مهر چې نارينه د هغه په ورکولو مکلف و، چې خپلې طلاق ښځې ته يې ورکړي. د دې مانع وګرځېده چې نارينه هر وخت وغواړي خپله ښځه طلاق کړي. دلته د دې خبرې يادول په کار دي چې مهر له "ولور" او "شېربها" سره توپير لري. مهر د شريعت پر اساس د ښځې حق دی او "ولور" او شېربها د رسم او رواج پر اساس په بېرته پاتې اجتماعي ټولنو کې د نجلۍ مور او پلار يا د کورنۍ نور نارينه د ځان لپاره اخلي. دا رسم او رواج په ډېرو ابتدايي ټولنو کې ان په جرمن قامونو کې هم و، چې Frauenkauf يې ورته ويلې. دا د ۱۳۵۷ کال د ثور د انقلاب فرمان ږدا "ولور" او "شيربها" له ښارونو په اطرافو کې له منځه و نه شو وړای.

## ب- د بد او پور د رسومو منع کول.

کله چې د "بدو او پور" د رسومو د منع کول پر ۱۳۰۳ کال مطرح شول، د هغو رسومو تاييد ته چا اقدام و نه کړ. د دين عالمانو د "بد او پور" د شرعي مغاير بلل او تاييد يې نه کړل. منورينو او نورو ښاريانو چې جرم يو شخصي امر باله او يوازې خپله مجرم يې د خپل جرم مسئول باله دا قبلې حقوقي تعاملات يې نه شو تاييدولای. په قبايلو کې هلته چې دولت ... سي تعقيبولای، هلته قبايل د خپلو قبايلي حقوقي تعاملاتو پر

اساس، مجرم او د مجرم کورنۍ دې ته اړ باسي چې دوی د تجاوز او تېري تصفيې ته کېنوي او يا د تجاوز کوونکي درسته کورنۍ او قبيله د بدل يا انتقام منتظر وي. دلته جرم او تېری فردي امر نه دی، بلکې مسئوليت او ضرر يې د قبيلې هر يوه غړي ته متوجه دی. نو د دوارو قبيلو منل شوي معقول مشران هغه کوي چې د قبايلي حقوقي تعاملاتو او روغې پر اساس د جرگو او مرکو له لارې "بدی" له منځه يوسي او ضرر ليدونکې خوا ته "بد او پور" وټاکي. د "بد و پور" اندازه د تعاملي حقوقو پر اساس ټاکل شوې ده. له يو عذر غوښتنې له ننواتې څخه پيل او د نجونو په ودولو ختمېږي. څرنگه چې وويل شول، ديني علماوو او ښاري خلکو د بدو پور د رسمونو پلوي او دفاع و نه کړه او خپله د دې تعاملي حقوقِ عملي پلويانو هم څه و نه ويل. دوی په دې پوهېدل چې تر څو د ټولنې اجتماعي اقتصادي، کلتوري شرايط تغير و نه مومي د حقوقي تعاملاتو منع کول يوازې د تصويب له لارې تر سره کېدای نه شي او په رښتيا چې دا حقوقي معاملات تر نن ورځې د پخوا په شان دوام لري.

نتيجه دا شوه چې د مدني حقوقو په ساحه کې د اعليحضرت امان الله خان ريفورمونه برسېره پر دې چې د جلال آباد په لويه جرگه کې ۱۳۰۱ منل شوي وو، د پغمان په لويه جرگه کې و نه منل شول.

## د اماني دورې په مقابل کې د سقو د زوی "انقلاب"

انگريزي استعمار د هر يو بل استعمار په شان په خپل گاونډ کې يو ترقي غوښتونکی هېواد نه شو زغملی. انگريزي هند په دې وېرېده چې پرمختللی افغانستان د ازادۍ غوښتنې هڅې په سيمې کې گړندۍ نه کړي. دا وېره د انگريزي هند په حکومت کې هومره لويه وه چې ان د سراج الاخبار نشرات او خپروني يې نه شوې زغملای. د انگرېزانو هڅه دا وه چې په هره يوه وسيله چې کېږي په افغانستان کې د ترقۍ او پرمختگ مخه ونيسي. له بده مرغه د هند انگريزي اداره په اسانۍ خپل دې هدف ته ورسېدله او کوم څه چې له دوی سره مرسته وکړه هغه د افغانانو بې علمي، د دوی د سياسي رشد ضعف او د انگريزي اجيرانو مهارت د اغتشاش په راپارولو کې و، چې د هغه په اثر د پرمختگ لېوال رهبر د بې ديني په تور را وغورځول شو او پر ځای يې د حبيب الله په نامه يو بې

سواده او داړه مار غل، چې د غلا او قتل په تور د حکومت له تعقیب څخه هند ته وتښتېد یوه موده په توتګي او یوه موده هم د پېښور د مالګې په منډۍ کې اوسېده. معلومه نه ده چې څرنګه له هند څخه د کابل په لور روان شو او په اسرار امیزه توګه پاچاهۍ ته ورسېد. او د "خادم دین رسوالله" عنوان پرې کېښودل شو. د حبیب الله د لنډې دورې میاشتنۍ پاچاهۍ کې د افغانستان درست هغه کلتوري آثار چې د افغان - انګریز له دویمې جګړې را په دې خوا منځته راغلي وو، له منځه یووړل شول او انګریزي امپریالیزم یې خپل مراد ته ورساوه. د دولت او ملت شته او دارایي یې چور او چپاول کړل. اداري، تعلیمي، تربیوي او فرهنګي موسسات یې له منځه یووړل. د اجتماعي کلتوري اداري او سیاسي انتظام لپاره چې کوم قوانین مقررات او نور تقنني اسناد جوړ شوي وو، هغه یې لغو کړل.

خدای بښلی غلام محی الدین انیس چې خپله د دې جریاناتو شاهد دی په خپل اثر "بحران و نجات" کې داسې لیکي: "در اداره رنگ مملکتی مفقود است. زیرا مملکت عبارت از کابل و محیط سه کروهی آن می باشد، که این دو لتك ریزه محکوم بیش از هزار اداره است و این حکام عبارت از منصبدارهای سقو مخصوصاً (طبقه موکلین عذاب) یعنی خود مختارهای آن می باشد. گویا اداره شهر در بحران است. اما از حیث امنیت چون عادتاً اخلال امنیت را طبقه دزدان و اوباش می کنند و امسال دزدان به پادشاهی کردن گرفتار شدند از آنرو می توان گفت که از حیث امنیت ملك در قرار است. اما به جای بی امنیت یك قیامت مدهشتری برپا است که احدی را از هیچ طبقه در شهر خواب آرام نمی برد و آن همینکه خودمختارهای بدبخت خانه های مردم را به بهانه های مختلفی که در این خانه مال سرکاری یا تفنگ و جبخانه است، تفتیش و جور مدهش را چپانده اند. از مضحکات این خودمختارها یکی اینست که حتی صندوقچه های یك وجبی را هم حکم می کردند باز کنید مبادا تفنگ باشد و باین بهانه پول و هر چیز قیمتداریکه میيافتند به غارت می بردند. (۱۲)

د ارواښاد انیس له وینا علاوه خپله د سقو د زوی [امیر حبیب الله] وینا په دې اړه د دې دورې د هر بنه څرګندوونکې ده. دی وایي: "من اوضاع

کفر و بی دینی و لاتی گری حکومت سابقه را دیده و برای خدمت دین رسول الله (ص) کمر جهاد را بستم تا شما بیادرها را از کفر و لاتی گری نجات بدهم... من بعد هم من پول بیت المال را به تعمیر و مدارس صرف نخواهم کرد، بلکه همه را به عسکر خود میدهم که چای و قند و پلو بخورند و به ملاهای می دهم که عبادت کنند. بعد از آن دفعتاً سر بخشش آمد. تقریباً تمام رسومات دولت را از قبیل صفایی ومالیات و گمرك و غیره آن همه را وعده داد که نخواهم گرفت و بخشیدم و دیگر من پادشاه شما هستم و شما رعیت من می باشید. دامنه لطف را هم به قصه های غیر منطقی که عامیت و جهالت محض او را نشان می داد از قبیل اینکه بروین بعد از این همیشه ساعت خود را تیر کنین مرغبازی، بودنه بازی کنین، و ترنگ تانرا خوش بگذارنین.(۱۳)

د سقوی د دورې سلطنت ۹ میاشتې په داخلي جګړو کې تېر شو او سپهسالار محمد نادر خان د سقو سلطنت ته خاتمه ورکړه.

## د اصولنامو تر عنوان لاندې

### د نظامنامو بیا احیا

د اعلیحضرت محمد نادرشاه د سلطنت په دوره کې له (۱۳۰۸ - ۱۳۱۲) او بیا وروسته له هغه د محمد ظاهر شاه په پاچاهی کې نظامنامې او علاوه له هغه نور ډېر تقنیني اسناد د اصولنامو تر سرلیك لاندې نافذ شول. د دې دورې په لومړیو کلونو کې د عمومي فضا تر اثر لاندې، چې پو اجتماعي سیاسي اوضاع حاکمه وه، د اصولنامو احکام ډېر محتاطانه تنظیم شول، ځینې نظامنامې لکه د جزا عمومي نظامنامه په کلي ډول له نظره لوېدلي او په وروستیو کلونو کې په دې برخه کې انکشاف راغی. پر ۱۳۲۱ هـ ل کال تجارتي مسایل په یو لړ ځانګړیو اصولنامو کې تنظیم شول. خو پر ۱۳۳۶ یوه جامع تجارتي اصولنامه یا تجارتي قانون منځ ته راغی چې تر اوسه پورې نافذ دی. د دولت د مامورینو اصولنامې په دې دوره کې څو وارې تعدیل او تکمیل شوې د ۱۳۲۳ هـ ل کال او ۱۳۳۳ اصولنامې د صنعتي موسساتو د کار او کارګرانو مناسبات، حقوق او وظایف پر ۱۳۲۴ کال تنظیم شول او داسې نور، خو دویم عمومي او کلي د قوانینو ریفورم د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د سلطنت په وروستی لسیزه کې منځ ته راغی.

دويمه برخه

## د قوانينو دويم عمومي او كلي ريفورم

### له ۱۳٤۲ تر ۱۳۵۲ هـ ل

دا د قوانينو دويم عمومي ريفورم هم د پخوانيو ريفورمونو په شان، بې له دې چې ملت د قوانينو د ريفورم كومه جدي مطالبه وكړي، د سلطنت له خوا د يوې ډالۍ يا بخشش په شكل منځته راغى، پر ۱۳۴۲ كال د سلطنت له خوا د سلطنت او د حكومت د بېلولو تصميم ونيول شو. د ډېرو مهمو قوانينو لپاره لكه د مدني قانون او د جزا د قانون تسويد لپاره مصري متخصصين را وغوښتل شول. پر ۱۳۴۳ ل كال د ديموكراسۍ پر اصولو برابر درې ګونو دولتي قواوو په تفكيك متكي يو اساسي قانون او ورسره متمم قوانين منځ ته راغلل. نه يوازې دا چې دا قانون او ورسره نور قوانين منځ ته راغلل، بلكې په جدي توګه د هغوى رعايت هم وشو. په دې دوره كې قوانين د قوانينو په نامه ځرګند شول او نور نو دې ته ضرورت نه ليدل كېده چې د نظامنامې يا اصولنامې تر نامه لاندې ټولنې ته راووځي. په دې دوره كې هم قوانين تر ډېره د ادارې د غوره تنظيم په برخه كې لګيا وو. د مدني او د جزا د عمومي قانون په برخه كې په احتياط ګام واخيستل شو. د دې قوانينو د تسويد لپاره چې مصري قانونپوهان له مصر څخه راغوښتل شوي، نو دوى د يو نيم كال موده په ترځ كې د دې دواړو قوانينو مسودې جوړې او د عدل وزارت ته يې وسپارلې او د عدل په وزارت كې د دې قوانينو د ترجمې كار پيل شو. تر ترجمې وروسته د دې قوانينو د تطبيق كار كميسيونونو ته وسپارل شو. دا قوانين پر ۱۳۵۵ل د سردار داود په جمهوريت كې تكميل او په رسمي جريده كې د نافذو قوانينو په حيث خپاره شول. د يادونې وړ خبره دلته دا ده چې د دولت په خلاف چې دا وخت د داخلي او خارجي مخالفينو جدي تحريكات موجود نه وو او پخوانيو حكومتونو د دې دواړو قوانينو له خپرېدلو د عامه ذهنيت له خوا ډېره وېره لرله. خو د عامه ذهنيت له خوا هېڅ يو مخالفت و نه ښودل شو. حال دا چې د اعليحضرت امان الله په دوره كې د جزا د نظامنامې پر سر د

پکتیا لوی اغتشاش پېښ شو، خو پر ۱۳۵۵ ل کال (۱۹۷۶) د جزا پر قانون یوازې ځینې کمونستانو پټ اغراض درلودل او ویل یې چې دا د جزا قانون ډېر شدید او ظالمانه جوړ شوی دی. مدني قانون چې په ۲۴۱۶ او څلورو توکونو کې تنظیم شوی او د نړۍ پرمختللیو هېوادونو لکه په اسلامي نړۍ کې مصر له جامع قوانینو او د غیر اسلامي پرمختللیو هېوادونو لکه المان، سویس او فرانس سره یې د معاملاتو په برخه کې ډېر ورته والی درلود او د هېڅ اعتراض، نه پټ او نه ښکاره پورته نه شو.

همدارنګه د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په دوره کې رسمي جریدې، قانون، د فتوا او د تقنین د چارو قانون او په سلګونو داسې نوي قوانین، مقررات، اساسنامې په مجموع کې تقنیني اسناد په دې دوره کې د اداري، د قضا، د تقنیني چارو او د اجرائیوي امورو د ښه تنظیم لپاره د عدالت د ښه تحقق په منظور جوړ او د رسمي جریدې له خوا خپاره شول.

### دریمه برخه

### په هېواد کې سوسیالیستي قوانینو ته د لارې پرانیستل

سوسیالستي افکار په هېواد کې چې د "ورادتي ایدیو لوژۍ" نوم یې ګټلی و، دا اصطلاح لومړی ځل د شهید سردار محمد داود له خوا هغه وخت استعمال شوه، چې د خدای بښلي د حکومت وروستی شپې او ورځې وې او د دې ایدیولوژۍ په شومو عواقبو پوهېدلی و. حال دا چې خپله سردار محمد داود هغه څوک و چې د احساساتو د جزبې او د فکر د کمزورۍ له کبله یې د کمونستانو، خصوصاً د شوروي دولت ډېر ارزوګانې تر سره کړې. د افغانستان د ثبات خاوند، څو زره کلن شاهي نظام یې له منځه یوړ او دې ته یې زمینه برابره کړې چې هر یو د حقارت د عقدو خاوند، د افغانستان د دښمنو په مرسته د خپلو غیر انساني هوسونو د تسکین لپاره خپل نیلی (اس) د بې وزله مظلوم افغان ملت په ککرۍ وزغلوي سردار محمد داود نه یوازې د افغان تاج او تخت رانسکور او د جمهوریت!! ور یې پرانیست، بلکې سوسیالیزم یا د ده په خپله اصطلاح "وارداتي ایدیولوژي" ته یې هم غېږ خلاصه کړه. د اسد په میاشت کې څو ورځې وروسته له دې چې سردار د لومړي جمهوریت پو څوکۍ کېناست د کابل د امنیې قوماندانۍ منصب لرونکي سره د هغه له مشر دګروال

عبدالحنان مېنه پال د سردار محمد داود په حضور مشرف شول، سردار هغوی ته ویلي وو چې ده خو جمهوریت راوړ، نو دا کافي نه ده، غواړي سوسیالیزم هم هېواد ته راولي." د محمد موسی نعیمي په قول چې دی هغه وخت د امنیې د منصب لرونکیو په ډله کې حاضر و، مینه پال سردار ته وویل چې (د افغانستان ټولنه یو قبایلي ټولنه ده. دا ټولنه سوسیالیزم نه مني). دې خبرې سردار ته خوند ور نه کړ، د مینه پال خبره یې رد کړه او ورته یې وویل: "د تا ماغزه ستړي شوي دي اوته یو څه استراحت ته ضرورت لري" تر دې وروسته مېنه پال احتیاط ته سوق شو. سردار محمد داود په سوسیالیزم کې پراخه او ژوره مطالعه نه لرله، خو په دې نظام کې یې د ستالین په شان دیکتاتوري د یو ګوندیز سیستم حاکمیت پر ټولنې او په راس کې د حزب د رهبر حاکمیت پر حزب ډېر خوښېده. د سردار محمد داود اساسي قانون چې پر ۱۳۵۶ هـ ل نافذ شو، د سردار د افکارو ډېر ښه بیانوونکی دی. په سوسیالیزم کې چې د استثمار له منځه وړلو تر عنوان لاندې چې د تولید وسایل له افرادو اخیستل کېږي او هغه د ټولنې په نامه د دولت واك ته سپارل کېږي. دا سردار ته په زړه پورې و او د هغه د تحقق لپاره یې قدمونه واخیستل. د ځمکو د اصلاحاتو قانون یې راوویست، خو کله چې هغه د دې قانون د عملي کو لو عواقبو ته متوجه شو، هغه یې عملي نه کړ او د ځمکو د مالیاتو مترقي قانون یې نافذ کړ او د خلکو زړونه یې له ځمکو تور کړل. د بانکونو قانون یې راوویست چې درست بانکونه یې دولتي وبلل او د بانګو خاوندان یې وویرول. دې او د دې په شان په لسګونو نورو قوانینو خلك په خپل ملکیت په خپلهٔ شتهٔ په خپل حیثیت او دا چې د یو شوروي ډوله حکومت تر اثر لاندې را نه شي په تشویش کې واچول. خوکمونیستان هغه خلك چې فهمیده یا نافهمیده په کمونستي لومو کې نښتي وو، د ضد انساني ټېټو عقدو لرونکي او داسې نور په دې خوشحاله وو چې د سردار حکومت به یوه انتقالي دوره وي او ژر به د خارجي دولتونو په مرسته د دوی د حکمرانۍ دوره ورسېږي.

**« د ثور انقلاب »**

د ۱۳۵۷ل کال د غوایي پر ۷مه د دیموکراتیك ګوند په لاس د یوې کودتا له لارې سردار محمد داود حکومت را غوځار شو او حاکم قدرت او د بلشویکانو په پیروی د خپلې ارادې د تحقق لپاره د فرمانونو د

راویستو لاره غوره کړه. په دې لړ کې علاوه له نورو احکامو او د ستورونو ۸ عمده فرمانونه راووتل. دوه وروستي فرمانونه ۷ او ۸ فرمانونه وو. ۷ فرمان د ښځو د حقوقو په برخه کې و چې د ښځو مهر یې ۳۰۰ افغانیو ته راټیټ کړ. دا داسې یو کار و چې د اعلیحضرت امان الله په دوره کې هم دې کار ته اقدام شوی او مهر ۳۰ افغانۍ ټاکل شوی و، خو بنا پر هغو نقصونو چې هلته اشاره ورته وشوه، عملي نه شو. ۷ مه نومره فرمان هم ښځو ته کوم حق ور نه کړ، بلکې له ښځو هغه د نکاح او د اقتصادي تضمین حق، چې موجود و، واخیستل شو. هوسبازو بې شرمه نارینه وو ته دا زمینه برابره شوه، چې هر وخت وغواړي خپله ښځه طلاق کړي او د ۳۰۰ افغانیو په بدل کې بله نوې ښځه نکاح کړي او کله چې یې ښځې زړه وواهه هغه طلاق او بله ښځه وکړي. دا فرمان د ډاکټر نجیب د جمهوریت په دوره کې کله چې برگشت ناپذیر انقلاب 'برگشت پذیر شو، تعدیل او له شرعي سره سم د مهر دوه نور ډولونه هم بېرته نافذ شول.

اتمه نومره فرمان د زراعتي ځمکو د ملکیت محدودیت و. د سردار محمد داود د ځمکو د اصلاحاتو د قانون پر اساس له سل ۱۰۰ جریبه لومړۍ درجه زیاته ځمکه چا نه شو لرلای. د اتمې نومرې فرمان پر اساس د ځمکې مالکیت محدود په ۳۰ جریبه لومړۍ درجه ځمکه شو. کمونیستي دوره کې حکومت خپله وظیفه په دې محدوده نه بلله چې د ځمکې له خاوندانو څخه له ۳۰ جریبو ځمکې څخه زیات واخلي او نور څه ورته و نه وایي. د دیموکراتیک خلق گوند خپله وظیفه بلله چې د بلشویکانو په څېر د ځمکو د اخیستلو په موقع کې زیار ایستونکي ته انقلابي تعلیم هم ورکړي. نو دوی به په داسې مواقعو کې لویې غونډې او شاندار میتنگونه جوړ کړل. په خپله جذباتي او د دوی په اصطلاح په علمي او له محتوا ډکو انقلابي ویناوکې به یې د ځمکې مالکانو فیوډالانو، کولاکانو ته سپکې سپورې وکړې او په انقلابي شعارونو او جوش او خروش کې به یې خپلې وظیفې تر سره کړې.

په افغاني قبایلي سیمو کې ملاک د اروپا کولاک یا د اروپا فیوډال یا اشرافو په څېر نه و چې دهقانان به یې د صرف په نامه له ځمکې سره یو ځای خرڅول یا اخیستل. د افغاني قبایلي سیمو ملاک په حقیقت کې د خپلې سیمې د عزت خاوند شخصیت و، چې له خپل قام سره یې د کامي توب د

ACKU

إكاتوب، د قوميت يا د خوښي سلسله لرله. ملاك خان له خپل بزګر لوړ نه شو بللی، دواړه د يو بل سيالان وو او دواړو له يوې کاسې ډوډۍ خوړه او له يوه جام څخه اوبه څښلې او له يو چلم څخه يې دود ايست. د افغاني قبايلي سيمې ملاك د خپل قوم د خپلې قبيلې او د خپلې سيمې يو "پلار سالار" پاتريارش مشر و، چې د ده کور، د ده چوتره، د ده درسته فکري او جسمي توانايي د خپل ولس په خدمت کې وو او په دې توګه دغه ملاك له بل ملاك سره د رقابت ميدان تود ساته، نو کله چې داسې يو پلار سالار، يو ملاك يو حان د حکومت له خوا. د بې شرمه بې حيا خلکو له خوا بې عزته کېده، ولس او حتی هغه خلك، چې حکومت هغوی ته وړيا ځمکې ورکړې وې، خان ورسره بې عزته بالـه او د حکوت پر ضد راپاڅېدل. دا ۸ نومره فرمان هم د ډاکټر نجيب په دوره کې لغو شو.

د خلق د حکومت په دوران کې يو لړ فرمانونه د سالمې ادارې د جوړولو او د ادارې د پاکسازۍ تر عنوان لاندې منځته راغلل چې په حقيقت کې دې فرمانونو سالمه اداره چې د پخوانيو قوانينو پر اساس جوړه شوې وه، ورانه کړه. په پخوانيو قوانينو کې د دې لپاره چې په اداره کې کار اهل ته وسپارل شي د ماموريت په شمول د لوړو کدرونو د ترفيع او تقاعد د مسايلو لپاره يو لړ شرايط وضع شوي وو. په ماموريت کې د شاملېدو يو شرط د ۱۲ ټولګي زده کړه وه او د لوړ بست ورکولو شرط د کار اهليت او د يوې اوږدې د کار لرل وو، خو دا چې ډېرو انقلابي ځوانانو نه د مکتب مخ ليدلی و او نه يې د کار تجربه لرله. نو د يوې سالمې ادارې لپاره دا شرايط باطل اعلان شول او انقلابي نظام د سالمې ادارې او د سالمې ټولنې لپاره يوازې يو شرط مانه چې هغه ايمان په انقلاب او متعهدتوب له انقلاب سره و. په دې ډول هغه انقلابيانو چې خپل ايمان او تعهد له انقلاب سره د نطقونو په زور په ثبوت رساوه، د دولت پر لوړو څوکيو کېنول شول. د دې کارناوړه نتايج ژر څرګند شول او دا فرمانونه يو پر بل پسې لغو شول.

د نور محمد تره کي د فرمانونو دوره څه باندې يو کال اوږده شوه او د هغه تر عبرتناك مرګ وروسته حفيظ الله امين خان قدرت ته ورساوه. امين د انقلاب درست جنايتونه د نور محمد تره کي غاړې ته واچول او داسې يې وښودل چې تر دې وروسته به داسې عدالت هېواد کې حاکم شي چې

ACKU

پسه او لېږوه به له يوې کاسې خواره شوي. د ده د دورې مشهور شعار: قانونيت، عدالت او مصئونيت و. دا شعار يوازې د شعار په شکل کې پاتې شو. هېڅوك نه کوم مسول يا غير مسول سړی پيدا شو چې دا شعار خلکو ته حتی د يوې مقالې له لارې توضيح کړي. د دې تر څنگ امين د اساسي قانون د مسودې د جوړولو لپاره يو کمېسيون توظيف کړ. خو دا اساسي قانون راونه وت او امين له ۱۰۰ ورځو حکمرانۍ وروسته د روسيې قواوو د يرغل په اثر له منځه لاړ او روسانو ببرك کارمل د هغه پر ځای کېناوه.

ببرك کارمل هم، د امين په شان، د انقلاب جنايت د خلقيانو (تره کي، امين) پر غاړه واچول او داسې يې وښودل چې د خلکو په پرهارونو به پټۍ کېږدي، خو داسې يې و نه شو کولای، يوازې دومره يې وکړل چې د خلقيانو د دورې بنديان چې اکثر يې پرچميان وو ازاد کړي. د بيرغ رنگ چې خلقيانو سور کړی و، هغه بېرته درې رنگه (سور شين او تور) کړي. د بيرغ په نښان کې چې سردار محمد اود خان د عقاب څېره راوړې وه. هغه بېرته په محراب او ممبر بدل کړي او يو نوی اساسي قانون د ۱۳۵۹ ل د وري پر ۹مه د "اصول اساسي جمهوری ديموکراتيك افغانستان" په نامه خپور کړي.

د روسانو په هدايت د حکومت هلې ځلې دا وې چې خلك د روسانو او د حکومت په مقابل کې له جگړو لاس واخلي. د دې منظور لپاره حکومت او په ځينې مواقعو کې خپله روسانو، له جهادي قوماندانانو سره د اوربند او د متقابلو مرستو قراردادونه کول. دوی ته يې امتيازونه ورکول. دوی پيسې شيندلې، جرگې، انجمنونه، اتحادیې، غونډې او سيمينارونه يې جوړول. کله چې دا درستې هلې ځلې موثرې واقع نه شوې، گرباچف د شوروي رهبر دې عقيدې ته ورسېد چې افغانستان شوروي ته د ناسور زخم دی. دوی بايد له افغانستان څخه پښې وباسي. کارمل دا نه شو منلی. دی پوهېده چې د شوروپانو د قواو وتل له افغانستان څخه د کمونستانو تباهي په افغانستان کې ده. ډاکتر نجيب الله په دې عقيده و چې که شوروي قواوې له افغانستان څخه ووزي دی به د ملي پخلاينې؛ د قدرت د شريکولو او حتی د قدرت د پرېښودلو له لارې خپله ډله وساتي همدا وجه وه چې ډاکتر نجيب الله له يوې خوا د سياسي او نظامي قدرت خاوندانو ته

بلنه ورکوله چې د دولتي قدرت په برخه کې خبرو ته ورسره کېني او له بلې خوا يې د سوسياليستي انقلاب په لاسته راوړنو د بطلان کرښه راښکله. د ډاکټر نجيب الله په دوره کې تقريباً درست انقلابي فرمانونه لغو شول. پر ۱۳۶۶ ل کال يو نوی اساسي قانون چې د کارمل د دورې او د سردار محمد داود د دورې له اساسي قوانينو لاډېر ديموکراسۍ ته متمايل و، منځته راغی.

هغو خلکو ته چې د ثور د انقلابي حکومتونو له خوا صدمه رسېدلې وه، حقوق يې تلف شوي يا اموال يې مصادره شوي وو، بېرته اعاده شول. کوم فرمانونه چې د ادارې د تنظيم په منظور د لياقت او اهليت پر ضد راوتلي وو. بېرته لغو شول. په عمومي توګه ويلی شو چې د ډاکټر نجيب دوره د تقنيني اسنادو د ماهيت او شکل له نظره يو بېرته را ګرځېدل له انقلابي سوسياليزم څخه و. خو دا بايد هېر نه شي چې په دې وخت کې شورويانو افغانستان د ځان لپاره د ناسور زخم بللی و او د هغه زمان د خارجه وزير شوردنازې په قول شورويانو د افغانستان په جهاد کې ۱۰۰ مليارده ډالره بايللي وو. سيوسياليستي حاکميت په افغانستان کې خپلې وروستۍ سلګۍ وهلې.

د ډاکټر نجيب هر يو حزبي ملګري چې د نجيب د قدرت په وخت کې د هغه تر څنګ د زمري په شان غورېده، اوس يې چې نظامي قدرت له لاسه وتلی او سقوط يې نږدې ښکارېده هڅه يې دا وه چې يو بل د نظامي قدرت خاوند پيدا کړي او د هغه تر چپنې يا څادر لاندې خپل د خوند ژوند ته ادامه ورکړي. مليشا قواوې چې د کمونيستي حکومت او د خارجي هېواد په مرسته د سيمه ييز، لساني او مذهبي اختلاف پر اساس جوړ شوې او د کمونيستانو په امر او قومانده يې د هېواد او ملت په تباهۍ کې خاصه ونډه لرله. دوی د خپل ځانګړي تشکيل په بنا د ډاکټر نجيب د دربار د ملګرو په شان و نه شړېدل او متواري نه شول، بلکې دوی هومره لا قوي وو چې د تنظيمونو د رهبرانو او مشرانو او لويو قوماندانانو هم هيله او اميد هغوی ته کېده، چې د خپلو رقيبانو په مقابل کې اتحاد ورسره وکړي.

دې حالت يو داسې هرج و مرج او يوه داسې د قدرت خلا منځته راوړه. چې په هره يوه کوڅه کې په لسګونه حکومتونه او ادارې جوړې شوې.

دا حالت د تاریخ تکرار په یوې بلې زماني او د نورو اشخاصو په وجود کې سرې ته په خاطر کې راولي چې د انیس د ورځپاڼې موسس غلام محی الدین انیس، په خپل مشهور اثر بحران و نجات کې د سقو د زوی د اداري په برخه کې لیکي: "در اداره رنگ ممکلتی مفقود است. زیرا مملکت عبارت از کابل ومحیط سه کروهی ان میباشد که این دولتک ریزه محکوم بیش از هزار اداره است. و این حکام عبارت از منصبدارهای سقو و مخصوصاً طایفه مولکین عذاب یعنی خودمختارهای ان میباشد.(۱۴)

طبیعي ده چې په داسې یوې اداري کې قوانین، نظامنامې، اصولنامې، مقررات، اساسنامې، لوایح او درست مدني اصول له منځه ځي او پر ځای یې د ځنګله قانون حاکمېږي.

*اخځلیك:*


۱- مولوي عبدالواسع: د تمسك القضات الامانیه. ۲مخ.
۲- یاد شوی اخځ. ۳ مخ.
۳- طرزي، محمود طرزي: سراج الاخبار، ۸۶ګڼه، لیندی، ۱۲۹۲.
۴- لویه جرګه پغمان، ۱۳۰۳، ۳۱۶مخ.
۵- همدا اخځ، ۱۶۹مخ.
۶- همدا اخځ. ۱۷۰ مخ.
۷- همدا اخځ. ۱۸۱مخ.
۸- همدا اخځ ۱۸۴ مخ.
۹- همدا اخځ، همدا مخ.
۱۰- همدا اخځ، ۱۸۵ مخ.
۱۱- غبار، میر غلام محمد: افغانستان در مسیر تاریخ، ۷۹۹مخ.
۱۲- انیس، غلام محی الدین: بحران و نجات، ۱۰۰ مخ.
۱۳- همدا اخځ، ۹۷ مخ.
۱۴- اهمدا اخځ ۱۰۰ مخ.


ACKU

صالحه خالقي

# په شلمه پیړۍ کې د افغانستان د ښځو د نهضت څرنګوالی

ACKU



کله چې پر ما د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا په شلمه پیړۍ کې د افغان مېرمنو د نهضت په اړه د څه لیکلو غږ وشو، نو له یوې خوا له وطن څخه د شلو کالو لېرې والي او له بلې خوا په هېواد کې دننه له افغاني مېرمنو سره د نږدې اړیکو د نه درلودو له امله، د دې دندې سرته رسول راته ګران ښکارېدل، خو له هېواده د باندې چې ځینې خپرونې مې تر لاسه کړې وې او د خپلو کړېدلو خوېندو د ژوند او د هغو د ستونزو په هکله مې لږ څه معلومات درلودل، نو د هغو کونډو

خويندو شلېدلو پوړونو، وچو شونډو او په نا اميدهٔ او بې اسرې دنياگۍ کې د دوی د ژوند سرگرداني د خپل وطن د گلالیو يتيمانو ژېړو رنگونو، چاودلو منگولو، خالي لاسونو او شيرې کړېوانونو، همداراز د هغو بورو ميندو سرو سترگو چې د وطن د خپلواکۍ د لارې د شهيد بچي په وير کې يې لاتر اوسه هم اوښکې نه دي وچې او سوې کړيکې يې له گوگله راوځي. د هغې ترهېدلې پېغلې خزان وهلی رنگ چې د ټوپك والاوو د جبر او ستم له لاسه يې د نازك بدن هډوكي لا په رپا دي. د هغو ځورېدليو او ځپېدليو كډوالو لوږې، تندې، فقر او بدبختۍ او د کړېدلي ژوند حالت چې لهشلو کالو راهيسې دوی په کې راگير او سوزي، دې ته وهڅولم چې د دوی د ژوند تصوير په تورو کرښو انځور کړم.

د دې خبرې يادونه هم ضروري گڼم چې د موادو او ماخذونو د تهيې په برخه کې را سره د وطن دوو تکړه ژورناليستانو انځور صاحب او جمال رحمن مرسته کړې ده. زه د دوی له مرستې د زړه له کومي مننه کوم او که د لوستو په جريان کې زما ځينو تونډو خبرو ستاسې احساس ژوبل کړ، نو هيله ده و مې بښئ؛

کله کله د حق ويل پر چا بد نه لگېږي، اورې يې او پر خپلو اشتباهاتو اعتراف کوي، خو ځينې داسې کسان هم شته چې د حق ويلو په وخت کې يې دواړه لاسونه غوږو ته ټينگ نيولي وي، نه يوازې دا چې پر خپلو اشتباهاتو اعتراف نه کوي، بلکې تا هم ملامتوي. چې ولې تا له ما سره ناحقه لار نه ده تعقيب کړې او لاهم د کږو لارو مزل وهي.

که موږ دا حقيقت و نه منو چې نړۍ د يوه داسې پرمختگ او ترقۍ پړاو ته رسېدلې چې ځمکه يې پرېښې او اوس په ستوريو کې د

ر سوسي ژوند امکانات ځېږي او يوازې موږ افغانان يو چې په خپله مو د خپل پرمختګ په لار کې د بې ځايه توجيهاتو او ناوړه دستورونو له امله خنډونه جوړ کړي او د تکنالوژۍ په دې مدرن عصر کې موږ د منځنيو پېړيو په تورو تيارو کې ژوند کوو. نو هوښياران او د حق اورېدونکي به له ما سره هم نظره وي، خو څوك چې حق نه مني او نه يې اوري کېدای شي زما دغه خبرې ورته ترخې ښکاره شي.

مخکې تر دې چې "په شلمه پېړۍ کې د افغانستان د ښځو د نهضت د څرنګوالي" په هکله څه وليکم، پر دې موضوع لنډه رڼا اچول ضروري ګڼم چې په نړۍ کې د اسلام د مبارك دين تر راتلو دمخه له ښځو سره څه سلوك کېده؟ دا ځکه چې زموږ د هېواد ځينې روښانفکران(!) په دې نظر دي چې اسلام د ښځو د نهضت خنډ دی؟[1]

په داسې حال کې چې د اسلام د پاك دين له ظهور سره ښځو په اسلامي ټولنه کې خاص درېځ غوره کړ. تر اسلام دمخه له ښځو سره غير انساني چلند کېده. د ښځو بدمرغي له هغه وخته پيلېږي چې د دوی برخه په توليدي چارو کې لږه شوه، بهتر ده ووايو: کله چې انسانان د صحرايي ژوند له بهير څخه خلاص او ځانونو ته يې استوګن ځايونه جوړ کړل، ځکه تر هغه پخوا به ښځه له خپل سړي سره يو ځای ګرځېده او يو ځای به يې له دښمنانو سره مقابله کوله. کله چې موروواکي ختمه شوه، همدا وو چې ښځې خپله خپلواکي له لاسه ورکړه او د بردې (وينځې) په توګه وپېژندل شوه، چې ان وروسته لرغونو مدنيتونو هم ژغورلای نه شوه.

په برهمني مذهب او هند کې به د مېړه تر مرګ وروسته ژوندۍ سېځل کېدې، په دې مانا چې له دوی څخه د ژوند کولو حق غصب شوی و.

عربو به د نجونو زېږېدنه عار ګڼله او هغوی به یې ژوندۍ ښخولې.
په مصر کې به چې کله د نیل د دریاب اوبه لږې شوې، نو یوه ښکلې به یې سینګار او په نیل کې به یې لاهو کړه، چې په دې توګه د سیند اوبه ډېرې شي.
په افریقا کې به ښځې د څارویو په څېر ډله ډله د تبادلې لپاره بازارو ته وړل کېدې او یو سړي به چې هر څومره ښځې غوښتې - کولای یې شول، په دې بازار کې یې تر لاسه کړي او حتی له دوی څخه یې د څارویو پر ځای د ځمکې د قلبې لپاره کار اخیسته.
په ایران کې د کورنیو اړیکو د ټینګ ساتلو په منظور یې د محارمو وصلت جواز ګڼله، چې حتی ځوانانو به له خپلو خویندو سره واده کاوه. په ایران کې دغه ناروا عمل روا ګڼل کېده(۱)
همدا راز د ښځې ژوند په (کلده) او (آشور) کې ډېر دردوونکی و، ښځې خپله خپلواکي نه درلوده، د څارویو په څېر له یو نه بل ته انتقالېده، او که لږ خطا به یې وکړه، هغه به یې وژله.
په یونان کې هم له ښځو څخه خپلواکي سلب وه او په بازار کې به پلورل کېدې، ارسطو به د ښځو په باب ویل: "ښځه باید د نر تابع وي، ښځه خپله اراده نه لري." (۲)
نو کولای شو ووایو چې د مسیحیت په پرتله کله چې د اسلام مبارک دین خپلې وړانګې وځلولې. د ښځو مقام داسې لوړ شو، چې نورو ادیانو، مذهبونو او قوانینو هېڅکله هم نه و ورکړي. د اسلام دین نه یوازې د ښځو غصب شوي حقوق بېرته ورکړل. بلکې بشري ټولنې ته د ژوند په نورو چارو کې انساني حقوق وضع او یو پر بل باندې تېری او ظلم یې ناروا وباله.
اوس غواړم، خپلې اصلي موضوع ته راوګرځم.

زمـوږ د هـېواد د ښځو ژونـد هـم زمـوږ د لرغونـي تـاريخ پـه څېر ډېرې لوړې او ژورې تېرې کړې او ډېر خندونه يې مخې ته اچول شوي دي.

تـر ټولـو ډېره د خواشـيني وړ موضـوع د هغـو د دريـغ څېرل دي چـې لـه پېړيـو پېړيـو راهيسـې پـه حرامسـرايونو او جـګو کلاګانـو کـې زېږېدلـې، لويـې شوې او هلته مړې شوې دي. مانا دا چې: ښځه يـا پـه کـور ده يـا پـه ګور.(۳)

زمـوږ پـه ټولنه کې هم ښځو نـه پخوا کـوم ارزښتنـاک دريـغ درلـود او نـه يـې اوس لـري. څوک يې د کـډې او کـوچ پـه نامـه يـادوي څوک ورتـه سـياه سـره، کـم عقلـه، عـاجزه او يـا نـاقص العقلـه وايـي، چـې دغـو خـبرو زمـوږ د تـاريخ پـه اوږدو کـې زمـوږ پـر ټولنـيز ژونـد ژور اغـېز کـړی دی. همـداراز ښځې پـه افغانسـتان کـې د اقتصـادي او ټولنـيزو فعـاليتونو څخـه لـرې پـاتې شـوې او دغـه لـرې والـې د ښځو د محکوميـت سـبب ګرځېدلـی دی، چـې پـه کلتـوري، اقتصـادي او سياسـي تحولاتـو کـې د ښځو د کمزورتيـا سـبب شـوی دی.

کـه څه هـم زمـوږ د هـېواد ښځې پر مظلوميـت او بـې ګناهـی سـربېره رټل شوې او لـه خپلو حقـه حقوقـو څخـه محرومـې شـوې. د زده کـړې حق يـې غصـب شـوی، پـه کليـو او بانډو کـې لکـه د څارويـو پـه څېر پلـورل شـوې. ګڼـه هـم د پلرونـو او ډېر ځلـه د خپلـو وروڼو د واده پـه بـدل کـې بـړلـه خپلـې خـوښې زوړ او ځوان تـه واده شـوې، خـو دوی بيـا هـم د دغـو ټولـو سـتونزو لـه زغـم سـره سـره خپـل شـهامت لـه لاسـه نـه دی ورکـړی. ښه او زړور اولاد يـې روزلـی او لـه خپـل مـېړه سـره يـې اوږه پـر اوږه د ژونـد سـړې او تـودې ګاللـې دي او پـه پـوره حوصلـه او مېړانـه د دې ټولـو سـتونزو او محدوديتونـو پـه زغملـو پـه ادبـي فعـاليت کـې بـې برخـې نـه دي پـاتې او د خپلـو تـالاو نيمګړيـو ارمـانونو د تـودو جذبـاتو او ژورې مينـې څخـه د محروميـت پـر غلبلـو سـربېره يـې خپلـو اشـعارو او ادبـي ټوټو تـه لـه سـوز نـه ډکـې رنګينـی ښښلـې دي. چـې دوی حماسې زموږ پـه لرغوني تـاريخ کې پـه زرينـو کـرښو کـښل شوې دي.

کـه څوک زمـوږ د هـېواد د لرغونـي تـاريخ، دود او دوسـتور سـره اشـنايي ولـري، نـو ورتـه جوتـه ده چـې افغـاني مېرمنـو لـه محروميتونـو ډک ژونـد تـېر کـړی او همـدا اوس يـې هـم تـېروي. د دوی پـر مـخ د معـارف دروازې تړلـې دي د کـور پـه څلـورو دېوالونـو کـې بنديوانـې او د ژونـد لـه ډېرو مزايـاوو څخـه محرومـې دي.

يـوازې او يـوازې د اولادونـو روزنـه او د کـور د چـارو سـرته رسـول د دوی
ده وه او بس، چې دا په حقيقت کې د تـاريخ تـراژيـدي وه.

د همدې تـراژيـدی. د پـای تـه رسـولو او پـه ټولنيزو چارو کـې افغـان زړورو
ېرمنو تـه برخـه ورکـول، پـه تـېره بيـا د دوی د سـواد او زده کـړې لپـاره لومـړی
ګام پـه هـېواد او ترقـی. مين د وخت پـاچـا غـازي امـان الله خـان او مېرمـن يـې
ملکـې ثريـا پورتـه کـړ. کـولای شـو ووايـو چـې دوی د افغانسـتان د ښځو د
نـهضت بنسټ ايښودونکي وو. سره لـه دې چې د هغـه وخت د شـرايطو پـه پـام
کې سـاتلو سـره هغـو اقدامـاتو تـه تـاريخ ليکونکـو د يـو "افـراطي" ګام پـه تـوګه
کتلـي دي او دا يـې يـو داسـې ګام ګڼلی چې افغـاني ټولنـه يـې منلـو تـه لانـه وه
چمتـو او د امـان الله خـان پـر ضـد د اړ و دوړ د هنګامـو پـه تودولـو کـې تـرې
ډېره منفي نتيجـه هـم واخيسـتل شـوه.

کـه څه هـم د شلمې پـېړی. پـه پيـل کـې چې امير حبيب الله خـان مدرنې زده
کړې رايجې کړې، بيـا هـم دغـه تحـول د هلکـانو پـه ژونـد کـې راغـی او نجونـې
ور څخـې محرومـه وې.(۴)

کلـه چې امان الله خـان د خپـل پـلار تـر شـهادت وروسـته د ۱۹۱۹کـال پـه
فـبروری. کـې د هـېواد د چـارو واګـي تـر لاسـه کـړل، د نجونـو لپـاره د زده کـړې
او تحصيـل د سيسـتم رامنځتـه کـول د ده د ټولنـيزو اصلاحـي پروګرامونـو پـه
لومړي سر کې وو. پـه داسـې حـال کـې چې اعليحضرت غـازي امـان الله خـان د
هـېواد د پرمختيـا او ترقـی. لپـاره پـه ډېره چټکـی. اصلاحـي پروګرامونـه پـر مـخ
بـيول. د ښځو د سـواد او زده کـړې پـروګرام هـم د لومـړي څل لپـاره ده پـه
هـېواد کـې عملـي کـړ. چـې د پوهنـې وزارت د ده پـه وخـت کـې د (نظـارت
معـارف) پـه نامـه يـادېده، پـر ۱۹۲۰ کـال يـې ډېر ګټور پلانونـه او پرېکـړې
سرته ورسـولې.

پـه خاصـه تـوګه د نجونـو د ښوونـځي پـروګرام چـې د نسـوانو د ښوونـځي
پروګرام په نامه يادېده، د هغـو پلانونـو لـه جملې څخـه وو چې د جـون پـر ۷مـه
نېټه د انجمن علميه په لومړی. غونډه کې پـه دقيقـه تـوګه بحث او خبرې پـرې
وشوې، چې بيـا د دې غونـډې د خبرو عمـده حـاصل او ګټه وروسـته پـه (امـان
افغـان) کې خپـره شـوه او تـر اووه مياشتو وروسته بيـا همدغـه اخبـار د نجونـو
د لومړي ښوونځي د پرانيسـتل کـېدو خبر خپـور کـړ.

ACKU

داسې مطلقه ابتکار چې د افغاني ښوونې او روزنې په سیستم کې غازي امان الله خان د خپل واك تر دوو کالو په لړه موده کې رامنځته کړ، د همدې انجمن د اتلسو غړیو له خوا تایید شو.(۵)

پخوا تر دې چې د مستوراتو د ښوونځي د څرنګوالي په هکله څه ووایم، ښه به دا وي چې غازي امان الله خان ته د ښځو د نهضت د انګېزې سبب په لنډ ډول وڅېړو:

د شلمې پېړۍ په پیل کې چې امیر حبیب الله خان د پخواني رژیم د تبعید شویو کسانو د عفوې اعلان وکړ، نو محمود طرزي له یو شمېر تازه او واقعي فکرونو او نظریو سره چې د خپلې استوګنې پر وخت یې د عثماني امپراتورۍ په وخت کې تر لاسه کړي وې، له خپلې کورنۍ سره هېواد ته راستون شو. ده خپلې ټولې نظریې د راز راز موضوعاتو لکه: ملي خپلواکۍ، علوم، د تنکالوژۍ پرمختګ، د مسلمانانو یووالی، د پوهې زده کړې، د ښځو دنده، کورنۍ او ټولنیز ژوند، د ښوونې او روزنې په هکله د سراج الاخبار په خپرونه کې د ۱۹۱۱ -۱۹۱۸ پورې چې د امیر په اجازه نشرېده، خپاره کړل.(۶)

شهزاده امان الله خان نه یوازې د طرزي له پلویانو څخه و، بلکې له ده سره یې د خپلوۍ اړیکې ټینګ او د نوموړي له درېیمې لور ثریا سره یې واده وکړ. له هغې کورنۍ سره چې ده خپلوي کړې وه، د کابل له ټولنې سره یې بېخي توپیر درلود. دوی غربي کالي اغوستل رواج کړل.(۷)

د طرزي کورنۍ یوازې یوه باسواده او ادیبه کورنۍ نه بلکې په خپله د تفکر او اندیشو ښوونځی و. ځکه اسماء رسمیه د محمود طرزي مېرمن، هم یوه پوهه او منوره مېرمن وه او خپلې زده کړې یې د عثماني امپراتورۍ پر وخت په دمشق کې سرته رسولې وې او هیله یې درلوده چې په افغاني ټولنه کې ښځو ته عادلانه دریځ ورکړ شي.(۸)

دغې مېرمن د خپلو لوڼو لپاره یو نوی ښوونځی جوړ کړ، چې تر هغه وخته زموږ په هېواد کې موجود نه و. ملکې ثریا او خویندو یې له مور او پلار څخه په کور کې زده کړه کوله. نو کولای شو ووایو چې د دربار د دغه ابتکاري عمل په رامنځته کولو او سرته رسولو کې د شاهي کورنۍ ښځو لویه برخه درلوده.(۹)

ACKU

## د مستوراتو ښوونځی

په ۱۹۲۰م کال د وخت ملکې "ثریا" د ښځو په یوه غونډه کې د زده کړې او پوهنې په ارزښت د نړۍ د ښځو پر پرمختګ او د افغاني مېرمنو په وروسته پاتې والي خبرې وکړې او په همدې غونډه کې پنځوس تنه افغاني مېرمنې حاضرې شوې چې د نجونو د ښوونځي په جوړولو کې برخه واخلي او په خپله خوښه خدمت وکړي، ملکې ومنله چې دا به د دغه ښوونځي د تفتیش چارې په خپله تر سره کوي.(۱۰)

د مستوراتو ښوونځی په مرکز کې جوړ شو او د "بوستان سرای" (اوسني زرنګار پارك) یوه برخه یې د نجونو لپاره ځانګړې کړه.(۱۱)

د مستوراتو ښوونځی د ۱۲۹۹ کال مرغومي پر ۱۹مه (۱۹۲۱، جنوري، ۹) د دوشنبې پر ورځ پر دوو بجو پرانیستل شو او دغه خبر هم په امان افغ ان کې خپور شو. (۱۲)

ملکې د امیر امان الله خان د خپلې مور اسماء رسمیه او پلار محمود طرزي په ډاډګیرنه د دې ښوونځي د مفتشۍ او ریاست چارې پر مخ بیولې او د ښوونځي مدیره اسماء رسمیه د ملکې ثریا مور او مشرې خور یې (خیریه) د مدیرې د نایبې دندې تر سره کولې او دا هغه ډله وه چې د ښوونځي ډبنسټ ایښودلو څخه تر پایه پورې د چارو په پرمخ بیولو کې برخه درلوده.

د زده کوونکیو شمېر پنځوس تنو ته رسېده او ډېره برخه یې د شاهي کورنۍ کوچنۍ نجونې او پېغلې وې.(۱۳) خو د اداري او درسي سیستم په هکله تر اوسه هم ثقه او نړه معلومات نه شته.(۱۴)

د ښوونځي د پرانیستلو پر وخت ملکې د ښوونځي مدیرې، مرستیالې او یوې ښوونکې له سوز نه ډکې تاریخي ویناوې وکړې او راغلیو ښځو او نجونو ته یې د زده کړې او پوهې پر ارزښتونو رڼا واچوله او د خپل ځوان پاچا د روغتیا، اوږد عمر او په خپلو هیلو کې یې د ده د بریالیتوب دعا وکړه. خو په خواشینۍ سره باید ووایو چې د ده هلې ځلې او هیلې نیمګړې پاتې شوې او د واکدارۍ عمر یې لنډ و او کله چې د معارف دغه بڼ ژر غوټۍ وسپړلې نو ډېر ژر هم توندو سیلیو دغه تنکۍ غوټۍ ورژولې او د دوی په لاسو کې یې د علم او معرفت ځلانده ډیوې تتې کړې.

ACKU

محافظه کاري ډلې چې د شاه امان الله خان له اصلاحي پروګرامونو سره سخت مخالفت ښوده. بيا يې غوښتل چې د ټولنې ښه روزونکې د کور په څلورو دېوالو کې بند کړي. د دغو محافظه کارانو تر شا بې له شکه چې د انګريزانو لمسونې هم بې څه نه وې، ځکه انګرېزان دې خبرې ته ښه متوجه وو چې کولای شي، چې په دغو تکيو سره د امان الله خان پر ضد يوه عامه کرکه هم را وپاروي.

امير ډېر ژر په پغمان کې يوه لويه جرګه جوړه کړه، چې د دغه پاڅون د حل لاره پيدا کړي.

په حقيقت کې د دغو محافظه کارانو د سخت فشار له امله د شاه د اصلاحاتو هغه مادې چې محافظه کارانو ورسره مخالفت کاوه، تر خبرو اترو او څېړنې لاندې ونيولې چې له دې جملې څخه له کوره د باندې د نجونو زده کړو او د چادري موضوع د خبرو او بحث په صدر کې وه.(۱۵)

د لويې جرګې د بحث او خبرو په ترڅ کې غازي امان الله خان داسې دلايل وړاندې کړل، چې يو له هغو څخه د نبوي حديث (طلب العلم فريضه على کل مسلم و مسلمه) يادونه وه او هم دا چې ښځې ته نه ښايي د نادانۍ په تورو تيارو کې وساتل شي. ځکه هغه په کور کې د خپلو ماشومانو ښوونکې ده.

همدا راز د چادري په سر کول هم دومره د اندېښنې وړ خبره نه ده، ځکه چې د مستوراتو ښوونځی د امن ځای او ښوونکې يې هم ښځې دي. له بلې خوا يې د داسې اسلامي هېوادونو مثال وړاندې کړ، چې په هغو کې د علماوو له موافقې سره د نجونو لپاره ډېر ښوونځي جوړ او هغوی په کې زده کړه کوي.(۱۶)

دې سرسره بيا هم محافظه کاران په غونډه کې د خپل ټينګار له امله په دې بريالي شول چې د نجونو ښوونځی دې وتړل شي او دغه لوی غضب د افغانستان د ښځو د اميدونو نړۍ ونړوله. مګر له دې بنديز سره سره دوطن زړورو پېغلو خپلې مبارزې پيل کړې او له يوه درونډ خوب څخه وېښې شوې او په ټولنيزو چارو کې د خپل استعداد په ارزښت سره يو شوې وې، نو د يوه الماني له قوله چې S.Beck نومېده او په خپله د حالاتو ناظر و، له دې بنديز سره سره يې درې مياشتې وروسته د ښوونځي نجونې په واټونو کې ليدلې وې، چې د مستوراتو ښوونځي ته نه بلکې شاهي

قصر ته رواني وي او هلته يې د باندينيو چارو وزارت د بڼ په يوه برج کې چې کمپونير په نامه يادېده د څه وخت لپاره بېله دې چې د ښوونځي د ترلو او يا پرانيستلو خبر په کومه جريده کې خپور شي، زده کړو ته دوام ورکړ، چې له دغو نجونو څخه ځو تنو چادري او ځو تنو مخ لوڅې او رنګه جرابې يې پر پښو وې.(۱۸)

له دې څه پوهېدای شو چې پر علم او پوهه مين شاه امان الله خان د محافظه کارې ډلې له پاڅون او احتجاج سره سره د وطن پېغلې او لوڼې د علم په رڼا سمبالولې او هم د وخت نجونو او مېرمنو خپله مبارزه د جهل او ناداني په مقابل کې پيل کړې وه اوس نو دوی د خپل معارف غوښتونکي پاچا په ډاډ پر مخ تلې او هېڅ خنډ ته يې خاصه پاملرنه نه کوله. دوی نو هر راز سربښندنې ته تيارې وې.

د مستوراتو ښوونځی پر ۱۹۲۶م کال له ابتدايي څخه [رشيديه] (متوسطې) ته لوړ شو او د يوه عيني شاهد له قوله د زده کوونکيو شمېر يې (۳۰۱) تنو ته ورسېده، چې له دوی څخه (۲۰۹) تنو ابتدايي او (۱۰۱) تنو متوسطه زده کړې کولې.(۱۹) او د يو بل عيني شاهد له قوله چې پر ۱۹۲۸م کال يې د زده کوونکيو شمېر (۸۰۰) تنو ته ورسېد.(۲۰)

د نجونو د ښوونځي نصاب د هلکانو د ښوونځي نصاب و. همداراز د کابل ښار په مختلفو برخو کې د هلکانو ښوونځي پرانيستل شول او لکه څنګه چې امان افغان ليکي پر ۱۹۲۸م کال په ولاياتو کې هم د ښوونځيو شمېر ۱۲۸ ته ورسېد.

له هغو دريو ښوونځيو څخه چې په کابل کې د نجونو لپاره پرانيستل شوي وو، يوازې د مستوراتو ښوونځي چې خپله ملکې ثريا په کې دنده تر سره کوله، د دوو نورو په هکله چې يوه يې عصمت نومېده خاص معلومات نه شته.(۲۱)

همدا راز د پوهنې وزارت اعلان وکړ، چې په کابل کې د نجونو يو بل ښوونځی پرانيستل کېږي او کورنۍ کولای شي په خپله خوښه د خپلو لوڼو نومونه ثبت کړي. نو ښکاره وه چې امير امان الله خان په نظر کې درلودل چې د مستوراتو ښوونځی به د نجونو يوازيني ښوونځی نه وي. بيا ډېر وروسته د چنداولو په برخه کې د نجونو يو بل ښوونځی د سه دکان په نامه پرانيستل شو. سرمعلمه يې رابعه نومېده او د منشي نذير خان لور وه.

که په هېواد کې د جهل او ناداني توري تیارې خپله لمن نه وای خپره کړې او د نجونو زده کړه شرم او عام نه ګڼل کېدای، نو په جرئت سره ویلی شو، چې د امیر امان الله خان اصلاحي پروګرامونه به نور هم ګړندي او پرمختللي وای او افغانستان به اوس د نړۍ د ډېرو پرمختللیو هېوادونو په کتار کې ولاړ وای. مګر موږ خپلې ناپوهۍ او ناوړو دستورونو نور هم د جهل او نادانۍ کندې ته وغورځولو.

د غازي امان الله خان هڅې د افغانستان د ښځو د نهضت لپاره یوازې د مستوراتو او تر دوه درې نورو ښځینه ښوونځیو پورې نه وې تړلې، بلکې اسماء رسمیه د محمود طرزي مېرمن د خپل مېړه د پلانونو په تګلار کې د ښځو لپاره د یوې ځانګړې خپرونې د خپرولو تیاری ونیو، چې خپله یې د دغې خپرونې د مدیریت دنده درلوده او د جریدې په سر کې خپل او د مرستیالې نومونه په مخفف ډول لیکل کېدل.

دغه نشریه د "ارشاد النسوان" په نامه یادېده چې د مستوراتو د ښوونځي تر پرانیستل کېدو دوه میاشتې وروسته (۱۲۹۹ د کب په میاشت کې خپره شوه). له دې ځخه جوتېږي، چې که څه هم په هېواد کې د ښځو د اصلاحي پروګرامونو له عملي کولو څخه څو کاله تېر شوي وو، مګر بیا هم ښځې لا په دې موقف کې نه وې، یا یې ځانونه د ټولنیزو ستونزو له امله مصئونیت نه احساساوه، چې په لیکنو او شعرونو کې یې د خپلو نومونو مخفف لیکه.

په دې نشریه کې د هېواد په هکله دننني او باندینۍ خبرونه خپرېدل، خو د نشریې د مطالبو اصلي محور د ښځو نړۍ وه. چې دا دی اتیا کاله وروسته په داسې حال کې چې د افغانستان ډېرې مېرمنې کونډې او په ځانګړې توګه په ګاونډیو هېوادونو کې د ذلت، اهانت او خواریو ډک ژوند تېروي. په اروپا، امریکا او استرالیا کې د افغاني مېشتو مېرمنو ونډه په مبارزو نشریو او نورو ټولیزو چارو کې (د هېواد په اړوند) د ګوتو په شمېر ده.

د شاه امان الله خان د سلطنت په وخت کې په روغتیایي برخه کې هم بدلونونه راغلل او د مستوراتو د ښوونځي تر څوا د ښځو لپاره د مستوراتو روغتون د لومړي ځل لپاره د ۱۹۲۴ع کال په جنوري کې پرانیستل شو. د روغتون په راس کې د امیر امان الله خان د کورنۍ غړیو

ونډه درلوده، په لومړي سر کې د سراج البنات د امیر خور، بیا اخت السراج د غازي امان الله ترور (عمه) او بله سردار بېګم د امیر د تره لور وه.
د روغتون ودانۍ د سراج البنات ملکیت و، په دې روغتون کې دوو تنو ښځو ډاکترانو او دوه تنه یوې المانې او یوې ایټالوۍ قابلې او یوې ایټالوۍ نسایي ډاکترې (Dr. Regnoli) کار کاوه. چې د خلکو د زیاتې خوښۍ او تشویق سبب شو، ځکه تر دې وخته په کابل کې دوه روغتونونه یو یې عسکري او بل یې ملکي و، چې ناروغه نارینه او د واکسیناسیون په وخت کې ماشومان هم دوا درمل کېدل او ښځې د روغتون له تګ څخه محرومې وې.(۲۲)
تر ملکې ثریا درې کاله وروسته سراج البنات په خپلې افتتحایه وینا کې چې په امان افغان کې خپره شوه، خپله خواشیني د ښځو حال ته د نه پاملرنې له امله څرګنده کړه او د داسې موسسو پرانیستل چې ښځو ته له کور څخه د وتلو موقع برابروي، لکه د مستوراتو ښوونځی، د مستوراتو روغتون او د نساجي دستګاه چې اخت السراج د باقرخان په کلا کې په خپلې شخصي ودانۍ کې جوړه کړې وه او یوازې ښځې په کې استخدام کېدې، د قدر وړ وبلله.(۲۲)
د ښځو د نهضت په اړوند نور ابتکاري وړاندیزونه هم اورېدل کېدل، چې یو شمېر یې د دربار پر ښځو پورې اړه درلوده.
د مجلسونو او غونډو په جریان کې د ښځو ټاکل د وکیلانو په توګه د یوه ستر بدلون پیل و، چې د دغو انتخاباتو لپاره خاص ځای ټاکل شوی و او افغاني مېرمنو ته د پغمان په سینما کې په درېیمه لویه جرګه کې د لومړي ځل لپاره د ګډون حق ورکړ شو، چې د نارینه وو تر څنګ د هېواد په اړوند د پرېکړو په ډېره عالي مرجع کې ځای ونیسي.(۲۳)
د ښځو د وکیلانو دغه ډله د انیس له خوا خلکو ته ور وپېژندل شوه، خو دغه پېژندنه نیمګړې ده، ځکه دوی په خپلو نومونو، نه بلکې د خپلو مېړونو او یا زامنو ته منسوب نومونو پېژندل شوي دي.(۲۴)
د افغانستان په جوړونه او بیا رغاونه کې ولیدل شول چې د شلمې پېړۍ په پیل کې د ښځو نهضت ډېر پرمختللی و، خو دغه پرمختګ له یو آني سقوط سره مخ شو.

د ښځو نهضت چې د اصلاحاتو د پلان لویه برخه یې جوړوله او د هغې د پلي کېدو له امله له یوې ضایعې سره مخامخ شو، لکه څنګه چې محافظه کارې ډلې د پاڅون له امله د مستوراتو ښوونځی د څه وخت لپاره وتړل شو، تر هغه چې پاڅون غلی شو او وروسته د مستوراتو روغتون او ښوونځي بېرته خپلې هڅې پیل کړې او په ډېر احتیاط زده کوونکي زده کړو او ناروغان د درملې لپاره رغتون ته تلل.

دویمه وقفه د شاه او ملکې په غیاب کې وه، چې ډېر زیات ناوړه عواقب یې درلودل. د حجاب د له منځه وړلو اعلان چې خپله ملکې په ملي مجلس کې حجاب له منځه وړی و- بد او منفي اثر وکړ، چې د اصلاحاتو د راوستو مخالفین او د غرب د نفوذ په مقابل کې دا ټینګار چې زیاتره په پلازمېنې کې لیدل کېده د علماوو د سختې غندنې وړ وګرځېد. دغه غندنې زیاتره د ښځو د ژوند په بدلونونو، د دوی د زده کړې او د حجاب د له منځه وړلو په اړوند وې.(۲۵)

که څه هم انیس په خپلو خپرونو کې وویل چې اماني لس کلنه دوره د ښځو د ازادۍ د اعلان ویاړ لري او ښځې یې په څرګنده د حجاب له منځه وړلو ته راوبللې او په خپلو مقالو کې یې د ښځو حقوق په اسلام کې په تفصیل سره یاد کړل او بیا یې ښځې راوبللې چې د ترقۍ او پرمختګ د دښمنانو خبرو ته دې غوږ ونه نیسي، مګر نه د شاه ارادې او نه د هغو شمېر خلکو پلوي چې هدف یې د هېواد پرمختیا او د ښځو په نهضت کې د بدلونو د راوستو غوښتونکي وو، د محافظه کارو مخالفینو د مخالفت توان نه درلود.

په دې توګه نو هغه نوښتونه چې غازي امان الله خان د ښځو د نهضت په اړه په افغانستان کې تر سره کړل، سره له دې چې له زړه سوي او ښه احساس څخه ډک وو، خو له بده مرغه چې د وطن له حالاتو سره په دقیقه توګه نه وو سنجول شوي او له همدې کبله یې منفي اثرات زیات راوځلېدل او نه یوازې دا چې دغه نوی راټوکېدلی نهضت یې په مرۍ کې ونیو، خپله د غازي امان الله خان د واکمنۍ تخته یې هم ژر چپه کړه.

## په بهر کې د نجونو زده کړه

امان الله خان چې پر ۱۹۲۸ع کال د بهر له شپږ میاشتني سفر نه وروسته هېواد ته راستون (۲۶) د هېواد د ډېر ښېړني پرمختګ هیلې ورسره پیل شوې وې او له دې ډلې نه یې غوښتل چې د هېواد ښځې او نارینه لکه د نورو هېوادونو غوندې یو د بل تر څنګ د هېواد خدمت او هېواد ته کار وکړي.

امان الله خان د ۱۳۰۷ل کال په لویه جرګه کې چې د ورې په میاشت کې شوې وه، خپل ځینې پروګرامونه وړاندې کړل، خو و نه منل شول، نو بیا یې د همدې کال د تلې پر پنځلسمه نېټه د کابل د ستوري په ماڼۍ کې د خپلو اصلاحاتو پروګرام اعلان کړ، چې په دې پروګرام کې بهر ته د زده کړې لپاره د نجونو لېږل هم شامل وو او په همدې میاشت کې ترکیې ته د افغاني نجونو یوه دیارلس کسیزه ډله ولېږل شوه، دا ډله د مشرقي په لاره هند او له هغه ځایه ترکیې ته لاړه. د افغانستان دښمنانو له یوې خوا او د امان الله خان بېړنیو او ناسنجول شویو اقدماتو له بلې خوا د حکومت د بدبینۍ په باب هنګامې خپرې کړې او د نجونو دې لېږلو د خلکو په ذهن کې دا اوازې نورې هم رښتیا کړې، په همدې لړ کې د ننګرهار سنګو خېلو شینوارو ته خبر رارسېدلی و، چې امان الله خان افغاني نجونې د تحصیل لپاره لېږي او د تورخم پر لاره به له افغانستان څخه وزي، دوی دا کار د اسلامي عفت او افغاني حیثیت مخالف وباله او تړه یې وکړه چې نجونو ته به لار نیسي او راګرځوي به یې، له دوی نه د نجونو د وتلو پروګرام غلط شو او یا قصداً پروګرام ور کړ شوی و، نو داسې وخت سرك ته ورسېدل چې نجونې په لاره تېرې شوې او له افغانستان څخه وتلې وې. دوی و قهرېدل او د همدې کال د لړم پر اوومه نېټه یې پر خپل محلي حکومت حمله وکړه، دولتي ټوپك یې تر لاسه کړل او بیا یې پراخه بغاوت ته دوام ورکړ، چې په نتیجه کې جلال آباد سقوط وکړ.

په هر حال د وخت حکومت خپل د اصلاحاتو پروګرام بېرته واخیست او د وخت پاچا وویل چې: "نجونې مې بېرته راغوښتې دي."

د همدې فرمان په ۱۶ ماده کې د مستوراتو د ښوونځي په باب ولیکل شول: "د مستوراتو مکتب د علماوو په فتوی جوړ شوی و، خو اوس دې د وکیلانو د مجلس او د اعیانو د مجلس تر پرېکړې معطل وي.(۲۸)

تر دې وروسته د ۱۳۰۷ (۱۹۲۸) کال د مرغومي پر ۲۴مه نېټه د غازي امان الله خان حکومت را وپرځول شو او د سقاو د زوی لاس ته ولوېد او د تاریخ یوه بله تراژیدي پیل شوه، څکه هېواد د داسې یو چا په لاس کې ولوېد چې له سواد څخه محروم و. د ده د حکومت په لنډه موده کې نه یوازې د ښځو نهضت په تپه ودرېد، بلکې د هېواد سیاسي چارې یې هم نه شوې سمبالولای.

د سقاو زوی د یوه فرمان په پنځمه ماده کې د نجونو مکتب په دغو الفاظو وتړل شو: "له کور نه د ولي له اجازې پرته د بالغو نجونو او ښځو وتل او د مستوراتو مکتب مې موقوف کړ.(۲۹)

په دې سربېره یې په یوه بله همداسې مقرره کې چې په حبیب الاسلام کې خپره شوې په مطلق ډول د ټولو ښوونځیو تړل اعلان کړي دي چې لیکي: "مدرسې مې وتړلې، څکه د ولس زامنو چې شراعاً د بالغو نجونو حیثیت لري په دې مکتبونو کې داسې درسونه چې د شرعي علم او د قرآن د احکامو زده کړه پرې مرتبه نه وه- ویل.(۳۰)

په دې ترتیب په دې دوره کې نه یوازې د نجونو بلکې د هلکانو ښوونځي هم وتړل شول او څه کم یو کال همداسې تېر شو.

او یو کال جهل، نادانی، بې عدالتی، غلا، چور او چپاول د ظلمت توره لمن زموږ پر بمېوزلو خلکو خپره کړې وه.

د ۱۳۰۸ ل کال د تلې پر ۲۲مه نېټه د محمد نادر شاه په پاچاکېدو سره د دولت د ادارې د بیا رغاونې کار په هر اړخیز، توګه پیل شو او د هلکانو د ښوونځیو تړل شوي ورونه د نادري دولت د راتلو په لومړیو ورځو کې بېرته پرانیستل شول. د افغانستان د پوهنې په عاجله بیارغاونه کې د را پېښو شویو ستونزو له امله د نجونو زده کړې بیا هم دوه کاله وځنډېدې.

پر ۱۳۱۰ل کال د نجونو د زده کړو د بیا پیلولو یوه بله لار ولټول شوه او د مستوراتو په روغتون کې د نجونو لپاره د قابلګۍ کورس پرانیستل شو، چې د یوې فرانسوۍ ښوونکې له خوا اداره کېده.(۳۲)

د دې تر څنګ د نجونو پخوانی ښوونځی هم پرانیستل شو، پر ۱۳۱۹ کال دا کورس په ښوونځي واوښت او پر ۱۳۲۰ل کال دا ښوونځی د نجونو په لېسه بدل شو.

د افغـانـي مېرمنـو د زده کـړو او فرهنـګي ودې د پرمختيـا لپـاره پـه ۱۳۲۶-۱۳۲۷ کـال کـې خاصـه پاملرنـه وشـوه او پـه دې لاره کـې هـر اړخيزه هـڅې وشـوې، څکـه د مستـوراتو د ښوونـځي تـر څنـګ د اندرابيـو د نجونـو لومړنـي ښوونـځي هـم لېسـې تـه ارتقـا وکـړه او د نجونـو زده کـړې لهپلازمېنې څخـه ولايـاتو تـه هـم وغـځېدې او د هـرات د وخت نـائب الحکومـه عبدالله خـان د نجونـو يـو ښوونـځی هلتـه جوړ کـړ، چې د لېسې پـه کچـه خپلـو زده کـړو تـه دوام ورکـړي.(۳۳)

داسې ښکـارېده چـې د افغانسـتان ښځو او نجونـو د پوهنـې دروازې پـه خپـل مـخ خـلاص ولېـدې او د دوی د درسـي ودې پـروګرام د وخـت د دولـت پـه داډ پـر مـخ تـه ، نـو د دوی د فرهنـګي فعـاليتونو، ښوونـې او روزنـې پـه بـهير کې نوې وړانـګې وځلېدې. د دې فرهنـګي هـڅو پـه لـړ کـې يـو بـل پـراخ بنسـته ګام اوچت شو او پـر ۱۳۲۵ل کـال کې مېرمنـو ټولنـه جوړه شـوه، چـې افغـاني مېرمنـو کـولای شـول، د دې ټولنـې پـه سـاحه کـې خپـل فعاليتونـه نـور هـم پـراخ کـړي.

د مېرمنـو ټولنـه پـه کـابل کـې د مېرمنـو د فکـري روزنـې او ټولنـيزې پوهـې د ودې پـه منظـور جـوړه شـوه. دغـه ټولنـه يـوه خپلواکـه خيريـه موسسـه وه، چـې پـه لومړي ګام کـې د کـابل لـه ښار نـه دوه سـوه زره افغانـۍ د مرستـې پـه تـوګه ورتـه غونډې شوې، ملکه حميرا د وخـت د پـاچـا محمـد ظـاهر شـاه مېرمـن يـې سرپرسته وه او د منـورو مېرمنـو يـو مشـورتي مجلس يې درلـود.(۳۴)

پـر ۱۳۲۵ کـال چـې د دې ټولنـې بنسـټ کېښودل شـو، تـر ۱۳۳۸ کـال پـورې د ښځو پـه اړه لـوړ ګامونـه واخيسـتل شـول او پـه ډېره چټکتيـا سـره يـې د فعـاليتونو سـاحه پراخـېده.(۳۵)

مېرمنـو ټولنـې د خپلـو لومړيـو خدمتونـو پـه لـړ کـې د هغـو نجونـو او ښځو لپاره چې د بېلا بېلو علتونـو لـه مخـې د ښوونـځي لـه زده کـړو څخـه بې برخـې شـوې وې، د روزلـو پـروګرام جـوړ کـړ او د ښوونـځي پـه بـڼه يـې زده کـړې پيـل کـړې، چـې بيـا وروسـته ورتـه د مېرمنـو ټولنـې د مسـلکې ښوونـځي نـوم ورکـړ شـو.(۳۶)

د مېرمنـو ټولنـې د ګنډلو اوبدلـو څانګه هـم درلـوده، چـې د ستنـو د لاسـي کـارونو ډېر ښکلـي او نفيـس ډولونـه ښځو تـه ور وښودل شـول او پـه

ننداریتونونو کې به د ننداري لپاره ایښودل کېدل او د لاسي کارونو محصولات به په ښوونځیو کې په ښېوزلو نجونو وېشل کېدل.(۳۷)

د مېرمنو ټولنې وروسته ورکتونونه هم جوړ کړل، د ښځو لپاره د تایپستی کورسونه د مېرمنو کلوپ، د زینب ننداري سینما، د شهر آرا یو لوی دولتي باغ، د ښځینه باغ په نامه چې مېرمنو به په کې مېلې کولې او ډېر ګڼ شمېر روزنیز او فرهنګي بریالیتوبونه یې تر لاسه کړل. د دې بریالیتوب او فعالیتونو تر څنګ یې یوه خاصه خپرونه د مېرمن په نامه پر ۱۳۳۲ل کال خپره کړه. په لومړي سر کې یې هره دوه میاشتو او وروسته یې هره میاشت د ښځو د ژوند په اړه . . . په خپل اوږده عمر کې په زرګونو عنوانونه، مطالب او شعرونه خپاره کړل.

## نجونې او لوړې زده کړې

پر ۱۳۲۶ل کال د پوهنې وزارت په وړاندیز د وزیرانو د مجلس په تصویب او د وخت د پاچا محمد ظاهر شاه په توشیح او منلو سره په افغانستان کې د نجونو د لوړو زده کړو پرېکړه وشوه، چې د همدې ګام په رڼا کې د ۱۳۲۷ل کال پیلېدو د افغانستان د نجونو لپاره یو نوی او ګټور زېری درلود. پر همدې کال د لوړو زده کړو عملي لار هواره شوه، د پوهنې وزارت د بکلوریا پاس نجونو لپاره د ادبیاتو او ساینس دوه پوهنځي جوړ کړل.(۴۰) چې فارغانې به یې له سند تر لاسه کولو وروسته د نجونو په لېسو کې د ساینس او اجتماعیاتو په برخه کې د ښوونکیو په توګه مقررېدلې.(۴۱)

پر ۱۳۳۷ کال د نجونو پر دغه دوو پوهنځیو یو بل پوهنځی هم ور زیات شو، چې د طب پوهنځي نوم ورکړ شو.

تر ۱۳۳۹ل کال وروسته د ساینس په پوهنځي کې هلکانو او نجونو په ګډه زده کړې پیل کړې او د نجونو د ادبیاتو پوهنځي پر ۱۳۴۰ کال د پوهنې وزارت د انکشافي پلان له مخې د هلکانو د ادبیاتو له پوهنځي سره یو ځای او د دې پوهنځي هلکانو او نجونو هم په ګډه زده کړې پیل کړې.(۴۲)

د طب په پوهنځي کې چې تر دې وخته نجونو له هلکانو جلا زده کړې کولې، د نارینه وو له طب پوهنځي سره یو ځای او ګډو زده کړو ته یې دوام

ورکړ.(۴۳) چې تر ۱۳۴۳ ل کال پورې ټول د نجونو پوهنځي یو پر بل پسې د هلکانو له پوهنځیو سره یو ځای او ګډ تدریس پیل شو.

## د نجونو لیلیه

که امیر امان الله خان د ډېرو ستونزو تر ګاللو وروسته د ولس عام اذهان دې ته چمتو کړل چې د لومړي ځل لپاره د نجونو د ښوونځي بنسټ کېږدي او د راز راز مخالفتونو له امله چې د نجونو د زده کړې د اصلاحي پروګرام د نه عملي کولو په منظور ورسره کېدل او حتی له قدرت څخه راوپرځول شو، څو لسیزې وروسته نه یوازې دا چې د نجونو زده کړه یوه عامه موضوع ګرځېده او حتی په نورو ولایتونو کې هم د نجونو لېسې جوړې شوې او په پوهنځیو کې هلکان او نجونې یو ګډو زده کړو بوخت وو، بلکې له ولایتونو څخه هم نجونو ته د لوړو زده کړو تسهیلات برابر او د درېیم پنځه کلن پلان (۱۳۲۹-۱۳۵۰) کالونو په اوږدو کې د هېواد د ولایتونو د لېسو ښځینه فارغانو ته د پوهنې لاره اواره او د یوې ښځینه لیلیې جوړولو ته یې لاس وغزاوه. په دې لیلیه کې ۲۰۰ تنو محصلانو ژوند کولای شو او په دې توګه د ولایتو د نجونو لپاره هم د لوړو زده کړو زمینه برابره شوه.(۴۵) لیلیې د محصلانو شمېر تر ۱۳۵۷ ل کال پورې تر ۸۰۰ تنو پورې رسېده.

## بهر ته د زده کړو لپاره د نجونو استول

پر ۱۳۰۷ ل کال بهر ته د زده کړو لپاره د نجونو د لېږلو او د هغوی تر ناکامه راستنېدو وروسته بیا بهر ته د زده کړې لپاره د نجونو د استولو موضوع د ډېرې مودې لپاره هېره شوه. خو پر ۱۳۲۹ کال دولت یو ځل بیا له یوې معقولې لارې په بهرنیو هېوادونو کې د نجونو زده کړو لپاره اقدام وکړ.(۴۶)

د پوهنې وزارت پرېکړه وکړه چې د بهرنیو چارو وزارت هغه مامورین چې له هېواد څخه بهر دي او په سفارتونو او قونسلګریو کې کار کوي او هم په بهرنیو هېوادونو کې زموږ کلتوري او نظامي اتشې چې مېرمنې یې لوړه سویه لري او یا هغه محصلین ډاکتران او پروفیسران چې د لوړو زده کړو لپاره له هېواد څخه بهر دي او مېرمنې یې هم د نجونو له لېسو څخه

فارغي شوې وي نو دا ښځې د خپل شرعي محرم په درلودلو سره کولای شي، د هېواد څخه د باندې په بېلا بېلو مسلکونو کې د پوهنې وزارت په لګښت لوړې زده کړې وکړي.(۴۷)

په همدې لړ کې د روزل شویو نجونو له ډلې څخه پر ۱۳۳۸ل کال یوه افغانې فارغ التحصیله (حمیده نواز) چې په لوېديز المان کې یې طبي زده کړې کړې وې، کابل ته راوسته او د نرسنګ د ښوونځي د مدیرې د کفیلې په توګه وټاکل شوه او په دې ډول ډېرې مېرمنې له بهر څخه تر راستنېدو وروسته د ټولنیزو او دولتي چارو په بېلا بېلو څانګو کې په کار بوختې شوې.(۴۸)

## د حجاب لـه منځه وړل

که څه هم زموږ په ټولنه کې د حجاب له منځه وړل د وخت د حکومتونو لپاره اسانه او ساده کار نه و. ځکه دغه ترخه تجربه غازي امان الله خان د خپل حکومت په دوره کې کړې وه، ځکه هغه وخت د خلکو ذهنیت دې ته اماده نه وو.

کله چې د دویم ځل لپاره د حجاب د له منځه وړلو اقدام د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه او د مرحوم محمد داود د صدارت په وخت کې وشو، نو د وخت په تېرېدو سره زموږ د ټولنې ذهنیت دې ته تیار او دا د ښځو خپله خوښه او غوښتنه وه، دا ځل د حجاب له منځه وړل په رسمي توګه اعلان نه شول، خو د خپلواکۍ د جشن په شپه (۱۹۵۹کال) ملکه حمیرا د صدر اعظم، وزیرانو، عالي رتبه او عسکري مامورینو تر مخ په کابل او ولایتونو کې د لومړي ځل لپاره د حجاب د له منځه وړلو لپاره عملي ګام پورته کړ او دغه ګام د ښځو له خوا د دوی په خپله غوښتنه وشو.

نور نو افغاني مېرمنې له درانه خوبه راویښې شوې او د خپلو حقوقو د لاسته راوړو لپاره هر راز مبارزې او سربښندنې ته تیارې وې. مګر په خواشینۍ سره باید ووایو چې د ښځو د نهضت لړۍ یوازې په کابل او لویو ښارو کې وغځېده، خو د کلي او بانډو: ښځې لا هماغسې د نامناسبه شرایطو قربانیانې دي. د دوی د ژوند ماحول لا هماغسې پاتې دی، چې وایي: "ښځه یا په کور یا په ګور." دوی ته د حقوقو د تساوي کلمه

ACKU

نامانوسه ده، دوی باید د نر تابع وي په تولنیزو، اقتصادي او سیاسي چارو کې دوی ته اصلاً هیڅ برخه نه ورکول کېږي او د دغو مېرمنو د حقوقو د لاسته راوړلو او اعادې لپاره روږدې مبارزې ته اړتیا لیدل کېږي.

د ښځو د نهضت دغو کلونو او په کابل کې د "مېرمنو ټولنې" جوړېدلو هم له ښارونو او پایتخت پرته زموږ د ولس لوی اکثریت او د کلیو او بانډو ښځو ته له بده مرغه، هیڅ ارزښت ور نه کړ او نه یې د هغوی د ژوند د ښه کېدلو خوا ته کوم ګام پورته کړ. له همدې امله نو "مېرمنو ټولنه" یوه رسمي او حکومتي دوله تشریفاتي "اشرافي" کړه. کې بنده پاتې شوه او د عام ولس بېوزلو ښځو ته تري کومه ګټه و نه رسېدله.

## د ښځو نهضت او کمونیزم

پخوا تر دې چې د غو یې د میاشتې پر اوومه نېټه د خلق او پرچم ګوند د مرحوم داود خان حکومت د سرې کودتا په وسیله را وپرځوي، کمونیستان د خپل دروغجن سیاست له مخې تر هغو چې په افغانستان کې یې ما ته نه وه خوړلې او ځینې هم د دوی په ارتجاعي سیاست، چل او فریب نه وو خبر، نو د ډېرو سترګې ترلې او د ډېرو داسې ګومان کېده، چې کمونیزم د فیوډالیزم او فردي استثمار ژغورونکی دی. ځکه دوی د کور، کالي، ډوډۍ، ښځو او نارینه وو مساوي حقوقو خپل او فردي استثمار له منځه وړل ورځنی شعار... تاکلی و، حال دا چې په باطن کې د حق خوړل، د خلکو پر مال، ناموس او حتی خاورې تېری کول د دوی اصلي هدف و، په هېواد کې د ښځو د ټولنیز دریځ ته لومړی ګوزار د کمونیستانو د واکمنۍ دوران ورکړ، هغوی له ښځینه نهضت ځخه هم له بده مرغه د خپلو ناوړه سیاسي هڅو د وسیلې په توګه کار واخیست. دویم ګوزار ښځو ته د اسلامي تنظیمونو ګډ حکومت ورکړ. ځکه کله چې دوی تر څوارلس کلن جهاد وروسته قدرت په ائتلافي توګه تر لاسه کړ. د ښځو پر ښوونځیو یې د فحشا د مرکز مهر ولګاوه، بیا یې پر ښځو د یو داسې حجاب لرل تحمیل کړل چې افغاني ځانګړنه یې نه لرله. وروسته تر هغې لکه چې د افغانستان د څوارلس کلن جهاد اصلي عاملینې ښځې وې او باید محکومې شي. دوی یې په راډیو او ټلویزیون کې له کاره منع کړې.

که له یوې خوا د افغانستان کونډې د پېښور د ناصر باغ په کمپ کې د پاکستان په فابریکه لرونکیو او بډایو عربانو باندې خرڅېدې، له بلې خوا د ډېر مظلومو او بې کسو خویندو پاك لاسونه سوال ته اوږده او ان ډېرې یې داسې ناوړه کارونو ته اړ کړې چې زموږ تاریخ یې په یادولو شرمېږي، هغه لاسونه چې د اسلامي تنظیمونو د بریالیتوب په سهار او ماښام د خدای پاك دربار ته په دعا پورته وو، د هغوی تر بري وروسته هماغه لاسونه د ډوډۍ د سوال لپاره بل چا ته غزېدلي دي.

په ډېرې خواشینۍ سره باید ووایو چې تنظیمونو، د خلکو د دعاګانو ځواب په داسې بې رحمۍ ورکړ، چې تر اوسه یې په تاریخ کې چا ساری نه دی لیدلی.

که له یوې خوا د نظار شورا، جمعیت او ګلم جم (دوستم) ټوپکیانو په کابل کې نه یوازې ملي شتمنۍ لوټ کړې، بلکې د کابل د ښاریانو په کورو واوښتل، پېغلې یې د پلرونو، په مخکې کې بې عزته کړې، چې بیا همدې نجونو ځانونه خپله ووژل، قوماندانانو د ټوپك او پیسو په زور هر یو څو څو پېغلې نجونې به چې د دوی خوښېدې واده کولې. د کابل په بله برخه کې په سرونو میخونه ښخ شول. غوږونه او پزې پرې شوې.

په افشارو کې د سیاف ټوپکیانو هم د ښځو د سرونو، سینو او د بدن د نورو برخو په پرې کولو بوجۍ ډکې کړې او حزب اسلامي د کابل ښار له خاورو سره یو او د کابل ښاریان یې په خپلو وینو کې ولمبول.

په مکروریانو کې له شپږم پوړ څخه د شهیدې ناهیدې ځان وژنه د نظار شورا د دغو جنایاتو افشا کوونکی عمل و، همداراز ډېر نارینه په دې ګناه ووژل شول چې باید خپلو ښځو ته طلاق ورکړي، ځکه د کوم قوماندان یا ټوپکي به چې هغه واده شوې ښځه خوښه شوې وه، نو د ټوپك په زور به یې د هغې مېړه طلاق ورکولو ته مجبوراوه. خو د افغاني پت ساتنې لپاره نارینه وو خپل سرونه قربان کړل. *(د بشر د حقوقو اعلامیې او وفا جریدې هغه ګنې دې وکتل شي چې د تنظیمونو د قدرت په وخت کې خپاره شوي دي، همداراز د پیام زن نشریې چې د ښځو د انقلابي جمعیت له خوا په کویټه کې خپرېدې ګورئ).*

دا وه د خلکو د څوارلس کلنو دعاګانو نتیجه چې ټوپکیانو د ټوپك په زور ورکړه، نو کولای شو ووایو د ښځو نهضت چېرې و او څه شو.

د دویمې سقاوي تر راپرځېدو وروسته چې د طالبانو غورځنګ د هېواد لمن د ټوپکیانو له ظلم او تیري څخه پاکه کړه او د خلکو عزت او ناموس یې خوندي کړ. دوی هم د ښځو د حقوقو په ورانګې ودرېدل. په دې مانا چې د ښځو د حجاب مساله نوره هم مهمه او جبري شوه، ښځو نور د کار کولو اجازه نه درلوده او ډېرې هغې کورنۍ چې یوازې مور د خپل کار او معاش له لارې د خپلو ماشومانو اذوقه برابروله، د دې پرېکړې له امله د غربت کندې ته وغورځېدې. یا پاکستان ته کډوال شول او یا یې هم په کابل کې د سوال لاسونه اوږده کړل. ښځې د کور په څلورو دېوالو کې بېرته بندي شوې. روغتون او ډاکټر ته د درمل لپاره له کوره نه شوې وتلای. د نجونو پر مخ د ښوونځي او پوهنتون دروازې وتړل شوې. که له حق څخه سترګې پټې نه کړو، ویلی شو چې طالبانو هېوادوالو ته د امن او امنیت زېری ورکړ، له بلې خوا یې د ښځو ټولنیز دریځ له پامه وغورځاوه.

په پای کې ویلی شم چې د ښځو د نهضت ډیوه په ډېرې رښتینولۍ سره پر ۱۹۲۱ روښانه او تر لږ وقفې وروسته یې زرینو پلوشو د افغاني مېرمنو تته نړۍ روښانه کړه چې بیا دې نهضت ته له پیل څه را په دې خوا اوسپنیز ګوزارونه ورکړل شوي دي او د دې نهضت ورانګې یې بیخې تتې کړې.

زه فکر کوم، زما په شان ډېرو خویندو ته به دا پوښتنه هم را پیدا شوې وي چې له ۱۳۵۷ کال را په دې خوا تر اوسه د هېواد واکدارانو څخه دا سوال وکړو چې ایا ښځې ستاسې د سیاسي لوبو اله ده؟ ایا په هېواد کې د ټولو بدبختیو منشاء ښځې دي؟ ایا ښځو تاسې د دغو شرموونکیو اعمالو د سر ته رسولو لپاره هڅولي یاست؟ او ایا په افغانستان کې د نښتو له منځه تګ، یووالی او وروري د پردیو لاسوهنې او نور ډېر داسې مسایل د ښځو په کور کې کېناستو، د بشپړ حجاب مراعات کولو او د سواد په نه زده کولو حل کېږي، نو موږ ښځې به په هېواد کې د بیا ارامۍ او خپلواکۍ په منظور هر راز سرښندنې ته چمتو شو، خو فکر کوم خبره داسې نه ده. زموږ هیله دا ده چې د طالبانو اسلامي غورځنګ لکه چې د وطن ملي یووالي او امنیت په لاره کې یې د ستاینې وړ هڅې کړې دي، د اسلام د ارشاداتو په رڼا کې د ښځو د تعلیم او د هغوی له خوا د نفقې د پیدا کولو او کار مسلې ته هم جدي پاملرنه وکړي.

ACKU

اخځلیك:


۱ - یون، مېرمن اریـن: د وږمو بهیر، دویم مخ، ۱۳۷۷ل کال.
۲ - همدا ثر، همدا مخ.
۳ - پښتني لیکوالي او شاعراني لومړی ټوك، دویم مخ، ۱۳۶۶ل کال.
۴ - مېرمن سکینای: تعلیم و فعالیت های اجتماعی زنان افغان در عصر اماني، دویم مخ، ۱۹۹۸م. د رقیه حبیب ژباړه.
۵ - همدا اثر. دریم مخ.
۶ - پورتنی اخځ.
۷ - پورتنی اخځ، څلورم مخ.
۸ - رفیع، حبیب الله: په افغانستان کې د ښځینه زده کړو تاریخي سیر، دویم مخ، ۱۳۷۵ل کال.
۹ - پورتنی اخځ. څلورم مخ.
۱۰ - پورتنی اخځ، دریم مخ.
۱۱ - تعلیم و فعالیت های اجتماعی زنان افغان، در عصر امانی، ۱۹۱۹-۱۹۲۹ څلورم مخ.
۱۲ - پورتنی اخځ، څلورم مخ.
۱۳ - پورتنی اخځ ۵ مخ.
۱۴ - رفیع، حبیب الله: په افغانستان کې د ښځینه زده کړو تاریخي سیر ۲۸-۲۹مخونه.
۱۵ - تعلیم و فعالیت های اجتماعی زنان افغان در عصر امانی، (۱۹۱۹-۱۹۲۹) شپږم مخ.
۱۶ - پورتنی اخځ، ۲ مخ.
۱۷ - پورتنی اخځ، ۷ مخ.
۱۸ - پورتنی اخځ، ۷ مخ.
۱۹ - پورتنی اخځ ۷مخ.
۲۰ - پورتنی اخځ اتم مخ.
۲۱ - پورتنی اخځ نهم مخ.
۲۲ - پورتنی اخځ لسم مخ.

۲۳ - پورتنی اخځ یوولسم مخ.
۲۴ - پورتنی اخځ دریالسم مخ.
۲۵ - رفیع، حبیب الله: په افغانستان کې د ښځینه زده کړو تاریخي سیر. ۳۲ مخ، ۱۳۷۵ل کال، پېښور.
۲۶ - پورتنی اخځ ۳۲-۳۳مخونه.
۲۷ - پورتنی اخځ۳۹ مخ.
۲۸ - پورتنی اخځ ۳۸ مخ.
۲۹ - پورتنی اخځ۳۹ مخ.
۳۰ - پورتنی اخځ۴۱ مخ.
۳۱ - پورتنی اخځ۴۲ کخ.
۳۲ - پورتنی اخځ ۵۳مخ.
۳۳ -پورتنی اخځ ۵۵ مخ.
۳۴ - پورتنی اخځ ۵۷ مخ.
۳۵ -پورتنی اخځ ۵۸مخ.
۳۶ - پورتنی اخځ ۶۴مخ.
۳۷ - پورتنی اخځ ۶۵مخ.
۳۸ - پورتنی اخځ.
۳۹ - پورتنی اخځ ۷۰ مخ.
۴۰ - پورتنی اخځ ۷۱ مخ.
۴۱ - پورتنی اخځ ۷۹ مخ.
۴۲ ر پورتنی اخځ
۴۳ - پورتنی اخځ ۸۰ مخ.
۴۴ - پورتنی اخځ
۴۵ - پورتنی اخځ.
۴۶ - پورتنی اخځ.

ACKU

حبیب الله رفیع

# په شلمه پېړۍ کې د افغانستان کتاب پېژندنه

د "افغانستان په شلمه پېړۍ کې" - علمي سیمینار درنو ګډون کوونکیو! خپل تاوده سلامونه او د سیمینار د بري لپاره خپلې نېکې هیلې وړاندې کوم!

د دې درانه سیمینار جوړوونکیو زما لپاره زما د خوښې او علاقې وړ موضوع ټاکلې او ما د دېرشو کلونو په اوږدو کې په دې برخه کې زیاتې احصایې، مواد او اسناد راغونډ کړي دي، خو زمانه عجیبې لوبې لري، خصوصاً د شلمې پېړۍ په وروستیو شلو کلونو کې پر افغانانو داسې لوبې وشوې او د زمانې داسې لوبې یې ولیدلې چې تصور یې هم نه کېده.

زه هم د دې لوبې یو پنډوسکی یم، چې کله مې سر پر یوه تیره لګېږي او کله پر بله او نن چې دا مقاله لیکم، په داسې ځای او داسې حال کې یم چې په دې اړه خپل یوه پاڼه یادښت هم را سره نه شته، حتی خپلې چاپي مقالې او رسالې هم. له بلې خوا د سیمینار درنو جوړوونکیو رانه غوښتي چې په دې باب په خپله مقاله کې کوټلې احصایې وړاندې کړم او د دې پر ځای کول هم ضرور. دقیقې احصایې ناممکنې دي، خو د حافظې په مرسته به اټکل وجنګوم او هڅه به وکړم چې د کتاب خپرونو د سباني بهیر لپاره د وړاندیزونو بنسټ پرې کېږدم.

***

په افغانستان کې کتاب خپرېدل د نولسمې پېړۍ په پای کې پیل شوي او څه د باندې شپږ شلې کاله عمر لري. نو ځکه زموږ څېړنه هم له شلمې پېړۍ نه هغې خوا ته سرباسي او له پیل نه به یې را پیلوو.

د افغانستان د کتاب خپرونې څه باندې سل لومړنې کلونه بېله بېله او بېله څېره لري او شل وروستني کلونه یې بیا بېلې ځانګړنې او اړخونه، نو ځکه زه خپله لیکنه په دوو برخو وېشم:

۱- د کتاب خپرونې سل وړومبني کلونه.

۲- د کتاب خپرونې شل وروستني کلونه.

## لومړی

### په افغانستان کې د کتاب خپرونې سل وړومبني کلونه

په افغانستان کې د کتاب خپرونې څه د باندې سل کلونه له ۱۸۷۰ع کال نه را پیلېږي او پر ۱۹۷۸ کال د ثور د خونړۍ کودتا په کېدلو سره پای ته رسېږي. په دې دوره کې کتاب خپروېدنه پیل شوه، وده یې وکړه او د اړتیا له مخې یې پراختیا وموندله. امیر شېرعلي خان د خپلې واکمنۍ په دویمه دوره کې د سید جمال الدین افغان د ریفورم او اصلاحاتو پروګرام مخې ته کېښېښود، څرنګه چې په دې پروګرام کې د مطبعې جوړول بنیادي خښته وه، نو ځکه یې پر ۱۸۷۰ کال په کابل کې ډبرینه مطبعه فعاله کړه، چې لومړی کار یې د کتابونو او پستي ټکټونو چاپول او بیا د شمس النهار جریدې خپرول وو.

افغانستان هغه وخت د روسي او انګلیسي ښکېلاک د مستعمرو په منځ کې د حایل په توګه پروت او په عین حال کې د دواړو خواوو تر تهدید او تحدید لاندې و. حکومت مجبور و، چې د خپل هېواد د فکري او جغرافیایي پولو د ساتلو لپاره په خپلو نویو جوړو شویو ملکي او عسکري ښوونځیو کې ځوانان په دیني او عسکري پوهه سنبال کړي. همغه وو، چې زموږ لومړني چاپي کتابونه د دیني او عسکري مطالبو په باب نشر شول او.د روغتیا خیال پکې وساتل شو، ځکه چې روغ انسان فکري او جسمي مقابله کولای شي.

"د پلیو د پلټن قواعد" او "قواعد رساله" دوه مهم عسکري کتابونه دي چې د امیر شېر علي خان په وخت کې قاضي عبدالقادر پېښوري او محمد

ابراهیم خان له انګریزي نه ژباړلي چې بولی (قوماندې) یې په پښتو او تشریحات یې په دري دي او دواړه په مصطفاوي مطبعه کې چاپ شوي دي.

"تحفه العلماء" او "وعظ نامه" دوه دیني کتابونه دي چې یو یې د وخت د پاچا نصیحت نامه ده او بل یې قاضي عبدالقادر لیکلی او د بالاحصار په چاپخانه کې چاپ شوي. همدا وخت د "مجمع البحرین" په نامه یو طبي کتاب چې د نوي او زاړه حکمت مقابله پکې شوې او ډاکټر جیتن شاه لیکلی، هم خپور شوی دی.

په ۱۸۷۸ کال پر افغانستان د انګرېزانو دویم تېری د نورو ورانیو تر څنګ د ریفورم او اصلاحاتو پروګرام هم شنډوي او ټول انکشافي او مدني فعالیتونه موقف کېږي. پر ۱۸۸۰ کال د امیر عبدالرحمن خان په پاچا کېدلو سره د اصلاحاتو د پروګرام نور ټول اړخونه شا ته اچول کېږي، خو مطبعه او د کتاب چاپول دوام کوي، نوموړی پاچا نوې مطبعه جوړوي او د کتابونو د چاپ کار په ښه صحافت او نفاست بیا پیلېږي، کتابونه د کمیت له مخې زیاتېږي او د کیفیت له مخې تنوع پیدا کوي. دیني، عسکري، ادبي او تاریخي کتابونه د دې دورې کتابي پانګه ده: "کلمات امیر البلاد فی ترغیب الجهاد"، تقویم الدین"، رساله موعظه" کلیات و اصطلاحات فقهیه"، "د عایشې دراني دیوان"، "د عبدالقادر خان خټك یوسف زلیخا"، "رساله حیرت افزا"، "ایینه جهان نما"، "راحت الاطفال"، "شهاب الحساب"، "اتزك ناپلیون"، "پندنامه دنیا و دین"، "تعلیماتنامه خیاطي"، "نصایح نامچه امیر عبدالرحمن خان"، "مراه العقول" او "اساس القضات" د دې دورې مهم چاپي کتابونه دي.

پر ۱۹۰۱ کال د امیر حبیب الله خان په پاچا کېدلو سره مطبعې پراختیا وکړه او د ډبرین چاپ تر څنګ حروفي مطبعې هم جوړې شوې، حکومت دیني، تاریخي او ادبي کتابونو ته زیاته توجه وکړه: "سراج الاحکام"، "د میرزا عبدالقادر بېدل دیوان" او د "سراج التواریخ" درې ټوکه په همدې وخت کې چاپ شول. علامه محمود طرزي هم داوخت د مطبعه عنایت او سراج الاخبار د مطبعې له لارې ګڼ ادبي ویښوونکي او علم او تمدن ته هڅوونکي آثار خپاره کړل: د "وطن" رساله، د "علم او اسلامیت"

رسـاله او د ژول ورن نــه علمــي پيشــګوييو نــه ډك ناولونــه او د ده نـــور ويښوونكي آثار همدا وخت نشر شول.

پـر ۱۹۱۹ كــال د هـېواد د خپلواكــۍ تــر لاســه كېدلــو وروســته د اعليحضـرت غـازي امـان الله خـان پـه رڼه دوره كـې چـې مطبوعـاتو د پـام وړ پراختيـا وكړه د كتـابونو د خپرېدلـو لمـن هـم پراخـه شـوه، دا وخـت زياتـه هـڅه د ښوونـځي د كتـابونو خپرولـو لپـاره كـېده او د ښوونځيـو د ټولـو ټولګيــو او اختصـاصي ښوونځيـو لپـاره ګڼ كتابونـه تـاليف شـول، د قـانون جوړونـې پـه سـاحه كـې دا اويـا ټوكـو شـاوخوا نظامنـامې جـوړې شـوې، چـې بيـا بيـا چـاپ شـوې، پـر دې سربېره يـو شـمېر داسـې ځانـګړي كتابونـه هـم نشـر شـول چـې د عامـه استـفادې لپـاره وو.

پـر ۱۹۲۹م كـال د سـقوي نـه مياشتنـۍ تـورې دورې تـر تېرېدلـو وروسـته پـه نـادري دوره كـې د مطبوعـاتو پـه بيـا احيـا كـې كتابونـه تـه هـم ونـډه وركـړل شـوه، د درسـي كتـابونو لـړۍ ګړنـدۍ شـوه، نظامنـامې تجديـد او هـم يـو شـمېر نـوې جـوړې شـوې، "افغانسـتان كالنـۍ" د "سـالنامه كـابل" پـه نامـه را ونښلـېده، د كـابل - كندهـار او هـرات ادبـي انجمنونـه جـوړ شـول او د مـهالينو خپرونو تر څنګ يو شمير كتابونـه هم نشـر كـړل.

پـر ۱۹۳۳ كـال د محمـد ظـاهر شـاه تـر پـاچـا كېدلـو وروسـته هـم د درسـي كتـابونو د خپـرېدو بـهير ګړنـدى شـو او هـم پخوانـۍ نظامنـامې تجديـد او نـوې نظامنـامې جـوړې او خپـرې شـوې د ادبـي انجمـن پـر ځاى پښتـو ټولنـه بيـا د مطبوعـاتو رياسـت او وروسـې د تـاريخ ټولنـه جـوړ شـول چـې ټولـو د كتـابونو خپرولـو د بـهير پـه ګړنـدي كولـو كـې برخـه واخيسـته او هـم د طـب، حقوقـو او نـورو پوهنځيـو او بيـا كـابل پوهنتـون او ننګرهـار پوهنتـون د خپلـو محصلينـو لپـاره يـو شـمېر كتابونـه خپـاره كـړل. د ديموكراسـۍ پـه لسـيزه (۱۹۶۳-۱۹۷۳) كـې د اطلاعـاتو او كلتـور د نـوي جـوړ شـوي وزارت لـه خـوا د كتـاب چـاپولـو او بيـا د بيـهقي كتـاب خپرولـو موسسـې جـوړې شـوې چـې ورسـره د كتـاب چـاپولـو ازادې موسسـې هـم رامنځتـه شـوې او د جمـهوريت پـه دوره (۱۹۷۳-۱۹۷۸) كـې ګڼو علمـي سـيمينارونو د كتـاب خپرولـو بـهير ډېر ګړنـدى كـړ، چـې پـه هـر كـال كـې دوه - درې لـوى علمـي سـيمينارونه جـوړېدل او هـر يـوه سـيمينار تـه پـه لسـګونو كتابونـه خپـرېدل، د بـايزيد روښان، ابـو ريحـان بـيروني، امـير خسـرو، خواجـه عبدالله انصـاري، مولانـا جـلال الديـن



ACKU

بلخي، ابو نصر فارابي، دقیقئ بلخي، سید جمال الدین افغان، ابو المجد مجدود بن ادم سنايي غزنوي او د پښتو څېړنو د مرکز، د پښتو چاپي آثارو او کوشانیانو نړیوال سیمینارونه په دې لړ کې د زیاتې یادونې وړ دي.

د ۱۹۷۸ کال د غوایي د خونړۍ کودتا له کېدلو سره زموږ د څېړنې لومړنۍ برخه چې په افغانستان کې څو د پاسه سل کلونو کې کېږي، سرته رسېږي.

پر ۱۹۷۷ کال ما د پښتو کتابونو یو فهرست د "پښتو کتابښود" او اروابناد حسین نایل د دري کتابونو یو کتابښود د "فهرست کتب چاپی دری افغانستان" په نومونو خپاره کړل او زما او ده د پخوانۍ مفاهمې له مخې هغه ګډ کتابونه چې پښتو یې زیاته وه، زما په فهرست کې او هغه چې دري برخه یې زیاته وه د ده په فهرست کې راغلل، په دې فهرست کې موږ درسي کتابونه، لایحې او نظامنامې نه وو راوړي چې په دې ترتیب د هېواد د چاپي کتابونو یوه نسبي احصایه جوړه شوه.

زما او ده له خوا د فهرست شویو کتابونو شمېره له درسي کتابونو، لوایحو او نظامنامو پرته د وو زرو ټوکونو ته رسېدله او زموږ د اټکل له مخې موږ په سلو کې اتیا کتابونه لست کړي وو او که پاتې کتابونه پنځه سوه ټوکه وبولو په دې څو د پاسه سلو کلونو کې په هېواد کې د دوه نیم زرو شاوخوا کتابونه خپاره شوي وو.

د تعلیمي کتابونو په لړ کې د ښوونځیو درسي کتابونه په بشپړ ډول خپاره شوي او په وارو وارو تجدید او تبدیل شوي وو، خو د پوهنتون د پوهنځیو لپاره ډېر محدود کتابونه چاپ شوي وو او اکثرو استادانو د قلمي نوټونو له مخې درس ورکاوه.

د کتابونو د چاپ ژبې معمولاً پښتو او دري وې او د چاپ له پیل نه په دوارو ژبو د کتابونو چاپېدل پیل شوي وو، خو څرنګه چې پښتو د انکشاف په مرحله کې وه او ډېر وروسته د ملي ژبې په توګه پاملرنه ورته وشوه او پښتو ټولنې پښتو کتابونه نشر کړل، خو بیا یې هم د پرتلیزې احصایې له مخې په چاپي کتابونو کې ونډه په سلو کې ۳۵ وه. په دې دوره کې څو محدود کتابونه په انګلیسي، فرانسوي، عربي او ترکي ژبو هم خپاره شوي دي.

ACKU

زموږ چاپي کتابونه د فورم له مخې په سلو کې اويا منثور، پنځه ويشت منظوم او پنځه د نثر او نظم ګډ کتابونه دي.

د موضوع له اړخه په لومړي قدم کې معلوماتي، بيا ديني، وروسته اجتماعي، پسې تاريخي، بيا ادبي، وروسته ژبني، تر ې را وروسته کلتوري او په ورستي پړاو کې ساينسي کتابونه دي.

## دويم

## د کتاب خپرونې شل ورستني کلونه

په افغانستان کې څه د پاسه شل ورستني کلونه د هر اړخيز بحران کلونه دي، په هېواد کې جګړې پيلېږي، هېوادوال د نړۍ ګوټ - ګوټ ته مهاجر کېږي خو دا توده او سره ځمکه هم د کتاب تخم تر پخوا زيات را زرغونوي او په هېواد کې دننه او بهر د وسلو تر څنګ قلمونه هم سنګرونه نيسي، کمونيستان په هېواد کې دننه مطبعې پراخوي او مهاجرين په پاکستان او ايران کې د پيسو په بدل کې پراخه طباعتي امکانات تر لاسه کوي او د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم د طباعت چار اسان او پرمختللی دی، له همدې امله په دې شلو کلونو کې په هېواد کې دننه او له هېواد نه بهر دومره کتابونه خپرېږي چې د تېرو سلو کلونو په تناسب يو نيم برابر دي، حتى که ورې رسالې پکې وشمېرو، دوه برابره کېږي، چې ما يې ببلوګرافي جوړه کړې او په سلو کې اتيا پکې راغلي دي.

په هېواد کې دننه د خلقيانو او ببرك په دوره (۱۹۷۸-۱۹۸۶) کې هڅه کېږي چې ټولې خپرونې او په دې لړ کې کتابونه سور کمونستي رنګ او مطالب ولري او له هېواد نه بهر هم هڅه دا وه چې ټولې خپرونې او خصوصاً کتابونه اسلامي او جهادي بڼه ولري او د اسلام او کمونيزم د نظامي مقابلې تر څنګ ايډيالوژيکه مقابله هم وشي.

د نجيب په دوره (۱۹۸۶-۱۹۹۲) کې چې کمونيزم ماته خوري او د ملي پخولاينې بهير اعلانېږي، په هېواد کې دننه خپرېدونکي کتابونه هم سور کمونيستي رنګ بايلي او د کمونيستي کتابونو پر ځای ګڼ شمېر ادبي کتابونه خپرېږي او خصوصاً د افغانستان د ليکوالو ټولنه په سوونو کتابونه خپروي چې بشپړ اکثريت يې د ادبي او ذوقي کتابونو دی، همدا وخت د جهاد په ساحه کې هم نوی ادب وده مومي او د ديني کتابونو تر

څنګ ګڼ شمېر ادبي آثار خپرېږي او بيا په دې وروستيو کلونو کې تاريخي کتابونه زيات علاقمندان مومي.

په دې څه باندې شل کاله موده کې د پېښتو زرو ټوکو شاوخوا کتابونه او ورځې رسالې خپرې شوې دي، د خپرو شويو کتابونو ژبې پښتو او دري دي او شمېر يې هم سره مساوي دی لو فيصدي يې زيات توپير نه لري. په هېواد کې دننه د هېواد په ورو ژبو ازبکي، بلوڅي، ترکمني او پشه يي هم يو لږ شمېر کتابونه خپاره شوي او رژيم غوښتي په دې وسيله وښيي چې ټولو خلکو ته کلتوري حق ورکوي، خو دا کتابونه تر ډېره حده تبليغاتي دي ، له هېواد نه بهر هم په ازبکي ژبه يو شمېر کتابونه خپاره شوي او يوه برخه يې په عربي، انګليسي او اردو ژبو هم دي.

## دواړو دورو ته پرتليزه کتنه

په لومړيو سلو کلونو کې د کميت په لحاظ کتابونه لږ چاپ شوي خو د کيفيت له مخې ډېر درانه، پاخه او ګټور دي. په هغو سلو کلنو کتابونوکې هڅه شوې چې د افغانستان د ملت د بېلا بېلو قومونو تر منځ د ملي وحدت مزي مرغلين او لاپياوړي شي خو په دې دوره کې د ملي رشتې د پريکولو لپاره زياته هڅه وشوه او پنډ پنډ کتابونه وليکل شول چې نه يوازې د غندنې وړ دي، بلکې د ملي ګټو او ملي مصلحت په خاطر د محوه کونې او له منځه وړنې.

د دې لوی علت دا دی چې هغه وخت کتابونه له يوې خوا په هېواد کې دننه چاپېدل او له بلې خوا يې يوه دولت کلکه څارنه کوله او حکومتونه که هر څومره غير ملي هم وو، خو بيا يې هم د چاپ او خپرونو په برخه کې له لازم احتياط نه کار اخيست او د ملي نفرت د رامنځته کوونکيو کتابونو چاپ له دوی سره د خلکو نفرت زياتاوه او که کله به کوم مفسد، مضر او د نورو له خوا اجير شوي کس د ملي وحدت د ورانولو په برخه کې د څه خپرولو هڅه هم وکړه، نو په لفافه او کنايه کې به يې يو څه نشر کړل. پر ۱۹۷۱ کال چې د ځينو ګاونډيو او په تېره بيا ايران په لمسه د ژبې موضوع راولاړه شوه، ازادو اخبارونو ته هم راووته، خو حکومت ډېر ژر په دې نفاق انګېزو خپرونو بنديز ولګاوه، که څه هم ګڼ شخصي او ازاد اخبارونه په دې جرم کې ملوث شوي وو، خو بيا هم له نېکه مرغه په کتابي بڼه چا څه خپاره نه کړای شول.

په وروستیو شلو کلونو کې له یوې خوا د هېواد حکومتونه د پردو لاسونو ته ولوېدل، چې د ملي ګټو پر ځای یې د پردي ښکېلاك په ګټه کار کاوه او په دې لړ کې یې د کتابونو خپرولو لړۍ ته خپلې د کلتوري ښکېلاك کړۍ ور واچولې او له بلې خوا له هېواد نه وتلي ځینې لیکوال د ایران او پاکستان د شومو اهدافو ښکار شول او دوی ته یې زمینه برابره کړه، چې د نورو کارونو تر څنګ د کتابونو څرخونه هم د ملي ګټو پر ځای د دوی د ګټو پر چاپېر را وچورلوي. نو له دې امله د داسې منحرفو او مضرو کتابونو په چاپولو کې د پردو ژور لاس دی او د مړه شوي شوروي اتحاد، ایران او پاکستان حکومتې پیسې په خلاص مټ پکې لګول شوې دي.

همدا راز د دې شل کلنې دورې ګڼ شمېر کتابونه تر ډېره حده له معیاره لوېدلي او داسې کسانو یې د چاپ مالي امکانات تر لاسه کړي چې د لیکلو مهارت او صلاحیت یې نه درلود او حتی ځینې یې د ډېر عادي او لومړني سواد لرونکي دي.

په هر حال په تېرو څو باندې شپږ شلې کلنو کې دا اووه نیم اتو زرو ټوکلو شاوخوا کتابونه خپار شوي چې هغه هم اکثره د تېرو شلو کلونو د ایډیالوژیکي او ژبني تعصبونو په ارونو او د جنګونو په سرو لمبو کې سوزول شوي او موږ یوویشتمې پېړۍ ته د علم پانګې نه تش لاس ور ننوزو.

## وړاندیزونه

د دې څېړل شویو سوابقو په رڼا کې زه په افغانستان کې د سبا لپاره د کتاب چاپونې په اړه څو مشخص وړاندیزونه لرم:

*لومړی:*

زموږ په سلهاوو زره ماشومان له هېواده بهر د نړۍ په خورو ورو هېوادونو کې خواره واره دي او د پردي فرهنګ په غېږ کې په پردیو ژبو زده کړې کوي او هم زموږ په سلهاو زره ماشومان په هېواد کې د ننه بې زده کړې او بې سواده لویېږي، نو په بیړنۍ توګه باید هڅه وشي چې زموږ لیکوال او او متخصصین د دوی لپاره د اسلام د سپېڅلي دین او د افغاني کلتور د روښانتابه او وربښودلو په غرض په پښتو او دري ژبو په ساده او روانه ژبه او د پرمختللي نړۍ له تجربو نه په استفادې سره کتابونه

تهیه او خپاره کړي او د دنیا په ګوټ ګوټ کې یې افغاني کورنیو ته ورسي، څو افغاني ماشومان له خپل دین او وطن سره اشنا شي او په خپلو ژبو وپوهېږي.

دویم:

په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان تعلیمي نصاب هم په هېواد کې دننه او هم په بهر کې ګډوډ شوی او د اسلامي او ملي غوښتنو او د سوله ییز او ارام ژوند د غوښتنو له چوکاټه وتلی، نو د ملي تعلیمي نصاب د بیا رغاونې لپاره باید د یوه بنیادي اقدام په توګه افغاني او خارجي متخصصین وګومارل شي او د افغانانو د کلتوري او علمي حلقو له لارې یونیسکو او نور نړیوال مراجع وهڅول شي، چې د نصاب په بیا رغونه کې درنه مالي مرسته وکړي او د افغاني ماشومانو او ځوانانو لپاره له ورکتون نه نیولې تر پوهنتون پورې داسې یو پرله موښتی او سره تړلی تعلیمي نصاب جوړ شي، چې زموږ ټولدیني او ملي ارزښونه پکې خوندي وي او د دې نصاب کتابونه په ملیونونو نسخې خواره او افغاني روزنځیو، ښوونځیو او پوهنځیو ته ورسول شي.

درییم:

افغانان چې اوس د مهاجرت په بهیر کې د نړۍ له ټولو ژبو سره بلد شوي، باید د ساینس، تخنیک او د علم په نورو ساحو کې ګټور کتابونه وژباړي او خپاره کړي څو له نویو غوښتونو سره سم زموږ د وران هېواد په هر اړخیزه بیا رغونه او نوې رغونه کې کار ترې واخیستل شي.

څلورم:

د افغانانو فرهنګي او کلتوري ټولنې دې د افغاني پوهانو او لیکوالو هغه آثار چې زموږ د ملي ژوندانه دردونه پرې دوا کېږي او په خواره واره ډول لیکل شوي، سره راغونډ او په منظم ډول نشر کړي.

پنځم:

زموږ د کتاب خپرونې د بهیر خورې ورې کړي. باید یوه منظمه لړۍ جوړه کړي او د اهمو کتابونو له خپرولو نه د مهمو او ښو کتابونو په لور پر مخ ولاړ شي.

په نتیجه کې باید ووایو: موږ اړه لرو چې په هېواد کې د ژوند بهیر او د علم بهیر له سره پیل شي او په ښه دود او له نویو غوښتنو سره سم ډول

باید پیل شي. دا کار په دې نه کېږي چې زه له تا نه توقع ولرم او ته له ما نه یا دواړه د بل په انتظار کېنو. نو دا وران وطن به موږ ټول جوړوو، راځئ هر یو یې له خپله ځانه پیل کړو او په اخلاص نورو هېوادوالو ته لاسونه ورکړو، تر دې چې د همت او اخلاص دا کړۍ یوه کلکه او محکمه ملي لړۍ جوړه کړي. راځئ، د پردیو په لمسون پیدا شوي درزونه له منځه یوسو، په یوه کلکه او پخه ملي اراده د ملي وحدت، ملي ګټو، ملي یووالي اوملي خپلواکۍ د ساتلو او ټینګولو په روحیه کار پیل کړو او لکه د زرګونو کلونو په اوږدو کې مو چې خپل کلتور او خپل کور په ګډه ساتلي همداسې یې په ګډه ودان کړو، ویې ساتو، د ملي وروری په غېږه کې د پراختیا او پرمختیا په لور ګامونه واخلو او د ملي وحدت د کتاب شېرازه په زرین او مرغلین مزي وګنډو!

د ودان اوپرمختللي افغانستان په هیله.

ACKU

محمد گل وطنپال دياني

# شلمه پېړۍ او د افغانستان سياسي بدلونونه

شلمه پېړۍ د بشري پېښليك (تاريخ) په اوږدو کې يوه مهمه او له ډېرو لوړو ژورو بحرانونو، پرمختگونو، کاميابيو او ناکاميو څخه ډکه پېړۍ بلل شوې ده.




کله له يوې خوا انسانان په دې بريالي شول، چې ماشين د بشر د سهولت او سوکالۍ لپاره په پراخه پيمانه پکار واچوي او د راحت او ترقۍ لپاره کار ځينې واخلي، خو له بلې خوا د بشر په لاس داسې ماشين آلات، وسلې او مهمات هم جوړ شول چې د انسانانو د ازار او شکنجې مرگ او تباهۍ سبب وگرځېدل.

که لـه یـوې خـوا انسـانانو د علـم او پوهـې د رڼا په برکـت د انسـاني کرامـت د سـاتلو، بـې عدالتیـو او بـې انصـافیو د ختمولـو او د مریسـتـوب د ورکولـو لپـاره غـوره او ګټـور قدمونـه واخیسـتل، خـو لـه بلـې خـوا د زبـېښاك ځان مننـې او پر نـورو د غلبـې لپـاره نـورې لارې او طریقـې هـم پیـدا او منـځ تـه راغلـې.

همدارنـګه کـه لـه یـوې خـوا کپټلـېزم د پـانګه وال سیسـتم د پیاوړتیـا او غښتلیتـوب پـه مقصـد فـردي ازادي، اقتصـادي تشـبث او ازاد مـارکیت تـګلارې تـه مرسـته او تشـویق ورکـړ، خـو لـه بلـې خـوا د سوسـیالیزم او کمونـیزم شـعارونو او مبـارزو هـم د ټولنـیز ازادیـو، ټولنـیز عدالـت او سـوکالۍ پـه نامـه ډېر خلك ځان تـه جلـب کـړل.

لنډه دا چې کـه د دغـې پـېړۍ مهمو پـېښو او حوادثـو تـه یـو لنډ او اجمـالي نظر واچول شي، نـو لیـدل کـېږي چې د ښکـېلاك او غلامـۍ تغـر د دغـې پـېړۍ پـه لومړیـو وختونـو کـې تـر ډېره حـده ور ټول شـو او د نـړۍ ډېر هېوادونـه او قامونـه د مقـاومتونو او مبـارزو پـه برکـت د ازادۍ پـه ځلانـده وړانـګو روښانـه او د خپـل واك څښتنـان وګرځېدل.

لومړۍ جهـاني جنـګ سـره لـه دې چې د اروپـا د سـترو قدرتونـو تـر منـځ پیـل شـو، خـو اثـرات یـې تـر ټولـې نـړۍ رسـېدل، دغـه جنـګ چې د سـر او مـال بـې سـاري تاوانونـه یـې منـځ تـه راوړل پـه اروپـا کـې یـې د غـالب او مغلـوب هېوادونـو روحیـه هـم غښتلـې کـړه او د غـچ اخیسـتلو لپـاره یـې نـوي تړونونـه رامنځتـه کـړل.

کـوم وخـت چې د لومـړي نړیـوال جنـګ ځخـه وروسـته بلشـویك انقـلاب پـه روسـیه کـې سـرته ورسـېد، پـه نـړۍ کـې د سـیالیو او خصـومتونـو یـو نـوی دوران پیـل شـو. پـه دغـو بدلونونـو کـې د برتـانوي امپراتـورۍ تـر څنـګ د امریکـا د متحـده ایـالتونو قـدرت هـم مـخ پـه زیـاتېدو شـو، چې هـڅه یـې درلـوده، پـه بیـن المللـي چـارو کـې اغېزمـن رول ولوبـوي.

پـه نړیـوال ډګر کـې د نـازي المـان هسـکېدل، د شـوروي او امریکـا دواړو ګټـې لـه خطر سره مخامخ کـړې، نـو ځکـه پـه دویـم نړیـوال جنـګ کـې امریکـا او شـوروي د المـان پـر ضـد د اتحـاد غـړي او ملـګري وګرځېدل.

تـر دویـم نړیـوال جنـګ وروسـته د امریکـا او شـوروي دغـه ملګرتیـا بـاقي پـاتې نـه شـوه او برخـلاف د دوی تـر منـځ سـیالیو او رقـابتونو د ختیـځ بـلاك او لوېدیـځ بـلاك مفـاهیم منـځ تـه راوړل، چې د شـوروي اتحـاد پـه مشـرۍ ختیـځ

ACKU

بلاك د كمونيزم د استحكام او انقلابي بدلونونو د پراختيا او لويديځ بلاك د امريكا په مشرتابه د ازاد تشبث او دموكراسۍ د پياوړتيا لپاره خپلې هلې ځلې او مبارزې وړاندې بيولې او په دې ترتيب د ساړه جنګ Cold) War) دوران منځته راغی چې د لوبغاړيو په تغيير د همغې لويې لوبې (Great Game) تداوم بلل كېده، چې پخوا د برتانيې او تزاري روسيې تر منځ روانه وه.

د دې تر څنګ يو شمېر نورو هېوادونو د ناپېيلتوب دريځ غوره كړ، چې وكولای شي د دغو سترو قدرتونو له شره ځانونه په امان كې وساتي، خو دا يو مشكل او ګران كار و. دواړو سترو قدرتونو يانې شوروي اتحاد او امريكا د خپلو متحدينو د ساتنې او پالنې تر څنګ د درېيمې نړۍ په هېوادونو كې د خپلو ستراتيژيكي ګټو لپاره پر له پسې مداخلې او لاسوهنې كولې او اكثر يې دغه هېوادونه په زور يا رضا د خپلو ګټو لپاره استعمالول.

د ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ په لسيزو كې شوروي اتحاد په خپل سوسياليستي اقتصاد چې لويه برخه يې وسلو جوړولو او د فضايي چارو انكشاف ته متمركزه شوې وه، يو لړ پرمختګونه وكړل او شوروي انسان د لومړي ځل لپاره د فضا سفر سرته ورساوه.

د دې په مقابل كې امريكا د لومړي ځل لپاره په سپوږمۍ انسان پلی كړ، چې دا د ساينس او تكنالوژۍ په ډګر كې يو بې سارې پرمختګ بلل كېده.

له بلې خوا په همدغو لسيزو كې د امريكا او شوروي اتحاد تر منځ د ساړه جنګ رقابتونه هم ډېر تېز او تاوده شول او په سيمه ييزو ستونزو او لانجو كې له ويتنام څخه نيولې تر كيوبا او له انګولا څخه تر منځنې ختيځ پورې د دغو سترو قدرتونو پټې او ښكاره لاسوهنې ليدل كېدې. د ويتنام او كمبوديا په شخړو او لانجو كې چې شوروي اتحاد او سوسيالستي هېوادونه يې تر شا ولاړ وو، د امريكا مداخله له شكست سره مخامخ شوه او د شوروي اتحاد قدرت او نفوذ په بې سارې توګه مخ په زياتېدو شو.

د ۱۹۷۹م كال په پای كې شوروي اتحاد د يو لاسوهونكي او تجاوزګر قدرت په توګه پر افغانستان پوځي يرغل وكړ، چې د خپلې خوښې يو لاسپوځی حكومت پر افغانانو تحميل كړي، خو څرنګه چې د افغانانو ملي

مقاومت او جهاد سره د اسلامي لوېديځو هېوادونو او امريکا مرسته او ملاتړ موجود و، نو شورويانو له افغان مقاومت څخه تاريخي شکست وخوړ او همدغه ماته بيا د شوروي د کمونيستي نظام د ړنګېدو پيلامه هم وګرځېده.

د ۱۹۹۰ په لسيزه کې د امريکا متحده ايالات د جهان يوازيني ستر قدرت مقام ته ورسېد، په داسې حال کې چې د روسيې قدرت او حيثيت د شوروي اتحاد تر ړنګېدو وروسته مخ په شرېدو شو او د ستر ځواك مقام يې له لاسه ورکړ.

په اقتصادي او تکنالوژۍ ساحو کې امريکا، جاپان او المان ګړندي پرمختګونه وکړل او د کمپيوټر او د انټرنټ د شبکې منځ ته راتلل د تکنالوژۍ د انکشافاتو ړنا لاخلانده او روښانه کړه او د بشر لپاره يې د خبر، معلومات او پوهنې روزنې نوې لارې او طريقې پرانيستلې.

په دې ترتيب د شلمې پېړۍ په وروستيو لسيزو کې بې سارې پرمختګونه او برياليتوبونه وشول چې د بشر قدرت او صلاحيت يې په ځمکه، فضا او په سيارو کې پراخ او ګټور وګرځاوه.

د نړۍ د دغو بدلونونو او جريانونو تر څنګ افغانستان هم په شلمې پېړۍ کې له ډېرو جګو ټيټو تېر شو، يو لړ برياليتوبونه او ناکامۍ يې وليدلې، خو زياتره د سترو قدرتونو د سياليو او دښمنيو په لوبه کې له سختو بحرانونو او مشکلاتو سره مخامخ شو.

د لومړنۍ نړيوالې جګړې په پای کې چې برتانيې د جنګ د يو فاتح هېواد مقام ګټلی و او له قدرت او صلاحيت څخه يې هر ځوك وېرېدل، خو افغانستان يوازينی هېواد و چې د خپل ځوان پاچا اعليحضرت امان الله خان په ملي مشرتابه يې له برتانيې څخه د بشپړ استقلال بيرغ پورته کړ او د خپلې ازادۍ په ګټلو يې نورو قامونو او هېوادونو ته هم دا جرئت وباښه چې د پرديو د حاکميت په مقابل کې ملي پاڅون وکړي.

افغان مسلمان ملت د خپل ګران پاچا له مدبرانه نظريو او لارښوونو سره سم د ترقۍ او پرمختګ په لور چټك ګامونه واخيستل چې د علم او پوهنې په ړنا کې د افغانستان د بېرته پاتې کېدو ژر علاج وکړي.

د دې تر څنګ افغانستان پر خپلو محدودو امکاناتو سربېره د هند د ازادۍ له جنبش او همدارنګه د مرکزي اسيا د خپلواکۍ له غورځنګ سره

ACKU

هم لازمي مرستې او همکارۍ کولې چې په هغه حال او شرايطو کې بل چا د انګريزي امپراتورۍ او روسي حکومت په مقابل کې د داسې کار او اقدام جرئت هم نه و کړی.

بايد زياته شي هغومره چې امان الله خان د برتانوي استعمار پر ضد و، هغومره يې د روس له پراختيا غوښتنې سره هم مخالفت درلود.

برتانوي استعمار چې د هند له مستعمرې څخه لاس اخيستونکی نه و او د افغانستان په بدلون او تګلارې يې د زړه خوابدي درلوده، پټه او ښکاره هڅه يې کوله چې د امان الله خان ترقۍ غوښتونکي او د استعمار ضد حکومت له پښو وغورځوي. امان الله خان د انګريزانو د توطيو د شنډولو لپاره د شوروي له فکتور څخه کار اخيست او له هغه هېواد سره د روابطو په ټينګولو او دغې ډيپلوماسۍ ته په رونق ورکولو يې انګريزان تهديدول. له بده مرغه استعماري دسيسې چې د يو شمېر قام دښمنو عناصرو په وسيله د دين تر پردې لاندې سرته رسېدې، د دې سبب شوې چې د امان الله خان حکومت په سقوي اغتشاش کې له منځه لاړ شي او پر ځای يې د سقو د زوی داسې حکومت جوړ شي چې د استعمار له هيلو سره سم د بې علمۍ او جهالت توره فضا منځ ته راولي او افغانستان د کلونو کلونو لپاره د تمدن له کاروان څخه لرې پاتې کړي.

بايد زياته شي چې د امان الله خان د حکومت ړنګېدل د هغې لويې سياسي لوبې The Great Game يو ښکار هم بلل کېده چې د ۱۹ مې پېړۍ راهيسې د برتانيې او روسيې تر منځ روانه وه او افغانستان پکې مرکزي حيثيت درلود.

وروسته د محمد ظاهر شاه د پاچاهۍ په دوران کې د افغانستان حکومت کوښښ وکړ، چې له شوروي اتحاد او برتانيې او هم له امريکا سره دوستانه روابط وساتي.

د دويم نړيوال جنګ په وخت کې افغانستان بېطرفي اعلان کړه او متحدينو او هم متفقينو هېوادونو په مقابل کې يې يو ډول چال چلند غوره کړ.

تر دغه نړيوال جنګ وروسته چې د فاتحو هېوادونو تر منځ د قدرت پالنو او ګټو ساتنو په مقصد نوي رقابتونه او کشمکشونه پيل شول او وروسته پوځي پکتونه او د لوېديځ او ختيځ بلاکونه منځته راغلل او د

ساړه جنګ دوران شروع شو، د افغانستان د محمد داود په مشرۍ له دغو سیالیو او رقابتونو څخه د لرېتوب په منظور د ناپېیلتوب جنبشن ته مخه کړه او د دغه حرکت د یو بنسټ ایښودونکي غړي په توګه یې داسې دریځ غوره کړ چې په بین المللي چارو کې خپل ازاد قضاوت ته ادامه ورکړي او خپله مثبته بېطرفي وساتي.

د یادونې وړ ده چې دغه مهال ایران او پاکستان د سنتو پوځي تړون غړي وو.

هغه وخت چې د ۱۹۶۰ مې په لسیزه کې شوروي اتحاد له امریکا سره ستراتیژیکه برابري حاصله کړه، نو د ناپېیلیو هېوادونو په مقابل کې یې د زور زیاتي چال چلن پیل کړ. وروسته چې شوروي اتحاد له امریکا سره د سیاسي برابرۍ ادعا وکړه، د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې ورته لاسوهنه هم عادي خبره شوه. له دې امله شوروي حکومت ځان ته حق ورکاوه چې سیمه ییزو لانجو کې جدي اړخ ونیسي او خپل ایډیالوژیکي ملګري او دوستان تقویه کاندي.

له همدې امله سره له دې چې د افغانستان حکومتونو د ناپېیلتوب سیاست بریالی پر مخ بیوه، خو بیا هم د شوروي اتحاد له فشارونو او لاسوهنو څخه په امان نه پاتې کېدل.

پر دې اساس کوم وخت چې افغانستان کې د ۱۹۶۴ د اساسي قانون له مخې د دموکراسۍ تجربه پیل شوه او انتخاب شوي پارلمان په پراخه پیمانه خپلې دندې او کارنامې وړاندې بیولې پټو لاسونو او اکثراً کینې اړخه ګوندونو په ولسي جرګه کې داسې ناارامۍ او جنجالونه را پیدا کول، چې حکومتونه یو پر بل پسې ړنګ او د دموکراسۍ تجربه ناکامه وګرځي او په پای کې میدان چپي ګوندونو ته پاتې شي. د دوی په مقابل کې د راسته اړخ افراطي ډلو خلك هم کرار نه کېناستل او د خپلو رقیبانو پر ضد یې فعالیتونه وړاندې بیول.

افغانستان د مخ په انکشاف فقیر هېواد په توګه د داسې کشمکشونو تاب او توان نه درلود او د بهرنیو هېوادونو په ځانګړې توګه امریکا د اقتصادي مرستو په کمښت میدان شورویانو ته پاتې کېده، چې هر څه وغواړي هغه سر ته ورسوي. د سیاسي مبصرینو او څېړونکیو په عقیدې پر ۱۹۷۳ د محمد داود خان له خوا د شاهي فلج شوي نظام پر ځای د

جمهوري نظام جوړول هغه وروستۍ هڅه او تلاش و، چې غوښتل يې افغانستان د فعال ناپېيلتوب حد ته را وګرځوي او په دې ترتيب يې د شوروي استعمار د سرو لېوانو له منګولو څخه خلاص کړي.

له بده مرغه چې دغه هيلې او ارزوګانې سر ته و نه رسېدې او د افغانستان جمهوري حکومت چې له يوې خوا د چپي او له بلې خوا د راډيکالو اسلامي جريانونو له فشار سره لاس او ګرېوان و، و نه شو کړای ژر د افغانستان بحران ته د ازادۍ نړۍ توجه راواړوي او د شورويانو توطيې شنډې کړي.

د دغو انکشافاتو په نتيجه کې د ثور توره کودتا د شوروي طرفدارو ډلو له خوا منځته راغله چې د افغانستان په اردو کې يې د شورويانو کړغېړنو ارزوګانو لپاره پټه خدمتګاري کوله.

د سياسي څېړونکيو په استدلال د ثور کودتا په بين المللي مقياس کې د ساړه جنګ د خصومتونو او رقابتونو يوه زېږنده پېښه هم بلل کېده، چې د سترو قدرتونو شوروي او امريکا تر منځ يې جريان درلود.

د ثور د کودتا يا تش په نامه انقلاب د شوروي د يرغل ګروپونو يو قوماندان جنرال ګروموف هم محض يو بدلون بللی (نه انقلاب) او په خپل کتاب کې يې ليکلي دي: "د اپرېل بدلون اوضاع د شورويانو په ګټه واړوله او دغه بدلون شوروي اتحاد ته په سيمه کې د يو ستر ستراتيژيک برياليتوب په توګه سر ته ورسېد.

څرنګه چې د افغانستان خلکو د کودتايي حکومت د ملي ضد او اسلامي ضد کارنامو په مقابل کې مقاومت او مخالفت وښود، شوروي اتحاد په ډېره بې شرمۍ رامنځته شو او پر خپل کوچني او سوله دوست ګاونډي افغانستان يې پوځي يرغل وکړ، چې د خپل استعماري پلان لپاره لاره اواره کړي.

بايد دا حقيقت هم په پام کې ونيول شي چې دغه مهال شوروي اتحاد په تعرضي کړنلارې وراندې تګ او پراختيا غوښتله او امريکا په مدافعوي دريځ له خپلو ګټو څخه ساتنه کوله.

د شوروي د ظالمانه پوځي يرغل په مقابل کې چې د ښه ګاونډيتوب لسګونې معاهدې او بين المللي قوانين يې تر پښو لاندې کړي وو، د

افغانستان مظلوم مسلمان ملت بله چاره نه درلوده، مګر دا چې خپل ملي مقاومت او جهاد ته دوام او پراختیا ورکړي.
دغه مقاومت او جهاد تر لس کالو زیات دوام وکړ او په هغه کې څه د پاندې یو نیم میلیون افغانان شهیدان، دوه میلیونه معیوب او ۵ میلیونه نور مهاجر او پردېسیان شول چې د سیمه ییزو جګړو په پرتله یې ساری نه لیدل کېده. د افغانانو د مقاومت او جهاد په نتیجه کې سره له دې افغانانو ته د مرګ او ژوبلې او تباهۍ له پلوه ډېر ګران تمام شو، د شوروي زبرځواك دې ته اړ شو، چې په شکست او ټیټ سر خپل پوځیان له افغانستان څخه په شا وباسي.
ورپسې پر ۱۹۹۲ د کابل لاسپوڅي حکومت چې نور ورته باقي پاتې کېدل ګران شوي وو، دې ته تسلیم شو، چې قدرت د ملګرو ملتونو د سولې پلان سره سم موقتي اداري ته وسپاري او په سوله ییزه توګه قدرت انتقال کړي. خو د کابل د حکومت مشر د خپل ګوندي مخالفینو له لاسه چې په پټه یې نظار شورا، حزب وحدت او د دوستم یاغي شوي ملېشې سره اتحاد کړي وو، نسکور شو او په دې ترتیب د قدرت غوښتنې یوه بله مبارزه پیل شوه. د پېښور د توافقاتو پر اساس سره له دې چې قدرت په ظاهر کې د مجاهدینو تنظیمونو ته ورسېد، خو عملاً واك او اختیار د پرچم ګوند له بقایاوو، کمونیستي ملېشو او خاد سره و، چې له پورته ذکر شویو ډلو سره یې پټ او ښکار فعالیت درلود. د وطن د غلیمانو په پټو کارنامو د کابل د حکومت تر نسکورېدو وروسته د افغانستان اردو چې د یو نظامي ځواك په توګه د ملت تمه ورته کېده، وران او له صحنې بهر شو او په دې ترتیب میدان تنظیمي وسله والو ډلو ته په لاس ورغی چې په حکومتي چارو کې یې هېڅ پروګرام او تجربه نه درلوده.
د دغو بدلونونو په دوام کې جمعیت اسلامي او متحدینو یې خپلې دغې وعدې چې کله حکومتي قدرت به په څلور میاشتو کې د ولس تاکلو استازویو ته سپاري، ماتې کړې او داسې هلې ځلې یې په کار واچولې، چې د مخالفینو په ځپلو قدرت په خپل لاس کې وساتي، نو ځکه د مخالفینو جهادي ډلو حزب اسلامي او نورو ورسره وسله وال مقاوت پیل شو، چې دغو نښتو او جګړو هېوادو په لویې کورنۍ جګړه کې واچاوه. دا چې ولې او څرنګه د افغانستان د مظلومو خلکو د بریالي جهاد ګټې په تویانونو

لاهو شوې او د يوه مشروع حکومت د جوړېدو پر ځای مختلف حکومتونه او ادارې منځته راغلې او د قدرت او څوکۍ لپاره جګړې او ورور وژنې پيل شوې اوږد بحث او تفصيلات غواړي، خو دومره يادونه ضروري ګڼل کېږي چې د بې کفايته جهادي مشرتابه او ځان منونکيو ليډرانو د کشمکشونو له امله او د خارجي لاسوهنو د دوام پر اساس د افغانستان قهرمانو خلکو د دغې تجارتي کارنامې ثمر تر لاسه نه شو کړای.

روسيې د شوروي اتحاد ميراث خورې په افغانستان کې د يو ملي او مستقل حکومت تر جوړېدو وروسته وېره او اندېښنه درلوده، چې شايد د غچ او انتقام په خطر به د مرکزي اسيا په جمهوريتونو کې لاسوهنې او اسلامي انقلاب ته هڅونې وکړي او له روسيې څخه به ژر د جنګ تاوان وغواړي. همدارنګه په افغانستان کې د سولې او ثبات منځته راتلل به لوېديځ هېوادونه مرکزي اسيا کې پانګه اچونې ته تشويق کړي او بيا به هلته د روسيې ګټې او اثر رسوخ له منځه ولاړ شي، نو ځکه يې خپلو لاسوهنو او ورانکاريو ته ادامه ورکړه.

له بلې خوا امريکا او لوېديځ هېوادونو چې پخوا يې د افغانانو له جهاد سره مرسته او ملاتړ کاوه، د شوروي اتحاد د کمونستي نظام تر ړنګېدو وروسته چې د دوی لوی هدف تر سره شو، خپلې پاليسۍ يې واړولې او د افغانستان کړېدلی او په سرو وينو لمبېدلی ملت يې د تقدير په لوبه کې د ګاونډيو هېوادونو په رحم او کرم کې پرېښود، چې له بده مرغه هر يوه ورته ځانته اجنډاوې درلودې. د افغانستان قهرمانو خلکو جهاد وګاټه، خو ارمانونه يې تر سره نه شول. د افغانانو د جهاد له برکته نور قامونه د شوروي له غلامۍ خلاص شول ، مګر په خپله افغانان د دښمنانو او دوستانو په خطرناکو دسيسو کې ګير پاتې شول.

د شلمې پېړۍ دوه وروستۍ لسيزې د افغانستان خلکو ته له غمونو او مصيبتونو ډکې لسيزې وې او په دغه دوران کې د افغانانو هرې کورنۍ ته د مرګ ژوبلې، ورانۍ او تباهۍ درانه تاوانونه رسېدلي او په مليونو خلک د اوارګۍ او مهاجرت په تريخ ژوند کې لوېدلي دي.

هغه تراژيدي او غميزه چې د ثور له کودتا او د شورويانو له پوځي يرغل څخه پيل شوې اوس هم روانه ده، کورنۍ جګړه نه ده ختمه شوې او د افغانانو د اکثريت د خوښې او تاييد يو مرکزي حکومت نه دی جوړ

شوی. د طالبانو اسلامي تحریك چې د تنظیمونو د بې قانونۍ زورزیاتۍ او د قدرت غوښتنې له جګړو څخه د افغانستان د مظلومو مسلمانو خلکو د خلاصون په مقصد منځ ته راغی او د خلکو له خوا یې ننګه او ملاتړ وشو اوس په خپلو هغو وعدو وفادار نه ښکاري چې دوی د حکومت کولو شوق نه لري او دا مسوولیت به د ملت استازیو او نمایندګانو ته پرېږدي. له بلې خوا طالبانو سره له دې چې ۹۰ فیصده ځمکه تر کنټرول لاندې راوستې، خو د سخت دریځۍ، د بشري حقوقو نه رعایت، تروریزم او د مخدراتو د تولید په الزام یې نه ملګري ملتونه په رسمیت پېژني او نه نور هېوادونه.

د دې په مقابل کې د شمال د اتحاد شړل شوی حکومت چې لس فیصده ځمکه یې په لاس کې ده، خو حکومت یې ملګري ملتونه او نور په رسمیت پېژني او د افغانستان په نوم ورسره مراوده کېږي.

دغه حالت د افغانانو د وینو تویېدو او د افغانستان د لازیاتې ورانۍ او تباهۍ لاملونه منځته راوړي دي. دا څومره د خواشینۍ ځای دی، هغه افغان ملت چې مېړانه او بهادرۍ یې له انګریزي استعماري قدرت څخه خپل استقلال واخیست او په آسیا کې د خپلواکۍ د جنبشونو مخکښ او د قافلې سالار بلل کېده، هغه افغان ملت چې په سربازیو او فداکاریو یې شکست نه منونکي او په شا نه تلونکي شوروي اتحاد له تاریخي شکست او شا تګ سره مخامخ کړ او د سیمې هېوادونه یې د شوروي له ورانديې تګ او پراختیا غوښتنې څخه وژغورل، دا دی د دښمنانو او دوستانو په دسیسو کې را ګیر شوی او اوس یې په خپل سرنوشت لوبې کېږي.

دا یو حقیقت دی چې د افغانستان د تراژیدۍ او اوسني بحران تر شا د وطن غلیمانو، د دین تر پردې لاندې د افغانستان د خپلواکۍ او ملي وحدت دښمنانو له خپلو داخلي عمالو سره لاس یو کړی، مذبوحانه هلې ځلې کوي، چې په قامي دیني او نژادي تعصبونو په افغاني ټولنه کې نفاقونه او اختلافونه راوپاروي او په خپلو شومو او ناپاکو خیالونو د افغانستان خلك په ورور وژنې او کورنۍ جګړې کې کړېدلي او ناارامه وساتي، خو دوی دغه تاریخي واقعیت ته په خلاصو سترګو نه ګوري چې د لاهوري ډاکټر اقبال په قول هم د افغانستان د اسیا د زړه حیثیت لري، نو که زړه نارامه وي، نور ځایونه به هم پاتې نه شي.

د افغانستان لـه حوادثـو، بدلونونـو او اوښتونـو ډك تـاريخ د دې شـاهد دی هر کله چې پـه دې غـيرتي هېواد کې د ازادی بېرغ لـه يـو لاسـه لوېدلـی پـه ډېره بيـړه او تلوار د بـل مېړنـي افغـان پـه لاس ببرتـه هسـك او اوچـت شـوی دی او هر کله چې د افغـان ملت بـرم او عـزت تـه پـه سپکه کتـل شـوي، نـو پـه قـام او وطـن ميـن افغانـانو يـې د پـت او شـوکت د سـاتنې لپـاره ور دانګلـي او پـه سرښندنو يې د خپـل ويـاړلي هـبواد څخـه دفـاع کـړې ده.

پـه دې اسـاس ځرنـګه چې د افغانسـتان خلـك د خپـل تـاريخ پـه اوږدو کـې لـه سـختو ازمېښتونـو او بحرانونـو کاميـاب او بريـالي راوتلـي اوس هـم هيلـه ده چې د لـوی څښتـن پـه مرسـته او توفيـق ژر لـه اوسني بحـران څخـه پـه خـير او کاميابـۍ تـېر شـي او د سرتاسـري سـولې پـه ټينګولـو او د خلکـو د خـوښۍ د يـو مرکـزي حکومـت پـه جوړولـو د خپـل سرنوشت چـارې پـه لاس کـې واخلـي او د دښمنـانو دسيسـې شنډې او ناکامـه کـړي.

پـه پـای کې د شهيدانو پاك روح تـه د دعـاګانو پـه وړانـدې کولـو وايـم:

تـل دې وي ازاد، خپلـواك او سـرلوړی افغانسـتان.

ورك او نـابود دې وي زمـوږ د قـام او وطـن دښمنـان.

نبي مصداق

# په شلمه پېړۍ کې د افغانستان بهرنۍ سیاست

په شلمه پېړۍ کې د افغانستان د بهرني سیاست یوه مهمه برخه د نولمسې پېړۍ د پېښو په وړانګو کې پاتې شوې ده. په نولسمه پېړۍ کې دوو امپراتوریو زبرځواکونو چې انګرېزان او تزاري روسان وو، په خپل منځي سیالۍ کې یو د لرې ختیځ او بر




صغیر د ځمکو په نیولو پیل وکړ او بل د قفقاز او مرکزي اسیا. دواړه د نولسمې پېړۍ تر پای یو د ختیځ له لوري او بل د شمال له لوري د افغانستان پر پولو ودرېدل.

انګرېزانو له یعقوب خان سره د ګندمک د تړون د لاسیک له لارې پر ۱۸۷۳م کال ځانته د افغانستان د بهرني سیاست اختیار تر لاسه کړ او روسانو د انګریزانو له موقف نه چې حاضر نه وو، د افغانستان پر سر ورسره په جګړه کې شي لومړی د واخان یوه برخه پر ۱۸۷۳ کال تر خپل تصرف لاندې راوستله او بیا یې په پنجده کې د افغانستان په زرګونو کیلو متره مربع ځمکه ونیوله.

په دې مقاله کې غواړم، پر هغو عواملو چې د انګرېزانو له خوا د افغانستان د بهرني سیاست د کل اختیارۍ له امله پیدا شوي او د شلمې پېړۍ زیاته برخه یې ونیوله خبرې وکړم او هم دا چې د تزاري روسیې د پراختیا غوښتنې پلانونه څرنګه شوروي او روسانو غوښتل عملي کړي تحلیل او وړاندې کړم.

پر افغانستان د انګرېزانو د برلاسۍ یو وروستی تصمیم د ډیورنډ کرښه وه، چې پر ۱۸۹۳ وکښل شوه او بیا د بر صغیر له وېش نه پر ۱۹۴۷ زموږ لپاره د پښتونستان په موضوع بدله شوه، چې د کمونستانو د حکومت تر پایه پورې د پاکستان او افغانستان تر منځ یوه حاده کړکېچنه موضوع وګرځېده. څرنګه چې د افغانستان د شلمې پېړۍ تاریخ او بهرني سیاست بحث له ډیورنډ کرښې پرته څېړل کېدای نه شي، نو غواړم، یوازې او یوازې د تاریخي پېښو او اسنادو پر اساس زموږ د شلمې پېړۍ پر دې موضوع هم معلومات وړاندې کړم.

د ډیورنډ کرښه چې د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د سرماتیمه ډیورنډ له خوا چې د برتانوي هند د بهرنیو چارو سلاکار و- د ۱۷۰۰ میلو په اوږدوالي د افغانستان له شمال ختیځ نه د ایران تر پولې په جنوب لوېدیځ کې چې پښتانه او افغاني بلوڅ قومونه کلي او ولسونه یې سره بېل کړل، وکښل شوه. خو امیر عبدالرحمن خان په خپلو خاطراتو کې لیکي چې هغه هېڅکله هم دا نه دي منلي چې ګنې دا قومونه او ولسونه دې له افغانستان څخه په دایمي ډول بېل شي. بر خلاف امیر چې د بر صغیر د مسلمانانو له خوا د امیر المومنین په نوم یادېده، غوښتل یې چې دا ټول مسلمانان تر خپل تصرف لاندې وساتي.
(فریزه تیتلره ۱۸۷مخ).

ACKU

د امیر عبدالرحمن خان مخالفت له انګرېزانو سره له کله نه چې دی پر ۱۸۸۰ کال پر تخت کېناست، څرګند دی. د مثال په ډول هغه د خپلو خاطراتو (دویم ټوک ۱۵۹مخ) کې لیکي چې "انګرېزان وایي چې موږ د افغانستان په لور نورو ځمکو ته ضرورت نه لرو، موږ یوازې غواړو چې افغانستان یو پیاوړی او ازاد شاهي مملکت وي. خو له بلې خوا د بلوچستان د خواجه په غونډیو د تونل ایستل غواړي چې له هغې لارې د اورګاډي پټلۍ زموږ ملک ته را ورسوي، لکه چې زما په کولمو کې چاړه وهي" امیر د انګرېزانو د اورګاډي د پروژې پر ضد په موجوده پښتونستان کې وزیر، اپریدي، مومند او د کورمې توري تحریک کړل چې په خپلو سیمو کې د انګرېزانو پر اډو ورودانګي. ضمناً یې برسېره پر خپلې وعدې چې ویلي یې وو، نه غواړي د اسمار، دیر او باجوړ د خانانو په کورنیو چارو کې مداخله وکړي، دا درې ځایونه یې ونیول.

انګرېزان وایي چې د همدې قومي مخالفتونو له امله چې امیر هغوی ته پیدا کړي وو، دې ته اړ شول چې د ډیورنډ پر کرښه دا مخالفتونه پای ته ورسوي. د امیر عبدالرحمن خان لپاره د دې کرښې تړون د انګرېزانو د نفوذ د ساحې Shere of infloence بلول وو. افغاني مورخین (علي محمد ۱۴۰-۱۴۱مخونه، کاکړ ۱۱۱-۱۱۲ مخونه او غبار ۶۸۷-۶۹۴مخونه پوری) وایي چې دا کرښه پر امیر باندې په زور تحمیل شوې ده. ځکه کله چې امیر د کرښې نقشه له برتانوي هند نه وغوښتله، هغه هک پک پاتې شو، چې په دې نقشه کې لکه چې د خپلو خاطراتو په دویم ټوک ۱۵۷-۱۵۸مخونه کې) لیکي "وزیر، نوی چمن او هلته د اورګاډي سټېشن د مومندو ټوله علاقه، اسمار، چترال او په منځ کې ځمکې ټولې د برتانوي هند په لوري په نښه شوې دي. امریکایي مولف ارنولد فلچر ۲۴۷مخ کې لیکي چې سرویلیم بارټین د صوبه سرحد یو باتجربه سلاکار په خپلو خاطراتو کې زیاتوي چې د ډیورنډ له کرښې نه پخوا تر یوې پېړۍ پورې د سیمې دا ټولې ځمکې د افغاني حکومت برخې ځکه وې چې خلک یې د احساساتو، وفادارۍ او نژاد له امله سره یو دي. د برتانوي حکومت هڅه چې دا خلک له خپل، افغان او یا پښتون نشنلزم نه بېل کړي، لمر په یوه ګوته پټول دي."

اصلاً د دې ۱۷۰۰ میله کرښې یوازې ۳۰۰ میله په فني ډول سروې شوې ده او پاتې برخه یې د کاغذ پر مخ د لیکې ایستل دي. حتی په د"

۳۰۰ میله کې کله چې د ډیورنډ هیئت به کلیو او ولسونو ته ورسېد، نو له هغوی څخه به یې پوښتنه کوله چې د کرښې پر کومه خوا غواړي چې واوسي. طبعاً خلکو به دستي فیصله نه شوه کولای، نو هیئت به معمولاً ورته ویل چې موږ ښکار ته ځو او یا به سبا ته بېرته راشو، بیا خپله فیصله راته ووایاست او حتی چې دا فیصله به موجوده هم نه وه، هغوی به په خپلو خوښه کرښه په سیمه کې په نښه کړه. (ارنولډ فلچر، پورتنی مخ).

د ډیورنډ کرښې له دې لنډ پس منظر نه به اوس راشو چې د دې کرښې پر قانوني برخو خبرې وکړو، لومړی ایا دا یوازې یوه کرښه وه او که پوله او سرحد. دویم دا چې د برتانوي هند په له منځه تلو سره هغه د ۱۸۹۳ تړون هم له منځه تللی او که په میراثي ډول پاکستان ته ور پاتې کېدای شي؟ درېیم: دې کرښې ته Agreement یا تړون ویلی شوی، نه ژمنلیک (معاهده)- ځکه چې دواړه خواوې متساوي الحقوقه نه وې.

الف- د ډیورنډ په تړون کې یوازې د (کرښې) یا (لیکې) د تړون ذکر شوی دی، که څه هم انګرېزانو له ۱۸۷۳ نه چې د سرګولډسمېټ د سیستان پوله له ایران سره او بیا یې د مکمهان په تړون کې دا پوله او د هلمند د اوبو فیصله خو کاله وروسته وکړه او له روسیې سره یې د ذوالفقار او واخان تړونونه د افغانستان لپاره وکړل، تل (د پولې) یا (سرحد) په هکله خبرې شوې دي. نو که انګرېزانو چې د پولو په ټاکلو کې پوره مهارت درلود او غوښتې یې وای چې دا هم د یو (سرحد) یا (پولې) معاهده شي. نو ولې یې بیا د (کرښې) او (لیکې) په نوم د ډیورنډ تړون لاسلیك کاوه. ښکاره ده، چې د امیر عبدالرحمن خان لیکنه حقیقت لري او دواړو افغاني او انګرېزي خواووغوښتل چې د خپل (نفوذ ساحه) د دې کرښې په ایستلو سره په نښه کړي.

دا کرښه پر ۱۹۲۱ وروسته تر دې چې برتانیې له افغانستان سره سیاسي اړیکي نورمال کړل، د لندن او کابل تر منځ اړیکي ټینګ شول، د انګرېزانو له خوا د افغانستان په رسمیت پېژندلو سره د یوې رسمي او بین المللي کرښې په توګه ومنل شوه. خو په قانوني لحاظ برتانیه نه شي کولای دا معاهده یو درېیم هېواد ته چې پاکستان دی او د هند له تن څخه د مذهب پر اساس بېل شوی په میراثي ډول وروسته له ۱۹۴۷ نه ور پرېږدي.

ځکه د برتانوي هند میراث هند ته چې د هغه ځای یې ونیو، ورپاتې کېدای شي، خو پاکستان ته چې یو جلا ملك شو، نه شي پاتې کېدای.

ب- د انګرېزانو د برتانوي هند د حکومت په ړنګېدو سره په بر صغیر کې دا تړون یا معاهده په هر شکل چې تغیر شي، پاکستان ته په وراثت ورسېدای نه شي؟

عبدالرحمن پژواك د خپل پښتونستان د کتاب په ۱۴۷ مخ کې لیکلي وایي وراثت د بین المللي قانون له مخې د قبول وړ نه دی او زیاتوي چې: "الف- د نورو د ځمکو شاملول د پاکستان د ځمکې په تمامیت کې یوازې په متقابله خوښه او تصمیم پورې اړه لري او که نه قانوني به نه وي. ب- یو مملکت ته د بل هېواد په میراث رسېدل په خپله مناقشه امیزه موضوع ده. دا ځمکې چې په پاکستان پورې مربوطې شوې دي، په خپله د «هېواد په شان» سیمې وې، چې ځینې یې تر اداري کنټرول لاندې وې او ځینې نورې یې قومي برخې وې چې د قومي قانون له لحاظه ازادې وې. له دې د... څخه یو یې هم نه د برتانوي هند، نه د هندوستان او نه هم د پاکستان برخې وې."

پژواك په ۱۴۸ مخ کې پژواك زیاتوي: "دا د بین المللي قانون اصول دي چې د یوه ملك په مدغم کېدلو او یا د یوه ملك په له منځه تلو سره «لکه د برتانوي هند ړنګېدل» هغه تړونونه چې ورسره لاسلیك شوي په خپله له منځه ځي". پژواك بیا د څو تنو نړیوالو قانون پوهانو له خولې نقل قول کوي چې زه یې په مختصر ډول یادونه کوم:

برازیلي سیاست پوه پوهاند ایکولي (Accioly) د خپل بین المللي قانون په کتاب کې زیاتوي: "توي ملکونه نوي شخصیتونه لري، پخواني تړونونه له هغو سره نه دي لاسلیك شوي." بل نړیوال پوه چې انزیلاتي (Anzilotti) نومېږي وایي چې بین المللي تړونونه مشخص خصوصیتونه دي چې له یوه نه بل ته نقل کېدای نه شي. که چېرې یو ملك د بل له خوا ونیول شي پر لومړي ملك باندې تړونونه تحمیل کېدای نه شي. پوهاند فرانسوه (Francois) د هالند دهیك نړیوال مقنن وایي «هغه حقوق او وجایب چې د داسې تړون پر اساس منځته راغلي وي، بل میراثي ملك ته په وراثت نه رسېږي.» پوهاند کولیري (Cavalieri) موافقه لري چې د اصولو له مخې که پخوانی دولت له منځه لاړ شي، د هغه وجایب او حقوق هم



ACKU

ورسره له منځه ځي او کله چې يوه برخه له يوه ملك نه بيله شي دا برخه بايد په ازاد ډول د خپلو برونو په باب خبري وکړي

په دې ډول:

لومړی- د ډيورنډ کرښه د (پولې) يا (سرحد) تړون نه و او نه هم د هغه وخت افغانستان له برتانوي هند سره متساوي الحقوقه ګڼل کېدای شي.

دويم- د برتانوي هند په ړنګېدو سره دا تړون پاکستان ته په ميراث نه شي رسېدلای.

درېيم- حتی په خپله برتانوي منابع هم هغه ته د يوې نړيواله معاهدې په سترګه نه ګوري.

څلورم- د افغانستان ټولو حکومتونو د ډيورنډ کرښه رد کړې او په قانوني لحاظ يې غير قانوني ګڼلې ده، خو پر دې برسېره د ډيورنډ تړون او کرښه د افغانستان د شلمې پېړۍ په تاريخ کې د افغانستان او پاکستان تر منځ لويه منازعه پاتې شوې ده. په عمل کې د افغانستان او پاکستان د پښتنو لپاره چې د دې ليکې په دواړو خواوو کې پراته دي، په ورځني ژوند کې د پخوا په شان د بېلو بېلو قومونو په ډول خپله راشه درشه ساتلې ده. زما خپله تجربه دا ده چې د ډيورنډ د هغه لوري د پښتنو ژوند په پاکستان کې خورا بسيا دی. تر هغه چې په افغانستان کې د ژوند شرايط له پاکستان نه ښه نه شي (پښتونستان) په نوم تبليغات او مصرفونه لکه چې په تېرو پنځوسو کالو کې يې نتيجه نه ده ورکړې، وروسته له دې به هم نتيجه ور نه کړي، خو کله چې لر او بر پښتانه يو ګډ تصميم ته ورسېږي د خپل څلوېښت مليونه نفوسو، ژبې او ګډ کلتور له لارې به هېڅوك هم د دوی مخه و نه نيسي.

د افغانستان د شلمې پېړۍ بهرنی سياست په سمه توګه د امير عبدالرحمن خان په مړينه او د هغه د سلطنت لپاره د روزل شوي زوی امير حبيب الله خان په جلوس سره پيلېږي. امير حبيب الله خان د افغانستان د شلمې پېړۍ په تاريخ کې يو رسېدلی او ذکي پاچا و، خو زموږ په تاريخ کې هغه ته داسې کرېدت چې په بهرني سياست کې يې لوبولی ورکړ شوی نه دی.

حبيب الله خاان دخپل ۱۸ کلن سلطنت په موده کې له يوې خوا له انګرېزانو سره نرمي ونه ښودله او له بلې خوا د لومړي نړيوال جنګ په

دوران کې د افغانستان د ګټه په نظر کې نیولو سره نه د ترکیې او المان د مرکزي قواوو او نه هم د هغو د متخاصمو متحدینو چې انګرېزان او روسان وو- تر تاثیر لاندې راغی

غواړم د دې مقالې لپاره د هغه پر بهرني سیاست باندې د دې ملکونو په مقابل کې بحث وکړم، د انګرېزانو یو شکایت دا و چې افغاني پاچاهان د خپلو اسلافو د تړونو او معاهدو مراعات نه کوي. نو د حبیب الله خان تر جلوس څه موده وروسته د برتانوي هند وایسرا لارډکرزن د انګرېزانو د پورتنیو اصولو او غوښتنو پرخلاف یو لیک ور ولېږه چې ستا له پلار (امیر عبدالرحمن خان) سره زموږ تړون یو شخصي سند و، چې موږ لاسلیک کړ، نو له دې کبله باید یو نوی تړون لاسلیک شي. حبیب الله خان دې غوښتنې ته هېڅ اعتنا و نه کړه. بیا کله چې لارډ کرزن پر ۱۹۰۴ امیر ته د هند د سفر بلنه ورکړه. افغان پاچا د هغه مېلمستیا رد کړه. کرزن په غوسه شو او د جنګ ګواښ یې وکړ او هم یې د یوه ګواښ په لړ کې پر امیر تور ولګاوه چې غواړي له روسانو سره یو تړون لاسلیک کړي. پر پاچا باندې د فشار له امله هغه وسله چې افغانانو اخیستې وه او د هندوستان له لارې افغانستان ته راتله هغه یې هم بنده کړه. ضمناً امیر حبیب الله خان د کرزن د ګواښ په مقابل کې ولیکل چې بین المللي تړون د یوې خوا په خوښه له منځه تلای نه شي، باید دواړه خواوې موافقه وکړي او له بلې خوا له امیر عبدالرحمن خان سره تړون ته د خصوصي تړون په باب حبیب الله خان وویل چې که داسې وي نو موږ هم د ګندمک او ډیورند تړونونه- نه منو او غوښتنه یې وکړه؛ چې په مستقیم ډول له برتانیې، جاپان، روسیې، جرمنې، چین، مصر او متحده ایالاتونو سره تماس ټینګ کړي. کرزن چې غوښتل یې د جنګ اعلان وکړي، په ډیلي او لندن کې د نورو له خوا له خپل اقدام نه منصرف شو. په لندن کې حکومت پوهېده چې افغانان نه ډارېږي او د کرزن دا تاکتیک به خطرناک عواقب ولري، نو ځکه یې لارډکرزن لندن ته وغوښت. متعاقباً پر ۱۹۰۴ او ۱۹۰۵ یو برتانوی هیئت کابل ته لاړ، دې هیئت په سر کې سخته رویه غوره کړه او ټینګار یې وکړ، چې د چمن اورګاډی کندهار ته او د خیبر دې کابل ته ورسېږي. پاچا دا غوښتنې رد کړې او ټینګار یې وکړ، چې باید انګرېزان تر دې وروسته په خپلو مراودو کې هغه ته د اعلیحضرت (His Majesty) خطاب وکړي او هم یې باید "د

افغانستان او په افغانستان پورې مربوطو سیمو د ازاد پاچا په توګه وپېژني" پاچا زیاته کړه چې انګرېزان باید د هغه له پلار سره معاهدې هم په هغه شکل چې لاسلیك شوي قبولې کړي. انګلیسي هیئت دا ټول شرایط ومنل چې لارډکرزن په احتجاج سره استعفا وکړه.

نوی ویسرای لارډمنتو (Lord Minto) حبیب الله خان ته د هند د لیدو بلنه ورکړه او افغان پاچا د ۱۹۰۷م د فبروري له دویمې نه د مارچ تر اومې پورې هند ته سفر وکړ او په ټولې دبدبې سره چې باید له یوه پاچا نه وشي، هر کلی یې وشو او سر ته ورسېد.

د حبیب الله خان لپاره بله ازموینه د ۱۹۰۷ کال د سنټ پټرزبورګ (St. Petersburg) هغه کنوانسیون و، چې انګرېزانو او روسانو د ایران او افغانستان پر سر د خپلمنځي کړکېچ د ختمېدو لپاره د تزاري روسیې په پایتخت سنټ پیټرزبورګ کې لاسلیك کړ. که څه هم د ایران په پرتله دا تړون زیات د افغانستان په ګټه و، ځکه دواړو استعماري ځواکونو یو له بل نه قول واخیست، چې د افغانستان د پولو احترام به کوي او د افغانستان په داخلي چارو کې به مداخله نه کوي او نه به هم د افغانستان کومه برخه د ځان لپاره نیسي، خو څرنګه چې د افغانستان له لوري پاچا په دې کنوانسیون کې ګډون نه درلود او هم د پرېکړې یو امر دا و چې باید دا پرېکړه د افغانستان پاچا هم تایید کړي، نو امیر حبیب الله خان دا پرېکړه رد کړه او ویې پوهول چې د افغانستان په باب پرېکړه یوازې باید په خپله د افغانستان په مصلحت او خوښې سره وشي. (ضمناً انګرېزانو او روسانو چې ایران یې د خپل نفوذ د ساحې په نوم پر شمال او جنوب وېشلی و، د همدې کنوانسیون پر اساس په لومړي، عمومي جګړه کې روسانو د ایران شمال او انګرېزانو یې جنوب ونیوه.) د جاپان او روسیې د ۱۹۰۴ او ۱۹۰۵ کالو د جنګ په نتیجه کې چې روسیې ماتې وخوړه، حبیب الله خان له انګرېزانو څخه د وسلو مرسته وغوښتله چې په مرکزي اسیا کې د افغانستان مربوطه ځمکې بېرته له روسانو نه ونیسي، خو انګرېزانو حبیب الله خان ته د هغه د پلار په شان چې د پنجده په نیولو کې د لاهور په کتلو بوخت و او هغو ته یې پیغور ورکړ، چې د پنجده په بېرته نیولو کې ورسره مرسته وکړي، انګرېزانو دواړه د پلار او زوی دا غوښتنې په دې دوو بېلو مرحلو کې و نه منلې.

د امیر حبیب الله خان لپاره د بهرني سیاست بل چیلنج د اسلام پلو او په اروپا کې د جرمنیانو او انګرېزانو د جنګونو پایلې وې. د عثماني ترکیې وروستی پاچا سلطان عبدالحمید و، چې د اسلام د خلیفه په څېر یې د انګرېزانو او روسانو په مقابل کې د نړیوال جهاد اعلان وکړ. خو حبیب الله خان د افغانستان له اوږدې تجربې نه چې د دې دواړو زبرځواکونو په هکله یې لرله، د جهاد دا اعلان و نه مانه او ویې ویل چې د افغانستان علماء هم باید داسې اعلان تایید کړي، کله چې ځینو ملایانو په افغانستان کې هم د هغه تایید وکړ، هغه ورته سرکښېښود. (ادمک، ۸۳مخ.)

سلطان عبدالحمید بیا وروسته د مصطفی کمال له خوا له منځه لاړ او هغه د ترکیې جمهوریت اعلان کړ او د جرمیانو تر څنګ د روسانو او انګرېزانو په مقابل کې ودرېد. د اتاتورك په منځته راتلو سره حبیب الله خان د یو سیاسي مانور په لړ کې د خوانو ترکانو د دفاع وزیر ته یو لیك ولېږه او له هغو نه یې مصلحت وغوښت چې افغانستان پر روسانو حمله وکړي او که نه؟ که څه هم داسې نیت یې ګرد سره نه درلود.

پر ۱۹۱۵ د المان یو هیئت کابل ته راغی چې هدف یې د انګرېزانو په وړاندې د حبیب الله خان او د پښتنو قومونو لسمول وو، دې هیئت دوه جرمن مشران، یو د هند د مسلمانانو مشر (مولانا برکت الله خان او یو هندو نشنلست (راجا مهندراپرتاب) د خپلو غړیو په منځ کې درلودل، امیر حبیب الله خان پر دغه هیئت داسې شرایط کېښودل چې هدف یې له داسې جنګ څخه د افغانستان ژغورل و، یانې:

لومړی- باید جرمنیان افغانستان ته د کال د طلا ۲۰ مېلیونه پونډونه، یو لك ټوپك، او ۳۰۰ توپونه ورکړي.

دویم- افغانستان به کله چې د ترکیې او المان بریالي عسکر افغانستان ته داخل شي، بیا به د هغو تر مشرۍ لاندې د برتانوي هند پر ضد حمله کې برخه اخلي.

ضمناً حبیب الله خان له انګرېزانو سره هم په تماس کې و او ورته یې لیکلي وو، چې که هغه مرکزي قواوې چې ترکیه او جرمني دي مخه یې ونیسي او یا یې وځنډوي، نو د افغانستان بهرنی سیاست اختیار به انګرېزان هغه ته ورکړي او که نه؟ د انګرېزانو ځواب یو ځل بیا هم منفي و

او ضمناً د المان په ماتې سره جنګ ته د افغانستان د ورګډېدو موضوع هم له منځه لاړه.

حبیب الله خان چې د لويو قواوو په منځ کې د افغانستان په بهرني سیاست کې یوه دستاينې وړ موازنه ټينګه کړې وه، يو شپه د لغمان په کله ګوش کې چې ښکار ته تللی و، يو چا په خوب کې پر غوږ باندې په تمانچه وویشت او د هغه ۲۹ کلن ځوان زوی امان الله خان يې ځای ونيو.

د مارچ پر لومړۍ نېټه ۱۹۱۹ کې امان الله خان د خپل تاج اېښودنې پر وخت د خپل بهرني سیاست اهم ټکي او له انګرېزانو د افغانستان د بهرني سیاست د واك بېرته اخیستل اعلان کړل. تر دې مراسمو دوه ورځې وروسته امان الله خان د برتانوي هند واکمنو ته وليکل چې افغانستان "د يوه ازاد او مستقل هېواد په څېر" غواړي له برتانيې سره تجارتي تړون لاسلیك کړي، انګرېزانو چې د هغه وینا وې ورته رسېدلې د امان الله خان غوښتنې رد کړې، چې په نتيجه کې هغه د جنګ لپاره تياری ونيو. جنرال نادر خان يې له درنو توپونو سره کرمې ته ولېږه او هم په تورخم، ډکې او کندهار کې جنګ پيل شو. انګرېزان په تورخم کې مخ ته لاړل، پر کابل يې بمباری شروع کړې او هم کندهار تر فشار لاندې و. وروسته له دوو مياشتو جنګ نه انګرېزانو د سولې د خبرو وړانديز وکړ، خو د افغانستان د کامل استقلال ماده پر هغو باندې د دې خبرو په پای کې ومنل شوه، چې د نوټ په څېر په معاهده کې شامله شوې ده.

دا چې ولې نادر خان له نیولو ځمکو نه خپلې قواوې وايستلې، مهم دليل يې دا و چې انګرېزانو پر کابل، کندهار، ننګرهار او پکتيا باندې په تورو اوبو باندې فشار زيات کړی و. امان الله ان د افغانستان د خپلواکۍ تر لاسه کولو سره حاضر شو، چې د ډيورند پخوانی کرښه له برتانيې سره په رسميت وپېژني، نو ځکه د کرمې له نیول شويو ځمکو نه يې صرف نظر وکړ.

د امان الله خان لوی مشاور محمود طرزي و، چې د عبدالرحمن خان په وخت کې سورېې ته له خپلې کورنۍ سره تللی و او تر ۲۲ کاله مهاجرت وروسته بېرته افغانستان ته راستون شو، لور يې امان الله خان واده کړه او د بهرنيو چارو د وزير په توګه وټاکل شو، د امان الله خان اداري

ریفورمونه، طرزي د عثماني ترکیې د حکومت په تجاربو سره رامنځ ته کړل، خو له داخلي کلتوري او مذهبي ریفورمونو سره مخالف و.

امان الله خان پر ۱۹۲۳ د افغانستان اساسي قانون د "نظام نامه" په نوم طرح کړ، خو څرنګه چې د مذهبي چارو په تحمیل کې اسرار نه و شوی او له بلې خوا په یو ځای کې د هلکانو او نجونو تحصیل او د ښځو د مخ لوڅي ژمنه پکې شوې وه. د هغې لویې جرګې له خوا چې د نظام نامې د تایید لپاره راغوښتل شوې وه، هم دا مادې رد شوې.

په پکتیا کې ځینو ملایانو ټوله نظامنامه رد کړه، د خوست دوه تنه ملایان ملا عبدالله (چې په ګوډ ملا مشهور و) او ملا عبدالرشید دواړو به خلکو ته د خطابې پر مهال په ښي لاس کې قرآن او په چپ لاس کې نظامنامه نیولې وه او ویل به یې چې "د الله کلام منې او که د امان الله نظام نامه؟"

ضمناً دوه کاله مخکې له امان الله خان نه د روسیې د تزاري دولت پر ځای بالوشویکان منځته راغلل او لینن د هغو مشر، لومړی زعیم و چې د افغانستان خپلواکي یې په رسمیت وپېژندله. لینن د ۱۹۱۹ په نومبر کې امان الله خان ته ولیکل: "د کارګرو او دهقانانو حکومت خپل سفارت ته په افغانستان کې هدایت ورکړ، چې له افغانستان سره تجارتي او د دوستۍ نور تړونونه لاسلیک کړي (موږ) حاضر یو چې له افغانستان سره په لوړه کچه مرستې وکړو او له هغه بې عدالتۍ چې د پخوانۍ تزاري حکومت له خوا له افغانستان سره شوې دي هغه د افغان شوروي د سرحداتو په داسې تعبیر سره چې د افغانستان په ځمکه کې د روسیې په نقص زیاتوالی راشي سمې کړو." *(امستت، ۱۱ مخ، کاز دربیم توك، ۲۳۸-۲۳۹ مخونه پوري).* له دې تړون څخه افغانانو داسې پوه شول چې ګنې د واخان او ذوالفقار تبادله به له منځه لاړه شي او هم به پنجده بېرته د افغانستان په پوله کې شامله کړای شي.

پر ۱۹۲۱ شوروي د لومړي ځل لپاره له یوه بهرني هېواد سره چې افغانستان و، یو بین المللي تړون لاسلیک کړ، د دې تړون پر اساس شوروي افغانستان ته ۱۱ نظامي الوتکې او د کال د طلا یو میلیون دانې Gold) (Bars او د سړکونو، تیلیفون او تلګراف انجینران د دې وسایلو د جوړولو لپاره هلته ولېږل. د افغانستان تجارت او اړیکې چې د امان الله خان له

وخت نه له روسانو سره د دوو ازادو او خپلواکو هېوادونو په څېر پېل شوي وو، په تدریج سره یې افغانستان له نورو هېوادونو، جلا کړ، چې یوه ورځ یې ټول سیاسي اختیار، د انګرېزانو د ګندمک د تړون په څېر په خپل لاس کې واخلي. له همدې کبله په تجارتي ساحه کې د افغانستان تجارت له شوروي سره په ۱۹۲۵-۱۹۲۴ کلونو کې له ۱۷ فیصدو نه ۱۹۳۹-۱۹۳۸ کلونو کې ۲۴ فیصدو ته او په ۱۹۸۰ لسیزه کې ۷۹ فیصدو ته ورسېد. (ګرګارین، ۳۳۳مخ او ادمک ۲۱۴ او ۲۴۵ مخونه، روبین ۱۶۳-۱۶۰ مخونه) خو له بلې خوا د لینن وعده چې افغاني خاورې به بېرته که د روسیې په نقص هم تمامېږي، بیا له افغانستان سره یو ځای کړي - عملي نه شوه او نه هم تر هغه وروسته شوروي حکومتونو د لینن هغه لومړي لیک ته کوم اهمیت ورکړ.

امان الله خان د اتو میاشتو لپاره (پر ۱۹۲۷-۱۹۲۸ کې) په بهرني سفر ووت چې له ماسکو، تهران او تقریباً یو درجن اروپایي پایتختونه یې ولیدل. د دې سفر په موده کې امان الله خان له دغو هېوادو سره قراردادونه او دول دول تجارتي او سیاسي تړونونه لاسلیک کړل: پولنډ، لتویا، فنلنډ، سویتزرلنډ، لایبریا، مصر او جاپان.

خو کله چې امان الله خان په ترکیه کې له مصطفی کمال سره ولیدل، هغه وربانديې ټاکید وکړ، چې ډېر سیاسي او ټولنیز ریفورمونه تر هغو چې تکړه اردو یې نه وي روزلې، باید پلې نه کړي، محمود طرزي او د دربار نورو مخلصانو هم پر امان الله خان ټینګار وکړ، چې د مصطفی کمال خبره ومني او د هغه د ژمنې مطابق باید ترکي افسران د اردو د روزلو لپاره راوغواړي.

امان الله خان چې د اروپا له پرمختګ او تخنیکي ودې څخه ډېر اغېزمن شوی و، په بیړې سره یې غوښتل افغانستان هم په لږه موده کې په پرمختللیو هېوادونو کې ورګډ کړي. د امان الله خان د لومړیو کالو بهرني سیاست یو بل اړخ ته چې باید اشاره وشي، د اسلام د خلافت موضوع وه، د ۱۹۱۷ په مارچ کې اتاترک هغه له منځه یووړه. د انګرېزانو په مقابل امان الله خان درېدل، اسلامي نړۍ ته بیا امید پیدا کړ، چې کېدای ان امیر د اسلام د خلافت مسوولیت هم پر غاړه واخلي او څکه لې اسلامي نړۍ د افغانستان د ازادۍ په ګټولو سره مبارکی

را رسېدلې. په هندوستان کې د خلافت په نوم يو ګوند موجود و او هغوی يو شمېر هندي مسلمانان تشويق کړل چې افغانستان ته د اسلامي هېواد په څېر مهاجرت وکړي، خو امان الله خان ته ډېر ژر معلومه شوه چې افغانستان نه شي کولای د برصغير په سلګونه مېليونه مسلمانانو ته د هجرت ځای وګرځي او ځکه هم هغه مسلمانان چې له هند څخه راغلي وو، بېرته هندوستان ته ستانه شول.

امان الله خان په خپله لس کلنه موده کې د خپل پلار او نيکه پر خلاف له زيات تدبير نه کار وا نه خيست، ځکه هم له يوې خوا د هغه داخلي ريفورمونه چې دلته يې تشريح ته ځای نه شته، ناکام شول او له بلې خوا دهغه د اسلام او خلافت پر نوم سياست باندې هغه ژور فکر نه و کړی او له ټولو نه مهم له روسانو سره د اړيکو په پرانيستلو کې يې د افغانستان په سياسي تاريخ کې داسې څېرکی پرانيست چې ليکل يې تر اوسه هم پای ته نه دي رسېدلي او تر امان الله خان وروسته له روسانو سره تړون، نادرخان پر ۱۹۳۳ بيا نوی کړ او تر هغه چې د افغانستان په بهرني سياست پورې اړه لري، افغانستان په دويم نړيوال جنګ کې بې طرفي غوره کړه او يوازې د داود خان د صدارت په موده کې وروسته له دې چې امريکا حاضره نه شوه، چې له افغانستان سره اقتصادي او نظامي مرستې وکړي افغانستان روسانو ته مخ واړاوه او د خروشچف او بولګانين په سفر سره روسانو سل مليونه ډالره پور په خورا ټيټه ربحه افغانستان ته ورکړ چې بيا نور تجارتي او کلتوري تړونونه لاسليك شول او په نظامي ساحه کې شوروي د افغانستان لپاره يوازينی منبع او د اردو لپاره يې د روزنې لوی مرکز وګرځېد.

خو د داود خان د صدارت د دورې د ختمېدو دليل له روسانو سره اړيکي نه، بلکې د هغه د پښتونستان سياست و چې پاکستان يو ځل بيا خپل سرحد او د کراچۍ بندر د افغانستان د مالونو پر مخ بند کړ.

داود خان د پاچا او شاهي کورنۍ په خوښه له صدارت نه لرې شو، چې په دې توګه له پاکستان سره اړيکي مخ په ښه کېدو شول، خو په لسو کالو کې چې د ۱۹۶۴ د اساسي قانون له مخې چې خلکو ته زياته ازادي ورکړ شوه او (د اساسي قانون د لسيزې) په نامه يادېږي، کمونستانو له موقع نه په استفادې سره خورا زيات فعاليت شروع کړ، د خلق او پرچم دواړه

اړخونه چې پر ۱۹۶۵ د خلکو ديموکراتيک ګوند تر نوم لاندې د تره کي په کور کې سره يو ځای شول، په څرګند ډول د شوروي په پلوی، سياست او مطبوعاتي فعاليتونه يې پيل کړل، د پاچا د وروستي صدراعظم موسی شفيق د نهو مياشتو په موده کې زيار وويستل شو، چې افغانستان له شوروي نه فاصله ونيسي خو کله چې داود خان وروسته له لس کاله تقاعد نه په کودتا کې د جمهوريت اعلان وکړ اته تنه يې په کابينه کې داسې کسان وو، چې يا په هغه وخت کې او يا وروسته څرګند شول، چې کمونستان وو او له شوروي سره يې له زياتو کالو اړيکې درلودل، لکه حسن شرق، جلالر او يا هم نورو کمونستانو لکه فيض محمد، جيلاني باختري، قادر او يا هم په خپله کارمل، اناهتيا او نور احمد نور چې د هغه د مرکزي کميټې غړي وو. برسېره پر دې د پرچم د اړخ د ۱۶۰ تنه په ولايتونو کې وټاکل شول.

داود خان په خپله نشنلست افغان او سوچه مسلمان و، خو سره له دې چې له ۱۸ کلنۍ نه يې د حکومت کولو تجربه درلوده، لکه څرنګه چې ښايي دومره پخته کاره او دور اندېشه نه و، په هر حال کله چې داود خان پوه شو چې کمونستانو ته کمونيزم له افغاني نشنليزم نه لوړ او د شوروي ګټې حتی د افغانستان له ګټو نه ورته ډېرې مهمې وې، په لومړي سر کې يې د کمونستانو په ويستلو پيل وکړ او بيا يې پر ۱۹۷۷ کال عربي ملکونو او ايران ته سفر وکړ، چې که د شوروي پر ځای د افغانستان د پرمختګ لپاره د هغوی له مادي زېرمونه استفاده وکړي.

ايران د دوه بليونه ډالرو او د اورګادي د پټلۍ د غزولو وعده وکړه چې د افغانستان مالونه له بندر عباس نه، د شوروي لارې پر ځای بهر ته يوړل شي، خو ايران د عمل په ډګر کې يوازې لس مېليونه ډالره مرسته وکړه او له نورو ژمنو څخه يې سر وغړاوه.

له انور سادات پرته د نورو عربي ملکونو ژمنې هم عملي نه شوې. ضمناً کله چې داود خان له شوروي مشرانو سره د کتنې لپاره مسکو ته لاړ او روسانو غوښتل چې د ناتو او لوېديځو هېوادونو انجينران د افغانستان په شمال کې له فعاليتونو نه منع کړای شي، داود خان وروسته له دې چې بريژنيف ته وويل: چې "افغانستان يو خپلواک هېواد دی او کولای شي هر څوک چې وغواړي د خدمت لپاره استخدام کړي." له کرېملېن نه ووت. د

روسانو باور له هماغې ورځې نه پر داود خان قطع شو او عربو او ایرانیانو ته د مرستې لپاره مسافرت، هغوی قانع کړل چې پر داود خان نور باور نه شي کولای. ځکه د عربو له سفر نه یو کال وروسته داود خان او د هغه د کورنۍ ۱۸ تنه د ثور په کودتا کې شهیدان شول او کمونستان واک ته ورسېدل.

د شوروي سیاست د خلق دیموکراتیک گوند بهرنی سیاست وگرځېد او له چا سره چې د شورویانو جوړه وه، باید د کابل کمونستان هم ورسره جوړ وای او له چا سره چې د شوروي روابط ښه نه وو، کابل یې هم له هغو سره له نېکو اړیکو نه منع کړ، په دې ډول کابل له شمالي کوریا، منگولیا او کیوبا سره چې موږهېڅ تجارتي اړیکي ... ورسره نه درلودل د شوروي د پلوي کمونست هېواد په څېر سفارتونه خلاص کړل او له پاتې شوروي طرفدارو ملکو سره، لکه ایتوپیا، عدن، عراق، سوریه او نورو سره نوي اړیکي ټینگ شول او یا هم موجوده اړیکو ته لا قوت ورکړ شو.

د کمونستانو د دوو کالو په لنډه دوره کې د افغانستان اړیکي له لوېدیځو او اسلامي هېوادونو سره ساړه شول، چې د روسانو په راتگ سره د کابل رژیم د اسلامي کنفرانس د هېوادونو له ډلې نه وایستل شو او په کابل کې نورو ازادو ملکونو هم خپل سفارتونه د شاژدافیر سویې ته راښکته کړل. دا سفارتونه په تنظیمي غوبل کې چې د نجیب له حکومته وروسته راغی یا چور شول او یا هم وتړل شول، چې پر ۱۹۲۹(له سقاوي دورې) وروسته د لومړي ځل لپاره بیا کورنی جنگ په افغانستان کې پیل شو، چې دا جنگ په یوه محدود شکل تر اوسه پورې هم دوام لري، ځکه هغه ۹۰ فیصده ځمکه چې طالبانو په دې تېرو څلورو کالو کې تر خپلې ولکې لاندې راوستلې، وسلې ټولې شوې، امنیت ټینگ شوی او د خلکو سر، مال او ناموس چې بې رحمۍ سره د ټوپکیانو (په اصطلاح مجاهدینو) په څلور نیم کلنه انارشي دوره کې له خطر سره مخ و، دا خطرونه ختم شول او یوازې جنگ د ملك په پاتې لسو فیصدو کې اوس هم دوام لري، خو طالبان په بهرني سیاست کې له نړیوالې لاسوهنې او دسایسو سره مخامخ دي. د ملگرو ملتونو اداره چې دواړو استعماري قواوو لکه فرانسې او برتانیې غټ امپریالستي ځواك امریکا او بې جهته روسانو په لاس کې ده نه غواړي چې په افغانستان کې یو غښتلی مرکزي حکومت

چې طالبان يې راوستلي شي، منځ ته راشي. دا کفار ملکونه چې اصلاً له اسلام نه ډارېږي او نه غواړي چې يو سوچه اسلامي حکومت، د شرعې، حديث او سنت پر اساس منځ ته راشي، کله ښځې او د هغو تعليم او کار، کله پراخ بنسټې حکومت او کله هم زموږ قومي مسايل لکه چې خپل يې وي، طالبانو ته په مخ کې نيسي او حاضر نه دي چې د همدې ملګرو ملتونو د قوانينو او نړيوالو نورمونو په نظر کې نيولو سره هغوی په رسميت وپېژني. د خارجي سياست د تحليل له مخې د کمونستانو له منځه وړلو نه وروسته، د افغانستان خارجي سياست اوس د امنيت شورا د څلورو غړيو او په سيمه کې د هغوی حاميانو چې په سر کې يې ايران او سعودي دي، پر غاړه اخيستی، دا منطقوي او د ويتو ملکونه، غواړي چې د خپلې ګټې پر اساس د افغانستان د بهرني سياست تګلارې وټاکي، څرنګه امان الله خان تر ۳۶ کالو وروسته انګرېزان مجبور کړل، چې زموږ خارجي سياست په خپله موږ ته وسپاري او څرنګه چې د جهاد يو نيم مېليون برحقه شهيدانو، د شوروي امپراتورۍ په ړنګولو سره افغانستان هم د شوروي له زبرځواکۍ نه خلاص کړو، نو ان شاء الله پر نړيوالو دسيسو برسېره به د افغانستان خلك چې په مطلق اکثريت سره د جنګ او د پرديو له لاسوهنې نه ستړي شوي دي او له طالبانو سره په څنګ کې ولاړ دي دا دسيسې به هم شنډې کړي او موږ به وکولای شو چې د خپلو خلکو او ويالي افغانستان لپاره هغه ازاده لاره چې تل زموږ نيکونو ټينګار پرې کړی او په زرګونو شهيدان يې ورکړي دي يو ځل بيا د افغانستان او پکې د ورونو قومونو لپاره خوښه کړو.

امين يا رب العالمين.


*د دې مقالې اخځونه:*

۱- فريزه ټايتلر: افغانستان، ۱۹۶۷، د اکسفورډ پوهنتون، مطبعه.

۲- ارنولد فلچر: افغاستان د فتوحاتو لويه لار، ۱۹۶۵، د کارنيل پوهنتون، مطبعه.

۳- کاکړ، محمد حسن: د افغانستان د بهرنيو اړيکو څېړل ۱۸۸۰-۱۸۹۶ کال، ۱۹۷۲.

۴- غبار، میر غلام محمد: افغانستان در مسیر تاریخ، ۱۹۸۲، تهران.
۵- علي محمد: افغانستان د محمد زیانو دوره، کابل، ۱۹۵۹.
۶- لوډویک ادمک، د شلمې پېړۍ تر نیمایي د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ، ارزونا پوهنتون مطبعه، ۱۹۷۴.
۷- بروس استوتز: افغانستان د شوروي د تسخیر لومړي پنځه کاله. د ملي دفاع پوهنتون، واشنګتن، ۱۹۸۶.
۸- ای ایچ کار: بالشویکان دري ټوکه، (دریم ټوک) د لندن پنګون مطبعه، ۱۹۵۲.
۹ وارتان، ګرګورین: د معاصر افغانستاان ظهور ۱۹۴۶-۱۸۸۰و ستنفرډ پوهنتون مطبعه، ۱۹۶۹.
۱۰-بارنټ روبین:دافغانستان اضمحلال، دیل پوهنتون مطبعه،۱۹۶۵.
۱۱- د امیر حبیب الله خان دخاطراتودوه ټوکه،۱۹۵۱لندن، دجان مري مطبعه.

ACKU

ډاکټر داود جنبش

# شلمه پېړۍ او افغاني مطبوعات

که څه هم لومړنۍ افغاني ژورنالستيکي خپرونې د تېرې ميلادي پېړۍ په دويمه نيمايي کې په کابل کې راوتلي، خو د کلمې په ربښتينې مانا يوازې شلمه پېړۍ د دغو مطبوعاتو د پيل، ودې او غوړېدنې پېر بللی شو. د شېرعليخان د دويمې واکمنۍ د اصلاحي غورځنګ تر ماتېدو وروسته چې لومړنۍ افغاني موقوته خپرونه "شمس النهار" (د نولسمې پېړۍ اويايم کلونه) يې هم نه بېلېدونکې برخه وه، د شلمې پېړۍ د دويمې لسيزې تر پيله بيا د کومې منظمې خپرونې څرك نه لګېږي. البته که د عبدالرحمن خان د واکمنۍ د پېر کوچنۍ خبرپاڼې (روزنامچې) او د حبيب الله خان د سلطنت د "سراج الاخبار افغانستان" د جريدې لومړنۍ او يوازينۍ ګڼه (د ۱۹۰۶ کال د جنورۍ يوولسمه) په پام کې و نه نيسو. په دې توګه نو د پای ته رسېدونکې پېړۍ د دويمې لسيزې هماغه پيل د افغاني منظمو موقوتو خپرونو درانښلېدو پيلوونکی هم دی. "سراج الاخبار افغانيه" (۱۹۱۱-۱۹۱۹م کلونه) د عصري ژورنالېزم خورا بې جوړې بېلګه ده، چې د باچا حبيب الله خان په پېر کې محمود بېګ طرزي جوړه کړه او په خپله يې چلوله. دا جريده هم د څېرې او هم محتوی له پلوه د پاملرنې وړ ده.

له دويم کال راهيسې يې ټولې ګڼې د ډبرين چاپ پر ځای په حروفي ډول خپرې شوې او کابل ته د زنګو ګرافي تخنيک په لېږدېدو يې د عصري

ACKU

ژورنالیزم یوه خورا اړینه برخه- عکسونه، رسمونه او جدولونه هم د لومړي ځل لپاره په خپلو پاڼو کې ځای کړل. د هېواد لومړنی مطبوعاتي عکس چې سراج الاخبار خپور کړی، ټولواک حبیب الله خان په رسمي پوځي کالیو کې ښیي. تر دې وروسته د هېواد بېلا بېلو دولتي ملکي او پوځي کارکوونکیو، ورځپاڼه لیکونکیو، کورنیو او بهرنیو نامتو څېرو عکسونه او د بالقان، روسیې، هندوستان، اروپا او نورو په اړه کاریکارتوونه او کارتونونه هم خپاره شوي دي.

د محتوی له پلوه هم "سراج الاخبار" د سیمې په کچه بې جوړې و. همدلته د لومړي ځل لپاره د افغاني ښځو ستونزې ته پاملرنه شوې او ورته یې د کوچنیانو لپاره د "سراج الاطفال" په نامه ځانګړې ضمیمه هم خپره کړې ده. همدا جریده د پښتو ژبې د مطبوعاتي کولو پیلوونکې ده. محمود طرزي په خپله په دري ژبه د پښتو د لرغونتوب، ادبي، سیاسي او ټولنیز ارزښت په اړه مقالې خپرې کړې او خپل نور همکاران یې لکه مولوي صالح محمد خان، غلام محی الدین خان، عبدالرحمن لودین، عبدالهادي داوي پرېشان، عبدالعلي مستغني او نور وهڅول چې پښتو ژبې او ادبیاتو ته کار وکړي. همدلته د لومړي ځل لپاره یو پښتو شعر د چاپ په ګاڼه وښکلل شو، چې غلام محی الدین افغان ویلی و او هغه داسې دی:

| | |
|---|---|
| "دا څه عجب دوران دی | چې راغلی پر افغان دی |
| رنګا رنګه ترقی دي | څه عجب محبوب عنوان دی |
| ته سراج اخبار ته ګوره | چې د ملك په تن کې جان دی |
| تې مدیر صاحب ته ګوره | محمودبېګ طرزي افغان دی |

ښه شیرینه پښتو واوره
چې مضمون په ډېر اسان دی"

"سراج الاخبار" استعماري ضد او د اسلامي وروږګلوی (پان اسلامیزم) یو محتاط مبلغ و.

تر حبیب الله خان وروسته اعلان شوې او په قانوني ډول تضمین شوې مطبوعاتي ازادي او نورو نوښتونو چې ډېر ځله د افغاني عمدتاً کلیوالي ټولنې د واك له کچې لوړ وو، د هېواد د مطبوعاتو بازار په بېسیاري ډول تود کړ. "سراج الاخبار" خپل ځای نوې جوړې شوې ورځپاڼې "امان افغان" ته وسپاره، چې د رسمي حکومتي ارګان بڼه یې درلوده. (۱۹۱۹کال

اپرېل). بل اوښتون د هرې ورځې خپرېدونکې جريدې منځ ته راتګ و، چې د خپلواکۍ تر ګټلو لږ وروسته رااووتله. د هېواد لومړنۍ ورځپاڼه "افغان" نومېده چې د محمد جعفر کندهاري په مسوول مديريت د ۱۲۹۹هـ ل په چنګاښ کې خپره شوه.

دغه راز له عصري مطبوعاتو په الهام افغاني خپرونې هم د وستونکيو د جنس، سن، د بوختيا د ډول، د اوسېدو د ځای او نورو ځانګړنو سره ووېشل شوې. د مطبوعاتو انحصار د مرکز له لاسه ووت او په جلال آباد کې د "اتحاد مشرقي" په خپرېدو (۱۹۱۹م) د ولايتي خپرونو لړۍ پيل شوه. تر دې وروسته "طلوع افغان" په کندهار، "اتفاق اسلام" په هرات، "اتحاد اسلام" (وروسته "بيدار") په بلخ، "اصلاح" د کندز په خان آباد او "ستاره افغان" په جبل السراج (وروسته د پروان په مرکز کې) خپرې شوې.

د جنس او سن له پلوه هم خپرونې اختصاصي شوې: د کوچنيانو خپرونې دوام وکړ او د ښځو لپاره د "ارشاد النسوان" جريده نوې جوړه شوه. د ښځو ځانګړې خپرونه د محمود طرزي مېرمن اسما رسمية او سلطنتي کورنۍ ته نږدې يوې بلې مېرمنې (روح افزا) چلوله. د دوی دواړو نومونه د افغانستان د ژورناليزم په تاريخ کې د لومړنيو ښځينه ورځپاڼه ليکونکيو په توګه ياد شوي دي. د مسلکي او کاري بوختياوو له پلوه هم د خپرونو لومړنۍ وېش د شلمې پېړۍ د دويمې لسيزې له پايه را پيل شوی دی:

- "معرف معارف" (وروسته "اينه عرفان") د پوهنې د برخې د کار کوونکيو لپاره پر ۱۹۱۹م کال د جيبي مجلې په کچه رااووتله.

- "مجموعه عسکريه" د پوځيانو اختصاصي مجله وه، چې نږدې دوه کاله وروسته تر "معرف معارف" د ډګروال عبداللطيف خان په مسوول مديريت په کابل کې رااووتله. د افغانستان يوې وتلې پوځي، علمي او ادبي څېرې محمد ګل خان مومند هم له عبداللطيف خان وروسته د څه مودې لپاره د "مجموعه عسکري" د چلونې مسووليت پر غاړه درلوده، چې وروسته يې نوم په "اردو" واوښت.

- د روغتیا د برخې کارکوونکیو ته پر ۱۹۲۷م کال د "مجموعه صحیه" د ځانګړې خپرونې د چاپ امتیاز ورکړ شو، دغه مجله محمد حسن سلیمي د لیکوالو ډاکترانو په مرسته په میاشت کې یو ځل خپروله.

- او ثروت د مالي برخې جریده وه، چې علامه صلاح الدین سلجوقي پر ۱۹۲۵ م کال جوړه کړه.

پر ۱۹۲۴ م کال د افغانستان د مطبوعاتو د لومړني قانون (نظامنامې) تر خپرېدو وروسته په حقیقت کې د ناحکومتي (خصوصي) خپرونو د منځ ته راتګ لاره هم هواره شوه. که څه هم د خصوصي مطبوعاتو د خپرولو دا غورځنګ ډېر ناوخته (د اماني دورې په وروستیو دوو کلونو کې) پیل شو او د نورو موقوته خپرونو په پرتله ډېر و نه غوړېد، خو همدا پیل هم ډېر پوخ او په تاریخ کې د خورا ارزښت درلودونکی دی.

د دې لړۍ لومړنۍ خپرونه "انیس" نومېږي چې غلام محی الدین انیس د ۱۹۲۷م کال په مۍ کې په کابل کې را وایستله. دا ورځپاڼه که څه هم وروسته حکومتي شوه، خو د محمد ظاهر شاه د سلطنت له وروستیو میاشتو پرته چې له "اصلاح" سره خلط شوې وه. ان نن هم په هماغه لومړني نامه خپرېږي او د هېواد په زړو پرله پسې خپرېدونکیو ورځپاڼو کې راځي.

د خصوصي مطبوعاتو دویمه بېلګه چې په حقیقت کې د هېواد لومړنۍ ځانګړې ادبي خپرونه هم نږدې یو کال وروسته تر انیس د "نیسم سحر" په نامه په کابل کې راووتله. دا جریده احمد راتب باقي زاده خپروله، چې په خپرنیزه تګلاره کې یې د لومړي ځل لپاره د کینڼ لاس اندېښنې ځای شوې دي. تېرې ژبې یې ان اماني ولسواکۍ پلوه حکومت ته هم زغم ور پرې نه ښود، څو یې وتړله.

د "نو روز" په نامه یوه بله کوچنوټې جریده هم په دې لړ کې د یادونې وړ ده، چې د محمد نو روز خان په نامه یوه لوګري مخور خپروله.

د افغانستان د ژورنالیزم ځینو څېړونکیو د "پښتون ږغ" مجله هم په خصوصي یا ناحکومتي خپرونو کې راوړې ده، چې د اماني حکومت پر وروستي کال (۱۹۲۹م) خپرېدله. د دغې مجلې پر یوازینۍ لیدل شوې ګڼې د "ملي" کلمه کښلې شوې چې د "انیس" په څېر نورو خصوصي خپرونو هم له حکومت نه د ځان د بېلتون لپاره کاروله.

په مجموع کې د اماني دورې د ټولو موقوته خپرونو شمېر تر شلو اوړي او دا په داسې يوه هېواد کې چې ايله څو کاله وړاندې يې ايکې يوه حکومتي ورځپانه درلوده. مطبوعاتي انقلاب و. دا انقلاب په حقيقت کې هغو افغان منورينو را پيل کړی و، چې کورنۍ يې په بېلا بېلو (عمدتاً سياسي) دلايلو د تېرې پېړۍ په ترڅ کې له هېواده کډې کولو ته اړ شوې وې. دوی په منځني ختيځ، ترکيه، اروپا، او برتانوي هند کې د هغه ځپاند اوښتون اغېز ليدلی و، چې مطبوعات او مطبوعاتيان يې خوځوونکې ځواك و. په افغانستان کې د دغه انقلاب لاربنوونه د محمود طرزي پر غاړه وه او ځکه نو په حقه ورته "د افغانستان د ژورناليزم پلار" وايي.

د مطبوعاتي غوړېدو دا لس کلن پېر د هغه کورني اړ و دوړ په ترڅ کې پای ته ورسېد، چې پايله يې د کلکاني حبيب الله واکمنېدل راوختل. ده د ښوونې او روزنې، روغتياپالنې، مطبوعاتو او د تمدن پر هغو ټولو بېلګو د بطلان کرښه وايسته چې لسګونو وطنپالو افغانانو يې د خپلې روغتيا، شتمنۍ او کله نا کله کورنۍ په بيه خسمانه کړې وه. البته د سقاو زوی (کلکاني حبيب الله) عمدتاً اماني دورې د اصلاحاتو د غندلو لپاره يوه دوه خپرونې وساتلې چې يوه يې د "حبيب الاسلام" په نامه په کابل کې خپرېده.

د کلکاني تر پرزېدلو وروسته که څه هم اوږده کلونه د اماني پېر مطبوعاتي شوق بېا تر سترګو نه شو، خو نويو واکمنو يو په بل پسې ورو ورو د عصري موسسو بيا جوړولو ته لاس واچاوه.

د اعليحضرت محمد نادرشاه د سلطنت د پېر دوه مطبوعاتي خدمتونه د ځانګړې يادونې وړ دي:

يو د لومړنۍ پښتو ورځپانې او بل په کندهار کې د "پښتو انجمن" جوړول.

پر دغه مهال "طلوع افغان" چې د امان الله خان له وخته په پښتو او دري غبرګه خپرېده، د علامه عبدالحی حبيبي په زيار د لسم خپرنيز کال له اتمې ګڼې (د ۱۳۱۱هـ ل کال د وري له لومړۍ) وروسته بشپړه پښتو شوه، ځکه نو دغه نېټه په پښتو ژبه د موقوته خپرونو د خپرېدو پيل بلل کېږي. په همدغه کال کې د محمد ګل خان مومند په زيار د کندهار "پښتو انجمن" جوړ شو، چې وروسته يې د "پښتو" په نامه يوه ملجه هم را وايستله.

د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په لومړیو کې له عصري بدلونونو سره د نادري مهال محتاط چلند هماغسې پر ځای و، خو چې څومره کورنۍ ثبات ټینګېده او د دولت د واکمنۍ منګولې ښخېدې، مخکنۍ نوښتیزې بېلګې هم بیا ټوکېدې. د لومړي ځل لپاره په حکومت کې د وزارت په کچه د مطبوعاتو د مستقل ریاست جوړېدل پر ۱۳۱۸ هـ ل کال ومنل شول. تر دې وروسته د سیاسي او مطبوعاتي ازادیو کړۍ پراخې ده، ان تر دې چې د لومړنیو سیاسي ګوندونو جوړېدو او د ګوندي ورځپاڼو خپرېدو ته هم لار ورکړ شوه. "وطن" د همدې لړ لومړنۍ جریده ده، چې غلام محمد غبار پر ۱۹۵۱ م کال په همدغه نامه د جوړ کړي ګوند د خپرني ارګان په توګه راجوړه کړه. د ویښو زلمیانو سیاسي ډله او د هغې د فعالیت مطبوعاتي هڅې هم د روانې پېړۍ په نیمایي کې د افغاني مطبوعاتو په تاریخ کې د ګوندي څپرکي د پرانیستل کېدو په لړ کې د یادونې وړ دي. د پنځوسمې لسیزې دغه غورځنګ ته په سیاسي دلیلونو د پراخېدو اجازه ور نه کړ شوه، خو د را وروسته لسیزې په پیل کې په رسمي ډول د بیان د ازادۍ له پیل کېدو او د ګوندونو د قانون تر جوړېدو وروسته (که څه هم تولواک تر پایه لاسلیك نه کړ) د ناحکومتي ازادو او ګوندي مطبوعاتو بازار تود شو. په لسګونو ورځنۍ، اوونیزې، پنځلس ورځنۍ، میاشتنۍ او څو میاشتنۍ موقوتې خپرونې عمدتاً په کابل کې راووتلې. د سیاسي کلتور د ټیټوالي له امله ډېرو دغو خپرونو خپلې پاڼې د خپلو سیاسي سیالانو په سپکولو او تورولو تورولې.

دغه دوره چې ځینې مورخین یې د اساسي قانون او ډیموکراسۍ لسیزه بولي. د محمد داود په پوځي کودتا پای ته ورسېده. د ده د جمهوریت په پنځو کلونو کې د ګوندي ښکاره خپرونو تغر ټول شو او حکومت پر مطبوعاتو انحصار د ځان لپاره° وساته. له دې سره سره یو شمېر سیاسي ډلو په تېره کمونستانو په نیمه څرګند او ناڅرګند ډول خپرونې کولې چې عمدتاً د دغو ډلو د غړیو تر منځ وېشل کېدې.

د ۱۹۷۸ کال د اپرېل تر کودتا وروسته پر مطبوعاتو مخکنی انحصار وساتل شو، خو بڼه او دنده یې واوښته او د راډیو او ټلویزیون په ګډون ټول خپرنیز وسایل د یوه ګوند او یوې ایډیالوژۍ چوپړیان شول. که څه هم راډیو د امان الله خان له وخته خپرونې درلودې، ټلویزیون د محمد داود د

حکومت په وروستيو دوو مياشتو د (۱۹۷۸م کال مارچ) کې د لو ړي ځل لپاره د ژورناليزم ډګر ته راووت او لږ وروسته د کمونيستي تبليغ پر اساسي وسله واوښت.

په وروستيو څه د پاسه شلو کلونو کې د افغاني مطبوعاتو يوه مهمه ځانګړتيا نه پخلا کېدونکې ايډيالوژيکي وېش دی. په کابل کې د کمونيستي تبليغ په ځواب کې کډوالو افغانانو عمدتاً په پاکستان او ايران کې لسګونه ورځپاڼې، جريدې، مجلې او ان راډيويي تم ځايونه جوړ کړي او ډېرو يې د جهادي ډلو د خولې او ژبې بڼه درلوده. خو استثناوې هم په کې ډېرې دي. له ۱۹۹۲م کال راهيسې يو شمېر دغه خپرونې د هېواد پلازمېنې کابل ته ولېږدېدې، خو ډېرې يې يا له منځه لاړې او يا يې په نامه، د خپرېدو وخت او پاڼو کې بدلون راغی.

طالب غورځنګ په دې وروستيو کلونو کې د خپلو ځانګړيو انګېرونو له مخې په مطبوعاتو کې د تصوير د خپرېدو په مخنيوي سره پر هغه نوښت د "ته" کرښه وايسته چې "د افغانستان د ژورناليزم پلار" محمود طرزي پر ۱۹۱۲م کال پيل کړی و، دغه راز تلويزيون هم افغان ولس ته له چوپړ نه بې برخې شوی دی.

که په شلمه پېړۍ کې د افغاني مطبوعاتو د غوړېدو ګراف ته وګورو، د پای دا لسيزه يې په هېڅ ډول د پيل له دوو لسيزو سيالي نه شي کولای. څومره چې د دې پېړۍ په پيل کې د مطبوعاتو په ګډون د متدنې نړۍ د پرمختګ له نورو کاروانونو سره د نښلېدو شېبې لنډې برېښېدې، هومره ترې اوس له هر پلوه دا هېواد د پېړيو په مزله بېرته پاتې دی، يا هغه افراط يا دا تفريط!

ACKU

آذرخش حافظی

# توسعه و رشد فرهنگی افغانستان در سده بیستم

قرن بیستم به تعبیری، سده بیداری ملت افغان از خواب قرون و اعصار و دوران گذار از جامعه سنتی بدوی به جامعه عصری مدنی به حساب می آید.




با آغاز این سده، جامعه سنتی و عنعنوی افغانستان در معرض افکار جدیدی قرار گرفت که بیشترینه تاثیر تمدن صنعتی غرب بود. نسیم آن جامعه مدنی که حاصل عصر روشنگری در غرب صنعتی بود، بصورت امواج فرهنگی از طریق هند برتانوی، ترکیه عثمانی، روسیه تزاری و مطبوعاتی مشروطه ایرانی بر کشور ما وزید، و درخت کهنسال فرهنگ باستانی ما را تکانه شدید داد.

ماحصل این برخورد، آغاز انقلاب فرهنگی ای بود، بین باورهای کهن و اندیشه های جدیدی که در سده روان، بارها جامعه ما را در معرض تنش های خونبار قرار داد.

ملت افغان طی این مدت، در راستای تضاد بین مدرنیته و سنت جدال های گوناگون را پشت سر گذاشته است که بررسی تحلیلی آن پژوهش گسترده و نگارش کتاب های علمی متعددی را ایجاد می کند که از حوصله این نوشتار بیرون است.

و اما، در این مختصر به بررسی رشد و توسعه فرهنگی افغانستان در سده بیستم می پردازیم، که بیان دقیق تر آن از دیده ما، رشد و توسعه فرهنگ نوین در جامعه سنتی افغانستان میباشد.

گر چه قبل از آغاز قرن بیستم نیز، تلاشهای از جانب فرزندان اگاه و متفکر میهن در جهت اصلاح امور فرهنگی سیاسی، اقتصادی و اجتماعی کشور صورت پذیرفته شود، ولی بدلایل مختلفی که ذکر آن از حوصله نوشتار حاضر بیرون است، تداوم نیافت و آن کوشش ها اثرات چندانی بر تغیر وضعیت عمومی کشور وارد نکرد.

پر محتواترین حرکت در این زمینه را میتوان اقدامات نظری و عملی دانشمند، متفکر و اصلاح گر بزرگ اجتماعی - سیاسی افغانستان و عالم اسلام در سده نزدهم، علامه فقیه سیدجمال الدین افغان بحساب آورد. تاریخ معاصر افغانستان آغاز نهضت فکری نوین و اندیشه بیداری اجتماعی - سیاسی مردم ما را به حق بانام آن سید خردمند جستجوگر پیوند زده است.

به گواهی اسناد بر جا مانده از آن دوران، در نتیجه اندیشه پویا و تحول طلب سید بود، که د عهد سلطنت امیر شیرعلی خان برای نخستین بار در کشور ما مطبوعات، به تعبیر کنونی آن با نشر جریده "شمس النهار" بنیاد نهاده شد. برخی قوانین و نظامنامه ها تدوین و طبع گردید. اصلاحات اداری - نظامی صورت پذیرفت. در کنار نهاد سلطنت مطلقه هیئت وزار، هر چند مختصر تشکیل شد و موجودیت کابینه تا حدی تمرکز قدرت را تعدیل کرد.

موسسات صنعتی ابتدایی به فعالیت تولیدی آغاز نمود، و بدینگونه هسته های آغازینی جامعه صنعت ابتدایی نطفه گذاری شد.

باید بخاطر داشت که در مقایسه با سطح پیشرفت عمومی آنوقته جهان مخصوصاً در کشورهای ماحول ما، د محدودیت تاریخی عام بشریت در آن دوران، آن اندیشه ها و اقدامات را میتوان دست آوردهای

بزرگی خواند و در کوتاه سازی فاصله ما از کاروان تمدن آنرا گام بلندی به حساب آورد.

مجموعه آن کنش های تاریخی سنگ بنای فرهنگ نوینی بود، بر زمین باورهای عتیق مردمان ما. گر چه آن دست آوردها در نتیجه بحران های بعدی که عمدتاً مخلوق سیاست های استعماری روس و انگلیس در کشور ما وقسماً ناشی از بی تجربه گی و ناتوانی خرد جمعی ما در پذیرش اصلاحات بود، عملاً بر باد فنا رفت، جریده تعطیل شد، کارخانه ها از کار افتاد و نظام اداری سیاسی بار دیگر دستخوش چپاول استبداد قرون وسطایی گردید و بحران و اختناق بر سراپای وطن استیلا یافت، ولی خاطره ان تجربه تاریخی مثبت بر روان ملی ما رسوب کرد و انعکاس انتزاعی مفاهیم آن در فرهنگ ما، زمینه باوری و زایش های بعدی تحولات فرهنگی، اجتماعی، سیاسی را در وطن فراهم نمود.

چنانچه بگواهی تاریخ، بعد از یک نسل- که در عمر تاریخی ملت ها زمان کوتاهیست، فرزندان اگاه و خردمند وطن بار دیگر با توان و توشه فرهنگی سیاسی بیشتر و با انتباه از تجارب انباشته شده قبلی، دایعه عدالت، آزادی پیشرفت و ترقی را درهم شیون زندگی ملی تجدید نمودند. در قالب مشروطه اول و سپس مشروطه دوم ثابت ساختند، که هیچ مستبد داخلی و نیروی استعماری خارجی از طریق ترور و اختناق و اعمال تضیقات، حرکت پیشتاز ملت ما را به سوی ازادی و عدالت و زندگی بهتر که از نیازهای واقعی رشد یابنده هستی آنها نشئت می کند. نمی تواند برای همیشه سرکوب و متوقف کند.

هموطنان پیشرو ما در عمل نشان دادند که استبداد و استعمار با قتل شخصیت های تحول طلب و ازادی خواه، توان نابودی قطعی اندیشه تحول و پیشرفت را ندارد و ملت ما در حرکت متداوم خویش به جلو- هر چند با درنگ و توقف های موقتی تحمیلی - سرانجام به سرمنزل مقصود میرسد و به رفاه، ازادی، فردی، عدالت اجتماعی، زندگی مصئون قانونی و دیگر مظاهر جامعه مدنی دست می یابد.

طوریکه اسناد تاریخی نشان می دهد، فعالیت جدی و سازمان یافته نسل دوم از هواخواهان جامعه مدنی در کشور ما، با آغاز سده بیستم قوام یافت.

تاثیر تجربه تاریخی نسل قبلی نو اوران چنان بر افطاری نسل بعدی موثر بود که حتی امیر حبیب الله خان فرزند شاه مستبده امیر عبدالرحمن خان نیز از اثرات نیک آن بر کنار نماند و با آغاز سلطنت اش که همزمان با نخستین سال سده بیستم بود، نشان داد که روان و ذهن او بیش از آنکه انباشته از تلقینات استبدادی پدر باشد، دستخوش تساهل، روفت و فرهنگ پروریست. مسائیلی که مضمون ارمانی نهضت فکری قبلی را تشکیل می داد.

وی بر مبنای همین باور ها، در اولین سال سلطنت خویش به تاسیس مکتب حبیبیه و مکتب حربی اقدام نمود، و اصلاحاتی را در نظام اداری و سیاسی کشور وارد کرد.

بعدتر به در خواست شماری از اندیشمندان اصلاحگر و ترقی خواه که در سال ۱۹۰۵ خواهان کار مطبوعاتی شده بودند، امیر حبیب الله خان در سال ۱۹۰۶ ترسایی اجازه نشر جریده سراج الاخبار را به سر محرری مرحوم جناب مولوی عبدالروف خاکی قندهاری صادر کرد. گرچه تحت فشار وضعیت حاکم بر کشور و تضیقات استعمار انگلیس و روس، ان جریده بیش از یک شماره انتشار نیافت ولی همان یک شماره، در بسیج افکار وسمت دهی اندیشه های گوناگون در مسیر منافع ملی بسیار مفید واقع شد و اغازگر پیشرفتهای در عرصه های گوناگون فرهنگ و اندیشه گردید.

چنانچه بافاصله کوتاهی از انتشار آن جریده، بر محور ابده های مطرح شده در آن تشکیلات نهضت مشروطیت اول با قیادت نگارنده گان همان جریده و همکاری شمار دیگری از وطنپرستان اگاه انسجام یافت که در فرهنگ سیاسی معاصر ما آغاز نوین و تجربه خونینی بود.

گر چه دستگاه سلطنت ظرفیت پذیریش چنان تحولاتی را نیافت و سراج المله و الدین، نهضت مشروطیت اول را با بیرحمی سرکوب کرد، ولی اندیشه های آن فرهنیختهگان جز ماندگار فرهنگ و اندیشه سیاسی نسل های بعد گردید و بر غنای سنت مبارزه مردم افغانستان در راستای آزادی و عدالت و حق طلب افزود. این تجارب در اندیشه و عمل نسل اگاه وطن چنان اثر ژرفی گذاشت که با فاصله زمانی بسیار کوتاه راهنمای عمل و اقتدای فکری نهضت مشروطیت دوام گردید.

نشر مجدد سراج الاخبار تحت رهبری موسس ژورنالیزم واقعی افغانستان علامه محمود بیگ "طرزی" و همکاری قلم بدستانی نو آور، مانند عبدالهادی داوی متخلص به پریشان و عبدالرحمن لودین و دیگر اندیشمندان مبارز و مبتکر در سال ۱۹۱۱ آغاز و تا ۱۹۱۸ دوام یافت.

افکار و اندیشه های که در این جریده مطرح گردید، نه تنها بنیاد مستحکم نظری و عملی مشروطیت دوام را قوام بخشید، بلکه تهداب مطمئن شد برای ایجاد فرهنگ تجددو طلبی و اندیشه سیاسی مردم سالار در وطن ما.

برمبنای همین ایده ها و اندیشه ها بود، که با آغاز سلطنت اعلیحضرت امان الله خان غازی استقلال حاصل گردید و شالوده دولت ترقی خواه و مدنی با اخرین معیاری های جهانی آن دوران ریخته شد و جامعه ما را از نگاه اندیشه سیاسی و حکمت عملی در زمره کشورهای پیشتاز و تاثیر گذار جهان در آن عهد قرار داد.

حصول استقلال سیاسی افغانستان دست آورد بزرگی بود، که شان ملی ما را اعاده کرد و ملت افغان را سر آمد ازادیخواهان مشرق ساخت.

این تحول که در اثر استقلال و حاکمیت ترقی پسند امان الله خان در تفاهم با رهبران مشروطیت دوام انجام پذیرفته بود، چنان در حیات ملی ما اثرناک بود، که ابعاد تاثیر ان را در تمام شئون زندگی بعدی ملت میتوان تشخیص داد.

در همین دوران بود که مضمون شعر ما از مدح شاهان و توصیف یکنواخت خوبرویان عمدتاً به دادخواهی و حق طلبی مظلومان و بیان افکار و اندیشه های ازاده گان تمایل یافت و شعر ما به معنی واقعی کلمه شعر اجتماعی شد. در همین دوران بود که برای نخستین بار در تاریخ ادبیات ما، شعر از دربار فراتر رفت و به اینه ارزو های ملت بدل شد. برای نشان دادن این تحول در شعر، غزل از نزیهی جلوه راکه در همان دوران سروده شده است، در اینجا نقل می کینم.

سراینده این غزل که خود از جمله تحول طلبان و ازادیخواهان مشروطه دوم است از موسسین شعر اجتماعی سیاسی افغانستان در زبان دری به حساب می آید، غزل مذکر ذیلاً تقدیم میگردد:

تا کی از جور و ستم شکوه و فریاد کنید　　سعی بر هم زدن منشاء بیدار کنید
ننگ دارد بشریت ز چنین کهنه رژیم　　طرح ویرانی این بنگه بیدار کنید

آشیان همه مرغان ز ستم آتش زد　　قصد آتش زدن خانه صیاد کنید
غازه سازید ز خون شاید ازادی را　　تا ز خود روح شهیدان وطن شاد کنید
خانمان کردتبه، تا شود آباد خودش　　خانه ظلم وستم یکسره برباد کنید

شعرهایی از همین دست، در تهیج افکار و اندیشه های جوانان افغان برای تغیر نظام استبدادی و استقرار حکومت قانون و اعاده حقوق اساسی اتباع بسیار موثر واقع شد و فرهنگ سیاسی ما را بعد ادبی تازه ای بخشید. آغازگر این طرز سخن، عبدالرحمن لودین، داو ی "پریشان" و محمود طرزی بودند.

گرچه شعر شناسان، این نوع اشعار را فاقد صور، خیال و ظرافت های بدیعی ارزیابی میکنند و آنرا بیشتر شعار می دانند تا شعر، ولی هیچکس از تاثیر اجتماعی سیاسی آن انکار نمی کند.

بعد از آغاز سلطنت اعلیحضرت امان الله خان که بلا فاصله منجر به حصول استقلال کشور گردید، میهن ما در گستره وسیعی از امکانات برای اعمار جامعه مدنی قرار گرفت. جراید و روزنامه های متعدد تاسیس یافت، تالیف و ترجمه کتابها و رساله ها آغاز شد. قانون اساسی تدوین، تصویب و تنفیذ گردید. مزید بر آن غرض تامین قانونیت و عدالت، در عرصه های مختلف زندگی اجتماعی ملت نظامنامه ها، اصولنامه ها و قانون نامه های گوناگونی وضع و اشاعه گردید، که شمار آنرا مورخان زیادی در حدود ۵۰ - ۶۰ عنوان می دانند، ولی دانشمند محترم جناب حبیب الله رفیع تعداد آنرا تخمیناً صد جزوه می پندارد و می نویسد که خود وی تا حال موفق به جمع آوری و یا ثبت هفتاد جلد آن گردیده است.(۱)

بهر حال انفاذ قانون اساسی و اشاعه ده ها قانون نامه، اصولنامه و نظامنامه متمم قانون اساسی برای نخستین بار در آن عصر بیانگر این حقیقت است.

کشور ما به سوی نظام حقوقی منسجم که لازمه اعمار جامعه مدنی میباشد، در حرکت بوده است. در عهد سلطنت مشروطه اعلیحضرت امان الله خان بود، که نظام حقوقی مدرن و حاکمیت قانون به پیمانه گسترده شامل فرهنگ اجتماعی ما گردید. این گام در عین زمان آغاز حرکتی در راه تحقیق دموکراسی و مصئونیت حقوق اساسی اتباع بود، که فرهنگ استبدادی سیاسی در کشور ما قبلاً آنرا تجربه نکرده بود.

تاسیس شورای دولت، تشکیل وزارت خانه های متعدد و اصلاحات اداری نیز گامی در جهت ایجاد جامعه مدنی و استقرار حکومت مردمی بود که در نظامهای دولتی قبلی ما سابقه نداشت.

تمام این اقدامات که بر مبنای فرهنگ سیاسی - اجتماعی جهان متمدن از طریق رهبران مشروطیت به پادشاه خردمند پیشنهاد میگردید، منطبق با نیازهای مبرم ملت و میهن ما بود که بهمان دلیل نیز مورد حمایت بی دریغ نسل اگاه و خرد و از افغانستان قرار گرفت. خاطره آن دوران هنوز می تواند باعث سر افرازی ما باشد، در راه اعمار جامعهٔ مردم سالار و قانونمند که مسیر رشد و توسعه را با شتاب می پیمود.

ولی از یک سو معاندت استعمار با این دوران درخشان و از سوی دیگر کم اعتنای هوا خواهان مدرنیته به سنت ها و عنعنات کهن سال، و عدم توجه به ظرفیت های ملی در پذیرش اصلاحات جدید و شتاب زده گی در تطبیق مظاهر تمدن غرب که قسماً با تجربهٔ تاریخی ملت ما و باور های دیرین سال آنها بیگانه بود، باعث تشنجات اجتماعی و بی ثباتی اوضاع کشور گردید.

نبود فرهنگ سیاسی کافی و نهادهای ضروری جامعه مدنی، مانند احزاب سیاسی، موسسات اجتماعی مردمی و مطبوعات واقعاً ازاد، و عادت زمامدران در تمایل به اعمال اراده فردی، عمر کوتاه دوران درخشان امانی و عمر کوتاهتر حرکت پیشتاز ملت و دولت در آن دوره به سوی آعمار جامعه مدنی عواملی بود که ملت افغانستان را حفظ و تحکیم آن دست آوردها محروم ساخت و طوریکه همه اطلاع دارید، این دوران "خوش درخشید ولی دولت مستعجل بود." جای آنرا اغتشاش، خانه، جنگی و حکومت عامیانه و فاقد فرهنگ اشغال کرد، که جز خونریزی و نابودی نهادهای جامعهٔ مدنی نو پای کشور تاریخ چیز بیشتری از آن به ثبت نرسانده است. این دوره کوتاه اغتشاش، میهن ما را سالها از کاروان تمدن عقب راند. رشد مظاهر فرهنگ را نه تنها متوقف بلکه نابود ساخت.

پس از آن حکومت استبدادی نادر خان که تنها امتیاز آن نارسایی ها و ناتوانی های ویرانگر حکومت اغتشاشی عقب گرای سلف او بود، قدرت مطلقه را در دست گرفت. وی از آغاز سلطنت با ازادیخواهان و صلاح طلبان دشمنی را آغاز کرد. جلو توسعهٔ سیاسی و رشد دموکراسی را

گرفت. مطبوعات را فقط به وسیله بیان سیاست های دولتی محدود کرد. حق هر گونه انتقاد و ایراد عقلانی را از ان سلب کرد. جلو شعر اجتماعی، داستان انتقادی و نمایشنامه انتباهی را گرفت و در یک سخن، جامعه را از رشد فرهنگی - سیاسی آن باز داشت و حرکت آن را در مسیر منافع هیئت حاکمه و حفظ قدرت استبدادی لگام زد.

با این وصف در زمینه معارف بی ضرر خدماتی انجام داد که نادیده گرفتن آن بی انصافی خواهد بود. در زمینه از تاسیس پوهنځی طب کابل می توان یاد کرد.

دوران سلطنت نادرخان وقف تصفیه های خونین مشروطه خواهان و رجال عصر امانی و سرد مداران اغتشاش گردید. در این راه تا آن حد پیشرفت که خود قربانی ترور انتقامی شد.

آغاز سلطنت محمد ظاهر شاه توام بود، با استعداد خشن و حکومت مطلقه محمد هاشم خان. وی نیز مانند دوران نادری مهمترین وظیفه خویش را سرکوب ازادیخواهان و شکنجه وطنپرستان قرار داد. بقایای رجال عهد امانی که اکثر شخصیت های ازاده و با فرهنگ جامعه ما بودند. توسط هاشم خان یا کشته شدند، یا جبس و شکنجه و تبعید. کمترین جزا برای آنها محرومیت از کار در اداره دولت بود.

وی مطبوعات را به معنی واقعی کلمه لگام زد و ملت را سالهای سال از وجود نقادان دلسوز که جز خدمت به حق و حقیقت مرامی نداشتند و از وجدان جامعه نمایندگی میکردند محروم ساخت.

در چنین شرایطی است که دولت ها از مشوره خیر جمعی ملت ها بی نصیب گردیده، دیکتاتوری فرهنگ ستیز را پی ریزی میکند. در کشور ما نیز چنین شدت حکومت محمد هاشم خان به عوض فراهم نمودن زمینه های رشد فرهنگ از جمله فرهنگ سیاسی و فرهنگ اداری با تمام مظاهر اگاهی اجتماعی به دشمنی برخاست و هر جا آدم با استعداد و وطنپرست یافت سرکوب کرد.

در نتیجه عامیانه گری رسماً در اداره امور دولت، جای دست آوردهای خردگردیانه و ترقی پسند عصر امانی را گرفت. بدینگونه عمل از آگاهی پیشی گرفت و ما پیوسته به فقر فرهنگی از جمله فقر فرهنگ سیاسی دچار گردید.

ACKU

اما طوریکه قبلاً نیز تذکر دادیم، آنچه از تجارب قبلی مردم سالاری در فرهنگی ما رسوب کرده بود، در ذهن مخصوصاً در ذهن و خاطره روشن اندیشان و فرزانه گان ملت زنده بود. چنانچه در هنگام فضای نسبتاً بازی که در آغاز حکومت شاه محمود خان بوجود آمد، نهضت فکری و تحرک جدیدی به سوی دموکراسی و حکومت قانونی نو کار در جهت رشد فرهنگی از سرگرفته شد. اندیشه ها دوباره از قفس استبداد ازاد شد و قلم ها بار دیگر در راه سازنده گی و پیشرفت بکار افتاد. اخبار، جراید و مجلات ملی بر مبنای ازادی نسبی بیان منشتر شد. و کلای دوره هفتم شورا و شاروال ها در شهرهای گوناگون تا حد زیاد بر اساس رای مردم بر گزیده شدند. جان تازه بر بیکر هستی اجتماعی ملت افغانستان دیده شده. جامعه بهترین فرزندان خود را از سراسر کشور به پارلمان فرستاد و امور شاروالي ها را هم بدست با کفایت شخصیت های سپرد که به لیاقت و صداقت آنها معتقد بود. البته حکومت هم با مداخله غیر مستقیم در انتخابات جیره خواران و ایادی خود را به پیمانه زیاد به شورا فرستاده بود، ولی ترکیب مجموعی شورا طوری بود آنرا میتوان مثبت و سازنده توصیف کرد. در همین اوان بود که مردم ما با فرهنگ پارلمانی و مفاهیمی چون طرفداران حکومت (پوزیسیون) و مخالفین حکومت (اپوزیسیون) آشنا شدند.

همراه با جراید ملی، احزاب سیاسی هم بوجود آمدند، که البته هیچوقت رسمی نشدند، زیرا قانون احزاب تصویب و توشیح نگردیده بود.

این دوره نیز پایان خوشی نداشت، زیرا رهبران سیاسی دولت که عمدتاً مربوط به خانواده سلطنت بودند، توان تحمل دیگر اندیشان و آزاد فکران را نداشتند، که استبداد و بی عدالتی را بدون ملاحظه افشا و انتقاد میکردند، و خواهان حکومت منتخب مردم بودند. آنها با این عمل خویش به ریشه یابی قضایای تاریخ می پرداختند و در نتیجه مشروعیت حکومت را بدلیل بی کفایتی و عدم رعایت حق و عدالت از جانب آن زیر سوال می بردند.

دولت که از دادن آزادی های محدود قصد نمایش دموکراسی را داشت با مظاهر جدی دموکراسی مواجه شد، که تحمل آنرا نداشت. از جانبی هم مردم ستمدیده و زجر کشیده که سالها در زیر چکمه های

خونین استبداد پیهم تاب و توان را از دست داده بودند، مدارا را کنار گذاشته با زیاده طلبی که بیشتر از ظرفیت نظام سیاسی کشور بود، تحقق آرزوهای انباشت شده سالها را در یکدم مطالبه میکردند.

همان بود که آزادی های داده شده از بالاواپس گرفته شد و مظاهرات مردم در آستانهٔ انتخابات دوره هشتم سرکوب گردید و رهبران سیاسی احزاب که در عین حال شخصیت های ملی و دموکرات نیز بودند، دستگیر و زندانی گردیدند. از آن جمله میتوان از علامه میر غلام محمد غبار، دکتر عبدالرحمن محمودی، و برانعلی تاج نام برد که در شکل دهی حوادث دوره هفت نقش اساسی داشتند و بالاخره قربانی آزاد اندیشی و فهم خود شدند و از جانب استبداد حاکم محکوم به زندان، شکنجه و اعدام و تبعید گردیدند. شخصیت های که در شاروالی های منتخب مصدر خدمات فراموش نشدنی شدند نیز زیاد بودند، از جمله بارزترین آنها انجنیر غلام محمد فرهاد، شاروال مردمی کابل را میتوان نام برد، که بسیاری از مظاهر تمدن در شهر کابل در دوران تصدی وی بوجود آمد. جاده میوند، شبکه برق منظم کابل، و گسترش موزن شهر و تهیه آب آشامیدنی صحی از کارهای آن شاروال پر کار و صادق است.

مطبوعات ملی که در تنویر افکار و ارتقای شعور اجتماعی - سیاسی مردم نقش بارز داشت، دست آورد فراموش نشدنی آن عهد کوتاه بود. جراید انگار، ندای خلق و وطن هر یک محوری بودند برای تشکیل و انسجام شخصیت های فعال و اگاه کشور در جهت خدمت به نظام مردم سالار و آبادی و شگوفایی مهین.

ولی با تجدید اداره استبدادی روزنامه های و جراید ملی هم مانند صاحبان خویش توقیف شدند و بر همه جا بار دیگر استبداد خشن توام با جهالت مداری سایه افگند. فرصت طلبان تنک مایه جای وطنپرستان گرانسنگ را گرفتند و به عوض انتقاد سازنده و اصلاحگیر قلم بدستان ملی، بازار تملق و یاوه گرم شد. بدینگونه دریچه دموکراسی و عدالت بار دیگر بروی مردم بسته شد. ولی حافظهٔ تاریخی ملت ما آن دست آوردها را ثبت کرد و در استحکام بنای اندیشه های نوین بکار گرفت. تا در فرصت های بعدی از آن سود برد.

پس ازسرکوب نهضت روشنگری وعدالت خواهی که درتاریخ مبارزات مردم ما به نهضت دوره هفت شورای ملی معروف است. مدتی استبداد

سپهسالار شاه محمود خان دوام یافت، ولی به آنهم اکتفا نشد و زمام امور حکومت به سردار محمد داود سپره شده. وی برادرش سردار محمد نعیم و دیگر همکاران نزدیک شان گرچه ارزوی آبادی و عمران وطن را در دل می پروریدند و تا حال هیچ سندی هم در مورد سوء استفاده مالی و اخلاقی آنها ارائه نگردیده است، ولی با آزادی فردی و رشدی سیاسی جامعه سرسازگاری نداشتند. آنهابااعتقادبه شیوه "استبداد صالح" خویش را قیم جامعه می دانستند و هر چه در ذهن شان می گنجید بنام ملت آنرا عملی میکردند. آنها نه تنها حکومت قانونی منتخب مردم را قبول نداشتند و به شورای ملی حاصل اراده مردم موقع تبارز ندادند، بلکه در کابینه هم تبارز هیچ استعدادی را در موضیع انتقادی تحمل نمی کردند. داستان غم انگیز عبدالملک خان عبدالرحیم زی، مثال گویای این ادعاست.

مطبوعات ملی در زمان صدارت محمد داود خان به طاق نیسان سپرده شده و هر که هم از آزادی بیان و آزادی اندیشه دم زد. سر به نیست شد. این دوران در حقیقت شکل باثبات تر و اصلاح شده تر استبداد هاشم خان را تداعی میکرد. در این دوران نیز زندان ها از وجود میهن پرستان و آزاد اندیشان مال مال شد و حکومت داود خان نفس را در سینه مردم مظلوم از وحشت حبس کرده بود. ملت از آزادی های نسبی باقیمانده از دوران شاه محمود خان نیز محروم گردید. ولی وی با سمت گیری سوسیالبستی و انتخاب راه غیر سرمایه داری و همکاری نزدیک با اتحاد شوروی و جلب کمک های آن دولت که بعدها بلای جان مردم ما شد، زمینه های رشد زیر ساخت های اقتصادی را تا حدی فراهم کرد. سرک های اسفالت، بندهای برق و اعمار موسسات تعلیمی یادگارهای آن عصر بحساب می آید.

گر چه وی بصورت مستقیم جلو نفوذ افکار خارجی را از طریق سانسور مطبوعات گرفت. ولی در اثر مناسبات گسترده اقتصادی و تخنیکی و بعد ها نظامی با اتحاد شوروی و اعزام محصلین افغانی به کشور شوراها، سبب آشنایی شمار زیادی از افغانان با نظام شوروی و ایدیولوژی و سیاست آن کشور گردید. نفوذ سیاسی ایدیولوژیک و حتی نفوذ استخباراتی شوروی در زمان صدارت محمد داود خان هسته گذاری شد.

تاریخ معاصر افغانستان، داود خان را مروج جامعه بسته ولی از لحاظ اقتصادی رو به رشد و در یک حرف دیکتاتور صالح ارزیابی می کند. که با مرگ غم انگیز خویش کفاره اشتباهات خویش را پرداخت.

در پایان دوران حکومت محمد داود خان جامعه افغانستان دیگر قادر به تحمل استبداد نبود و سلطنت با وقوف بر این امر بدلیل و عوامل منطقوی و جهانی که همواره در سرنوشت ما تاثیر داشته است، دست به اصلاحاتی زد که بعد از عصر امانی درخشانترین دوره در تاریخ افغانستان به لحاظ رشد جامعه مدنی و اعمال دموکراسی پارلمان به حساب می آید. در این دوره که تقریبا ده سال به طول انجامید و معروف به دهه دموکراسی در تاریخ معاصر کشور ماست، قانون اساسی و دیگر قوانین متمم آن تسوید تصویب و تنفیذ گردید. پارلمان منتخب مردم روی کار آمد، تفکیک قوای ثلاثه عملی شد. قوه قضائیه و تقنینیه بصورت مستقل از قوه اجرائیه که حکومت باشد به فعالیت آغاز کرد. رکن چهارم دموکراسی که مطبوعات ازاد است با تنوع بسیار شروع به نشرات کرد.

در جراید ملی از اندیشه های چپ گرفته، تا راست و معتدل و از افکار الحادی گرفته تامعارف اسلامی به اشکال گوناگون تبلیغ میگردید.

آزادی بیان و آزادی عقیده تا حدود زیادی تضمین گردیده بود. در مقایسه به دیکتاتوری محمد رضا شاه در ایران و حکومت نظامی پاکستان و رژیم های سوسیالیستی در شوروی و چین همسایگان افغانستان، رژیم ما انسانی ترین اشکال اداره را در کلیات خود ارایه کرده بود، که نه تنها سبب رشد شعور و آگاهی سیاسی - اجتماعی مردم افغانستان گردید، بلکی جامعه جهانی ازاد نیز آنرا احترام میکردند. یعنی که نظام سیاسی برای دومین بار بعد از عصر امانی نه تنها سبب شر افگندگی ملت در انظار جهانیان نمی گردید، بلکی این بار شکل انسانی جکومت ما به شابه شان ملی ما می افزود. در این دوران گر چه سوء اداره، رشوت خواری و مال اندوزی و تخطی از قانون توسط زور مندان رواج داشت. ولی سیمای مجموعی نظام که بر بنای آزادی فرد و احترام به حقوق انسان استوار بود، آن نارسایی ها را می پوشاند.

این دوران طولانی ترین مدتی بود که مردم افغانستان از داشتن نظام قانونی و مشروع و منتخب بهره گرفتند. ولی آنهم دیر نپائید و عمر آن از یک دهه فراتر نرفت. صاحب نظر آن شکست دهه دموکراسی را در نبود

ACKU

تجربه کافی ملی و عادت دیر پایه استبداد می دانند. در پهلوی آن کمبود افزاری های جامعه مدنی مانند احزاب سیاسی را با تنوع دیدگاه ها و مرام های شان عام اسیب پذیری آن نظام تشخیص داده اند. به باور این گروه اگر احزاب علنی قانونی مشروعیت می یافت و فعالیت میکرد. جای برای پنهان کاری و مبارزه مخفی باقی نمی ماند. اگر گروهی در غیاب مردم دست به سازماندهی زیر زمینی قانونی می زند. احزاب علنی و قانونی بعنوان نهاد های مردمی مسوول در برابر ان ایستاده مانع تاثیر گسترده آن در جامعه می شدند. بهر حال دموکراسی سلطنتی کشور ما بهر دلیل یا دلایلی که بود باکودتای محمد داود خان از صحنه تاریخ کنار رفت ولی برای مبتکر و حامی آن محمد ظاهر شاه پادشاه سابق افغانستان، افتخار جاویدان به بار اورد که تا اکنون نیز مردم منصف افغانستان از آن با قدر-دانی و تجلیل یاد می کنند. گر چه دهه دموکراسی طوریکه منقدان خیر خواه آن عقیده دارند، خلاهای بیشماری داشت، که بر رسی آن از هدف نوشتار حاضر خارج است، ولی تاریخ معاصر کشور ما نظیر آن دوران و یا بهتر از آن تا حال تجربه نکرده است.

پرتوهای همان تجربه تاریخی در ابعاد فرهنگ سیاسی و اجتماعی آن سالهاست که زوایای تاریخ زندگی استبداد زده ملت ما را روشن می کند و با دیگر رسوبات حافظه ملی ما از آزادی و دموکراسی و نطفه های جامعی مدنی که در زمان های مختلف بسته شده است، در این یلداها، مشعل راه آزاده گان و تحول پسندان کشور به سوی فرداهای دموکراسی و آزاده گی میباشد.

باکودتای محمد داود خان، نظامی بوجود آمد که قادر به حمل بحران های اجتماعی سیاسی و اقتصادی کشور نبود. وی در نخستین ابلاغیه رسمی خویش قانون اساسی در حالت تعلیق قرار داد و قیود شبگردی و انفاذ حکومت نظامی را اعلام داشت. جراید ملی را بست پارلمان را از نظام سیاسی کشور حذب کرد و تفکیک قوای ثلاثه را لغو نمود. حکومت استبدادی حاصل کودتا را که در ترکیب آن نظامیان پائین رتبه وجوان قدرت اصلی را در دست داشتند، بر کشور تحمیل کرد. ازادی عقیده و بیان سلب شد. شخصیت های آزاد اندیش دوباره شکار "اداره مصئونیت ملی" شدند. روزنامه ها بار دیگر ثناخوان ارباب قدرت مبلغ سیاست های رسمی آن گردیدند.



ACKU

دیکتاتوری نظامی کودتاچیان به رهبری محمد داود خان بار دیگر رژیم استبدادی مطلقه را اعاده کرد و آزادی های فردی مردم را سلب نمود.

این نظام را تمرکز با احیای سیاست های اقتصادی دوران صدارت داود خان بشکل افراطی تر، زمینه ساز نفوذ بیشتر دولت شوروی در سیاست و اقتصاد افغانستان گردید. موجودیت عناصری که بعدها وابستگی شان به اتحاد شوروی بر ملا گردید در ترکیب کابینه محمد داود خان، خطری بود، به استقلال و حاکمیت ملی که متاسفانه وی آنرا به موقع درک نکرد. بهر حال این دوران، از لحاظ اقتصادی بصورت نسبی پر رونق ولی از لحاظ فرهنگی پر از اختناق و بحران بود.

نظام سیاسی چپ گرای حزب دموکراتیک خلق افغانستان که در نتیجه غلبه نظامی بر رژیم محمد داود خان بوجود آمده بود، از تضادهای گوناگونی رنج می برد. تضاد بین اهداف آن و واقعیت های جامعه سنتی و عنعنوی افغانستان تضاد بین دیدگاه های مختلف در داخل حزب مذکور، پیرامون مسایل اساسی در زمینه شکل و محتوی دولت و سهم جناح ها و فرکسیون ها در قدرت نبود تیوری انطباقی برای پیاده کردن اندیشه های جهانی در متن جامعه افغانی که هویت تاریخی و فرهنگی متفاوت با کشور های مدل سوسیالستی و دیموکراتیک داشت. عدم اگاهی کافی رهبران حزبی و دولتی از اندیشه جهانی و ساختار اجتماعی اقتصاد جامعه افغانی. اندیشه انحصار قدرت و حذف دیگر اندیشان و بعداً حذب هم اندیشان ناسازگار و قدرت طلب.

همه این عوامل امیدهای را که مردم ما از نظام نو در دل می پروریدند آهسته، آهسته به یاس مبدل کرد و مردم با تلخی دریافتند که بار دیگر با استبداد رو برو اند. با این تفاوت که استبداد این بار بنام فرودستان بر زور مندان و بر طبقه متوسط و بعد بر خود فرودستان اعمال میگردید. هنوز مردم از حیرت بدر نیامده بودند که تراژیدی تکمیل شد و قوای متجاوز شوروی کشور ما را اشغال کرد.

این دوران، سیاهترین دوره تاریخ کشور ماست. در آن عهد که کشور ما به میدان خونین جنگ سرد بین دو ابر قدرت بدل شده بود. بخش عمده هستی مادی و معنوی جامعه ما نابود شد. صدها دانشمند و هنرمند و ادیب و شاعر در پشت میله های زندان پوسیدند یا به جوفه های اعدام سپرده شدند.

این رژیم یکسان ساز که دشمن تنوع نظریات و اندیشه ها بود، گرچه به کمک حامی بین المللی توانمند خود از لحاظ کم شمار نهادهای فرهنگی و نشرات مطبوعاتی را بالابرد، ولی به استثنای نوشته های چند قلم بدست محدود که آنها نیز آثار خود را بخاطر گریز از سانسور به زبان استعاره و بگونه سمبولیک می نوشتند، دیگر در مطبوعات و وسایل ارتباط جمعی جز مطالب تکراری و خسته کننده که بیشتر در مدح دوستی شوروی و افغان و فتوحات لشکر سرخ و تبلیغ سیاست های حزب و دولت بود، چیز بدرد بخوری به نشر نمی رسید. استبداد فرهنگی اختناق مطبوعاتی و حذف شخصیت های دیگر اندیش ملی مشخصه این دوران مزدور پرور بود.

مطبوعات برونمرزی که در زمان جهاد مردم ما به حمایت مالی کشورهای آزاد منتشر می گردید. و کتاب های که نوشته میشد، به استثنای موارد انگشت شمار از اندیشه پیشرو و فرهنگ متعالی خالی بود. روزنامه بیشتر به دشنامنامه می ماندند و در بهترین حال به مبلغ سیاست رسمی تنظیم ها مبدل میگردیدند. در این دوران از لحاظ کمی انباشت زیادی در مطبوعات برونمرزی صورت گرفت به قولی شمار نشر جراید و مجلات از جانب گروههای مختلف به بیش از دو صد عنوان میرسید. ولی اثر آن بر سیر اندیشه و غنای فرهنگ ما تناسب با تعداد آن نبود، یعنی کمیتی بزرگ با کیفیت ناچیز.

ولی بهر حال در این دوران ملت افغانستان در هر دو بخش در سوختن مستقیم افکار جهانی قرار گرفت و بنیادهای فرهنگی آن در برخورد با فرهنگ های گوناگون تکان شدید را متحمل گردید.

در اثر مهاجرت های دسته جمعی اجباری که مردم ما به سراسر جهان پراگنده شدند، افغانها برای اولین بار فرصت شناخت عمیق از زندگی و فرهنگ و زبان کشورهای میزبان را یافتند. در گذشت ها شمار اشخاصی که زبان خارجی می فهمیدند و با فرهنگ های دیگر هر چند سطحی اشنایی داشتند به هزار نفر نمی رسید. ولی اکنون بیش از یک میلیون افغان یک یا بیشتر زبان خارجی می فهمند و با فرهنگ و شیوه زندگی ملت هایی که با آنها در تماس اند آشنایی دارند. این بذات خود امکان بزرگیست در راه اعمار جامعه مدنی افغانی با استفاده از تجارب جهانی و واقعیت های ملی - تاریخی. گسترده گی مناسبات کنونی مردم ما با

فرهنگ های مختلف جهان عنقریب عاملی می شود در زمینه رشد و توسعه فرهنگی جامعه بدون افغانی.

بعد از سقوط حکومت دست نشانده اتحاد شوروی در افغانستان که بیان جزئیات آن از بحث ما خارج است. بار دیگر افغانستان در معرض بی ثباتی و جنگ داخلی قرار گرفت. دیکتاتوری مذهبی که هرگز نیافت، حکومت مجاهدین را خلاف آرزوهای مردم، دشمن صلح و آرامش و ثبات و رفاه ثابت کرد.

این حکومت ناتوان و متعصب تمام نهادهای فرهنگی باقی مانده از نظام قبلی را چپاول یا نابود کرد و در عوض قادر به ارائه بدیل نگردید. ده ها روزنامه و مجله و جریده تعطیل شد. کتابخانه ها غارت یا حریق گردید. آرشیف ملی افغانستان که اثباتگر غنای فرهنگ ما بود، سرقت شد یا آتش گرفت. موزیم ملی که افتخار تاریخی و میراث نیاکان ما بود به باد فنا رفت و در بازارهای سیاه قاچاق شد. بدین ترتیب جفاهای به فرهنگ ما صورت گرفت که جبران آن برای ملت مظلوم افغانستان در کوتاه مدت میسر نیست و در دراز مدت مستلزم پول و انرژی و عقل فراوان خواهد بود.

اینک که تحریک طالبان بر اکثریت مطلق سرزمین های کشور مسلط گردیده است در عرصه فرهنگ و معارف نه تنها چیزی به توان ملی کشور نیفزوده، بلکه بقایای دست آوردهای ناچیز ملی را هم در این زمینه بکار نگرفته است.

به جامعه مدنی و آزادی های فردی واقعی گذاشته نمی شود. تنوع عقیدتی مردم و آزاد اندیشی از چوکات عقیده حاکم تحمل نمی گردد.

خلاصه رشد فرهنگی جامعه که قبلاً در زمان حکومت مجاهدین متوقف شده بود، تکانه مثبتی نیافته و مطابق نیازهای زندگی پیش نمی رود. این وضع کشور ما را از جامعه جهانی تجزیه کرده و سبب دوام فقر و جهل گردیده است. یگانه امتیاز حکومت طالبان بر کشور، استقرار نظم و امنیت بعد از اداره ناسالم و نامطمئن قبلی میباشد که هستی مادی و معنوی مردم را در فساد خویش غرق کرده بود. اینکه در اخرین سال سده بیستم قرار داریم، امیدواریم با انباشتی که از رسوبات فرهنگ مردم سالار در مقاطع مختلف تاریخ معاصر به وجود آمده است، قرن بیست و یکم قرن شگوفایی مجدد فرهنگ و زنده گی ملی مردم و کشور ما باشد.

شریف بهاند

# په شلمه پېړۍ کې د هېواد اقتصادي سیاست ته یوه کتنه

## او د یوویشتمې پېړۍ په پیلامه کې د هېواد بیارغاونې

### او اقتصادي پرمختیا لپاره د یوې ستراتیژۍ وړاندیز

مخکینۍ خبرې:

که سرۍ د بشري ټولنې تاریخ په روانه پېړۍ کې وڅېړي، دا به ورته جوته شي، چې د نړۍ د هېوادونو اقتصادي- سیاسي پرمختیا او وده یو ډولیزه نه، بلکې د تاریخي پروسې په بهیر کې د نړۍ پر مخ نظر په وخت او شرایطو بېلا بېل ستر او مخکښ اقتصادي - پوځي ځواکونه رامنځته شوي او یا نظر په ځینو شرایطو او علتونو دغسې ستر ځواکونه له پښنو غورځېدلي او له منځه تللي دي. دغه د ځواکونو د رامنځته کېدو او له منځته تللو شرایطو او علتونه نظر سیمو او هېوادو ته زیات توپیر لري.

په ختیځه نړۍ کې د وخت له شرایطو سره سم ډېرې امپراتورۍ، چې په خپل ذات کې ستر اقتصادي، پوځي ځواکونه وو، رامنځته شوي، خو د دغو سترو ځواکونو چارې یوازې په امیر، سلطان او ټولواک یا ځینو داسې اشخاصو پورې اړه درلوده، چې دوی نه یوازې د ځواکونو د چارو د ښه سمبالولو لپاره هېڅ ډول زیار نه ویست، بلکې د هغوی ټولې چارې د وخت په تېرېدو سره په هماغه پخواني حالت، څنګه چې وي، هماغسې پاتې کېدلې او ټولواک یا امیر امپراتوري د خپل شخصي ملکیت په شان

بلله او وګړيو يې نه يوازې دا حق نه درلود، چې د امپراتورۍ د چارو د سمون لپاره څه ووايي، بلکې اميرانو او ټولواکانو د هغوی د شتمنيو په لوټولو کې هڅه او هاند کاوه او په دې لاره کې يې له هيڅ ډول وژنې، نادودو، چور او ناروا څخه هم ډډه نه کوله. سربېره پر دې دوی اصلاً ځانونو ته دا تکليف نه ورکاوه، چې په دې پوه شي، د دوی له کمکي حرمسرای او يا ارګ څخه بهر څه تېرېږي. دغسې حالت له رواني او شخصي لحاظه په دغسې هېواد کې ستونزې درلودې.

خو برخلاف په لوېديز کې د هېوادونو مشرانو د وخت له غوښتنو سره سم د خپلو هېوادونو د ښه سمون لپاره د اداري او مالي موسساتو په رامنځته کولو کې په څه بوخت وو. په تېره بيا اروپايانو په نړيواله سطحه د راکړې ورکړې او تجارت شبکې رامنځته کړې وې، چې اومه مواد به يې د نړۍ له نورو هېوادونو او سيمو څخه اروپا ته راوړل او په پخو موادو (کاليو) د هغو له بدلولو وروسته به يې بېرته نورو سيمو ته صادرول. پل کنيدي په دې برخه کې وايي:

په عمومي توګه د لوېديز رامنځته کېدل، د اقتصادي بدلونونو، د تجارتي ځانګو د رامنځته کېدو، د نويو اندېښنو د جوشش، د ځينو سازمان شويو ښارې، دولتو د جوړېدو او د توپ او بېړيو په جوړولو کې د يو لړ برياوو... پايله (نتيجه) وه، چې اروپايي ماجراجويانو ته يې دا قدرت ور په برخه کړ، چې پر نور سيمو او وګړيو واک او برې تر لاسه کړي. کله چې د دې برې لاسته راوړنې او ګټې لکه کران او قيمتي فلزات، دواګانې او، داسې نور ځيزونه په روښانه توګه ښکاره شول، نو ټولواکان، تجاران او ځمکه وال په خوځېدو راغلل، چې هر يو په دغو اقتصادي زېرمو واک تر لاسه کړي، چې دغه عمل يو ډول سيالي د ټولواکانو، دولتونو او اروپايي مذهبونو تر منځ د نويو امپراتوريو د رامنځته کولو لپاره راوپارولـه..."

(Kennedy, Paul, 1981, S.18).

د اروپايي هېوادونو په منځ کې هم يوازې انګرېزان وو، چې په دې برخه کې يې زياتره برياوې تر لاسه کړې وې، ځکه چې انګريزانو په نسبي ډول پخوا ټولنيز نظم په خپله ټولنه کې رامنځته کړی و، چې په هغه کې قانوني نظام د يوه بنسټ په توګه ايښودل شوی و. "دغه امر په خپل وار سره د منځنی طبقې پراختيا او لوړتيا رامنځته کړه او همدارنګه د دې

وسیله وګرځېد، چې تجارت سېما او پانګه اچونه منطقي حالت وموموي. یا په بله وینا په تېره زمانه کې د دې راتولې شوې شتمنۍ ساتنه او پالنه وشي، نه دا چې هغه تالا او لوټ شي. د سیاسي ثبات او امنیت ټینګښت، د پانګې زیاتوالی او د بانکي سیسټم اعتبار او داسې نور. د داسې موسساتو بنسټیز اساس وګرځېد، چې د صنعتي او تجارتي ودې له اړتیا وړ شرایطو څخه ګڼل کېدل." (Kennedy, Paul, 1981, S.19).

په دې توګه دغو سترو او مخکښو اقتصادي، پوځي ځواکونو خپل ځواک پر نورو هېوادونو ټینګ کړی او وکولای شي د خپل دغه ځواک د ساتنې، پراختیا او لا ټینګښت او همدارنګه د خپل هېواد د اقتصادي، ټولنیزې پرمختیا لپاره تر ولکې لاندې هېوادو شتمنۍ او طبیعي زېرمې په یو ډول نه یو ډول لوټ کړي، چې په دې توګه د تاریخ په اوږدو کې یوې خوا ته بډای او شتمن هېوادونه او بلې خوا ته غریب او نیستمن هېوادونه رامنځته شول، چې د نړۍ په دغو نیستمنو هېوادونو کې زیات شمېر (کابو ۳/۴) اوسېدونکي استوګنه لري، چې غربت لوږه، ناروغیتا، بېسوادي، بې کوري او داسې نور... په کې مسلط مشخصات دي او په اقتصادي ادبیاتو کې تر دغو سیمو او هېوادونو وروسته پاتې، پرمختیایي، لږ پرمختیایي، مخ په ودې، مخ په وړاندې هېوادونه او یا "درېیمه نړۍ" ویل کېږي. د پرمختیایي هېوادونو اصطلاح دلومړي ځل لپاره د امریکا جمهور رئیس ترومن (Turman) په خپله دولتي کړنلاره کې پر ۱۹۴۹ میلادي کال د دغه هېواد په پارلمان کې استعمال کړه (وګورئ (Hans-Rimbert Hemmer, mo.s. 506) او تر دې وروسته دغو هېوادونو په یو بل پسې ځانونه په دغه نامه یاد کړل.

پورتني مشخصات دا واقعیت په ډاګه کوي، چې دغه هېوادونه اوس زیاتې اقتصادي او ټولنیزې ستونزې لري، چې دغه ټولنیزې او اقتصادي ستونزې په دغو هېوادونو کې څه ګډې او مرتبطې نښې لري. دغه د وروسته پاتې والي ګډې نښې په دغو هېوادو کې په لاندې ډول په ګوته کېږي:

- د کار د مولدیت په ډېره ټیټه سطحه.
- ډېره وروسته پاتې مادي او معنوي زېربنا.
- د نفوسو چټکه وده په تېره بیا په کلیو او بانډو کې.

- د ولس د سرې - د سر د عايد ټيټوالي.

- د كرنې په سكتور كې د زياتو وګړيو بوختيا او همدارنګه په دغه سكتور كې د دولت د غلطې پاليسۍ پلي كول چې د هغې له امله غربت او وزګارتيا په كليو او بانډو كې زياتېږي او له همدې كبله وګړي ښارو ته مخه كوي، چې په پايله كې هم د خوړلو مواد كمي مومي او دولت مجبورېږي چې خواړه له بهر څخه راوارد او د هغه لپاره زيات اسعار مصرف كړي.

- په ملي عايداتو كې د صنعتي سكتور د ونډې ډېره ټيټه درجه.

- له قدرت څخه د رهبرانو ناوړه ګټه اخيستل او په اداري چارو كې د زيات فساد شتوالی.

- د پرمختللي پوځ جوړول او د هغه په پرمختلليو او مدرنو وسلو او مهماتو باندې سمبالول. (Peter J. Opitx, Munchen, 1991, S. 18,)

دغه پورتنۍ اقتصادي - ټولنيزې ستونزې په هغو هېوادو كې، څنګه چې مخكې ورته ګوته ونيول شوه، نه يوازې د اوسني وخت د ختيځ او لوېديځ د كړكېچ او د نړيوال اقتصادي نظم زېږيدنه ده، بلكې په تاريخي لحاظ له اوږدې مودې څخه را په دې خوا د ځينو نړيوالو او كورنيو اقتصادي- سياسي او پوځي ستونزو، طبيعي او جغرافيايي جوړښت او جيوستراتيژيكي موقعيت پورې نېغه اړه درلوده او لا يې لري، چې د دغو هېوادو په اقتصادي پرمختيايي بهير باندې يې هر اړخيز اغېز كړی دی.

افغانستان هم د تاريخ په اوږدو كې د نورو هېوادو په شان كله د يوه ستر ځواك په توګ رامنځته شوی او كله يې هم د كورنيو شخړو، ستونزو او يا له پرديو سره په جګړو كې خپل دغه ځواك له لاس وركړی او ان ګاونډيو هېوادو هغه په خپل منځ كې سره ويشلی او يا دا چې د خپل جيوستراتيژيكي موقعيت له لحاظه تل د سترو اقتصادي- پوځي ځواكونو د سياليو ډګر ګرځېدلی او يا هم په نېغه توګه د هغوی تر يرغل لاندې راغلی، چې دغه حالت په خپل ذات كې د هېواد پر سياسي او اقتصادي چارو نېغ اغېز كړی او هغه يې شا ته غورځولي دي، نو كه سړی د افغانستان پرمختيايي - اقتصادي سياست د نړی د نورو هېوادو په اړوند تر څېړنې لاندې ونيسي، دا پايله (نتيجه) به تر لاسه كړي چې:

"دغه هېواد خپل پرمختيايي اقتصادي سياست ډېر وروسته پيل کړی دی، خو دا سيمه په تېره بيا افغانستان يا د نړۍ د لويو ښکېلاکګرو له خوا تل تر تېريو لاندې و، چې دغه پېښې د افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د لويې لوبې په نامه نومول شوې دي. يا هم کورنيو جګړو شخړو او کړکېچونو خپل سيوری پرې اچولی و او لا اچولی يې دی. له همدې امله دغو جګړو له يوې خوا د دغه هېواد مادي او معنوي شتمنۍ له منځه وړې او له بلې خوا يې سياسي ناکرارۍ پياوړې کړي او مرکزي ځواک يې يا له منځه وړی او يا يې دومره کمزوری کړی چې پر ځای يې سيمه ييز واړه واکمن رامنځته شوي، چې دوی يوازې د خپلې واکمنۍ د ټينګښت لپاره هڅه کړې، پرته له دې چې ملي اقتصادي، سياسي ګټې او يا د هغې ودې او پرمختيا ته کومه پاملرنه وکړي.

خو له نېکه مرغه د تېرې پېړۍ په پای او د دې پېړۍ په پيل کې امير عبدالرحمن خان وکولای شول، يو قوي مرکزي دولت رامنځته کړي. د نوموړي د واکمنۍ په لړ کې د ده زياتره پاملرنه د دولت په تېره بيا د پوځ جوړېدو ته وه، دی په دې اړونده وايي: "نهايت سعی را دارم که يک ميليون عساکر جنگی که همه مسلح به اسلحه جديد باشند حاضر نمايم و ادارات حربيه و آذوقه و مواجب دوساله آنها را تهيه نمايم..." (امير عبدالرحمن خان، ۱۳۷۵، ۳۳۴مخ). له همدې کبله دی په دې هڅه کې شو، چې ځينې صنعتي ماشينونه، چې زياتره يې د پوځ لپاره توليدات کول، هېوادو ته را وارد کړي. ولې دی له مرکنتليستان په دې نظر و چې: "معمولاً شتمنۍ ته اړتيا ده، چې د پوځي ځواک له منځه تلل وژغورل شي او پوځي ځواک ته عملاً اړتيا ده، چې شتمني او پانګه لاس ته راوړل شي او وساتل شي. (Kennedy, Paul, 1981, S.12).

## مرکنتليستي اقتصادي سياست ۱۸۸۰-۱۹۲۹م)

امير عبدالرحمن خان د مرکنتليستي (حمايتيون يا تجارتيون) اقتصادي سياست په رڼا کې، چې تر ۱۶-۱۹ ميلادي پېړۍ پورې يو غالب اقتصادي سياست و، خپله پرمختيايي اقتصادي پاليسي طرحه کړه. (Eberhard Rhein/A. Ghanie Ghaussy, 1966, S.18) ده وکولای شول چې پر ۱۸۸۷ ميلادي کال د لومړنۍ ماشينۍ فابريکې بنسټ د کابل په علم ګنج کې چې وروسته د ماشينخانې په نامه ياده شوه- کېږدي

او پـه دې فابریکـه کې ډول ډول ماشـینونه پـه کـار واچـوي. (وګورئ، افغانستان در پنجاه سـال اخـیر، ۱۳۴۷، ۱۱۴ مـخ او عبدالرحمن خـان ۱۳۷۵، ۳۰۸-۳۰۹ مخ) ده لـه اړتیا سره سم نـوي ماشـینونه هـم هـېواد تـه را وارد او پـه کـار یـې اچـول او د دې کـار لپـاره یـې پـه لومـړي ځل یـو فرانسـوی مـهندس، چـې نـوم یـې میسـوژیـروم و، اسـتخدام کـړ. (وګورئ امیر عبدالرحمن خان، ۳۰۵ مـخ) او تـر هغـه وروسـته یـې انګریـزي او هنـدي متخصصیـن هـېواد تـه را جلـب کـړل، چې لـه یـوې خـوا دا فابریکـه پـه کـار واچـوي او لـه بلـې خـوا افغـاني کـارګران د راتلونکـي لپـاره وروزي.

څنـګه چـې مرکنتلیسـتانو د ملت اقتصـادي ګټې پـه صنـایعو او تجـارت کـې لیدلـې او د تجـارانو ګټې یـې د ملـت امـانیز (مـترادفې) ګټې ګڼلـې او هغـه یـې د ملت هوسایي بلله، د افغانسـتان امـیر هـم پـه همدغـه خیـال ؤ او وایـي ښه پوهـېږم، چـې تجـارت او صنعـت د هـېواد د شـتمنۍ ډېره لویـه سـرچینـه ده او هغـه تـه زیاتـه پاملرنـه پـه کـار ده. دی پـه دې برخـه کـې زیـاتوي: "...صنایع سبب ازدیاد و تمول مملکت و وسعت تجـارت است. پولـی کـه از ایـن حـالت بـه ممـالك خارجـه بـاید مـی رفت، جـالا در خـود افغانسـتان بـه مصرف مـی رسـد. اګر رعایـای مـن متمـول باشند، سـلطنت هـم قـوی و مقتـدر شـده محفـوظ مینمـاند..." (امـیر عبدالرحمن خـا، ۱۳۷۵، ۳۱۲ مـخ). د امـیر دغـه اقتصـادي هلـې ځلـې لـه بـده مرغـه یـوازې د هـېواد پـه مرکـز پـورې تړلـې پـاتې شـوې او ویـې نـه کـړای شـول ډېر شـمېر وګړي پـه کـار بوخـت کـړي. دی پـه خپله هـم لـه دغـه حـالت څخـه شـکایت کـوي او لیکـي: "... امـروز یکصـد هـزار نفـر در افغانسـتان بـه سـاختن راهـها و عمـارات و صنـایع و حرفـه و کارهـای معـادن و اکـثر از کارهـای دیـګر مصـروف مـی باشـند" (امـیر عبدالرحمن خـان، ۱۳۷۵، ۳۱۱ مـخ). پـه دې تـوګه د هـېواد ډېر وګړي وزګاره او لـه بـده مرغـه چـې دوی پـه خپلـه هـم کـوم نـوښت نـه کـاوه، چـې د خپـل اقتصـادي ژونـد د ښـه والـي لپـاره هـڅه وکـړي. حتـی د امـیر د اقتصـادي سیاسـت غندنـه یـې هـم کولـه. امـیر لـه دغـه حـالت نـه سـر ټکـوي او وایـي: "ملـت مـن از اختراعـات و الات جدیـده بـه کلـی بـی اطـلاع بودنـد و بـه ایـن جـهت از ایـن اقدامـات تـازه مخـالفت داشـتند." (امـیر عبدالرحمن خـان، ۱۳۷۵، ۳۰۹ مـخ). دغـې وضعـې د هـېواد د هغـه وخـت پـه روزنـیزې او کلتـوري ودې پـورې نېغـه اړه درلـوده، ځکـه چـې پـه ټول هـېواد کـې یـو ښوونـځی هـم نـه و. کـابو د ولـس اکـثریت لیکـل

او لوستل نه شو کولای. یوازې د هېواد په ځینو سیمو کې کومه یوه مدرسه چې په هغه کې هم دیني مضامین لوستل کېدل او د دیني علماوو له خوا روزنه په کې کېده، موجوده وه. د غه حالت هېواد د فني کادرونو له کموالي سره نه یوازې په ملکي، بلکې په پوځي برخو کې هم مخامخ کړی و. امیر وایي: "چیزی که افغانستان خیلی به آن محتاج است. صاحب منصب های نظامی تربیت شده لازم دارد. (امیر عبدالرحمن خان، ۱۳۷۵، ۳۳۵مخ.)

د عبدالرحمن خان تر مرګ وروسته د ده زوی حبیب الله د ده اقتصادي پالیسۍ تعقیب او د همدې اقتصادي پالیسۍ په رڼا کې یې هڅه وکړه، هغه ستونزې چې د اقتصادي ودې او پرمختیا خنډ وې، څه ناڅه له منځه یوسي. د ښوونې او روزنې په برخه کې یې پخواني عنعنوي نصاب ته: چې عموماً د ملا له خوا یې په جوماتو او مدرسو کې تدریس کېده، خاصه پاملرنه وکړه او تر څنګ یې د عصري ښوونې او روزنې بنسټ هم کېښود او ځینې ښوونځي لکه د حبیبیې، حربیې، ملك زاده ګانو او داسې نور ښوونځي یې پرانیستل. د دې تر څنګ امیر د ځینو ښوونځیو د بنسټ ایښودلو امر هم ورکړ (وګورئ غیرت عبدالباري، تعاون، ۱۳۷۷، ۱۹-۲۳مخ).
د اقتصاد په نورو برخو کې لکه صنایعو، کرنه، لارو جوړولو او روغتیایي چارو کې هم ده ځینې ګامونه پورته کړل او په دې برخه کې یې هم څه ناڅه بریاوې ور په برخه شوې.

خو له دغو ټولو هڅو سره، ده و نه شو کړای چې د ټولنې اقتصادي، سیاسي جوړښت ته بنسټیز خوځښت (تحرك) او بدلون ور په برخه کړي، چې د پراخو پرګنو ژوند دود (د ژوند شېوه) بدلون ومومي. ښایي د ده وېره له یوې خوا د پلار وصیت یې و، څکه هغه به ویل: "... اخلافم نباید هیچگونه اصلاحات تازه را به این عجله شایع نمایند، که مردم به مخالفت حکمران خود برخیزد... باید تمام این ها را متدرجاً به همان اندازه که مردم به این اختراعات جدیده انس میگیرند معمول دارند تا امتیازات و اصلاحاتی را که به آن روجوع شده است، ضایع نکند." (عبدالرحمن خان، ۱۳۷۵، ۴۴۵مخ). او له بلې خوا ممکن د افغاني ټولنې ټولنیز جوړښت په تېره بیا عنعنې، د کورنۍ جوړښت او د ټولنې روزنیزې پراختیا په دې برخه کې بنسټیز رول لوباوه، څکه چې دغو اړخونو په افغاني ټولنه کې

هېڅکله داسې هڅه نه ده کړې، چې وګړي د خپل اقتصادي ژوند د ښه والي لپاره وهڅوي. په دې برخه کې د ماکس ویبر نظر صدق کوي. هغه ویل، چې نژاد د یوه ولس د اقتصادي وضعیت او حالت منشه او یا اصل نه تعنییوي، بلکې دا عنعنه او رسوم دي، چې د اقتصادي ودې او پراختیا خنډ او یا د هغه د پرمختګ سبب ګرځي. (وګورئ Sharif, Bahhand, 1997, S 74). پر دې سربېره د افغاني ټولنې مخورو او لوړ پاټکي (قشر) هم نه غوښتل، چې په ټولنه کې د کوم مثبت بدلون د رامنځته کولو لپاره هېڅ ډول هاند نه دی کړی. بلکې حتی دوی په خپله په خپل عنعنوي ژوند کې هم د کوم بدلون راوستل نه غوښتل. دوی له خپل موجوده ژوند څخه چې درلود یې، ډېر راضي او د چارواکو ملاتړ تر هغې پورې کړی، تر کومه ځایه چې د دوی شخصي ګټې په کې نغښتې وې. د پورتنیو عواملو پر اساس ممکنه نه وه، چې د ټولنې په اقتصادي او سیاسي برخه کې کوم مثبت او ژور بدلون رامنځته شوی وای.

کله چې امان الله خان د هېواد د واك چارې تر لاسه کړې، دی په دې هڅه کې شو، چې هېواد ته په لنډه موده کې په هر اړخیزه توګه په تېره بیا د اقتصادي، سیاسي او کلتوري چارو په برخه کې بنسټیز بدلون ورکړي. له همدې کبله، ده په ځینو ریفورمو او اصلاحاتو لاس پورې کړ او په دې نظر و چې د ریفورمونو اصلاحاتو راوستل یوه دولتي دنده ده. دی په دې برخه کې وایي: "بدیهی است که حیات و زندگانی معنوی و فراهم نمودن وسایل سعادت و ترقی و استراحت یك قوم، یك ملت اولین وظیفه و تکلیف واجبی دولت است. باید دولت متحمل این بار گران گردیده وظیفه خود را انجام دهد." *(کشککی، برهان الدین، ۱۳۰۴، ۷مخ)*.

له همدې کبله یې په سیاسي برخه کې د خلاضو دروازو سیاست پیل او له ډېرو هېوادو سره یې ډیپلوماتیکي اړیکې ټینګ او له هغوی سره یې سیاسي، اقتصادي او کلتوري تړونونه لاسلیك کړل. د اقتصاد په برخه کې یې د خپل پلار سیاست، مرکنتلیستی اقتصادي سیاست، تعقیب او د لا زیاتې اقتصادي زېربنا د رامنځته کولو لپاره یې ستر ګامونه واخیستل او له همدې کبله یې هم د هېواد اداري سیاست ته خاصه پاملرنه وکړه او هم یې زیار ویوست چې د هېواد اقتصادي او ټولنیز کړه وړه د قوانینو په چوکاټ کې راولي. په دې خاطر یې ډېرې نظامې (۶۴) طرح، تصویب او

نافذې کړې (وګورئ، افغانستان در پنجاه سال اخیر. ۱۳۴۷، ۲۷-۲۸مخ) او د اتباعو اقتصادي کړه وړه یې د اساسي قانون پر بنسټ تنظیم کړل. په دې اړوند د افغانستان لومړي اساسي قانون په دولسمه ماده کې لولو: "اتباع افغانستان حق تاسیس شرکت های تجارتی، صناعتی او زراعتی را طبق قوانین مربوط خواهند داشت (فیض زاد، محمد علم. ۱۳۶۸ و ۶۶مخ). خو چې شومېتر د هغه په هکله خبرې کوي، موجود نه وو او یا په بله وینا لا نه و رامنځته شوي. نو له همدې کبله څنګه چې مخکې وویل شول، دولت په خپله اقتصادي چارې پر مخ بیولې. نو پر دې اساس دولت زیاتره پاملرنه ښوونې او روزنې، تجارت د لویو لارو جوړولو، د صنایعو ودې او د کرنې پراختیا ته واړوله.

د صنایعو په برخه کې دولت هر ډول صنعتي ماشینونه له بهر څخه وپیرودل او هېواد ته را وارد کړل، خو کله به چې ماشینونه هېواد ته را ورسېدل، د فني کادرونو د کموالي له کبله به سرې نه پرې پوهېده، چې ماشین د څه لپاره دی. په دې برخه کې یو انګلیسي پوه په هغه وخت کې لیکلي وو چې افغانستان د صنعتي ماشینونو په هدیره تبدیل شوی دی (وګورئ Fraser-Tytler, K. 1942. S. 206) له همدې کبله د ځوان واکمن زیاتره پاملرنه ښوونې او روزنې ته وه او په دې برخه کې یې هم ستر ګامونه واخیستل. د بېلګې په توګه د ده په واکمنۍ کې د ښوونې او روزنې وزارت د وخت له غوښتنو سره سم رامنځته شو او په دې توګه دولت عملاً د ښوونې چارې په لاس کې واخیستې، څنګه چې اساسي قانون حکم کاوه. په اساسي قانون کې راغلي وو: "د افغانستان ټول ښوونځي د حکومت تر څارنې او پلټنې لاندې دي. حکومت ټول هغه اسباب او تدابیر چې د افغانستان ټولو اتباعو د ملیه او علیه روزنې لپاره د اتحاد او انتظام پر سیاق وي، په دقت په نظر کې نیسي..." (بیوزګی. محمد طاهر. ۱۳۷۴، ۴۱مخ). نو ځکه حکومت خپله اساسي دنده وبلله. چې د ښوونې لپاره ښوونځي جوړ، عصري پروګرام طرح او نوي درسي مواد او پرسونل برابر کړي. سربېره پر دې حکومت یو شمېر ښځینه او نارینه زده کوونکي د لومړي ځل لپاره د زده کړو په خاطر بهر ته ولېږل او د هېواد مخه یې د بهرنیو متخصصینو پر مخ خلاصه کړه، چې د دوی له پوهې او تجربو څخه د هېواد د بچیانو د ښوونې په برخه کې ځنې ګټه واخلي.



ACKU

له بده مرغه چې څوان تولواك خپل دغه ټول ريفورمونه او اصلاحات بې له دې چې په هېواد کې ورته کومه باکفايته اداره، مادي او معنوي امکانات او اساسات، کوم پلان، طرحه او يا کوم کادري سياست موجود وي، ډېر په چټکه توګه پلي کړل، چې په حقيقت کې ده د خپل نيکه د وصيت پر خلاف عمل سر ته ورساوه او ولس له ده او اداري څخه يې ناراضه او پاڅون ته چمتو شول. غلام محی الدين انيس د دغه پاڅون علتونه داسې بيانوي: "افراط و عدم توافق جريانات حکومت با آرزوهای ملت، غلطی های فاحش و مدهش تطبيق، سو اداره و بې نظمی هيئت ضبط و ربط پيدا شدن احزاب و دسته جات و مخالفت آنها با حکومت... دست غير در اغتشاش... ولی چيزيرا که اهمتر بايد شمرد مسئله افراط و غلطی های فاحش و مدهش اداره است." *(انيس غلام محی الدين، ۶-۷مخ)*. په دې توګه د امان الله خان دولت ړنګ او ورسره سم د ده ريفورمونه او اصلاحات هم د سقاو د زوی له خوا په شا وتمبول شول. *(وګورئ ارغنداوی، عبدالعلي، ۱۹۹۷، ۴۲۹-۴۳۱مخ)*

## د ليبرال اقتصادي سياست پيل (۱۹۳۰-۱۹۵۳)

د نادر خان او وروسته د ده د زوی محمد ظاهرشاه، د واکمنۍ په لړ کې د اقتصادي سياست په برخه کې يو نوی پړاو، ليبرال اقتصادي سياست، پيل شو، دوی په تېره بيا نادرخان په دې نظر و، چې پرمختيايي اقتصادي سياست يوازې او يوازې هغه وخت په ښه توګه عملي کېدای شي، کله چې حکومت د هغه د پلي کولو لپاره د ولس ملاتړ تر لاسه کړي. پر دې اساس نادرخان خپله پاملرنه تر ټولو لومړی دې ته واړوله. چې دولت د ولس اعتماد هغه چې د امان الله خان او تر هغه وروسته دوره کې له منځه تللی و، بېرته تر لاسه کړي. له همدې کبله يې د مخکينۍ دورې ځينو ريفورمونو ته شا کړه او په ټينګار سره يې دا خبره وکړه چې دولت خپل ټول کړه وړه د اسلام د مقدس دين پر بنسټ طرحه او په عمل کې پلي کوي. د اقتصاد په برخه کې دولت اقتصادي کړه وړه خپلو اتباعو ته ورپرېښودل او خپله اقتصادي دنده يې يوازې د مادي او معنوي زېربنا په جوړولو او له بهر سره د اقتصادي تړونونو په تر سره کولو کې محدود کړل،

خکه چې دولت د لومړي ځل لپاره یوه خوځنده ډله (ډینامیك ګروپ) په افغاني ټولنه کې د خپل اقتصادي سیال په توګه ولیده.

دغې خوځندې ډلې (ډینامیك ګروپ) د لومړي ځل لپاره د یوه سهامي شرکت بنسټ چې لومړنۍ پانګه یې پنځه ملیونه افغانیو ته رسېده، پر ۱۳۰۹ لمریز هجري کال کېښود (وګورئ. *افغانستان در پنجاه سال اخیر*، ۱۳۴۷، ۷۴مخ) چې د دې شرکت اساسي دنده د کورني تجارت ښه انسجام و، خو پر ۱۳۱۱ لمریز هجري کال د هېواد په تجارتي سیستم کې بدلون راغی او د کورني او بهرني تجارت د ښه سمون لپاره دې شرکت په خپل ځای ملي بانك چې په هېواد کې لومړنی بانك و، د اته ملیونو افغانیو په لومړنۍ پانګه پر ۱۳۱۲ ل هجري کال رامنځته کړ، د دې بانك اساسي دندې چې مونو پولي شکل یې درلودل، د پیسو چاپ او خپرېدل، د اسعارو پیرېدل او خرڅول او د هغو د بیې ټاکل، د صنعتي تاسیساتو رامنځته کول د بورې، پطرولو او موټرو واردول او همدارنګه صادراتي دندې وې. په دې ډول عبدالمجید زابلي د ملي بانك د پانګه وال او مشر او همدارنګه د هېواد د اقتصاد د وزیر په توګه له دغه مونو پولي حالت څخه د خپل اقتصادي او سیاسي واك د ټینګښت لپاره زیاته ګټه واخیستله. اما دولت وکولای شول، چې پر ۱۳۱۸ل هجري کال د افغانستان بانك د هېواد د مرکزي بانك په توګه د ۱۲۰ ملیون افغانیو په لومړنۍ پانګې پرانیزي او د ملي بانك هغې دندې چې په مرکزي بانك پورې یې اړه درلوده، دې بانك ته وسپارلې او ملي بانك یوازې د تجارت او صنعت په برخه کې خپلې هلې ځلې کولې.

ددې دورې د اقتصادي سیاست بله مهمه دنده د ښوونې او روزنې پراختیا او د لویو لارو جوړولو ته ځیر شوې وه.

د ښوونې او روزنې په برخه کې دولت په دې هڅه کې و، چې کادري کموالی او په دې برخه کې هغه ستونزې چې ملي اقتصاد ورسره مخامخ و، څه ناڅه حل کړي. له همدې کبله یې زیاته پاملرنه لومړنیو، منځنیو او عالي تحصیلاتو ته وه. د دې زیار پایله (نتیجه) وه، چې دولت وکولای شول، د ښوونځیو شمېر له ۳۷۰ څخه پر ۱۳۱۲ل هـ کال ۸۰۴ ښوونځیو ته، پر ۱۳۳۵ل هـ کال لوړ کړي او د زده کوونکیو شمېر په همدغو کالونو کې له ۴۵۹۱ نه ۱۲۶,۰۹۲ ته او د ښوونکیو شمېر له ۱۶۵ نه ۴۰۰۷ ته

لـوړ کـړي. (وګورئ، پیشـرفت پـلان و تحلیـل اوضـاع اقتصـادی ۱۳۴۰-۱۳۳۵، ۱۳۴۲، ۲۴-۲۱ مـخ). پـردې سـربېره دولـت هرکـال یوشـمېر افغاني زده کوونکـي د زده کړو لپاره بـهر تـه هـم اسـتول. د لـوړو تحصیلاتـو پـه برخـه کـې دولـت وکـولای شـول د لومـړي ځل لپـار د طـب د پوهنـځي بنسـټ پـر ۱۳۱۱ ل کـال د ښوونـې او روزنـې وزارت پـه چوکـاټ کـې کـېږدي، خـو کلـه چـې د وخـت لـه غوښتنـو سـره سـم د نـورو ځانګو پوهنـځي لکـه د حقوقـو او سیاسـي علومـو پوهنـځی (۱۳۱۷)، د طبیعـي علومـو پوهنـځی (۱۳۲۱)، د ادبیـاتو او بشـري علومـو پوهنـځی (۱۳۲۲)، د شـرعیاتو پوهنـځی (۱۳۳۰)، د کرنـې پوهنـځی (۱۳۳۵) او د اقتصـاد پوهنـځی (۱۳۳۶) پرانیسـتل شـول. کـابل پوهنتـون پـر ۱۳۳۶ ل هـ کـال د یـوې مسـتقلې اداري پـه تـوګه رامنځتـه شـو. (وګورئ، افغانستان در پنجاه سال اخیر، ۱۳۴۷ ل، ۶۸-۷۱ مخ).

ښکـاره خبره ده چـې ترانسـپورټ هـم د اقتصـادي پرمختیـا لپـاره یـوه مهمـه وسـیله ګڼل کـېږي، پـه تـېره بیـا د داسـې یـوه هـېواد لپـاره لکـه افغانسـتان، چـې نـه سـمندري، نـه لـوی سـیندونه او نـه هـم د ګاډي کـرښې لـري، نـو پـه داسـې هـېواد کـې د ځمکنـي او فضـایي ترانسـپورټ وړتیـا (اهمیـت) ډېر محسوسـېږي. لـه همـدې کبلـه و، چـې حکومـت دې مسـئلې تـه نسبت پخـوا تـه خاصـه پاملرنـه وکـړه اوزیـار یـې وایسـت چـې د هـېواد بـېلا بېلـې سیمې یـو لـه بـل سـره د لویـو لارو پـه وسـیله ونښلـوي او پـه دې تـوګه د اوسـېدونکیو د تـګ او راتـګ لپـاره هوسـایي رامنځتـه او صنعتـي فـابریکو تـه د اومـو مـوادو لـېږدول او مـارکېټ تـه د تولیـد شـویو مـوادو انتقـال اسـانه کـړي. پـه دې خـاطر دولـت فوایـد عـامې وزارت رامنځتـه کـړ، چـې د نـورو دنـدو تـر څنګ د اصلـي او فرعـي سـړکونو فنـي سـروې او څېړنـه، د لویـو لارو، بندونو او پلونو جوړول او د هغـوی ساتنه پـه ښه تـوګه وکـړي.

خـو دویمـې نړیوالـې جګـړې د هـېواد دغـه اقتصـادي پرمختیـا پـه ټپـه ودرولـه، ځکـه چـې د صنعتـي ماشـینونو او د هغـوی د تجـهیزاتو راواردول لـه اروپـا څخـه هـېواد تـه بند او لـه هـېواد څخـه د عمـده صـادراتي مـوادو لـېږدول بهر تـه کمی وموند. پـه دې تـوګه هـېواد هـم لـه اقتصـادي سـتونزو سـره مخـامخ شـو. تـر جګـړې وروسـته د دې اقتصـادي سـتونزو د حـل لپـاره د اقتصـاد وزیـر او د ملـي بـانك مشـر عبدالمجیـد زابلـي، د یـوه پرمختیـایي اقتصـادي پـروګرام وړاندیـز وکـړ، چـې پـه هغـه کـې د کرنـې د سـکتور د تولیداتـو

زیاتوالی، د سپکو او درنو صنایعو پرمختیا او د خدماتو د سکتور وده په پام کې نیول شوې وه (وګورئ، *عبدالمجید زابلی، پرویلم های اقتصادی ما و مجادله با ان، کابل، ۱۳۱۸*) چې په دې پروګرام کې بیا هم ملي بانک ته د هېواد د صنعتي کولو لپاره ستر رول ورکړل شوی و، څه موده وروسته په ډاګه شوه چې ملي بانک د درنو صنعتي تصدیو په تمویل کې له ستونزو سره مخامخ دی. په دې توګه دولت مجبور شو، د درنو صنایعو او د عامه چارو د چټکې ودې او پرمختیا په خاطر په خپله په دې برخه کې پانګه واچوي او د هغې لپاره بهرنی پانګې او مرستې را جلب کړي.

پر همدغه وخت د هېواد په سیاسي ډګر کې هم بدلون رامنځته او محمد داود خان د هېواد د صدراعظم په توګه وټاکل شو.

## د رهبري شوي اقتصاد پیل (۱۹۵۴):

محمد داود خان خپل ټولنیز او اقتصادي سیاست ته بل ډول بڼه ورکړه. چې هغه د اقتصاد ارشادي یا ایکونومي دیریژی او یا د رهبري شوي اقتصاد په نامه یادېږي. دی په خپله وینا کې وایي:

"... زما د حکومت د اقتصادي سیاست بنسټ پر دې ولاړ دی، چې دولت او خصوصي اقتصاد د هېواد د ګټو او د ولس د هوسایي لپاره په ګډه سره کار وکړي...

له همدې کبله د هېواد د اقتصادي کړو وړو د بڼه سمبالولو لپاره اړین (ضروري) بریښي چې حکومت د ولس د ټولو برخو د استازي په توګه د اقتصاد لارښوونه وکړي او هغه رهبري کړي..." (وګورئ Eberhard Rhein/ A.Ghanie Ghaussy, 1966. S. 27)

حکومت د خپل دغه سیاست د بڼه پلي کولو لپاره پر ۱۹۵۵ میلادي کال د اقتصاد وزارت په چوکاټ کې د پلان جوړولو ریاست رامنځته کړ. دغه ریاست دوه کاله وروسته له غوښتنو سره سم د پلان جوړولو د وزارت په بڼه رامنځته شو. د دې وزارت دنده په دې کې نغښتې وه، چې له یوې خوا د هېواد طبیعي زېرمې او د هغې تر څنګ کورنی او بهرنی مادي او مالي منابع په عقلاني توګه په کار واچوي، چې په دې ډول ملي تولیدات زیات، د خلکو د ژوند سطحه لوړه، وزګارتیا له منځه یوسي او د ملي عایداتو ویش په عادلانه توګه وکړي او له بلې خوا د بېلا بېلو سکټورونو

پروګرامونه یو له بل سره په ښه توګه سره منسجم کړي. له همدې کبله و. چې د پلان جوړولو وزارت د حکومت له لاربښوونې سره سم له نورو وزارتونو څخه وغوښتل چې د خپلو مربوطه څانګو لپاره د پرمختیایي پروګرامونو وړاندیز وکړي او دې وزارت ته یې وړاندي کړي.

همدا وه چې "لومړی پلان (۱۳۳۵-۱۳۴۰) په داسې یو عمومي چوکاټ کې چې د ځانګړیو موخو په نظر کې نیولو سره یې د پروژو یو لست په پام کې نیولی و، رامنځته شو." (پیشرفت و تحلیل اوضاع اقتصادی، ۱۳۳۵-۱۳۴۰، ۱۳۴۲، ۱مخ)

په دې توګه حکومت د دغه اقتصادي سیاست په رڼا کې څلور پنځه کلن تولنیز اقتصادي پلانونه طرحه او څه ناڅه یې په عمل کې پلي کړل. د دغو پلانونو اساسي موخې او همدارنګه د هغوی تخمیني او حقیقي پانګه اچونې په لنډه توګه په لومړي جدول کې وګورئ.

د دې پلانونو په پلي کولو سره کورني عواید له ۸، ۱۵۲۷ ملیون افغانیو څخه پر ۱۳۳۶/۱۳۳۵ل هـ، کال (وګورئ پیشرفت پلان و تحلیل اوضاع اقتصادی ۱۳۳۵-۱۳۴۰، ۱۳۴۲، ۴۳مخ) کابو ۱۶۴۵۵ ملیون افغانیو ته پر ۱۳۵۷ ل هـ کال لوړ شول (وګورئ جمهوري دموکراتیک افغانستان در آیینه ارقام، ۱۳۵۷، ۱۳۵۹، ۱۳۶۰، ۷مخ).

له لومړي جدول څخه په ډاګه څرګندېږي، چې د لومړي او دویم ټولنیز اقتصادي پلانونو اساسي موخې د مادي زېربنا په تېره بیا د سړکونو، پلونو او هوایي ډګرونو جوړول وو، چې "ولایت، شهرهای بزرګ و مراکز صنعتی را به وسیله شاهراه هایکه در تمام فصول قابل استفاده باشد و با سړکهای دېریکه دارای عین سویه باشد، به سرحدات ممالك همجوار متصل نماید". (پیشرفت پلان و تحلیل اوضاع اقتصادي ۱۳۳۵-۱۳۴۰، ۱۳۴۲، ۴۶مخ). د دغې موخې په پام کې نیولو سره حکومت وکولای شول چې د دویم پنځه کلن پلان تر پای پورې کابو (۲۰۰۰) کیلومتره پوخ سړك جوړ کړي (وګورئ. Grotzbach, Erwin, 1990، ۳۹۱مخ). همدارنګه باید وویل شي، چې د حکومت هڅه په دې برخه کې یوازې په دې دوه پلانونو کې پای ته و نه رسېده، بلکې په نورو پلانونو کې یې هم زیار وایست چې د وخت له غوښتنو سره سم دغې برخې ته پراختیا او هغه په مدرنو وسایلو سمبال کړي. د دغه زیار پایله (نتیجه) وه، چې د ۱۳۵۸ل کال تر پای پورې په هېواد کې ۱۸۶۰۰ کیلو متره سړك جوړ شي. چې له هغې جملې څخه



ACKU

۲۷۳۰ کیلو متره کږل او یا کانکریټي، کابو ۵۰۰۰ کیلومتره خامه سړك، چې په ټول کال کې ځنې ګټه اخیستل کېدای شوه او ۱۱۰۰۰ کیلومتره موټرو لارې چې د کال په ځینو وختونو کې ور څخه ګټه اخیستل کېدای شوه. (وګورئ. د افغانستان احصائیوي معلومات. ۱۳۵۴-۱۳۵۷، ۱۳۵۷ کابل.)

همدارنګه حکومت د خلکو د هوسایۍ او د موادو د ترانسپورټ لپاره هم بسونه او لارۍ، هېواد ته را وارد او هغه یې په کار واچول. څګه چې احصائیوي ارقام ښکاره کوي. د موټرو لګه لاریو، بسونو او ګرندیو موټرو او همدارنګه ریکشا او موټرسایکلونو په شمېر کې هم زیاتوالی راغی او د هغوی مجموعي ظرفیت لوړ شو.

څرنګه چې افغانستان یو غرنی هېواد دی او د خاص جغرافیایي موقعیت خاوند دی، نو د هوایي ترانسپورټ رامنځته کېدل او د هغه وده د دغه هېواد لپاره هم زیاته ورتیا (اهمیت) لري. له همدې کبله حکومت په ټولنیزو - اقتصادي پلانونو کې دغې برخې ته هم خاصله پاملرنه وکړه او په خپلو پلانونو کې یې له یوې خوا د ځینو ملي او نړیوالو هوایي ډګرونو جوړول په پام کې ونیول او له بلې خوا یې له بهر سره د دې برخې د ودې لپاره ځینې تړونونه لاسلیك کړل، چې د وخت له غوښتنو سره سم فني کار کوونکي وروزي او مدرنه تجهیزات برابر کړای شي. د دغه زیار پایله وه چې د پیلوټانو او کوپیلوټانو شمېر ۶۴ تنو ته ورسېد او د انجینرانو او تکنیشنانو شمېر ۲۱۸ تنو ته پورته شو. (وګورئ سالنامه احصائیوي. ۱۴۶۷، ۱۳۶۸، ۱۶۱ مخ.)

همدارنګه د الوتکو په وسیله د لېږدول شویو مسافرینو شمېر چې پر ۱۳۳۷ لمریز هجري کال ۲۲۰۰۰ تنه و، دغه شمېر پر ۱۳۶۷ل هـ کال ۹۸.۸ زرو تنو ته ورسېد. (وګورئ. سالنامه احصائیوي ۱۳۶۷، ۱۳۶۸، ۱۶۱ مخ.)

د پورتنیو کلونو په موده کې د برېښنا په تولیداتو کې کابو ۱۸ برابره زیاتوالی، د ډبرو د سکارو په تولیداتو کې ۱۱ برابره زیاتوالی، د سمنټو په تولیداتو کې ۳.۵ برابره زیاتوالی او د بورې په تولیداتو کې کابو ۲۲۵.۳ فیصده زیاتوالی راغلی. همدارنګه له دویم جدول څخه په ښکاره څرګندېږي چې د وړینو او نخي ټوکرانو په تولید کې هم ډېر زیاتوالی راغلی. (وګورئ. دویم جدول). باید وویل شي د طبیعي ګازو تولید پر

۷۰-۱۹۷۱ میلادي کال کې پیل شو، چې پر همدې کال یې د تولیداتو ونډه ۲۵۸۳ ملیون متر مکعبو ته ورسېده. (وګورئ. Grotzbach, Erwin, 1990, S. 388)، خو په وروستیو کلونو کې د ګازو د تولیداتو په ونډه کې پنځه فیصده کموالی راغی او ونډه یې پر ۷۹-۱۹۷۸ میلادي کال ۲۴۶۱ ملیون متر مکعبو ته ورسېده. (وګورئ دویم جدول). پر ۱۹۷۴ کال د مزارشریف د کیمیاوي سرې تصدي په خپل تولید پیل وکړ، چې د تولیداتو ونډه یې پر ۷۶-۱۹۷۵ملادي کال ۶۶۰۰۰ ټنه و، دې فابریکې وکولای شول، چې په خپلو تولیداتو کې زیاتوالی او د تولید ونډه یې پر ۷۹-۱۹۷۸ کال ۱۰۵ زرو ټنو ته ورسېده. (وګورئ دویم جدول).

د مخابراتو په چارو کې هم د پلانونو په پلي کولو سره پراختیا رامنځته شوه. د تلیفون نوي لینونه جوړ او د تلګراف د دستګاوو کار سرته ورسېد. د بېلګې په توګه د تلیفون شمېر چې پر ۱۳۳۶ ل هجري کال ۴۰۲۸ پایې و، د هغوی شمېر پر ۱۳۵۷ ل هـ کال ۲۲۱۵۴۶ پایو ته ورسېد. همدارنګه د پسته خانو شمېر هم په نسبي ډول پراختیا موندلې او د هغوی شمېر چې پر ۱۳۳۶ل. هـ کال ۳۴۳ بابه و، پر ۱۳۵۷ ل هـ کال ۳۴۹ بابو ته ورسېد. (وګورئ. جمهوری دموکراتیک افغانستان، در آیینه ارقام، ۱۳۵۷، ۱۳۵۹، ۱۳۶۰، ۲۷ مخ.)

د پلانونو په پلي کولو سره د ښوونې او روزنې په برخه کې هم سترې بریاوې تر لاسه شوې دي. د ښوونځیو په برخه کې کابو ۴۷۸ زیاتوالی او د زده کوونکیو شمېر په کمي لحاظ اته برابره زیات شوی دی. همدارنګه د ښوونکیو او د فارغانو په شمېر کې هم زیاتوالی لیدل کېږي. په همدغه موده کې د مسلکي او عالي تحصیلاتو په برخه کې هم په پراخه توګه پرمختیا تر لاسه شوې ده. (وګورئ: درېیم جدول).

که سړی د هېواد روغتیایي چارې په همدغه موده کې تر څېړنې لاندې ونیسي، په ښکاره ورته څرګندېږي، چې د دې برخې په چارو کې هم حکومت مثبت ګامونه پورته کړي او زیار یې ایستلی دی، چې د وګړیو روغتیا ته خاصه پاملرنه وشي. د دغې هڅې پایله وه، چې په هېواد کې د ډاکټرانو په روغتون کې د بسترو درملتونونو او د اکسیریز د دستګاوو په شمېر کې په ترتیب سره اووه، درې، دیارلس او شپږ برابره زیاتوالی راشي. (وګورئ څلورم جدول).

د دولت سیاست د کرنې د سکتور په برخه کې دا و چې افغانستان د کرنې د خوراکي موادو له لحاظه په خپل ځان متکي کړي او هم ځینې کرنیز مواد د بهرنیو اسعارو د لاسته راوړلو په خاطر تولید او بهر ته یې صادر کړي. د دغې ورتیا له امله چې د کرنې سکتور یې لري، نو دولت وپتېیله چې د پلانونو په پلي کولو سره به لومړیتوب حق د دې سکتور پرمختیا ته ورکوي. له همدې کبله دولت په خپلو پلانونو کې ځینې نوښتونه، لکه د کرنیزې ځمکې پراختیا، د نوې ځمکې د خړوبولو (آبیاری) له لارې او د کرنې د حاصلاتو زیاتوالي، د نوي تخنیك د پلي کولو، د کیمیاوي سرې د استعمال او کرنې د حصالاتو ساتنه او د ناروغیو او حشراتو په مقابل کې تر لاس لاندې ونیول. سره له دې هم دولت و نه شو کړای خپله موخه تر لاسه کړي او مجبور و، چې یوه اندازه خوراکي مواد لکه غنم اوړه، وریجې، غوړي او داسې نور له بهر څخه هېواد ته راوارد کړي.

په عمومي توګه باید یادونه وشي، چې په دې دوره کې یو زیات شمېر کوچنۍ او لویې صنعتي فابریکې او تصدي د هېواد په بېلا بېلو برخو کې د دولت او خصوصي اقتصاد له خوا جوړې او په کار واچول شوې، چې د دغو موسساتو شمېر پر ۱۳۵۷ ل هـ کال ۲۴۳ تصدیو ته رسېده، چې له هغې جملې څخه ۸۹ تصدۍ یې دولتي او مختلطې او پاتې خصوصي تصدۍ وې. *(وګورئ، سالنامه، احصائیوي، ۱۳۶۷، ۱۳۶۸، ۱۱۵ مخ).*

خو د ۱۳۵۷ ل هـ کال د ثور د میاشتې سیاسي بدلون د هېواد ددغه اقتصادي پرمختیا ته د پای ټکی کېښود او هېواد له لویې غمیزې سره مخامخ شو، چې دغه غمیزه د شوروي د پرغل په راتګ سره لانوره هم ژوره او هر اړخیزه شوه او په هېواد کې جګړو پراختیا او شدت پیدا کړ، چې پای یې د هېواد د مادي او معنوي زېربنا ورانې او ویجاړتیا وه او لا ده. نو لازمه ګڼل کېږي چې د دغې ورانې د بیا رغونې لپاره سوچ وشي او د هغه د بیا ودانولو په اړوند د یوې ستراتیژۍ وړاندیز وشي.

## د بیا رغونې او اقتصادي پرمختیا لپاره د ستراتیژي وړاندیز:

*سوله لومړۍ موخه:*

د روانې پېړۍ دا دوه وروستۍ لسیزې زموږ د هېواد لپاره د هغه د جیوستراتیژیك موقعیت پر اساس، ډېرې خونړۍ درنې، دردوونکې او له

ورانۍ او بربادۍ څخه ډکې لسیزې وې او له بده مرغه لا دي. په دغې غمیزې کې افغاني ټولنه او د هغې ټولنیز - اقتصادي بنسټ په اساسي توګه ویجاړ شوی، چې دا ورانې نه یوازې فزیکي منابعو یانې مادي زېربنا (Material Infrastructur) ته، بلکې د افغاني ټولنې معنوي زېربنا (Social Infrastructure) ته یې هم ډېر زیات تاوان رسولی دی. د مادي یا فزیکي پانګې د له منځه تلو اټکل به چې د دې ورانې لویې غمیزې له امله افغاني ټولنې ته رسېدلی. یو څه ساده کار وي او د هغې بیا رغونه د یوه لنډ موديزه پلان په تر سره کولو سره څه ناڅه تر سره کېدای شي، خو د هغې د معنوي پانګې له بربادۍ اټکل به ناشونی وي. ځکه چې د معنوي پانګې د منځه تللو اټکل یا افاده کول په پولي شکل ګران کار برېښي او د هغه جبرانول زیات مالي لګښت او هم یو اوږد موديزه پلان غواړي چې یو دولت وکولای شي، یو نوی ماهر، مسلکي او لاربود نسل وروزلی شي.

دې کار ته یعنې د مادي او معنوي زېربنا له منځه تللو، د هېواد د اقتصادي او ټولنیزو چارو بیارغونه او پرمختیا له جدي ستونزو سره مخامخ کړې وه. له همدې کبله اړین او حتمي ګڼل کېږي، چې د راتلونکیو اقتصادي - ټولنیزو چارو د بیارغونې په هکله او د هغوی د پرمختیایي امکاناتو په اړوند سوچ وشي او د هغوی لپاره د یوه اقتصادي - ټولنیز سیستم په چوکاټ کې یوه ستراتیژي طرحه شي. دا ستراتیژي باید د ټولنې بېلابېلې خواوې لکه سیاسي، کلتوري، روزنیزې او اقتصادي برخې په پام کې ونیسي، چې په هغه کې اقتصادي برخه باید ستر او اساسي رول ولوبوي.

خو څنګه چې مخکې وویل شول، په هېواد کې جګړه لا دوام لري، په دې غمیزه کې نه یوازې افغان د افغان په لاس، بلکې حتی د کورنۍ غړي یو د بل په لاس وژل کېږي او له منځه ځي، نو په داسې حالت کې د افغان ټولنې لاره د یو اقتصادي پلان او یا یوې اقتصادي ستراتیژۍ طرحه چې په هغه کې د هېواد بیارغونه او پرمختیا طرحه وي، باید د لومړیتوب حق و نه لري، بلکې په لومړي پړاو کې حق باید د سولې ستراتیژۍ ته ورکړل شي، چې د داسې ستراتیژۍ په طرحې سره کورنۍ جګړه او ورور وژنه پای ته ورسېږي. خو په لنډه توګه سړی ویلی شي چې هېواد په اوسني حالت کې له دوو ډېرو لویو غمیزو سره لکه:

- د خونړيو جګړو دوام
- د مرکزي دولتي قدرت او اداري نشتوالی سره مخامخ دي. چې دويم حالت يې له ۱۹۹۲ را په دې خوا په هېواد کې په ډېره ښه توګه ليدل کېږي، ځکه چې له يوې خوا زموږ په هېواد کې سيمه ييز ځواکونه د خپلو سياسي، اقتصادي او کلتوري موخو د تر لاسه کولو لپاره په سيالی کې سره اخته دي او له بلې خوا د کورنيو سياسي سياليو تر منځ، چې د سيمه ييزو او نړيوالو ځواکونو له خوا تمويل او هڅول کېږي. يا قدرت کې د پاتې کېدو او يا هم قدرت ته د رسېدلو په خاطر خونړی سيالی پيل، نوي ائتلافونه جوړ او په دې اساس يې يو په بل پسې خطرناکې لوبې رامنځته کړې، چې په پايله کې په هېواد کې سيمه ييز قدرتونه او واکمن رامنځته شوي، نو له همدې کبله د هېواد اوسني حالت لپاره د دغو دوو اساسي امکاناتو رامنځته کېدل حتمي او اړين (ضروري) ګڼل کېږي.

لومړی: په هېواد کې د يوې دوامدارې سولې رامنځته کېدل، چې په هغې کې به څه ناڅه ثبات او امنيت تضمين کړل شي.

دويم: د دې امنيت او سولې په رڼا کې به افغانان وکولای شي، د يوه مرکزي قوي دولت جوړښت لپاره چې د دوی کورنی مسئله ده، خبرې اترې پيل او په خپله خوښه به د ملي عنعناتو پر بنسټ او له نړيوالو معيارونو سره سم خپل دولت رامنځته کړي، چې له دې دولت سره به ملي ملاتړ وي او نړيواله پېژندګلوي به تر لاسه او د دې قابليت به ورسره وي، چې کورنی او بهرنی مادي او مالي وسايل د هېواد د بيارغونې او پرمختيا د تمويل لپاره تر لاسه او هغه به په سمه او معقوله توګه په کار واچوي.

يوازې او يوازې د سولې او امنيت په چوکاټ کې چې يوه اساسي فريضه ګڼل کېږي او يو قوي مرکزي دولت به د اقتصادي سياست د طراح او پلي کوونکي په توګه وکولای شي، د بيارغونې او پرمختيايي بهير دنده د يوې اقتصادي ستراتيژی په مرسته د يوه اقتصادي منظم پلان په چوکاټ کې چې د هېواد په اوسنيو شرايطو کې ډېر اړين برېښي، په ښه توګه تر سره کړي دا چې دغه اقتصادي پلان د کوم اقتصادي نظام له موډل سره سم طرح شي. د افغانستان لپاره د يوه اسلامي هېواد په توګه نه

یوازې په تاریخي لحاظ بلکې د اوسني ملي او نړیوال حالت په نظر کې نیولو سره هم، ډېر د اهمیت وړ دي. البته په دې برخه کې د څلورو اقتصادي موډلو یا الترناتیفو څخه خبرې کېدای شي، چې هغه دا دي:

- لیبرال، سیکولار... الترناتیف.
- سوسیالیستي او سوسیال رفورمیستي الترناتیف.
- د ګډ (خصوصي او دولتي) یا مختلف اقتصادي نظام الترناتیف.
- اسلامي او اسلامیستي الترناتیف (وګورئ، *Ghaussy, A. (Ghanie, 1990, S 259-262)*

ډېره هوښیاره خبره به وي، که راتلونکې افغاني دولت خپله اقتصادي کړنلار د داسې یو اقتصادي موډل یا الترناتیف په چوکاټ کې طرحه کړي، چې د هغې په رڼا کې وکولای شي له یوې خوا کورنۍ اقتصادي سیاسي قواوې د هېواد د بیارغونې او پرمختیا لپاره سره راغونډې او په کار واچوي او له بلې خوا د خپل دغه اقتصادي سیاست د پلي کولو لپاره په پراخه اندازه نړیوالې په تېره بیا د سترو اقتصادي هېوادو او مالي موسساتو، مالي او مادي مرستې او ملاتړ تر لاسه کړي.

د هېواد په اوسنیو شرایطو کې به د دولت لپاره د ګډ یا مختلط اقتصادي نظام انتخاب ډېره ښه خبره وي، ځکه چې د دې اقتصادي سیاست په رڼا کې چې د ازاد بازار او دولتي پلان یو جوړښت یا ترېښت (ترکیب) دی، کولای شي دولت او خصوصي سکتور په ګډه سره د هېواد اوسنۍ اقتصادي ستونزې حل او د وګړیو د سوکالۍ لپاره کار وکړي. دا چې د دولت مداخله یا د ازاد بازار ونډه د ملي اقتصاد په لارښوونه کې څومره وي، لازمه ګڼل کېږي. چې په دې برخه کې دولت یو اقتصاد پوه کمېسیون ته واك ورکړي. چې هغه د ملي او نړیوالو شرایطو په نظر کې نیولو سره خپلې اقتصادي څېړنې تر سره کړي او دولت ته وړاندیزونه او مشورې ورکړي، چې دولت له ملي او نړیوالو شرایطو سره خپله اقتصادي پالیسي وټاکي او یا په خپل روان اقتصادي سیاست کې بدلون راولي.

## د بیارغونې او اقتصادي پرمختیا د پلان اساسي موخې:

باید په ټینګار سره وویل شي، چې د افغانستان بیا رغونه او پرمختیایي بهیر دوه جلا پړاوونه نه بلکې دوه داسې بهیرونه دي، چې یو

له بل سره موازي او بشپړوونکي دي. د بيارغونې لومړي پړاو له يوې خوا بايد د کډوالو د بېرته راتګ او په کليو بانډو او ښارو کې د هغوی ځای پر ځای کولو ته او له بلې خوا د مادي او تولنيزې زېرښا او توليدي موسساتو د بيا رغونې او ودانولو چارو ته ځير وي. دويم پړاو بايد اساساً د اقتصادي سکتورو د موجوده ظرفيتونو د پرمختيا لپاره ځانګړي شي. چې د ملي اقتصادي توليداتو د ډېرښت لپاره عملي ګامونه واخيستل شي دې موخې ته د رسېدلو لپاره اړين برېښي، چې دولت د يو ښه لاربښود په توګه د کار کوونکيو کار ورکوونکيو (کارفرما)، علمي او مالي موسساتو تر منځ د قوانينو په چوکاټ کې د ښې همکارۍ زمينه برابره کړي.

همدارنګه لازمه ګڼل کېږي چې راتلونکی دولت د خپلې اقتصادي پاليسۍ په چوکاټ کې چې د يوه اوږده مودې پلان په لړ کې يې تر سره کوي، دغو دندو ته د لومړيتوب حق ورکړي

۱- لکه څنګه چې مخکې وويل شول، د يوه دادمن او باثباته امنيت رامنځته کېدل، چې د هغه په ترڅ کې د هېواد وګړي په ډاډه زړه خپلې دندې او چارې په ښه توګه تر سره کړای شي.

۲- د بيارغونې او اقتصادي ودې او پرمختيا د بهير د پلي کولو لپاره د ماينونو ټولول او د هغوی له منځه وړل يوه اساسي دنده ګڼل کېږي. په دې توګه به وکولای شي له يوې خوا کډوال له ګاونډيو او د نړۍ له نورو هېوادونو څخه خپلو استوګنځيو ته په ارامه توګه راستانه شي او له بلې خوا به بزګران وکولای شي له څه وېرې پرته پر خپله ځمکه کار وکړي. "کنه د کډوالو په راستنېدو سره به هېواد د خوراکي موادو له قحطۍ او له کموالي سره مخامخ شي." (Noor, A. Sami, 1990, S. 285)

۳- د هېواد د بيارغونې او دهغه پرمختيايي پروسه د تخنيکي او مالي مرستو د تر لاسه کولو لپاره د نړيوالو سازمانونو او هغو هېوادونو سره چې د افغانستان په دې غميزه کې په نېغه (مستقيمه) او نانېغه (غيرمستقيمه) راښکېل وو. د خبرو اترو پيل څکه چې د افغانستان دولت او د هغه ولس په يوازې توګه نه شي کولای د هېواد بيارغونه او د هغه پرمختيا په خپله له مالي او مادي پلوه تمويل کړي.

۴- د ورانو صنعتي فابريکو او تصديو، د کرنې او اوبو لګولو د تاسيساتو، د روغتيايي او روزنيزو موسسو او د سړکونو او پلونو د زيان په اړوند هر اړخيزې څېړنې او د دغو څېړنو پر بنسټ د بيارغونې او ودې لپاره د يوه پروګرام طرحه. په دې پروګرام کې بايد د لومړيتوب حق هغو سيمو او پروژو ته ورکړل شي، چې په دې جګړه کې نسبت نورو ته ډېرې زيانمنې او ويجاړې شوې دي او د هېواد د اقتصادي پرمختيا لپاره مهمې ګڼل کېږي.

۵- د داسې يوه قانون تصويب او نافذول، چې جګړو ځپلو ته ټولنيزې مرستې او يا تقاعد برابر او له کوم ايډيالوژيکي او مذهبي توپير پرته هغه تضمين کړي.

۶- د داسې تدابيرو او اقداماتو رامنځته کول، چې د هغه پر اساس د بېلا بېلو څانګو مسلکي او فني کدوال افغانانو وهڅول شي، چې له امريکا، اروپا، ګاونډيو او د نړۍ له نورو هېوادو څخه هېواد ته ستانه شي او د هېواد په بيارغونه او وده کې خپله ونډه تر سره کړي، ځکه چې د افغانستان بيا ودانول او د هغه پرمختيا يوازې د افغانانو دنده او مسووليت بلل کېږي.

۷- د ټولنيزو چارو د عرضې زياتوالي په تېره بيا په کليو او بانډو کې د روغتيايي او ترنرۍ چارو پراختيا د انساني او څارويو د ناروغيو د محدودولو او له منځه وړلو لپاره او همدارنګه په دې سيمو کې د صحي اوبو برابرول او د هغوی عرضې ته خاصه پاملرنه کول (وګورئ ,Bahand) *(Sharif, 1997, S. 76-77*

که افغاني دولت د پورتنيو دندو پلي کول په واقعي توګه غواړي، نو ښه به وي چې سيمه ييزو واکمنو ته په اقتصادي برخو کې زيات واک ورکړي، ځکه چې دغه واکمن د خپلې سيمې ټولنيزې - اقتصادي ستونزې او د هغوی د حل لپاره سيمه ييز مالي او مادي امکانات او وسايل نسبت مرکز ته په ښه توګه وپېژني او د ستونزو د حل لپاره به په چټکه توګه تصميم ونيولی شي او په دې توګه به ولس او د هغه ټاکل شويو استازو ته د ټولنيزو اقتصادي تصاميمو په نيولو کې زياته ونډه ورکړل شي. سربېره پر دې اړين بريښي چې دولت د بيارغونې په پروګرام کې د پورتنيو عمومي دندو په چوکاټ کې، لاندېنۍ دندې په سکتوري لحاظ په پام کې ونيسي.

## کرنه او مالداري:

څنګه چې د کرنې سکتور د افغانستان د ملي اقتصاد اساسي بنسټ جوړوي، له همدې کبله د دې سکتور د مولدیت د سطحې لوړتیا او د هغه په اړوند تولیداتو ته چې د جګړو له امله ستر زیان ورته رسېدلی، خاصه پاملرنه په کار ده، څکه چې هېواد ته د کډوالو د راستنېدو په ترخ کې د خوراکي توکیو غوښتنه زیاتېږي. له همدې کبله باید په لومړي ګام کې د خوراکي توکیو تولیداتو ته د لومړیتوب حق ورکړل شي او دا په هغه صورت کې کېدای شي چې بزګرانو ته ځینې امکانات لکه کیمیاوي سره، د نوې کرنیزې تکنالوژۍ برابرول، اصلاح شوي تخمونه، د اوبو لګولو د چارو اسانتیاوې، د کرنیزو ناروغیو پر ضد د داروګانو برابرول او بزګرانو ته د کرنیزو پورونو اسانتیاوې برابرې شي. د دې کار د سرته رسولو لپاره اړین ګڼل کېږي چې د کیمیاوي سرې د شرکت د کرنې د خدماتي چارو د تصدۍ او د اصلاح شویو تخمونو د شرکت په جوړښت کې بدلون او ښه والی راشي. سربېره پر دې باید د کرنې د پراختیا بانک پانګه زیاتې ومومي او دې بانک ته زیات واك ورکړل شي، چې هغه وکولای شي، بزګرانو ته په ښو او ساده شرایطو پور برابر او ورکړي. همدارنګه د اوسنیو اوبو لګولو د سیستم او تاسیساتو لکه کاریزونو، ویالو او بندونو د بیا ودانولو لپاره په هر اړخیزه توګه هڅه وشي، چې د اوبو لګولو له شبکې څخه په ښه توګه ګټه واخیستل شي او د اوسنۍ کرنیزې ځمکې په شتوالي سره تولیدات زیاتوالی ومومي.

د جګړې په بهیر کې نه یوازې خوراکي تولیداتو ته، بلکې صنعتي، تجارتي تولیداتو لکه مالوچو، چغندرو او ګنیو ته هم ډېر زیان رسېدلی دی. د کرنې د سکتور په راتلونکي پلان کې د کرنې د سکتور دې برخې ته هم هر اړخیزه پاملرنه په کار ده، چې د دې برخې په رغونې سره د هېواد صنعتي فابریکو په تېره بیا د نساجي او قند جوړولو فابریکو ته اومه مواد برابر او د مالوچو صادرات بېرته پیل شي. په لنډه توګه باید وویل شي، چې د کرنې په سکتور کې باید:

د مخ په ودې وګړیو د خوراکي موادو برابرولو،

د پرمختیایي صنایعو لپاره د اومو موادو چمتو کولو،

او د بهرنیو اسعارو د لاسته راوړلو لپاره د دغه سکتور د صادراتي موادو پراختیا ته خاصه پاملرنه وشي. مالداري د کرنې د سکتور یوه بله برخه ده، چې د جګړې له امله ډېره زیانمنه شوې ده. د جګړې په ترځ کې څاروي یا وژل شوي او یا ګاونډیو هېوادو ته لېږدول شي دي. چې په دې توګه د دغې برخې په تولیداتو کې لکه غوښې، لبنیاتو، وړیو او پوستکیو په تېره بیا د قره قل د پوستکیو په تولیداتو کې ستر کمښت رامنځته شوی دی. نو باید راتلونکی پلان د دې برخې د بیارغونې لپاره خاص تدابیر او اقدامات، لکه د څارویو، څړځایونو اوبه خور جوړولو، د څارویو د خوړلو د موادو برابرولو او د وترنرۍ د چارو پراختیا او د هغوی زیاتولو ته په تېره بیا په کلیو او باندو کې تر لاس لاندې ونیسي، چې له یوې خوا د کورنۍ مارکیټ تقاضا اقناع او له بلې خوا د دې برخې د تولیداتو په صادراتو کې زیاتوالی راشي.

### د صنایعو د سکتور په برخه کې

د صنعتي سکتور د پلان په لومړي پړاو کې باید د لومړیتوب حق د دې سکتور د زیانمن شویو دولتي او خصوصي تصدیو، فابریکو او موسساتو د بیارغونې او د هغوی د تولیدي ظرفیت بېرته احیا کولو ته ورکړل شي او زیاتره پاملرنه باید د داسې تصدیو د تولیداتو پراختیا ته واړول شي، چې مصرفي مواد تولیدوي او دوی د خپلو تولیداتو لپاره نه یوازې د کرنې د سکتور له اومه موادو، بلکې هم د لاسي صنایعو محصولات او د کرنیزو کوچنیو صنایعو له موادو څخه کار اخلي.

د داسې یوې ستراتیژۍ په رڼا کې لازمه ګڼل کېږي چې د سیلوګانو، د جن او پرس د تصدیو د نباتي غوړیو د فابریکو، د نساجیو د فابریکو، د مېوې د پروسس او د سمنټو او د قند جوړولو فابریکو بیا ودانولو او رغونې ته رجحان ورکړل شي.

د معادنو په برخه کې باید طبیعي ګاز، مالګې او د ډبرو د سکرو را ایستلو ته ډېره پاملرنه وشي. د دې برخې د بیارغونې لپاره د نړیوالو موسساتو او صنعتي هېوادونو مرستو ته زیاته اړتیا لیدل کېږي. چې حکومت وکولای شي د دې مرستې په تر لاسه کولو او په کار اچولو سره د

دې برخې د تولیداتو ونډه د هغه پخواني حالت ته ورسوي او د نویو معدنونو په کشف او د هغه په را ایستلو کې ګټه ځینې واخلي.

د دې سکتور د پلان په دویم پړاو کې چې پرمختیایي برخه یې ده باید زیاتره پاملرنه د اوسنیو صنعتي تصدیو او فابریکو د ظرفیتونو پراختیا ته او همدارنګه د نویو ظرفیتونو د رامنځته کېدو ته واړوله شي، چې هغه هم کورني اومه مواد د خپلو تولیداتو لپاره مصرف کړي.

د سپکو صنایعو په برخه کې باید د دولت ډېره پاملرنه دې ته وي چې خصوصي سکتور د قوانینو پر اساس دې ته وهڅوي چې په دې برخه کې زیاتره پانګه واچوي او دولت د صنعتي پراختیا بانك له لارې دوی ته د اوږده مودیز پور اخیستلو اسانتیاوې برابرې او ځینې نور ګمرکي امتیازات ورکړي، چې خصوصي متشببثین د هېواد صنعتي کولو ته وهڅول شي.

د درنو صنایعو په برخه کې چې د زیاتې پانګې او بشري ځواك غوښتونکې ده او خصوصي سکتور د هېواد په اوسنیو شرایطو کې د دې توان نه لري، باید په خپله دولت د لارښود او پانګه اچوونکي په توګه هڅه وکړي، چې د هېواد ځمکنۍ زېرمې لکه اوسپنه، مس، ګاز. اومه نفت او داسې نور... استخراج او د هېواد د پرمختیا لپاره ګټه ځینې واخلي.

د برېښنا په برخه کې اړین برېښي، چې تر ټولو لومړی د برېښنا د سکتور اوسني ظرفیتونه بېرته ودان او په کار واچول شي او د دې تر څنګ د برېښنا مزي ترمیم شي، چې له یوې خوا د وګړیو او له بلې خوا د صنعت کرنې او ترانسپورټ د سکتورونو مخ په زیاتېدونکي اړتیاوې د برېښنا له پلوه اقناع شي او همدارنګه د راتلونکي لپاره باید د نوي حرارتي او د اوبو د برېښنا د امکاناتو څېړنه وشي، چې د هېواد اقتصادي پرمختګ د برېښنا د کموالي له کبله له ستونزو سره مخامخ نه شي.

## د ټولنيزې او مادي زېربنا په برخه کې:

که سړی د هېواد د جغرافيايي مساحت او په هېواد کې جوړ شوي سړکونه سره اړوند وڅېړي، دا پایله به تر لاسه کړي، چې د سړکونو اوږدوالی نسبت د هېواد مساحت ته ډېر کم دی، خو د دې شل کلنې غمیزې په ترڅ کې دغه لږ سړکونه هم یا د جګړې له امله وران ویجاړ او یا

هم د ښارني او ساتنې د نښتوالي له کبله له ګټې اخيستلو څخه لوېدلي دي، نو د بيارغونې په لومړيو پړاوونو کې اړين برېښي چې لومړی هغو کانګريټي او پخو شويو سړکونو ته چې لږ اغېزمن شوي او هغه د هېواد د کورني او نړيوال ترانسپورتي سيستم اساسي کړۍ جوړوي. خاصه پاملرنه واړول شي. په دويمه درجه کې بايد زياتره پاملرنه داسې سړکونو او پلونو ته وشي، چې د هېواد د بيارغونې او ودانولو لپاره د موادو او پرسونل په چټک رسولو کې اړين ګڼل کېږي، چې د هېواد بيارغونې په کار کې ځنډ او ځنډ را نه شي. همدارنګه د کليو او بانډو تر منځ سړکونو ته هم خاصه پاملرنه په کار ده، چې له يوې خوا د کليوالي سيمو تر منځ د خلکو په تګ راتګ کې اسانتياوې رامنځته کړل شي او له بلې خوا د هېواد کليوالي سيمې چې د هېواد غټه برخه جوړوي د ملي اقتصاد کړو وړو په بهير کې راشي.

د مخابراتي سکتور په برخه کې بايد لومړی د وران او زيانمن شويو مخابراتي چينلونو، د تليفون دستګاوو او تليفوني مزيو او پسته خانو په بيا رغونې کې هڅه پيل شي، که څه هم د تليفوني چارو په برخه کې يوې امريکايي کمپنۍ د بيارغونې کار له پخوا څخه پيل کړی دی، خو د راتلونکي دولت لپاره اړين برېښي چې د وخت له اړتياوو سره سم د تليفوني مرکزونو او عصري پسته خانو د پراختيا لپاره په ملي سطحه په تېره بيا د کليو او بانډو لپاره نوې څېړنې تر سره او د پراختيايي پلانونو وړانديز وشي او د دغو پلانونو د عملي کولو لپاره مادي او مالي امکانات برابر کړي.

د ښوونې او روزنې ښاخګي هم د رواني غميزې له کبله ډېر زيان ليدلی. د رواني جګړې په ترڅ کې څه د پاسه ۲۸۰۰ يا ۲/۳ لومړني منځني، حرفوي او عالي لېسې او همدارنګه د لوړو زده کړو موسسې د هېواد په ګوټ ګوټ کې يا له منځه تللي او يا دا چې زيانمنې شوې دي. د دې زيان تر څنګ ښوونکي استادان، تخنيکي ماهريان او فني کار کوونکي هم يا له بده مرغه وژل شوي او يا دا چې د جګړو او سياسي ستونزو له کبله يا له هېواد څخه کډې ته اړ شوي او يا زندان کې اچول شوي دي، نو د بياودانولو په پروسه کې اړين ګڼل کېږي چې د دغو ويجاړو شويو ښوونځيو او د لوړو زده کړو د موسساتو بيارغونې ته د

لومړیتوب حق ورکړل شي او د دې تر څنګ باید د ښوونې د نصاب لپاره د دې څانګې د کورنیو ماهرینو له خوا یو هر اړخیزه پروګرام طرحه شي. د دې پروګرام طرحه باید داسې وي، چې سیمه ییزه کلتور او دودونه په پام کې ونیسي او د دې پروګرام د ښه پلي کولو په خاطر د سیمې له مخورو سره په دې اړوند خبرې اترې وشي او هغوی د پروګرام له محتویاتو باخبره کړل شي. په دویم ګام کې د زده کوونکیو د مهارت لوړتیا ته خاصه پاملرنه په کار ده. د دې ګام د پلي کولو لپاره اړین ګڼل کېږي چې د ښوونکیو د ښې روزنې لپاره عملي ګامونه واخیستل شي او د وخت له غوښتنو سره سم درسي مواد، کتابونه او مجهز لابراتوارونه د ښوونکیو او زده کوونکیو لپاره برابر شي.

د اوږدې مودې په پلان کې باید خاصه پاملرنه تخنیکي – حرفوي او عالي زده کړو ته واړول شي، چې د ملي اقتصاد د څانګو مودلیت او موثریت لوړ وساتل شي او د ملي اقتصاد څانګې له فني کادري ستونزو سره مخامخ نه شي.

که سړی د هېواد روغتیایي چارې هم تر څېړنې لاندې ونیسي، په ښکاره لیدل کېږي چې د دې روانې غمیزې له امله دا برخه هم ډېره زیانمنه او ویجاړه شوې، که څه هم د هېواد روغتیایي چارې د هېواد د وګړیو په اړوند چندان پرمختګ نه و کړی. له همدې کبله اړین برېښي، چې د بیا روغونې په برخه کې د لومړیتوب حق زیاتره په کلیو او بانډو کې د اساسي او فرعي روغتیایي چارو د مرکزونو رامنځته کېدو پراختیا او ښه والي ته ځیر شي، چې د بېلا بېلو ناروغیو پر ضد مبارزه وشي، د هغوی د کموالي سبب شي او د دغو ناروغیو مخنیوی وکړل شي. سربېره پر دې د ځینو کلتوري ناروغیو د کنټرول لپاره باید د واکسینانسیو پروګرامونه او ځنې نور وقایوي اقدامات تر لاس لاندې ونیول شي. د میندو او ماشومانو د ساتنې پروګرامونه طرحه او د هغوی پلي کول باید په ښه توګه تر سره شي.

د پورتنیو پروګرامونو د ښه پلي کولو لپاره باید دولت په کافي اندازه دواګانې برابرې او همدارنګه داسې اقدامات وکړي چې د دې څانګې اداري او فني برخه پیاوړې او د ډاکټرانو او فني پرسونل شمېر په تېره بیا په کلیو او بانډو کې زیاتی ومومي. د داسې پروګرامونو د لا ښه پلي کولو

لپاره ضروري ګڼل کېږي چې دولت د نړیوالو سازمانونو لکه یونیسف، WHO او داسې نورو نړیوالو موسساتو پام افغانستان ته راواړوي.

## تمویلي ستونزې:

د پورتني پلان او پروګرام د ښه او پر وخت پلي کولو لپاره راتلونکی دولت مادي او مالي وسایلو ته اړتیا لري. د دغو تمویلي وسایلو د لاسته راوړلو لپاره له دوه ډوله امکاناتو څخه خبرېکېدای شي، چې هغه کورني او بهرني امکانات دي.

کورني تمویلي امکانات لکه مالیه، د دولتي تصدیو عایدات او یا نور اقتصادي عایدات دي، خو څرنګه چې په پورتنیو کرښو کې روښانه شوه، په هېواد کې د جګړو له امله د ملي اقتصاد بېلا بېلو څانګو ته دومره زیان رسېدلی چې دولت ته به ګران کار وي، چې د بیارغونې او پرمختیا لپاره له دې عایداتي منابعو څخه کوم عاید تر لاسه کړای شي. که د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې دغسې امکانات موجود هم وي، دا به په دې معنی وي، چې دولت د دغسې مالیې په اخیستلو سره له یوې خوا د وګړیو د اخیستلو قوا (قوه خرید) کموي او له بلې خوا د تولیدي او مصرفي وسایلو په رامنځته کېدو کې په خپله د دې خنډ ګرځي، نو د بیارغونې او پرمختیا کورنۍ تمویلي سرچینه به یا د دولتي بودجې پوتنسیال او یا هم صادراتي پوتنسیال وي، خو څنګه چې برېښي په دې وروستیو کالونو کې د هېواد په صادراتو کې هم د روانې غمیزې له کبله ډېر زیات کمښت راغلی دی. څنګه چې له احصائیوي ارقامو څخه څرګندېږي. د هېواد د صادراتو مجموعي اندازه په ۱۳۵۷ کال ۳۲۲,۷ ملیون امریکایي ډالرو ته رسېده. په همدې کال کې د وارداتو اندازه ۴۱۹,۹ ملیون امریکایي ډالره وه، چې دا په خپله ۹۷,۱ ملیون امریکایي ډالرو تجارتي کسر ښیي. دغه تجارتي کسر پر ۱۳۶۶ کال ۲۶۶,۰۲ ملیون امریکایي ډالره، پر ۱۳۶۷کال کې ۳۰۰ ملیون امریکایي ډالره *(وګورئ، سالنامه احصائیوي، سال ۱۳۶۷، ۱۳۶۸، ۱۸۶-۱۹۸ مخونه)* او پر ۱۳۶۹کال ۵۳۰ ملیونو امریکایي ډالرو ته ورسېد. *(وګورئ، وضع اقتصادی و اجتماعی افغانستان، در سال ۱۳۶۸، راپور وزارت پلان، ۱۳۶۹).* دغه کمښت په صادراتو کې په تېره بیا د ګاز د صادراتو په بندېدو سره پر

ACKU

۱۹۹۰ کال د دې سبب وګرځېد، چې دولت د خپلو عادي مصارفو او اړینو وارداتي شیانو په اخیستلو کې له ستونزو سره مخامخ شي؛ نو دولت باید خپل دغه مصارف له زېرمه شویو اسعارو یا د نړیوالو موسساتو له پورونو او یا د مرکزي بانك له پور څخه تمویل کړي وای، خو څنګه چې د نړیوالو موسساتو مرستې او پور کم او یا هېڅ نه و، نو دولت خپل دغه مصارف د مرکزي بانك له خوا څخه تمویلول. په دې توګه دولت کال په کال له مرکزي بانك څخه پوروړی کېده، چې د دغه پور اندازه پر ۱۳۵۷ل کال یو ملیارډ افغانۍ وه، خو پر ۱۳۶۶ل کال ۲۰،۶ ملیارده افغانۍ ته او پر ۱۳۶۸ کال ۵۶،۹ ملیاردو افغانیو ته ورسېده. *(وګورئ، وضع اقتصادی و اجتماعی افغانستان در سال ۱۳۶۸، راپور وزارت پلان، ۱۳۶۹)*، چې په دې ډول زیاتې پیسې په دوران کې ولوېدلې. د پیسو دغه زیاتوالی په هېواد کې انفلاسیوني حالت رامنځته کړی و، چې په اوسنیو شرایو کې دغه انفلاسیوني حالت خپلې لوړې درجې ته رسېدلی دی. دغه حالت په خپله د دې څرګندوی دی چې دولت د داسې ستونزو له امله په خپله د بیارغونې او پرمختیایي پروسې د تمویل قدرت نه لري.

نو یوازینۍ لاره د هېواد د بیارغونې او د هغه د پرمختیایي بهیر د تمویل لپاره بهرنۍ مرستې دي، چې دغه بهرنۍ مرستې د بیارغونې لپاره باید زیاتره د هغو هېوادو له خوا وي، چې د افغانستان په روانه غمیزه کې په نېغه او یانېغه (غیرمستقیمه) توګه رابنکېل وو. دغه مرستې په لومړي پړاو کې باید زیاتره په وړیا توګه وي او غیر پروژه وي حالت ولري. زیاتره برخه یې باید استهلاکي مواد ولري، ځکه چې هېواد ته د کډوالو په راستنېدو سره د خوړلو او نورو مصرفي موادو تقاضا زیاتی مومي. په داسې حال کې چې د کورنیو تولیداتو زیاتوالی په لنډه موده کې ګران کار برېښي، نو د دغو مرستو موخه له یوې خوا د قیمتونو له جګوالي څخه مخنیوی وي او له بلې خوا به دولت د خپلې بوجې د تمویل لپاره له مرکزي بانك څخه د زیات پور اخیستلو ته نه مجبورېږي.

لومړی جدول:

په پېنځه کلنو پرمختیایي اقتصادي پلانونو کې د مصارف انډول په سکتورو سره.

| سکتورونه | لومړی پلان تخمیني | لومړی پلان حقیقي | دویم پلان تخمیني | دویم پلان حقیقي | دریم پلان تخمیني | دریم پلان حقیقي | څلورم پلان | اووم پلان | ۱۹۷۹-۱۹۸۴ | ۱۹۸۶-۱۹۹۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| صنایع، معادن او انرژي | ۳۳,۳۵% | ۲۷,۸% | ۳۳,۵% | ۳۴,۳% | ۳٦,۷% | ۳۰,۹% | ۳۰% | ۳٦% | ۵۳% | ۴۳% |
| کرنه او مالداري | ۳۱,۲% | ۱۲,۸% | ۲۳,۵ % | ۱۷,۹% | ۳۱,۵% | ۳۴,۸% | ۳۵.۰۰% | ۲۵% | ۲۵% | ۱۲% |
| ترانسپورټ | ۲۴,۷% | ۵۳,۹% | ۲۵,۵% | ۳۹ % | ۱۱,۸% | ۱۷,۷% | ۱۱,۲% | ۳۱% | ۹% | ۳۱% |
| ښوونه او روزنه او روغتیا | ۷,۱% | ۴,۲% | ۱۱,۲% | ۷,۴% | ۹,۴% | ۱۱,۹% | ٦% | ٦% | ۱۳% | - |
| نورې پرمختیایي چارې | ۳,۵% | ۱,۳% | ٦,۳% | ۱,٦% | ۱۰,٦% | ۷,۷% | ۲% | ۲% | - | - |
| ټول مصارف | ۸,۵ | ۹,۳۵ | ۳۱,۳۵ | ۲۴,٦۰ | ۲۴,۵ | ۱۹,۳۵ | ۳۰,۹۳ | ۱۷۴,۴ | ۹۷-۱۰٦ | ۹۰ |

اخځونه:

Fahrhang, Amin: Die Sozialokonomischen Aspekte der Entwicklungsplanung, dargestellt am Beispiel Afghanistan, Diss, Koln, 1974, S. 271.

* Grotzbach, Erwin: Afghanistan. Eine geographische Landeskunde, Darmstadt, 1990, S. 398.

ACKU

څنګه چې په لومړي پړاو کې د بهرنیو مرستو زیاتره برخه غیر پروژه وي څانګو ته، د ځینو عواملو له کبله چې په پورتنیو کرښو کې یې یادونه وشوه، ورکړل شوې وي، نو په دویم پړاو کې دغه مرستې زیاتره پروژه وي څانګو ته باید ورکړل شي، چې د هېواد ملي اقتصاد خپل پرمختیایي بهیر ته بېرته راوګرځي. البته په دې برخه کې د دولت اساسي دنده ده، چې دغه پروژه وي مرستې په وړیا توګه په اسانو شرایطو او د اوږده مودیز پور په توګه تر لاسه کړي. همدارنګه باید په ټینګار سره وویل شي، چې دغه د نړیوالو موسساتو او د بېلا بېلو هېوادو مرستې باید بې له کومې ایډیالوژیکي موخو څخه وي او څه ناڅه متحدالشکل حالت ولري.

*دویم جدول:*

د معدني، فابریکاتي او د برېښنا د تولیداتو پراختیا له ۵۸-۱۹۵۷ تر ۱۹۸۹/۱۹۸۸ کال پورې.

| د محصول ډول | د مقیاس واحد | ۱۹۵۷/۵۸[1] | ۱۹۷۸/۷۹[2] | ۱۹۸۸/۸۹[2] |
|---|---|---|---|---|
| طبیعي معدني مواد | | | | |
| طبیعي ګاز | ملیون متر کعب | ... | ۲۴۶۱ | ۱۰۰۵ |
| د ډبرو سکاره | زرټنه | ۱۹,۶۴۸ | ۲۱۸ | ۱۳۸ |
| مالګه | زرټنه | ۲۲,۰۶۲ | ۸۱ | ۳۷ |
| فابریکاتي مواد | | | | |
| اوړه | زر ټنه | ... | ۹۷ | ۱۶۱ |
| بوره | زر ټنه | ۴,۷۹۳ | ۱۰,۸ | ۰,۱ |
| نباتي غوړي | زر ټنه | ... | ۱۰,۳ | ۲,۰ |
| مالوچ | زر ټنه | ۲۲,۰ | ۴۱,۵ | ۷,۷ |
| نخي توکر | ملیون متره | ۱۹,۷۶۴ | ۸۸,۵ | ۳۲,۹ |
| د وړیو توکر | ملیون متره | ۰,۲۱ | ۰,۴ | ۰,۲ |
| بوټونه | زر جوړې | ... | ۳۰۲ | ۵۸۰ |
| کیمیاوي سره | زر ټنه | ... | ۱۰۵ | ۱۱۷ |
| سمنټ | زر ټنه | ۳۴,۰۷۸ | ۱۲۶ | ۷۰ |
| د برېښنا انرژي | ملیون ساعت کیلواټ | ۴۷,۱۸ | ۸۴۵,۴ | ۱۱۷۶ |

اخځونه:

۱- پیشرفت پلان و تحلیل اوضاع اقتصادی، ۱۳۴۵-۱۳۳۵، وزارت پلان، کابل، ۱۳۴۲، ۴-۸مخونه.

ACKU

۲- ســالنامه احصــائیوي ســال ۱۳۶۷ ، اداره مرکــزی احصائیــه کــابل، ۱۳۶۸ ، ۱۲۶-۱۳۰مخونــه.

| شاخص | د مقیاس واحـد | ۱۳۳۵[1] | ۱۳۵۷[2] | ۱۳۶۷[3] |
|---|---|---|---|---|
| عمومـي زده کـړې | | | | |
| د ښوونځیـو شـمېر | باب | ۸۰۴ | ۳۸۴۳ | ۱۳۵۲ |
| د زده کوونکیـو شـمېر | زرتنه | ۱۲٦,۰۹۲ | ۱۰۳۴,۳ | ۷۰۰,۵۵۴ |
| د فارغانو شـمېر | زرتنه | ۷,۳۷۸ | ۵۲,۳ | ۵۴,۹۳۵ |
| د ښوونکیو شـمېر | زرتنه | ۴,۰۰۷ | ۳۵,۱ | ۲۲,۱۲۹ |
| مسلکي زده کـړې | | | | |
| د مسلکي ښوونځیـو شـمېر | باب | ۲۱ | ۴۴ | ٦۹ |
| دمسلکي زده کوونکیوشـمېر | زرتنه | ۳,۴ | ۱۲,۷ | ۱٦,۹۸۱ |
| د مسلکي ښوونکیو شمېر | زرتنه | ... | ۹۹۸ | ۱۷۷۳ |
| د مسلکي فارغـانو شـمېر | زرتنه | ۵۲۱ | ۱,٦ | ۴,٦۴۲ |
| عالي تحصیـلات | | | | |
| د عالي تحصیلاتـو موسسـې | باب | ۱ | ۳ | ۵ |
| محصـلان | زر تنـه | ۰,۸۷۴ | ۱۱,۴ | ۱۸,۵۲۵ |
| فارغـان | زر تنـه | ۰,۱٦۴ | ۱,۵ | ۲,۱۸۳ |
| اسـتادان | نفر | ... | ۹۹۲* | ۱٦۱۵ ** |

* پـر ۱۳۵۷ کـال د پورتنیـو اسـتادانو لـه جملې څخـه ۱۷۰ تنـه یـې بـهرني وو.

** پــر ۱۳۶۷ کــال د پورتنیــو اســتادانو لــه جملــې څخــه ۱۸۴ تنــه یــې بــهرني وو.

ACKU

اخځونـه:

۱- پــیرتف پــلان و تحلیــل اوضــاع اقتصــادی ۱۳۳۵-۱۳۴۰ ، وزارت پـلان، کـابل، ۱۳۴۲ ، ۲۱-۲۴مخونـه.

۲- جمــهوري دموکراتیــك افغانســتان در آیینــه ارقــام، ۱۳۵۷-۱۳۵۹ ، اداره مرکــزی احصائیــه، کــابل، ۱۳۶۰ ، ۴۲-۴۳مخونــه.

۳- ســالنامه احصــائیوی ســال ۱۳۶۷ ، اداره مرکــزی احصائیــه، کــابل، ۱۳۶۸ ، ۲۱۵-۲۲۵مخونــه.

ثلورم جدول،
پـه هېواد کې د روغتيـايي چارو پراختيـا

| شاخص | د مقياس واحد | ١٣٣٥ * | ١٣٥٧ ** | ١٣٦٧*** |
|---|---|---|---|---|
| روغتونونه | باپ | ٥٢ | ٧٧ | ٩٤ |
| د بسترو شمېر | بستر | ١٣٨٠ | ٤٢٦٥ | ٩٤٢٢ |
| دوکتوران | نفر | ١٤٩ | ١٠٦٣ | ٣١٥٠ |
| درملتون | باب | ٤٧ | ٦٤٤ | ١٣٤٢ |
| د اکسيريز دستگاوې | پايه | ٨ | ٤٩ | ٩٧ |
| فارمسست | نفر | ... | ١٧٠ | ٦٨٩ |
| د روغتيـايي چـارو فرعـي مرکزونه | باب | ... | ١٤٧ | ٨٧ |
| د روغتيـايي چـارو اساسـي مرکزونه | باب | ... | ٧٥ | ١٨ |

*اخځونـه:*

* پيشـرفت پـلان و تحليـل اقتصـادی ١٣٣٥-١٣٤٠، وزارت پـلان، ١٣٤٢، ٣١مخ.

** جمـهوری دموکراتيـک افغانسـتان، در آئينـه ارقـام، ١٣٥٧-١٣٥٩، اداره مرکزی احصائيـه، کـابل، ١٣٦٠. ٤٠مـخ.

*** سـالنامه احصـائيوی سـال ١٣٦٧، اداره مرکـزی احصائيـه، کـابل، ١٣٦٨، ٢٠٣ مـخ.

پايلکونـه:


1- Kennedy, Paul: The Realities Behind Diplomacy, London, 1981.

2- Kennedy, Paul: Aufstieg und Fall der Grossen Machte, Frankfurt am Main, 1994.

3- Hemmer, Hans- Rimbert: 40 Jahre Entwicklungstheorie und-pulitik. In: Zeitschrift fur Wirschaft und Sozialwissenschaften, 110 (1990), Heft 4, Berlin, 1990.

4- Peter J. Opitz: Grundprobleme der Entwicklungslander, Munchen, 1991.

5- Eberhard Rhein/ A. Ghanie Ghaussy Entwikhlung Afghanistan, 1880-1965. Opladen, 1966.

۶- امير عبدالرحمن خان، تاج التواريخ، پېښور، ١٣٣٥ل کال.

٧- افغانسـتان در پنجاه سال اخير، موسسه طبع کتب، کـابل، ١٣٤٧.

٨- غيرت، عبدالباري: پـه افغانسـتان کـې ښوونـه او روزنـه، د تعـاون مجلـه، ١٣٧٧، لومړی گڼه، پېښور.

9- Bahand, Mohammad Sharif: Die gegenwartige Konfliktlage in Afghanistan und die Aufgaben einer Regierung der nationalen Aussohnung, Beerlin, 1997.

۱۰- کشککي، برهان الدين: رويداد لويه جرگه دارالسلطنه ۱۳۰۳، کابل، ۱۳۰۴.

۱۱- فيض، محمد علم: جرگه های بزرگ ملی افغانستان (لوی جرگه ها) و جرگه های نام نهاد تحت تسلطت کمونست ها و روس ها، پشاور، ۱۳۶۸.

12- Fraser-Tytler, K. Afghanistan: In: Journal of the Central Asian, Society, London, 1942.

۱۳- بورگی، محمد طاهر: د افغانستان لومړني اساسي قانون ته يوه کتنه، پېښور، ۱۳۷۴.

۱۴- انيس، غلام محی الدين: بحران و نجات، کابل.

۱۵- پيشرفت پلان و تحليل اوضاع اقتصادی، ۱۳۳۵-۱۳۴۰، کابل، ۱۳۴۲.

۱۶- عبدالمجيد زابلی: پروبلم های اقتصادی ما و مجادله با آن، کابل، ۱۳۲۸.

17- Grotzabch, Erwin: Afghanistan Eine . Geojraphische landeskunde, Darmatadt, 1990.

۱۸- دافغانستان احصائيوی معلومات، ۱۳۵۴-۱۳۵۷، کابل، ۱۳۵۷.

۱۹- سالنامه احصائيوی ۱۳۶۷، اداره مرکزی احصائيه، کابل، ۱۳۶۸.

۲۰- جمهوری دموکراتيک افغانستان در آيينه ارقام، ۱۳۵۷-۱۳۵۹، اداره مرکزی احصائيه، کابل، ۱۳۶۰.

21- Ghaussy, A. Ghanie: Islamische Writschaftsordunung-eine geeigneter Ansatz fur den wirtschaftlichen Neuaufbau Afghanistan? In: Entwicklung und Strukturwandel (Bochumer Schriften zur Entwicklungsforschung und Entwicklungspolitik, Bd. 26), Frankfurt/M {u.a.} 1990.

22- Noor, A Sami: Der Wiederaufbau Afghanistans- Illusion oder Wirklichkeit?, In: Entwicklung und Struckturwandel (Bochumer Schriften zur Entwicklungsforschung und Entwicklunspolitik, Bd. 26), Frankfurt/M [u.a.] 1990.

۲۳- وضع اقتصادی و اجتماعی افغانستان در سال ۱۳۶۸، راپور وزارت پلان، کابل ۱۳۶۹.

۲۴- ارغنداوي، عبدالعلي: ژوندی خاطرې، په تېرو نهو لسيزو کې، د افغانستان تاريخ، ۱۹۹۰، ۱۹۹۲، پېښور، ۱۹۹۷.

25- Fahrhang, Amin: Die sozialokonomischen Aspekte der Entwichlungsplanung, dargestellt am beispiel Afghanistan, Diss. Koln, 1974.

ACKU

ع. ش ترنك د كابل پوهنتون استاد

# غازي امان الله خان د خپل عصر

# د دوو تاريخي نادودو په وړاندې

د هند په كورنيو چارو كې د انګرېزانو لپاره د برلاسۍ نښې نښانې هغه مهال د وروستي بري په توګه راوځلېدې، چې نوميالي سردار شازمان (پاچاهي ۱۷۹۳-۱۸۰۱) خپلې هغه سترګې له لاسه وركړې، چې په هغو يې د دراني او افغاني نوي پرتم او بري نوې لارې ليدې. شايد دغه ټكي ځينې داسې انګېرې چې پښتنو يو ځل بيا د هند د فتحې خوبونه ليدل او غوښتل يې پر دغه هېواد لكه نادر افشار تېرى ور وتپي. خو د تاريخي اسنادو له مخې خبره داسې نه ده. د شازمان په ړندېدو سره د هغو ځواكونو او اميدونو سترګې هم ړندې شوې، چې د ده په تمه يې په هند كې د انګرېزانو د زوال خوبونه ليدل او د ده په متو يې د انګرېزانو سره ډغرې وهلې، لكه د ميسور زمري تيپو سلطان (د ۱۷۹۹م شهيد) په ډيلي كې د شاه ولي الله كورنۍ په رامپور كې د نواب غلام محمد روهيله او په لسګونو نورې [1] پښتنې او مسلمانې سياسي او برلاسې كورنۍ چې د هند د دغه وخت په سياست او تاريخ كې يې د پاملرنې وړ ځاى درلود.

---

۱ - د درانيو پاچاهانو د بري يو لوى راز په دغه ټكي كې نغښتى و، چې دوى هندوستان ته لكه پخوانو پاچهانو د لوټ او تالان لپاره زړه نه ښه كاوه، مورخين په دغه ټكي ټينګار كوي چې په ټول هند كې په

د اعلیحضرت شازمان ماته، انګرېزانو په یوه نېکمرغه زېري سره ونمانځله، له کورنیو بې اتفاقیو څخه یې ګټه واخیسته، نه یوازې دا چې د شازمان او تیپوسلطان هیلې او ارمانونه یې په ماتو او بدمرغیو سره بدرګه کړل، بلکې نورې یې هم متې راونغښتې او د لوی افغانستان له لوی پیکره یې په بېلا بېلو وختونو کې د بېلا بېلو تړونونو تر ناولي سیورې لاندې بېلا بېلې برخې د برتانوي هند برخې کړې، نادانو او پر ځان مینو سردارانو لکه د نن په شان د ملت ملي او تاریخي ویاړونو ته د بوسو په نرخ هم و نه کتل په هر ډول یې چې له وسه پوره شول، ځانونه یې د انګرېزانو له ګټو او غوښتنو سره عیار کړل. هر څه چې هغوی ورته ووې، هر ډول سره او توده وسله چې هغوی په لاس ورکړه، هغه یې د خپل ملت د ټکولو او خوارولو لپاره وکاروله. یو شمېر خو ځانونه د زورواکو دیکتاتور ډوله پاچهانو په پوستکي کې ځای کړل، خو عملاً بیا هم د انګریزي لاسپوڅو په توګه وکارېدل او د هغوی لپاره یې د "امیر" او "امارت" تر پردو لاندې بنایسته خدمتونه تر سره کړل. چې یو نوی انقلابي پښنت را وروزل شو. مبارزه یې وکړه، د مشروطیت غورځنګونه یې را پیل کړل. قربانۍ یې ورکړې او هېواد یې د غازي او ځوان شهزاده اعلیحضرت امان الله خان په مشرۍ د انګریز له ښکیل څخه خپلواک کړ او په ټوله اسیا کې یې د یوه بشپړ اسیایي پاځون او د انقلاب هنګامه خوره کړه.

---

دغه مهال (له احمد شاه تر شازمانه) دومره شته نه وو، چې هغه دې یوازې د احمد شاه د لښکرو د خرڅې تلافي وکړای شي. همدا وجه ده چې شاه ولي الله په خپل یوه لیک کې دغه ټکی څرګندوي چې کوم کوم خاپونه په هند کې اوس هم بدای دي او یا به له بډایو خلکو سره پخوانیو پاچهانو څه ډول چال چلند کاوه. [وګورئ، د شاه ولي الله سیاسي مکتوبات- په اردو ژبه، د علیګړ چاپ، ۱۹۵۰م، ۴۲مخ]

احمده شاه بابا د شاه ولي الله په کلکه بلنه هند ته وخوځېد، تیمورشاه د هغه د اولادې په بلنه تر پنجاب پورې واکمن پاتې شو او شاه زمان ته د شاه ولي الله په کورنۍ برسېره د میسور نومیالي تیپو سلطان بلنه ورکړه چې هند ته راشي او په ګډه له انګرېزانو څخه د هند خمکې په ډاډه زړه ازادې کړي. دغه موضوع په هغو لیکونو کې څرګندېږي چې تیپو سلطان د شازمان په نامه لیکلي دي. [وګورئ صحیفهٔ تیپو سلطان (په اردو) د محمود خان محمود ښکلوری لیکنه، ډهلي ۱۹۱۷کال]
له تیپو سلطان او شازمان دواړو سره د فرانسوي واکمنانو پلاوي په همدغه طلایي او حساس پړاو کې تلل او راتلل. شازمان ته د هند د نیمې وچې واکمني او له هنده د انګرېزانو شړل ډېره ساده خبره وه. خو له بده مرغه چې د سردارانو نادانیو دا طلایي چانس د پښتنو او هندي مشرانو په برخه نه کړ، هندوستان او افغانستان یو پر بل پسې د ویشلو او بدمرغیو منګولو ته ولوېدل او لوی افغانستان په اوسني کوچني افغانستان باندې واوښت.

په دې نژدې څو کالو "په تېره بیا پر کابل باندې د ستمي او متعصب پیوستون او د هغو د یو شمېر غیر ملي پاتې شونو دوره" کې یو شمېر د ملي ګټو او ملي تاریخ دښمنان په شعوري او غیر شعوري توګه د غازي امان الله پر شخصیت باندې په ناخوانۍ سره له یرغل ډکې لیکنې کوي او هر ځای د خپلو اوسنیو بدمرغیو او مزدور دولت کړو وړو مسوولیت پر ده باندې ور اچوي.

زه په دغو لنډو کرښو کې غواړم په څو ټکیو چې هغه د غرض خاوندان د غازي امان الله پر مخ راباسي لنډه رڼا واچوم. دغه څو ټکي په لاندې ډول سره دي:

- غازي امان الله او د مستوفی الممالك ډرامه.
- غازي امان الله او د ګوډ ملا مختوري.

افغاني، ایراني او یو شمېر نور افغاني ضد دریځي لیکوال د مستوفي محمد حسین خان خبره له یو لړ سیاسي او ځانګړو سیکتاریستي غرضونو پر بنسټ دومره پړسولې چې ګواکي امان الله خان په رښتیا هم په دغه باره کې ډېر لوی ظلم کړی دی. زه دلته په لنډه توګه په دغه اړوند د یو څو ټکیو یادونه کوم، چې د مستوفي محمد حسین په باره کې د ویلو او یادولو وړ دي.

مستوفي برسېره پر هغو ځاني ناوړو ځانګړتیاوو په خپل وخت کې په یو لړ داسې کړو وړو لاس پورې کړ، چې نه یوازې په افغانستان کې د نویو پرمختګونو خنډ و، بلکې په سیمه کې هم هغه د اسیا د خپلواکۍ غوښتنې د غورځنګ په وړاندې د یوه داغ په توګه د یادونې وړ دی، د بېلګې په توګه په دغو موضوعاتو کې یوه هم د هند د موقت حکومت جوړېدل او د دغه حکومت له نامتو مبارزینو سره د مستوفي ناوړه چال چلند دی.

په هندوستان کې د ۱۸۵۷ کال له پاڅون څخه را په دې خوا چې انګرېزانو "غدر" وباله او په کلکه یې وځپه بیا هم د هندي مسلمانو مبارزینو هلې ځلې سړې نه شوې او د شیخ الهند محمود الحسن په تحریک یې لمنه همداسې خوره پاتې شوه، دپښتونخوا او افغانستان ته یې رامخه کړه او دا سیمې یې د یوه پاخه سنګر په توګه د خپلو بریو لپاره د امن سیمې وبللې او هم یو شمېر پښتنو مشرانو لکه د ترنګزو حاجي صاحب، د

ACKU

بابړې ملا صاحب او په لسګونو نورو ان تر پاچا خان پورې د دغې انګریزي ضد مبارزې سرغندوی شول. په همدغه حال کې چې انګرېزانو د هندیانو غورځنګ وټکاوه "شیخ الهند د ۱۹۱۵م کال د سپټمبر پر ۱۸مه، ۱۳۳۳ق حجاز ته لاړ او له هغه ځایه یې د ازادۍ د لارې یو ملګری مولانا عبید الله سندهي (نوی مسلمان شوی شاګرد) د کوېټې او ښورراك او کندهار له لارې کابل ته راواستاوه، د ۱۹۱۵ کال په اکتوبر کې دلته را روسېد او د سردار نصر الله خان او سردار عنایت الله خان او حاجي عبدالرازق اندړ په مرسته یې د هند د ازادۍ غوښتونکیو د فعالیت مرکز جوړ کړ، د چمرکنډ (د ازاد سرحد) د مجاهدینو له مرکز سره یې اړیکي کلك کړل او همدا شوه چې یو زیات شمېر ازادي غوښتونکي ځوانان او علما د دغه غورځنګ د دوام لپاره کابل ته راتلل او له دغه ځایه یې د هند د خپلواکۍ د تر لاسه کولو په اسیا او اروپا کې خپلو هڅو ته دوام ورکاوه.[1]

په دې کې شك نه شته چې له هندي مبارزینو سره نه یوازې د افغاني واکمنانو مرسته وه، بلکې له دغه غورځنګ سره له مارګلې تر هراته، له کوېټې تر بدخشان او کاشغر پورې د ټولو پښتنو او مسلمانو ټولنو انساني خواخوږې ملګرې وه، همدا وجه وه، چې د برتانوي هند له ولکې څخه د روښانکفرو مبارزینو کاروانونو نه د کابل او پښتونخوا او له هغه ځایه بیا تر روسیې او جرمنۍ پورې ورسېدل او په هر ځای کې یې دغه ازادي غوښتونکی حرکت وستایل شو.[2] خو یوازینی ځوك چې د دغه غورځنګ کړو وړو ته یې په شك وکتل او د امیر حبیب الله خان یې په دوه لارې کې زړه نازړه کړه هغه همدغه مستوفي محمد حسین خان و، چې د دغه غورځنګ له مخکښانو سره یې ناسته پاسته درلوده او د هغو په وړاندې یې هغه چال چلند غوره کړ، لکه چې انګرېزانو د دوی په وړاندې کاوه،

---

۱ - عبدالحی حبیبي، جنبش مشروطیت در افغانستان، کابل ۱۳٦۳، ۸۱مخ.

۲ - د هندي ازادي غوښتونکیو په لومړي کاروان کې چې پر ۱۹۱۵ کال د پښتونخوا پر لور وخوځېدل دا لاندې کسان وو: ۱- میا عبدالباري. ۲- شیخ القادر. ۳- عبدالمجید خان. ۴- الله نواز خان. ۵- شیخ عبد الله خان. ٦- عبدالرشید. ۷- ظفر حسن. ۸- محمد حسن. ۹- خوشی محمد. ۱۰- عبالحمید. ۱۱- رحمت علي. ۱۲- شیخ شجاع الله. دوی ټول د لاهور، د ګورنمنټ میډیکل او اسلامیه کالج زده کوونکي او زیاتره یې تر [بي ای] درجې پورې رسېدلي وو. [وګورئ خاطرات ظفر حسن، ۱۴مخ، په اردو ژبه]

یـوازې لـوی تـوپـیر یـې دا و چـې هغـوی پـه تـورو دغـه غورځنـګ تکـاوه او مسـتوفي پـه تدریجـي بـې بـاوره کولـو سـره. مانـا دا چـې د دغـه غورځنـګ پـه ټکولـو کـې د مسـتوفي او انګرېزانـو یـوه رایـه وه. د دغـه غورځنـګ لـه نـامتو غړیـو څخـه یـو هـم ظفـر حسـن خـان[1] دی چـې مولانـا عبیـد الله سـندهي تـه ډېر نږدې پاتې شوی، هغـه دغـه بـهیر پـه خپلـو سـترګو لیدلـی او لیکـي: "مسـتوفی الممالك میرزا محمد حسین، چـې د امـیر امـان الله تـر پـاچـا کـېدو وروسـته پـه خپلـه پـاچـا د مـرګ سـزا ورکـړه، ډېر زیـات انـګرېز پرسـت و. د ده د انـګرېز پـالنې یـوه څرګنـده نـښه هغـه نـاپـاك تـېری و چـې پـر اروابناد مولانـا صـاحب بـاندې یـې وکـړ، هغـه لـه امـیر حبیـب الله څخـه یـو فرمـان تـر لاسـه کـړ، چـې د هغـه ظـاهري هـدف دا و چـې مـوږ تـه بـاید زمـوږ لـه پوهـې سـره سـم کارونـه راکـړل شـي. خـو پـه حقیقـت کـې لـه دغـه کـار څخـه هـدف زمـوږ بـې عـزتي وه. ځکـه چې پـه دغـه فرمـان کـې کـښل شـوي الفـاظ دومـره لـه بـې احترامـۍ ډك وو چـې هـېڅـا هـم هغـه نـه شـو زغملای. پـه دغـه فرمـان کـې هـم د اروابناد مولانـا صـاحب او هـم زمـوږ پـه اړونـد دغـه الفـاظ راغلـي وو: "معلـوم کـرده شـود کـه این مردم چیزی کار کرده میتواند یـا همـه ایشـان کنـده نـاتراش میباشـد."[2]

همدغـه لیکـوال بیـا د هغـه مهال یـوه عینـي شـاهد خبـره راليکـي چـې کلـه لومـړۍ نړیوالـه جګـړه پـای تـه رسـېږي: "پـه همدغـه ۱۹۱۸ کـال لومـړۍ نړیوالـه جګـړه پـای تـه رسـېږي. د عثمـاني دوسـت د مـاتې لـه املـه ترکـي برخـه خـواره شـوه. کلـه چـې د متـارکې خبـر کـابل تـه راورسـېد، قدرمـن مولانـا صـاحب (عبـد الله سـندهي) مسـتوفی الممـالك ور وغـوښت او پـه ډېر تمسـخر او

---

۱ - ظفر حسن ایبک د حافظ عظیم الدین زوی دی، چې له ډهلي څخه ۷۸ میله لرې د نامتو پانې پت شمال لور ته د کرنال ښار د قاضیانو په کلي پر ۱۸۹۵ کال پیدا شوی دی. د امیر حبیب الله خان په دوره کې کابل ته راغلی. د افغانستان د خپلواکۍ په جګړه کې برخمن و. په تل کې له نادرشاه سره یو ځای و، د نادرشاه - ظاهرشاه په وختونو کې د درناوي خاوند سړی پاتې شوی، ترکي ته تللی هلته یې زده کړې وکړې، هم هلته یې واده هم کړی او هم هملته مړ شوی دی. د ده یو کتاب د ده د خاطرې دي چې د استانبول د ادبیاتو د فاکولتې یوه غړي برابر او چاپ کړی دی. (د دغه کتـاب د افغانستان برخه زما تر لاس لاندې ده چې ویې وژباړم). دا هم هغه کتاب دی چې ښاغلي سید قاسم خان رشتیا د خپلو خاطراتو په ۴۴۴۹ مخ کې د هغه د نامه په مانا نه دی پوه شوی او د "۱ بیتي" (خـاطرې) نـوم یـې "شما نبشنید"، تاسې کېنئ" ژباړلی دی. دغه کتاب د افغانستان د اوسنیو (شـلمې پـېړۍ) د پـېښو رښتنې هنداره ده.

۲ - خاطرات اپ بیتي، ۱۲۵مخ.

خوښۍ سره يې ورته وويل: "اينه ترکی تمام شد" مولانا صاحب په دغه خبره دومره خواشينی شو چې زه د هغې خواشينۍ انځور نه شم کولای.[1]

د مستوفی د دغو ورته ناوړو کړو انعکاس د ډېرو نورو هندي علماوو او پوهانو په ليکنو کې هم شوی دی. د تحريك خلافت ليکوال خو دا ټکي په ځرګنده په ډاګه کړي چې ليکوال له ډاکټر عبدالغني سره ډېر نږدې اړيکي درلودل او د هغه د "مرکزي اسيا" په نامه کښل شوي کتاب له مخې بيا دا ټکی کاږي چې "د امير حبيب الله وزير چې مستوفی الممالك بلل کېده او د هغه نوم ميرزا محمد حسين و... هغه د برتانوي حکومت په خفيه سرويس کې و. مستوفي پر ډاکټر عبدالغني باندې له کومې تولنې سره د ترون شك کاوه. د هغه ورځ يې ورسره کړه، تر څارنې لاندې راووست، د هغه څوارلس کلنه لور يې د باوخت او سرکشۍ په نامه غرغره کړه او خپله ډاکتر صاحب يې زندان ته واچاوه. کله چې امان الله خان د امير حبيب الله خان تر مړينې وروسته پاچا شو، خپله جېل ته لاړ او ډاکټر صاحب يې را خوشی کړ، چې له جګړې څخه وروسته بيا ډاکټر صاحب د راولپنډۍ کنفرانس ته هم د افغانستان په پلاوي کې ولېږل شو.[2]

د مستوفي په اړوند دا خبره روښانه ده چې غازي امان الله هغه غرغره کړ، اروابناد غبار هم څو ځايه د ده د شخصيت ناوړتيا په ګوته کړې ده. امان الله خان په ده زور زياتی نه و کړی، ليکن هغه خپلو ناوړو او غير ملي او غير انساني کړو وړو په خپله سزا ورساوه: "مستوفی الممالك ميرزا محمد حسين خان د ۱۲۹۸ کال د ثور پر ۱۴مه د ارګ په باغ کې په ونه کې وځړول شو".[3]

مستوفي د امير حبيب الله د مړينې پر وخت په جلال آباد کې و، کله چې له سردار نصر الله خان څخه يوه ورځ وروسته سردار عنايت الله خان او سردار حيات الله خان هم خپله بيعت نامه د امان الله په نامه واستوله. هغه هم د مستوفي الممالك په قلم کښل شوي دا چې په اخر کې يې دغه بيت قيد شوی و: "ای عنايت از نظر بخدا ميسپارمت"[4]

---

۱ - پورتنی یاد شوی اثر.

۲- قاضي محمد عيدل عباسي. تحريک خلافت (په اردو ژبه) [۲۴]مخ.

۳ - غبار، افغانستان در مسير تاريخ، د کابل ۱۳۴۶ل کال چاپ، ۷۴۵مخ.

۴ - همدا برنی یاد شوی اثر.

د مستوفي په اړوند د غازي امان الله کرکه په څو اړخیزه توګه وه، څکه چې د امیر حبیب الله خان په دوو ناوړو ځانګړتیاوو کې چې یوه انګریزپالنه او د هغو لاسپوڅیتوب و او بله یې ساري اخلاقي کمزورتیا، بې شکه برخمن وو؛ د ډاکتر غني د لور په وژنه کې د امیر او مستوفي دواړو لاس و، څکه د زیاترو پوهانو له خوا څخه په هند کې او څه هم په افغانستان کې دا ټکی په ګوته شوی چې ډاکتر غني مخکې تر دې چې افغانستان ته راشي "د لندن په اسلامي ټولنو کې د خپلو فصیحو او بلیغو ویناوو له امله نامتو و"[1] مولوي محمد حسین په خپل انقلاب نومي اثر کې په دغه ټکي ټینګار کوي چې: "یوولس کاله بې ځایه زنداني شو، د هغه علمي او اخلاقي لیاقت ټولو ته څرګند و."[2] میر قاسم خان چې له ده سره یې نږدې اړیکي درلودل، د ده د شخصیت په اړوند وایي: "زه (میر قاسم) د ډاکتر غني سره تړاو نه لرم، خو په اخلاقي لحاظ بې له مستندو دلیلونو یو انسان په تېره بیا یو مسلمان چې کلونه کلونه یې زموږ د هېواد ښوونې او روزنې او مطبوعاتو ته خدمت کړی دی، په ناوړو او د جاسوسۍ په کړو وړو تورن کول له انصاف څخه لرې خبره ده. که چېرې هغه د انګرېز جاسوس و، طبعاً اعلیحضرت امان الله خان چې د انګرېزانو له سرسختو دښمنانو څخه و، هغه په دومره چټکۍ سره له زندان څخه نه خوشې کاوه او په تېره یا خو د راولپنډۍ د سولې او د خپلواکۍ د اخیستلو په پلاوي کې یې هلته نه استاوه."[3]

د ډېرو پوهانو په اند مستوفي د دې ځای وړ نه دی، چې د هغه په وژلو دې موږ غازي امان الله خان ګناهګنار وبولو، مستوفي پر خپل وخت یوازې د کابل په ښار کې دومره ظلمونه کړي و، چې د هغوی له امله د کابل ښاریانو هم دې ژوندی نه پرېښود، ده پر خپل وخت د ظالمانه مالیو سیستم رامنځته کړ، د سرې سر او د حیوان سر مالیې راوستل دا ټول د ده نوښتونه وو، چې زور یې زموږ تر غریبو خلکو او بزګرانو خاته او مزې پرې سراج الملة والدین او ده کولې.

---

۱- غبار، پروتنی اثر، ۷۴۳ مخ.

۲ - محمدحسین: انقلاب، د جلندر چاپ، ۱۱۰مخ.

۳ - همدغه اثر.

د مستوفي ميرزا محمد حسين د محاكمې بهير چې د هغه له مخې مور د نوموړي ميرزا په باب نوي څه تر لاسه كولاى شول چې په خپله يو بل او جالب بحث دى، چې تر اوسه زموږ د پوهانو په ليكنو كې نه دى راغلى، قاضي محمد عديل عباسي دغه جالب بهير د ډاكټر غني له خولې ليكي:

"امير امان الله د واكمنى له واګې نيولو وروسته: مستوفي ونيو او ټول هېواد ته يې اعلان وكړ چې د هېواد د يوه غدار د مرګ تماشې ته راټول شي. لكه چې په يوه عام محضر كې يې د هغه سر له تنه پرې كړ. د مستوفي تر غرغره كېدو دمخه هغه خپلې درې غوښتنې څرګندې كړې. د هغه لومړى غوښتنه دا وه چې ما د خپلې مېرمنې په څنګ كې ښخ كړئ. امان الله خان د دغې غوښتنې په اړوند د نه منلو حكم وكړ او ويې ويل چې هغه يوه سپېڅلې مېرمن وه، د هغې په څنګ كې تا غوندې شيطان صفته او بد كاره ته ځاى نه وركول كېږي.

د هغه دويم وصيت دا و چې د هغه بچيانو ته بايد د زده كړې اجازه وركړل شي. امير امان الله وويل چې كه څه هم شيخ سعدي ويلي چې "رفعى را كشتن و بچه اش را نگاه داشتن كار خردمندان نيست" خو ستا دغه غوښتنه منل كېږي. ځكه چې هغه معصوم ماشومان كومه ګناه نه لري او ماشومان د سموني او اصلا وړ دي. كه څه هم پر هغو باندې ستا د ويلو اثر پاتې دى او د هغه لرې كول يو څه زيار غواړي. په دې باب امان الله خان سخت تعجب كاوه او ويل يې چې زما لپاره د حيرانتيا وړ خبره دا ده چې له تا غوندې سخت زړي او شقي سړي سره هم د خپلو بچيو او مېرمنې د مينې جذبات شته. ما فكر كاوه چې ته له دغه ټولو انساني ځانګړتياوو څخه خلاص يې.

درېيمه غوښتنه دا وه چې زما له شتمنى او جايداد څخه زما اولاده مه بې برخې كوئ. امير امان الله ورته وويل چې كه څه هم هغه شتمني او جايداد تا په خپله بې ايمانى او ضمير پلورنه پيدا كړي دي خو ستا د معصومو بچيانو په خاطر ستا دغه غوښتنه هم منل كېږي"(۱)

دويمه تاريخي مساله چې نن سبا په هېواد كې دننه او له هېواده دباندې له يو شمېر كسانو سره د ويار او اهميت ځاى لري. هغه د پكتيا له خوا د ۱۳۰۳ ل كال پاڅېدنه ده، چې زموږ په تاريخ او ټولنه كې تر اوسه

---

۱ - قاضي محمد عديل: تحريک خلافت (په اردو ژبه)، د ډېلي چاپ، ۲۵مخ.



ACKU

پوري د ګوړ ملا د اړ و دوړ په نامه يادېږي. په دې کې شک نه شته چې غازي امان الله خان تېروتنې وکړې. نالايقو او غير مستحقو کسانو ته يې د دوی تېر وړتيا لوړې څوکۍ وسپارلې، اصلاحات يې په چټکۍ سره د عمل ډګر ته راوايستل او داسې نور، خو څه چې ده په خپل وخت کې د افغانستان خلکو او تاريخ ته ور په برخه کړي که له هغوی نه چې پر ده باندې تورونه لګوي په دې باب پوښتنه وشي، زه په دې باوري يم چې هغوی يې د خواب نه دي څکه اوسني تور لګوونکيو ته د "ازادۍ" مفهوم تر "غلامۍ" لوړ نه ښکاري.

د پکتيا اړ دوړ زياتره څېړونکيو د حيرانتيا له ټکي سره مخامخ کړي دي. په دې مانا چې دغه اړ و دوړ د برېښنا په شان په ټول ملک کې خور شو او هنګامه يې په ټوله اسيا او دهند په نيمه وچه اوچته شنوه، خو لکه چې په څومره زور را اوچت شوی و، په همدومره زور بېرته ارام او تس نس هم شو، څکه چې د دغه خوځون اصلي ستنه زموږ له هېواد څخه د باندې او زموږ د ملت غوښتنه نه وه. انګرېزان په بشپړ تياري د دغه پاڅون او ګډوډۍ تر شا ودرېدل او عملاً يې د اماني دولت پر ضد هم په کورنۍ سويه او هم په باندنۍ سويه خپلې ناوړې هلې ځلې پيل کړې. "د ۱۳۰۳ (۱۹۲۴) کال په پيل کې د اړ دوړ کوونکيو ځواکونو د ګرديز ښار محاصره کړ او د تېرې پر کوتل يې يرغل وکړ، د همدغه کال په پسرلي کې انګرېزي حکومت خپل ځواکونه د ازاد سرحد په لور وخوځول او په عين حال کې يې د هغو وسلو استول افغانستان ته بند کړل چې د افغانستان حکومت له نورو هېوادونو څخه اخيستې وې او هندوستان ته را رسېدلې وې."[1]

يا دا "انګرېزي دولت چې حالات په خپله ګټه وبلل نو بيا يې په مستقيمه لاسوهنه پيل وکړ او يو هندوستانی يې د امير محمد يعقوب خان د زوی په نامه پکتيا ته را دننه کړ. دغه سړی (عبدالکريم) په ځدرانو کې ننوت، د اړ دوړ مشري يې واخيستله او ځان يې امير عبدالکريم ونوماوه، ملا عبدالله او ملا عبدالرشيد چې پخوا يې د دولت له پلاوي سره د خبرو کولو څخه انکار کړی و. اوس يې له امير عبدالکريم سره په خپله خوښه د

---

۱ - غبار، ياد شوی اثر، ۸۰۷مخ.



ACKU

خبرو لاره ونیوه. د دولت له مامورینو او ملایانو سره یې په دې خاطر خبرې پیل کړې چې د عبدالکریم امارت په نورو ملایانو باندې هم ومنې..."(۱)

اوس پوښتنه دا ده چې افغانان ولې له دغه اړ دوړ سره یوه غاړه شول او ولې یې ژر په ملا مات کړ؟

تر ټولو مهم دلیل دا و چې د دغه حرکت تر شاه د انګرېز او د هغه د پنجابي انډیوالانو پراخه توطیه د افغانستان د غازي پاچا او د دغه ملت د اتلو او مېړنیو خلکو پر ضد روانه وه. افغانان د تاریخ په اوږدو کې بدلون غوښتونکي خلک دي. دوی تر بل هر چا د عصر په رمز او چال چلند له پخوا څخه ډېر ښه پوهېږي او دا هغه میراث دی چې له سکندره بیا تر اوس پورې دوی د "آزادۍ" په ویاړ کې له ځان سره ساتلی او لېږدولی دی. انګرېزان تر اوسه پورې په نړۍ کې ځان برلاسی بولي او که یې وس ورسېږي هم په ښکاره توګه ارامه نه کیني، همدا وجه وه چې د افغانستان خپلواکي دوی ته په ډېره حساسه سیمه او حساسه شېبه کې په ډېره لوړه بیه تمامه شوه. څکه نو یې د پیر او ملا لمنه ونیوه او امان الله خان ته یې د تودې جګړې بوختیا پیدا کړه. د پکتیا د جګړې لمنه یو کال اوږده شوه. خو زموږ ملت ډېر ژر د دغې توطیې په اصلي موخه پوه شو او ډېر ژر یې خپلې لیکې د امان الله خان پر شاوخوا را کلکې کړې، مرحوم غبار د دغه اړ دوړ پایله د امان افغان په حواله داسې څېړي: "د افغانستان خلکو د هغې آزردګۍ له امله چې له دولت څخه یې درلوده، د پکتیا په اړ دوړ کې خپله بېطرفي ساتله، خو کله چې پوه شول د پکتیا اړ دوړ موخه مذهبي نه بلکې سیاسي ده او هغه هم د انګریزي دولت، ټول د دولت پر ملاتړ راپورته او د باندنیو پر ضد سره یو موټی شول... د کابل یو شمېر ښځو خپلې ګاڼې دولت ته د مرستې په نامه ورکړې. د ښوونځیو دري زرو زده کوونکیو له حربیې وزارت څخه هیله وکړه چې دوی باید د جګړې په ډګر کې برخه واخلي او په ښوونځیو کې پوځي زده کړې پیل شوې..."(۲)

د پکتیا اړ دوړ د مذهب تر پردې لاندې د پردیو توطیه وه، همدا وجه وه چې ملي حرکت یې ملا ماته کړه او زموږ په تاریخ کې د یوه ارتجاعي عمل بېلګه وبلل شوه. همدا وجه وه چې نن سبا یوازې ارتجاعي او مزدور

---

۱ - پورته یاد شوی اثر.

۲- غبار، پورتنی، اثر، ۸۰۹مخ.

ځواکونه د دغه تور اړ دوړ په ملاتړ غړ اوچتوي خو دې ته بيا نه ګوري چې د ګود ملا برخليك بيا د دغه ملت په لاس څه شو؟

غازي امان الله د انګريز دغې توطيې دومره په قهر او غضب کړ، چې په ډاګه يې ځان د دغه اړ دوړ د عاملينو په وړاندې د عبدالرحمن خان لمسي وباله. علامه حبيبي د اروابناد داوي په قول ليکي: "پر ۱۳۰۳ل کال چې د جنوبي سمت د قبايلو اړ دوړ د ګود ملا عبدالله په مشرۍ پيل شو، له ډېرو زيانونه او تلفاتو وروسته غلي کړی شو. خپله پاچا د اشرارو د ۵۴ تنو سرغاړو د اعدام حکم په خپله ورکړ (۱۳۰۴ ل کال جوزا څلورمه) داوي چې په هغه مهال د سوداګرۍ وزير او د دربار له نږدې کسانو څخه و، وويل: ښه به دا وي چې دغه په مرګ محکوم کسان محاکمه او د قاضي په حکم مړه شي. خو پاچا په ډېر قهر او غرور وويل: "لکه چې نه پوهېږې چې زه د امير عبدالرحمن لمسی يم!!"[1]

ګوډ ملا او د هغه ملګري خلکو دولت ته وسپارل، په خپله سزا يې ورسول او يوې بلې انګريزي توطيې ته يې د غازي امان الله خان په مشرۍ د ماتې ځواب ورکړ.

د غازي امان الله خان دغه برې نه يوازې د افغانستان د خلکو اتلوالي څرګنده کړه، بلکې دغې ماتې په سيمه او په تېره بيا د هند په نيمه وچه کې هم پراخ انعکاس وموند. په هند کې د دغه برې په وړاندې د امان الله خان مقاومت د انګرېزانو په وړاندې د هغه د دويمې اتلولې په نامه ياد شو. د هند د نيمې وچې يو نوميالی مبارز مولانا محمد علي په دې اړوند په "همدرد" نومې خپرونه کې ډېرې مقالې ليکلې او په دغه ټکي يې اعتراف کړی چې انګرېزانو د امان الله خان په وړاندې د هغه د پاچهۍ په وخت کې له خپلو توطيو څخه لاس واخيست، خو څه چې ډېر مهم او هغه دا وو چې: "شاه امان الله د خپلې لس کلنې واکمنۍ په ترڅ کې له حيرانوونکيو پېښو سره لاس او ګرېوان شو، د پلار تر قتل وروسته پر واك راغی، خپل تره يې له مخې لرې او خپل مشر ورور يې له واکه بې برخې کړل، له انګرېز سره يې جګړه وکړه دولت او ملك يې په رښتيا لکه چې پلار يې "خداداد" باله خداداد کړ، د سرکشو قبيلو له شورش څخه کامياب راووت. امن يې په هېواد کې پلی کړ او بيا يې د يورپ د سفر په لور مخه

---

۱ - عبدالحی حبيبي، جنبش مشروطيت در افغانستان، ۱۶۱مخ.

کړه چې دا ټول کړه وړه د دغه پاچا په اړوند د پوره حیرانتیا وړ خبري دي."(۱)

مولانا په را وروسته کالو کې هم د "همدرد" خپرونې له لارې چې له بمبیې خپرېده، د امان الله خان پر ضد په انګرېزي لسمونه یو بل ناتار را پیل کړ، مولانا په ډېر جرئت سره ولیکل: "ډېره ممکنه ده چې په افغانستان کې یو شمېر علماوو د یو لړ حجتي عقایدو له مخې او یو شمېر نورو خېټه پالو او نفس پالو غدار علماوو بیا د خپلو او یا هم د اغیارو د بډو او رشوتونو پر بنسټ د اعلیحضرت شاه امان الله خان پر خلاف بغاوت ته راخوځېدلي، که داسې وي نو خدای د افغانستان او ټوله دنیا له داسې علماوو او داسې غدارانو څخه ژر تر ژر وژغوري."(۲)

لنډه دا چې: افغانستان یو خپلواک هېواد دی. د دغه هېواد د تاریخ پاڼې د دغه هېواد د خلکو د ژوند او برخلیک یو تلپاتې انځور او همېشنی ویاړلی حېرکی جوړوي. د هر چا برخه د هر سرلوړي او هر سرټیټي ځای په دغو ویاړلو پاڼو کې څرګند دی. څومره ویاړلی او بریمن به وي چې ژوند او فکر د ملت او خلکو او انسان د ازادۍ لپاره ونډه کړي، لکه غازي امان الله خان چې تر ملت او هېواد، هېڅ هم نه وو پرې ګران، د ده په شان په هېواد او خلکو مین واکمنان په نړۍ کې ډېر لږ تېر شوي دي. د هند د ازادۍ نومیالی سوبهاش چندرابوس به تل په خپلو وینااوو کې همدا ویل: "د ازادۍ درس باید له افغانانو څخه زده شي" هغه د غازي امان الله خان دومره لېوال و چې هغه د لیدو لپاره ایتالیا ته ورغی او د هند د ازادۍ په باب یې له ده سره مشورې وکړې. ده په خپله مبارزه کې د انګرېزانو پر ضد د امان الله خان د طرحې او تیزس پیروي کوله. همدا وجه چې د هند ولس "د ګاندي سرکښ بچي" په نامه یاد کړ. چې مانا یې د تورې په زور د هند خپلواک کول وو.

غازي امان الله د حق لپاره غزا وکړه او په ټوله اسلامي نړۍ کې د غازي په نامه یاد شو. دا چې نن سبا یو شمېر په شعوري او غیر شعوري او نه سنجول شوې توګه د افغانستان د اوسني وخت د نالایقو او په پردیو مینو واکمنو اړیکو لړۍ، تر ده پورې رسوي. دا که په هره خوا کې په هر ډله

---

۱ - مضامین محمد علي (دویمه برخه) ۱۹۴۰کال، چاپ، ۳۵۰مخ.

۲ -همدغه اثر. ۳۹۷مخ.

پورې اړه ولري. تاریخ، خلکو او اسلام ته یې مخ تور دی. ځکه غازي امان الله خان د حضرت شیخ الهند مولانا محمود الحسن دومره لېوال و، چې کله هغه له نړۍ څخه سترګې پټې کړې، ده د هغه تر مړینې وروسته په ارګ کې یوه غونده جوړه کړه او په هغې کې یې په ډاګه وویل: "هغه کار چې شیخ الهند پیل کړی و، هغه به زه تر سره کړم."

اوس دا ویلای شو، چې دا به ډېره ګرانه وي چې یو څوك ځان د شیخ الهند د لارې پیرو بولي او عملاً یې د هغه په پلو پلونه ایښي وي او موږ پر هغه باندې خدای مه کړه د "کافر" ټاپه ولګوو!؟

ACKU

ډاکټر طارق رشاد

# ایران

## او د افغانستان د خپلواکۍ له ترون سره څرګند تاریخي مخالفت

په شلمه پېړۍ کې د افغانستان تاریخ د اوس او راتلونکیو څېړنو لپاره د خورا زیات ارزښت وړ دی. په دغه پېړۍ کې زموږ په هېواد کې خورا مهمې پېښې رامنځته شوې دي، چې زموږ د اوسنیو او راتلونکیو نسلونو لپاره پرې پوهېدل ډېر ضروري دي.

زه دلته د دغه تاریخ پر نورو اړخونو څه نه وایم خو غواړم چې پر ۱۹۱۹ع کال له انګرېزي ښکېلاک څخه د ګران هېواد د سیاسي خپلواکۍ د بېرته ګټلو په اړه داسې یو سند ته اشاره وکړم چې زما په نظر ډېر زیات په زړه پورې دی او تر اوسه پورې ورته زموږ د تاریخ څېړونکیو او بهرنیو څېړونکیو له خوا اشاره نه ده شوې او یا زما له نظره نه ده تېره شوې.

ایران دغه زموږ ګاونډی هېواد چې تل یې په خوله د دوستۍ، ګډ فرهنګ او ګډ دین اعاد کړې ده، له بده مرغه په ډېرو نازکو تاریخي شېبو کې یې زموږ له وطن سره جفاوې کړې دي. ایران په دغه لړ کې له انګرېزانو څخه د افغانستان د خپلواکۍ له بېرته ګټلو سره هم خپل مخالفت څرګند کړی دی.

د جاپان اوساکا د ښار "مانیچي" نومې مشهورې ورځپاڼې د ۱۹۱۹م کال د اګست په نهمه ګڼه کې داسې راغلي دي: "د ۱۹۱۹ کال د اګست پر

اتمه په راولپنډۍ کې د افغاني هيئت په حضور کې چې د والي علي احمد خان بارکزي تر مشرۍ لاندې د افغانستان د خپلواکۍ د تړون د لاسليکولو خبرې پيل شوې، نو د انګرېزانو له خوا د فارس (ايران) له دولت سره هم د يو ګاونډي په توګه مشوره وشوه، د هغه هېواد پارلمان دغه تړون رد کړ او د افغانستان له خپلواکۍ سره يې خپل څرګند مخالفت وښود."

ما غوښتل چې په دغه غونډه کې زياتې خبرې و نه کړم. يوازې دغه خورا مهم تاريخي سند ستاسې حضور ته وړاندې کړم، چې ليکوال، څېړونکي او مورخان غور ورته وکړي او په دې هکله نورې زياتې څېړنې هم وکړي.

يو ګاونډی هېواد چې تل يې د ښه ګاونډيتوب نارې سورې وهلې دي، ناسې وګورئ چې څنګه يې په يو حساس دوران کې زموږ پر خلکو دا هم نه دي پېرزو چې له انګرېزي ښکېلاک څخه خپله سياسي خپلواکي واخلي.

ACKU

پوهاند داکتر روستامل

# سالگرد پیروزی استقلال و معضله ما

با تقدیم سلام و تمنیات نیک بهمه دوستان و حاضرین گرامی!

- احساس مشترکی که شرکت در این اجتماع مسرت بخش بپاس تجلیل هشتادمین سالگرد پیروزی استقلال ملی بما دست می دهد خشنودی دیگری نیز با ان توام است و ان دیداری است که این محفل برای ما باتعداد زیادی



از هموطنان با احساس ازادی و سربلندی وطن فراهم کرده است.

- اشتراک پرجوش در این گردهمایی خجسته با انکه از رهگذر دوام جنگ در کشور بحیث یک معضله بیست ساله بهمه ما تلخکامی ایجاد می کند باز هم مظهر احساس پر حراره افغانیت ما در یک داعیه ملی است این

دیدار ما در عین زمان فرصتی فراهم می کند که در مورد راه حلی برای معضله خود که اینکه دو دهه از ناحیه آن مردم بیوسیله ما رنج می کشند، پیشتر تفکر کرده و با هم تبادل نظر کنیم و به نتیجه مطلوب تر در تامین صلح راه یابیم. چه دوام این وضع نه تنها برای هموطنانی که در شرایط ناگوار و درد آور آن دست و پا می زنند حسرت بار و کشنده است بلکه موجودیت کشور باستانی ما را در مقابله با حوادث تازه پایان این قرن از ناحیه فقدان پاسبانان واقعی، دراک و مجرب استقلال و حاکمیت ملی معرض به تهدید می سازد.

- این تهدید متداوم کشور توام با ماتم اندوهبار مردم، تنها زاده جنگ تباهکن و ویرانگر موجوده نیست که فرقه های متخاصم درگیر و دار تفویق جویی و زور آزمایی براه انداخته و زمینه را باچشمان باز و با تثبیت سابقه یک معضله بیست ساله برای مداخله گران آزمند و جنایت کار بیگانه هموار می سازند، بلکه معضله آینده تازه قرن است که از منبع تسلط اقتصادی دنیای جدید برخاسته و اینک با وصول به قله تکامل ساینس و تنکالوژی بشکل مغلق تری دست به عمل می زنند و استقلال ما را به گونه دیگری تهدید می نماید.

- امروز پاسبانی از استقلال ملی و دفاع از تمامیت ارضی و حاکمیت ملی، بر خلاف دوران پیشین بکمک سلاح های پیچیده و تباهکن و وسایل و افزار بیش از حد جنگی فراهم گردد، بلکه در جهان امروز با نیروی تنکالوژی، از طریق کار برد قدرت افسار زننده اقتصادی و خلاصه بوسیله فهم و تعقل می توان بر کره خاکی مسلط گردید و دستانی تنومند آنان را بزنجیر کشید که در محدوده تنگ و خاک آلود قرون اسطایی در پی کشتار همدیگر جز آواز غم آلود کرگسان صحرای و فریاد نوحه گران نگون بخت، دمسازی ندارند و نیز هرگز قادر نخواهند شد، کاشانه آرامی را برای مردمان و باشندگان محلی که بر گروگان گرفته اند، دوباره اعمار کنند.

- اینان که به معضله جنهان امروز کمتر اشنایی دارند، چه میدانند کدام خطری کشورهای نادار و کمر شد جهان سوم را که افغانستان جزء آنست به تهدید می کشاند!..

- امروز در این پایان سال دو هزار، همه تسلط ابر قدرت اقتصاد جهانی در جستجوی آنست تا ارزش های والای انسانی یعنی استقلال و

حاکمیت ملی کشورها هیچگاه خصلت جاویدانی خود را از کف نمی دهند.

- سر و صدای پر هیجانی از جهانی شدن اقتصاد لیبرال براه افتاده است. تا قدرت های بزرگ این ساحه با تقسیم حوزه های نفوذ اقتصادی، انحصار را جانشین رقابت کننده چنین پدیده نگران کننده سال دو هزارم، اصل ازادی را در رقابت نیز فاقد مفهوم خواهد کرد!...

- برای رسیدن سریع باین هدف اینک تزویج تصدیات بزرگ مالی بخاطر افزایش مزید قدرت مالی و تسلط بر جهان بشدت در جریان است.

- دولت ها بیش از پیش، کوچک می شوند و حتی موجودیت شان از رهگذر دفاع از منافع مردم مورد سوال قرار می گیرد.

- مسایل عمده ای ازاین قبیل که با خواسته های و آرزوهای کشورهای جهان سوم ارتباط می گیرد پیوند افغانستان را ببحث جز این اجتماعی چهل و پنج ساله جهانی که بشکل موسسه ای در آمده است، تثبیت می کند. چه نهضت عدم انسلاک جهان سوم، موجودیت خود را با این صفت همیشه حفظ کرده و افغانستان در روابط بین المللی و در سطح داخلی با سائر دولت های جهان به آن فیصله های بزرگ ملل متحد که دست آورد نهضت جهان سوم است، تکیه می نماید. ارزش و اعتبار حقوقی این فیصله های همیشه پایدار بوده و نقش مهمی در دفاع از تساوی در روابط بین المللی و تامین عدالت در قرارداد های اقتصادی بین ملل و حاکمیت دایمی بر منابع طبیعی کشورها بازی خواهد کرد: یکی از این ارزش ها عبارت از مقررات و اصول نظم نوین اقتصادی بین المللی است که در سال ۱۹۷۴ با اتکاء با سایر فیصله های قبلی آن سازمان به جهان اعلام گردید.

-گر چه پرابلم اساسی و عمده افغانستان در شرایط فعلی عبارت ایجاد صلح و امنیت سرتاسری آنست که در باره آن همیشه نگرانی و مباحثات در خارج از محیط جنگ آوران بعمل آمده و بحیث یک سوال مقدم در طی بیست سال گذشته مطرح گردیده است، اما سوال استقلال و ازادی، سوال عمده آینده ماست که بعد از تامین صلح اذهان ما را بخود جلب می کند.

- آزادی چه در ساحه حقوق اجتماعی و سیاسی و چه در عرصه اقتصادی یک ارزش اساسی برای تکامل انسان است. از نظر اقتصادی،



ACKU

آزادی تا وقتی مورد احترام و رعایت است که استفاده از آن بوسیله یک فرد یا یک جمعیت موجب ایجاد ضرر به دیگران نگردد. و باید همه گونه مساعی را بکار بست تا از آن رعایت بعمل آید. اما آزادی بازار اقتصادی در روابط بین المللی (بدون در نظر داشت تفاوت های سطح رشد کشور های مختلفه) تجویز خاصی است که با تبادله تجارتی ارتباط داشته و منظور مشخصی را تعصب می کند. این ازادی را بهیچ عنوان نمی توان در مقابل یک آزادی ایدیال ارتقا بخشید و بحیث یک نورم اساسی دموکراسی تلقی کرد، تا همه جوامع بشری در هر گونه شرایطی که بسر می برند آنرا باچشمان بسته بپذیرند.

این تجاویز که از منابع تجارت آینده جهانی بر می خیزد، درست در جهت مخالف مقررات و اصولی است که کشورهای کمر شد از طریق اجتماعات بزرگ و فیصله های متکی بر عدالت و دموکراسی در روابط ملل جهان در چارچوب نهضت عدم انسلاک جهان سوم، آنرا تهداب گذاری کردند.

مباحثات و فیصله های عدالت طلبانه کشورهای در حال رشد جهان سوم بزودی از حلقه نهضت عدم انسلاک پافراتر نهاده و در مذاکرات اسامبله عمومی ملل متحد نفوذ کرده و دامنه رشد دموکراسی را با شیوه نوین آن در روابط متقابله بین دولت های بزرگ و کوچک توسعه بخشید: اعلامیه اول ماه می ۱۹۷۴ یکی از مظاهر قابل تقدیر و افتخار این نهضت بود که در طی آن چارتر معروفی بنام "حقوق و وجایب اقتصادی دولت ها" صادر گردیده و با ضمایم قبلی فیصله نامه های اسامبله عمومی سازمان ملل متحد، مقررات و اصول نوینی را به جهان بشریت عرضه داشتند: "این اصول و مقررات نوین که زاده افکار و آرزوهای اکثریت قاطع اسامبله عمومی ملل متحد بود، تحت عنوان "نظم نوین اقتصادی بین المللی" و "حاکمیت دایمی بر منابع طبیعی" به جهانیان ابلاغ گردید.

- روی این واقعیت جهانی که با اختصار کامل به آن اشاره بعمل آمد، هر گونه تشبث و فعالیتی که اصل حاکمیت دایمی بر منابع طبیعی و یا حقوق ملی و اساسی کشورهای در حال رشد را بر خلاف اصول و مبادی نظام نوین اقتصادی بین المللی مورد تهدید قرار دهد با اصول و نسبت ملل متحد سازگار نخواهد بود.



د سیمینار برخوال

ACKU

- آنچه در شرایط کنونی توجه ما را در کشور محبوب ما افغانستان جلب می کند پیش از همه چیز قطع تجاوز بیگانه و مداخله آزمندانه نیروهای عقب گرا و زورگوی موجوده برون مرزی است که آرزو دارند از نفاق های کنونی سران دسته های متخاصم جنگی مربوط به بعضی اقوام به استفاده خود دوام بخشید و نتیجه مطلوب بدست آرند. آما باید بدانند مردمی که بنام افغان در قلب آسیا بسر می برند، ملتی نیستند که تهدید بادهای حوادث موسمی، شجر کوه پکیر و کهن سال موجودیت و هویت آنرا بلرزاند. این کشور باستانی با همه دردها و ناسپاسی های بیگانگان ستمگر و آزمند از میان خارزار عوایق و از پس آسیب ها و ویرانه های ناشی از آثار خیانت دسیسه بازان سیاه دل و تفوق جوی بیگانه پرست بزودی سر، بلند خواهند کرد، راهی بسوی روشنی ها خواهد کشور راهی پر افتخارو شکوهمند و آموزنده برای نسل های آینده افغان در یک جامعه متکی بر آزادی و مساوات ترقی اجتماعی و اقتصادی، تامین حقوق بشر، استقلال و حاکمیت ملی.

نثار احمد صمد

# له افغانستانه د کندهار ۸۸۸ ورځنی بېلتون

پر ۱۸۳۹ کال د انګریز افغان لومړی. دري کلنه جګړه ځکه پېښه شوه چې برتانیې په منځنی. اسیا کې د روسیې د مخنیوي په خاطر غوښتل چې ځانونه د امو تر سینده ورسوي، که نه له هندوکشه به هرو مرو د برتانوي هند "ثابته پوله" جوړېده. هغوی ته دا مهمه نه وه که دغسې پوله له افغانستان سره وای یا له روسیې سره. یانې که افغانستان د نقشې پر مخ نور وجود لرلای یا نه هغو ته بې تفاوته وه. دا جګړه انګرېزانو ته د دومره لوی زیان په بیه پرېوته چې ان یوازې د کابل له محاذه یې د شل زره کسیز پوځ نه فقط یو نفر (ډاکټر برایدن) په مړ ژواندي ډول ځان ویوست او بس، خو برتانوي چارواکو له دمې، رتنې او ځپنې سره سره خپل دا ارمان له مغزه لرې نه کړ. په دې اړه هلته په لندن کې دوو نظریو لوري وموندل. لومړی دا چې لېبرال ګوند د افغانستان د "سیاسي نیونې" غوښتونکی شو، ځکه هغوی له دې ناوړین څخه په زده کړه سره هلته د نېغې حملې پر ځای سیاسي نفوذ ته ترجیح ورکړه، یانې دا چې امیر به د انګرېزانو په خوله وي. دویم دا چې محافظه کار ګوند نور هم وپارېد او د خپلې بې حیثیتی. د غچ په خاطر هلته د "پوځي نیونې" غوښتونکی شو. دغسې هدف ته د رسېدو یوازینی. لار هماغه مخکښنه تګلاره (یا فارورډ پالیسي) وه. د دې تګلارې مبتکرانو (لکه لارډ اکلیند، جان لارنس، سرهنري، راولسن، بارون لیټن او لمسډن) له ۱۸۶۵ کال راهیسې دې کار ته لېچې نغښتې وې. هغوی د روسانو له خوا د منځنی. آسیا د یوې یوې سیمې لاندې کولو ورو ورو عصبیان کړي وو. (لکه ډیوک اف ارګایل چې د



ACKU

روسانو له خوا د مرو په نیولو سره برتانوي چارواکو ته د عصبي ناروغۍ یاني (Nerousness) د نوم پر ځای د (Merrousness) نوم ورکړ، چې په ملنډو سره یې مانا د مرو د نیولو په وجه عصبي ناروغي ده!

برتانوي چارواکو پر ۱۸۷۳ د خیوې تر سقوط وروسته فیصله وکړه، چې بیا به د افغانستان په شمال کې د روسیې د هرې نیونې په بدل کې دوی هم د افغانستان په جنوب کې یوه یوه سیمه لاندې کوي. هغوی همداسې هم وکړل او د روسیې له خوا یې هلته د مرو په نیولو سره دلته کوټه لاندې کړه. د مخکښې تګلارې لمسوونکي د هند د دولتي شورا غړي "بارترفرید" وړاندیز وکړ، چې کوټه به نیول کېږي او په هره توګه چې وي، پر امیر (شیرعلي خان) باید په کندهار او هرات کې د یو یو انګریز (پوځي) نماینده ټاکنه ومنل شي. په لندن کې د هند وزیر سالسبري دا طرح تایید او پر محافظه کار صدر اعظم بنیامین ډیز رائیلي باندې یې هم منظور کړه.

امیر شېرعلي خان د زیاتو کښکښونو او نامعقولو غوښتنو په څپو کې راغی، خو هغه مقاومت کاوه. دا بهیر ورو ورو په تهدیدونو، اخطارونو او بالاخره پر اولتیماتوم بدل شو، چې څلوېښت زره کسیز برتانوي پوځ د ۱۸۷۸ د نومبر پر ۲۱ له دریو جبهو (خیبر، کورمې او پېښین) څخه پر افغانستان یرغل وکړ. امیر د پنځوس زره کسیز غښتلي پوځ په لرلو سره سره د نه مقاومت امر صادر کړ او په خپله مزار شریف ته لاړ، چې د روسانو له خوا ورکړې ژمنه امتحان کړي. ده تر دې خوځېدو مخکې خپل مشر زوی محمد یعقوب خان تر اته کاله قید وروسته ازاد او د کابل د والي په توګه وټاکه. ځینو ناوړو پېښو لکه د شپاړس کلن زوی او ولیعهد عبدالرحمن خان مړینه، د انګرېزانو برید، د روسانو لخوا د مرستې څخه انکار او تر ټولو مهمه د هغه خپله د نقرص (ګانګرین) ناروغۍ امیر په بستر کې واچاوه، چې د ۱۸۷۹ د فبرورۍ پر ۲۱مه مړ او ښخ شو.

د امیر شېرعلي خان له مړینې سره د قدرت خلا منځته راغله او برتانوي چارواکو داسې انګېرله چې که افغانستان غښتلی کېږي، نو یو پیاوړی واکمن هم باید ورته ولټول شي، حال دا چې داسې څوک نه تر سترګو کېږي. د هند مرستیال واکمن یا وایسرا (بارون لیټن) ته په دې اړه ډېرې لارې چارې پرتې وې: لومړی دا چې افغانستان دې مستقیماً په

ACKU

برتانیه پورې وتړل شي. دویم دا چې هغه دې یو غښتلی او خپلواك ملګری کړای شي او درېیم داچې هغه دې تجزیه او پر څو مستقلو برخو وویشل شي.

لومړنۍ چاره ډېره خطرناکه معلومېده او وایسرا هغه ځکه دونه ممکنه نه بلله چې یو خو له مالي پلوه د دغه غرني هېواد نیونه ګرانه تمامېده او بل دا چې لندن هم دا وخت له داسې طرحې سره موافق نه و. د دویمې چارې د تحقق لپاره یوه داسې تکړه واکمن ته چې کولای یې شول افغان مشران په ځان پسې روان کړي- اړتیا احساسېده. ستونزه دا وه چې یو خو دغسې څوك نه و او بل دا چې وایسرا قطعاً دغسې واکمن نه غوښت، ځکه چې د جاه طلبۍ او نافرمانۍ خطر یې موجود و. له همدې کبله هغه درېیمه چاره یانې د افغانستان تجزیه او توټه کېدنه غوره کړه. ده ولیکل: "زه په ځاني توګه... په دې باوري یم چې زموږ د تلپاتې ګټو په خاطر د افغانستان د ستونزې وروستۍ چاره د دې هېواد د جوړ کړي سیاسي یووالي ماتول او تجزیه ده." لیټن په دې لټه کې و، چې کابل او کندهار باید دوه بېلا بېل دولتونه شي، چې یو له بل څخه به خپلواك وي. په داسې حال کې چې دواړه به تر برتانوي پالنې لاندې راځي، خو د هرات په هکله یې پرېکړه وکړه چې هغه به په څو شرطونو ایران ته ورکول کېږي.

د ۱۸۷۹ په اګست کې د کابل پاڅون او د سېپتمبر پر درېیمه د برتانوي سفیر "کیوناري" او د ورسره هیئت وژلو لیټن نور هم وخښماوه، چې د نومبر پر لسمه یې په لندن کې د هند وزیر (کرین بروك) ته داسې ولیکل: "تور نو پر افغانستان د یوې واحدې ادارې چلول عملا امکان نه لري او زموږ ټول راتلونکي عملیات باید د همدغسې یوې لاسته راوړنې په خاطر لوری ومومي." کرین بروك د لیټن له دې مفکورې سره چې ویل یې: "افغانستان باید په مجموع کې نور نو وجود و نه لري!" موافق و. لندن یوه میاشت وروسته یعنې د دسمبر پر یوولسمه د افغانستان له تجزیې سره خپله خوښي اعلان کړه او د وروستۍ منظورۍ په تمه شو.

لیټن د ۱۸۸۰ د جنوري پر اوومه کرین بروك ته د خپل یو مخفي لیك په ترڅ کې ټینګار وکړ، چې "هرات او سیستان دې ایران ته وسپارل شي..." په کابل او کندهار کې دې د انګریزانو تر څارنې لاندې دوه بېلا بېل دولتونه جوړ شي. پښین، سیبۍ او کورمه دې مستقیما تر برتانوي

کنټرول لاندې راشي او د امو ولایت برخلیك دې وروسته وټاکل شي....» د همدغسې تجزیې پر سر غور روان و، چې په کابل او غزني کې د انګریزانو پر خلاف ملي پاڅون زور واخیست او سختې مرګ ژوبلې پېښې شوې. لیټن دغو پرمختیاوو ډېر تلولی او خبښمن کړ او په کابل کې یې جنرال رابرټس ته هدایت وکړ چې «هر افغان باید د برتانوي ځواك په غچ اخیستونکې وسلې سره ووژل شي.» (اوځکه نو د کابل د لوی امام په ګډون تقریباً سل کسه افغانان په دار وځړول شول). نوموړی د یوه جزا ورکوونکي عمل په توګه د افغانستان تجزیې ته نور هم لېونی شو.

د لیټن په وړاندې اصلي پلان له افغانستانه د کندهار بېلتون و، چې په دې اړه لومړنی ګام وړاندې لا اخیستل شوی و. د جنرال دونالد سټیوراټ په مشرۍ د انګرېزانو دوولس زره کسیزه پوځ د ۱۸۷۸ د نومبر پر ۲۱مه د کندهار د پښین ولسوالي ته داخل او ښار تر یوې نیمې میاشتې یانې د جنوري پر اوومه سقوط کړی و. له افغانستان څخه د کندهار د بېلیدو پلان د ۱۸۸۰ د اپرېل پر لومړۍ نېټه عملاً پیل شو. لاردلیټن د کرین بروك تر منظورۍ وروسته شېرعلي د احمد خان زوی د «کندهار او ورپورې سیمو د خپلواك «والي» په توګه وټاکه او اعلان یې وکړ، چې کندهار نور د تل لپاره له کابله بېل کړای شو. ډګروال سینټ جان په کندهار کې د انګرېزانو سیاسي افسر د مۍ پر یوولسمه یوه لویه غونډه راوبلله او د هغې په ترځ کې یې د کندهار ولس له دې اقدامه خبر کړ. سنټ جان د دې غونډې پر مهال شېرعلي خان «کندهار او ورپورې سیمو د والي» په توګه اعلان کړ والي هغه چا ته ویل کېده چې په کورنیو چارو کې به خپلواك او په بهرنیو چارو کې به د برتانویانو تابع و).

نوموړي په دې مراسمو کې د «ولایت تورهٔ د شېرعلي تر ملا وتړله او مبارکي یې ورکړه. شېرعلي هم خپل ګوداګیتوب داسې اعلان کړ: «هیله من یم چې ډېر ژر داسې موقع په لاس راشي چې دا توره د برتانوي دولت د خدمت په لار کې له تیکې راوباسم.» خو په حقیقت کې د هغه توره په تیکې کې زنګ ووهله، چې تر یوه کال وروسته په مړو سترګو له انګریزانو سره د تل لپاره له افغانستانه ووت او په کراچۍ کې مېشت شو. د کندهار ټولې سیمې د انګریزي پوځ له خوا ساتل کېدې او اصلي واك د برتانوي سیاسي افسر «اولیورسنټ جان» په لاس کې و. یوازې په ظاهره سکه او په جوماتونو

کې خطبه د شېرعلي خان په نوم وه. تر دې وروسته "د کندهار پوځ" هم جوړ کړای شو، چې مالي لګښت يې د برتانوي هند له خوا کېده.

کندهار څه کم دوه نيم کاله له افغانستان څخه جلا شو، چې په دې کې يو نيم کال مستقيماً د انګرېزانو او پاتې يو کال د هغوی تر پالنې لاندې د يو بېل هېواد په توګه اداره کېده، چې د ميوند د سپېڅلې او تاريخي جګړې په برکت بېرته د خپلې مور تودې غېږ ته ولوېد.

ملي پاڅون د موج په حال کې و، چې دوې پرمختياوې پېښې شوې، يوه دا چې په لندن کې د ۱۸۸۰ کال د اپرېل په پای کې د محافظه کار ګوند په زيان انتخابات ليبرال ګوند وګټل، چې له افغانستانه يې د خپل پوځ د "شرافتمندانه" او "عزتمندانه" ايستنې ژمنه کړې وه. بل دا چې د هېواد په شمال او جنوب کې د سلطنتي کهول څخه دوه ځوانان را پيدا شول، چې مخ پر کابل د يون په حال کې وو. سردار عبدالرحمن خان د امير محمد افضل خان زوی له تاشکند څخه د شمال له خوا او سردار محمد ايوب خان د امير شېرعلي خان زوی د هرات له خوا په بېلا بېلو ډولونو را روان وو. لومړنی يون "محتاطانه" و، په داسې حال کې چې هغه بل يون "جګړه ييز" و. ايوب خان د ۱۸۸۰ په لومړيو کې دوه درې ځله عبدالرحمن ته د جهاد بلنه ورکړه، چې انګرېزان د شمال او جنوب له خوا يو دم وځپل شي، خو عبدالرحمن په دې او هغه پلمه له داسې کاره ځان ژغوره. انګرېزانو د دې نويو پرمختياوو په ليدنه او شننه سره تصميم ونيو چې عبدالرحمن خان غوره کړي، ځکه له هغه سره د روسيې رضايت هم مل و، حال دا چې د ايوب خان انګريز دښمنه احساسات هغوی ته پوره ثابت وو. وايسرا "ليپل ګريفن" موظف کړ چې کابل ته وخوځي او له عبدالرحمن خان سره تماس ټينګ کړي. د هغوی دواړو تر منځ د څو ليکونو په راکړه ورکړه سره دوه اړخيز باور ايجاد او زيات شو. ګريفن هغه امير کېدو او کابل ته په راتګ باندې هڅاوه، خو عبدالرحمن خان د ۱۸۸۰ په مې کې لاندينې معلومات وغوښتل:

الف- زما تر واک لاندې سيمو - پولې به تر کومه ځايه وي (څومره افغانستان راکول کېږي)؟

ب- ايا کندهار به هم په هغه کې شامل وي که نه؟

ACKU

گريفن د جـون پر ۱۴مـه ورتـه وليکـل چـې د کندهـار پراخـه سيمه د کـوم بـل واکمـن پـه واك کـې ورکـول شـوې حـال دا چـې د پښيـن او سـيبي ولسـوالى د برتـانيې تـر همېشني کنټرول لاندې راغلـې دي. عبدالرحمـن خـان يـوه اوونـى وروسته ورتـه وليکـل چـې دى دهغـه افغانسـتان د ورسپارنې څخـه ډېر خـوښ دى چـې حـدود يـې لـه امير دوست محمـد خـان سره د لاسليك شـوي تـړون پـر اساس تثبيت شوي وو، خـو د هـرات پـه هکلـه يـې وليکـل، څنګه چـې هلتـه د ده د اکـا زوى محمد ايـوب خـان والـي دى، نـو پـر همدې مقام بـه يـې پـرېږدي. بايد وويـل شي چـې لـه امير دوست محمـد خـان سره دوه تړونـه لاسليك شـوي وو- لومـړى د ۱۸۵۵کـال تـړون چـې پـه هغـه کـې کندهـار ور څخـه بـېل کـړاى شـوى و او دويـم د ۱۸۵۷ کـال تـړون چـې پـه هغـه کـې کندهـار لـه افغانسـتان سره بېرتـه ملحق شـوى و، خـو مـهم ټکـى دا دى چـې لومړنـى تـړون دايمـي او دويـم تـړون پرتـه لـه يـوې مـادې څخه موقتـي و، نـو لـه دې نـه ثـابتېږي، چـې عبدالرحمن خان پـه ځيرکـى سره دکندهـار لـه اخيستو څخـه تېر شـو، کـه نـه د هـرات د اخيستنې لـه اشـارې سره بـه يـې د کندهـار ذکـر يـا د ۱۸۵۷ کـال د تړون يادونـه هـم کـړې واى او دا بېلـه شکـه ځيرکانـه تجـاهل و.

ريپـن (نـوي وايسـرا) د عبدالرحمـن لـه دې نامشـخصې ځرګندونـې څخـه ډېر خـوښ شـو او هرينـګ ټن تـه يـې وليکـل چـې "دا کفـايت کـوي چـې نومـوړى (عبدالرحمـن خـان) زمـوږ پـه دې اراده پوهـېږي چـې مـوږ کندهـار ده تـه ځکـه نـه ورکـوو چـې د هغـه لپـاره يـو بـل پـلان لـرو." وايسـرا پـه کـابل کـې سـټيوراټ تـه واك ورکـړ چـې عبدالرحمـن د کـابل او ورپـورې سـيمو" د امـير پـه تـوګه رسـماً ومنـي او هغـه هـم پـه داسې حـال کـې چـې عبدالرحمن لا پـه چاريکـار کـې و، د ۱۸۸۰ د جـولاى پـر ۲۲مـه د يـوه دربـار پـه رابللـو سره عبدالرحمـن د "کـابل" او مربوطو سيمو د واکمن پـه تـوګه اعـلان کـړ.

د کـابل د پرمختيـاوو تـر څنـګ هلتـه پـه بـېل شوي کندهـار کـې عـام خـبـم راپورتـه او انـګرېزان پـه سـختو امنيتـي سـرخوږيو کـې رانغښتـي وو، مثـلاً پـه ښکـاپـور بـازار کـې د قـاضي دانـې تـر څنـګ د يـو بـوټ جوړوونکـي لـه خـوا پـه رنـده سـره پـر سـنټ جـان بـاندې حملـه او د نـواب غـلام حسـين هنـدي او انګريـزي سـاتونکي لـه خـوا د هغـه ژغـورل او د مـوچـي نيـول او وروسـتـه ځـړول. د يـو بـل ځـوان لـه خـوا پـه چـاړه سـره پـر څو انګريـزي عسـکرو حملـه او د تـوپخـانـې د يـو افسـر وژل او وروسـتـه د ده ټوټـه ټوټـه کـول. د پنځـو طالبـانو لـه

خوا د انګريزانو د سپورټ په ميدان کې پر هغوی حمله او د څو پوځيانو وژل. يو بل ځوان چې نور احمد نومېده پر انګرېزانو بريد وکړ او څو کسه يې ووژل. يو کليوال چې کله د خپلو دوو زامنو په ملګرتيا څو کسه انګريزي عسکر وليدل، نو خپل اوښان يې ايله کړل او اووه کسه يې ووژل، څو چې دوی هم پسې شهيدان شول. ښاريانو پر انګريزي توپخانې ناڅاپي بريد وکړ، دښمن هم په وارخطايي سره ځواب ووايه، خو په نتيجه کې يې خپل ګن شمېر پوځيان ووژل. کليوالو د ګرشک او ښار تر منځ د انګرېزانو پر درنو وسلو چريکي بريدونه وکړل، چې زيات نقليه وسايل يې ور څخه يووړل او د سر زيات زيانونه يې ور واړول. انګريزي پوځيان وروسته د ښار په څلور دېوالي کې محصور او پرله پسې له نامنظم جنګ سره مخامخ وو. مبارزينو به تل د دښمن د پياوړي توپخانې د شنډولو په خاطر د هغوی لوی حيوانات له منځه وړل. لکه څنګه چې د هغوی دومره زيات اوښان ووژل شول چې ان تولو سيمه بوی پر سر اخيستې وه. له دې نه پرته د انګرېزانو کاروانونه او رسد هم تل د چريکي حملو ښکار و، چې دې کار هغوی تر سپېره راوستلي او بېزاره کړي وو، (خو د افغاني تاريخ د وياړلو پېښو مسخ کوونکي او مرموز ليکوال صديق فرهنګ دا چريکي عمليات له بده مرغه تروريستي اعمال بولي.)

د مخورو او مشرانو لويه تمه دا وه چې د ايوب خان په مشرۍ له هراته افغاني پوځيان را ورسېږي څکه داسې اوازې را رسېدې او ملت د عمومي قيام لپاره ساه اخيستله.

د کندهار پوځي قوماندان جنرال بوروز او سياسي افسر ډګروال سنټ جان ته د ۱۸۸۰ د جولای پر دوولسمه خبر راغی چې د ايوب خان د پوځ مخکښه ځواك واشير ته را رسېدلی او دی په خپله هم له هغه نه ډېر لرې نه دی. د جولای پر شلمه يو برتانوي غونډ هلمند ته ولېږل شو او په همدې ورځ د ايوب خان په مشرۍ مبارزين هم د ميوند پراخې دښتې ته را ورسېدل. دواړه پوځونه يوه اوونۍ يو بل ته مخ په مخ پراته وو، خو چې د جولای پر ۲۷مه دومره سخت جنګ ونښت چې په اسيا کې يې د انګرېزانو ملا ور ماته او د افغانستان سره د کندهار د بېرته پيوستون باعث شو. ښځو او پېغلو هم دې جګړې ته ودانګل. پېغلې ملالې د يوه ټيټې افغان

څخه توره واخيسته او خپل پوړنی يې د جنډې غونډې ور پورې وتاړه او د غازيانو وينې يې په دې لنډۍ سره په غورځنګ راووستې:

خال به د يار له وينو کېږدم
چې شينکي باغ کې ګل ګلاب و شرمه وينه
که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

د انګريزي مورخينو په حواله د ميوند په جګړه کې د جنرال بوروز څه د باندې دوه نيم زره پوځيانو برخه لرله چې يو کنډك يې له انګريزانو او دوه کنډکونه يې له هنديانو څخه جوړوو. په دې جګړه کې د هغوی د انګېرنې له مخې (۱۳۰۰) انګريزي پوځيان له منځه ولاړل او زيات توپونه او وسلې يې هم ولجه شوې. يو برتانوي افسر مك لاين" ژوندی ونيول شو، چې وروسته محاکمه شو. ۶۶ مه نومره برتانوي کنډك پرته له يو کس نه ټول تباه شو. د جګړې څخه يو بچ شوي برتانوي افسر خپل کهول ته داسې وليکل: "يوه ستره تباهي را په برخه شوه، زموږ جنډې، نښانونه، د موسيقۍ ترومان او ډولونه او يو څه د مهماتو په شمول دښمن را څخه ولجه کړل، زه وروسته له هغه چې ما ته راګډه شوه، درې ځله پر ځمکه ولوېدم حال دا چې زموږ ځواکونه له زياتې وېرې څخه دورې هورې تښتېدل، زموږ تورن ووژل شو، شپه تر سهاره د منډو او تعقيب په حال کې وو..." په دې جګړه کې د ۷۰۰ کسو په شاوخوا کې افغانان هم شهيدان شول چې نن د ميوند اديره وربانده ويارې.

انګريزانو له افغانانو سره تر خپلې لومړۍ جګړې وروسته دومره ستره ماته نه وه خوړلې او په دې ډول د هغوی برم ته سخت زيان ورسېد. د ګليډستين نوی ليبرال حکومت ډېر سرخوږی شو. لندن د دې ستر ناورين له کبله د خپل افغاني سياست د ګرندي بدلولو په لټه کې شو او وايسرا ته يې هدايت ورکړ، چې د امير عبدالرحمن خان سره د روغې جوړې له مخې ګامونه واخلي. هرينګټين په هند کې وايسرا (ريپن) ته وليکل چې "د برتانيې سياست پرته له دې چې افغانستان دې تجزيه کړي نور نو بايد داسې وي چې د هغه له مخې د نورو له مرستې پرته يو غښتلی افغانستان منځته راشي. د کندهار د بېلتون پر مسئله دې له سره غور وشي او هرات دې هم په دغسې يو متحد افغانستان کې شامل کړل شي."

د میوند ماتې وایسرا دریو بیړنیو ګام اخیستنو ته اړ یوست. لومړی د برتانیې د بې حیثیتۍ په بدل کې ایوب خان ته غابښ ماتوونکی ځواب، دویم د امیر عبدالرحمن خان هڅونه او د زیاتې مالي پوځي مرستې ورکړه او دریم د کندهار "واکمن" شیرعلي ته یې د هغه د بې کفایتۍ او ناپسندۍ له امله تقاعد ورکړ.

د لومړني ګام په توګه د ۱۸۸۰ کال د اګست پر اوومه امیر عبدالرحمن خان کابل ته داخل او انګریزي پوځونه له هغه ځایه څخه ووتل. د دې پوځ له منځه لس زره ډېر تکړه او جنګیالي پوځیان له زیاتو او درنو وسلو سره د جنرال فریډ ریك رابرتس په مشرۍ د ایوب خان د ځپنې لپاره مخ پر کندهار وخوځېدل او پاتې یې د جنرال ستیوراټ په مشرۍ د جلال آباد له لارې هند ته ولاړل. البته له هند څخه هم تازه ځواکونه د سیبۍ د اورګاډي له سټېشن او هم د بولان او کوږك له لارې کندهار ته ولېږل شول. جنرال رابرتس د غزنې، مقر او کلات مجاهدینو ته د عبدالرحمن خان د لیکونو او له دې پوځ سره د خپلو استازیو په لیږنه او داډ سره وکولای شول چې له کوم خنډ پرته په ۲۳ ورځو کې کندهار ته ورسېږي او په هماغه سبا پر ایوب خان یرغل وکړي. د ایوب خان پوځ په پېر پایمالو بابا ولي او چهل دختران کې له کلك مقاومت سره سره ماته وکړه او خاکریز ته پر شا شوو چې وروسته نادري او بیا هرات ته وخوځېد. په دې ډول د میوند غچ واخیستل شو او کندهار بېرته د انګریزانو په لاس کېوت.

د دویم ګام په توګه د وایسرا په لارښوونه ګریفن له امیر سره د جولای پر ۳۱مه او د اګست پر لومړۍ نېټه د کوهستان په زهه کې وکتل. عبدالرحمن د کندهار او هرات له غوښتنې څخه تېر شو، خو څرګنده یې کړه چې (که په دې اړه کله هم کومه ستونزه پېښه شي) د داسې شرم څخه د برائت په خاطر باید څه وشي او هیله یې وکړه چې کلات دې د ده په سلطنت کې شامل کړل شي. هغه له ګریفن سره د یو پټ ملاقات غوښتنه هم وکړه، چې ومنل شوه. عبدالرحمن خان په دې خصوصي (یو په یو) کتنه کې زیاته نغدي او پوځي مرسته وغوښته او ویې ویل: "دا به د سرکار (برتانیې) په ګټه وي، که دی په ټولو ممکنه لارو سره تقویه کړي او دی به دغسې احسان هېڅکله هم هېر نه کړي..." خو له بده مرغه د عبدالرحمن دریو نیمګړتیاوو د افغانستان ځمکنۍ چوکاټ مات او ملي ګټې خاورې

کړي. یانې: الف- د سیاسي مقاومت له لاسه ورکول. ب- د برتانیې د بدل شوي سیاست څخه بې خبري او ج- د انګرېزانو د خطرناك او ضعیف شوي حالت څخه ګټه نه اخیستل.

همدا وجه وه چې هغه د افغانستان پر ځمکنی بشپړتیا ټینګار و نه کړ، که نه باید له افغانستان سره یې د کندهار، هرات، خیبر، کورمې، سیبې او پښین بېرته الحاق ته لیچې نغښتې وای.

د درېیم ګام په توګه وایسرا د ۱۸۸۰ د جولای پر ۳۱مه د هند وزیر هرنیګتن ته پر یو تلګرام کې ولیکل چې "... د وروستنۍ ماتې (میوند) په بدل کې موږ ته ښایي چې هغه (والي) تنزیل مقام کړو او هغه باید زموږ تر پالنې لاندې په هند کې استوګن شي." انګرېزانو د میوند ماتې د "والي" د خیانت، دوه مخۍ او بې کفایتۍ څخه انګېرل. پس نو مهم سوال دا و چې کندهار باید چا ته سپارل شوی وای؟ که کوم "باکفایته" او "دوست" افغان واکمن نه وای پیدا شوی، نو بیا یوازینۍ چاره دا وه چې کندهار هم د کابل تر څنګ عبدالرحمن ته سپارل شوی وای. هغوی هڅه وکړه، خو مطلوب ځواك پیدا نه شو.

د لندن کابینې لارډ رېپن ته په دې هکله بشپړ واك ورکړ، چې له شرایطو او پرمختیاوو سره سم اجرائت وکړي. خو د رېپن په وړاندې درې مسئلې پرتې وې: لومړی والي شېرعلي ته به ورکړي ضمانتونه او بیعانې څنګه کېږي. دویم د امیر عبدالرحمن له خوا به کړې ژمنې او راتلونکې ارادې څنګه وي او درېیم: د کندهار راګرځول به څومره اهمیت ولري.

د لومړۍ مسئلې د اوارولو په خاطر "والي" وهڅول شو چې د زیات مبلغ تقاعد په منلو سره په هند کې سوکاله ژوند غوره کړي او همداسې هم وشول. د دویمې مسئلې د حل په منظور له افغانستان سره د کندهار یو ځای والی د امیر عبدالرحمن په دوستۍ، صداقت او ښه نیت پورې وتړل شو، چې تر دې وخت لا عملاً ثابت شوی نه و. همدا وجه ده چې د کندهار سپارنې په قطع بازۍ یا پټو کې د رنګ حیثیت لاره. یانې چې څنګه برتانیې غوښتل هغه پته یې ور باندې ماتولای شوه. د درېیمې مسئلې حل یانې د کندهار راتلونکې برخلیك ډېره موده وځنډېده، ځکه برتانوي جنرالانو د مهم ستراتیژیکي دریځ په وجه د کندهار تخلیه نه غوښته په داسې حال کې چې ملکي او سیاسي افسرانو د کندهار مالي رسیدګي د

هغه له ستراتيژيکي اهميت څخه درنه او ملا ماتوونکي ګڼله. وايسرا د دې مشکل د اوارولو پرېکړه له لندن څخه وغوښتله او د ۱۸۸۰ د سپټمبر پر شپږمه يې د هند له وزير څخه وپوښتل چې "آيا تاسې غواړئ چې له کندهار څخه موږ په بشپړ ډول ووزو او هغه له کوم بدلون پرته بېرته له افغانستان سره يو ځای کړل شي؟ زه خو په خپله د همداسې ګام اخيستو پلوی يم..." د هند وزير د سپټمبر پر نهمه تلګرامي ځواب ورکړ، چې "موږ د پخوا په څېر د کندهار د بشپړې او بېړنۍ تخليې په انديښنه کې يو او که عبدالرحمن هغه حکومت هم غواړي نو دا به ښه خبره وي، چې هغه بېرته له افغانستان سره يو ځای کړل شي. موږ فرصت او اينده ټوله تا ته در سپارو خو د پښين او سيبۍ د راګرځولو مفکوره بايد درسره وي."

لندن په خپل دې "ترمښت" سره روسيې ته خپله په اصطلاح سوله ييزه تګلاره هم په نظر کې ورکوله. څکه روسيې په کندهار کې د برتانيې شته والی نه خوښاوه، کټ مټ لکه برتانويان چې په مرو کې د روسانو حضور وارخطا کړي وو. د روسيې د نرمولو په خاطر ان لندن د پښين او سيبۍ تخليې ته هم چمتووالی وښود، خو کابينه په دې اړوند پر دوو برخو ووېشل شوه. ناربت بروك او نورو د پښين او سيبۍ په شمول د ټول کندهار تخليه غوښته حال دا چې هرينګتن بېطرفانه دريځ لاره او صدراعظم (ګليډسټن) بې تفاوته و. عيناً اختلاف د وايسرا (ريپن) په ملکي شورا کې هم روان و، لاکن ريپن د کندهار پر تخليه او د پښين، سيبۍ پر نيونه ټينګ و.

د کندهار ستونزه او برخليك د پورتنيو عواملو له امله څه موده نور هم همدغسې کش را کښږده او کابينه نو نور د دې اختلاف او بې تصميمۍ څخه ډېره ستومانه شوې وه. پای دا شو چې د ۱۸۸۰ په نوامبر کې د دولت وزير وايسرا ته خبر ورکړ چې د پښين او سيبۍ د بېرته ورکړې موضوع نور نو هېڅ نشي مطرح کېدای او ريپن ته واك ورکړل شو چې د کندهار د راتلونکي په هکله دې له امير سره خبرې اترې وشي او که چېرې دا خبرې ناکامه شي، نو بيا دې د افغاني مشرانو يوه جرګه راوبلل شي، چې هغوی په خپله فيصله وکړي، خو د يادونې وړ ډېر مهم ټکی دا دی چې د لندن کابينې پرېکړه وکړه، له کندهار څخه د برتانوي پوځ تر وتنې وروسته به د مسلطو شرايطو په پاملرنې سره سيبۍ او پښين هم بېرته

افغانستان ته وسپارل شي او دا اوسنی راگرځونه به موقتي وي، خو له بده مرغه تر دې تخلیې وروسته که څه هم چې په سیمه کې هیڅ کوم خارجي خطر وجود نه لاره، مگر بیا هم دا سیمې په ۱۸۸۷ رسماً او دایماً له افغانستانه بېلې کړای شوې.

له پلان سره سم د وایسرا او امیر تر منځ د کندهار په اړه له همدې نومبر څخه مکاتبې پیل شوې، څو امیر خبر کړای شو چې برتانوي پوځیان به د ۱۸۸۱ د اپرېل تر پایه له کندهاره ووزي. څکه په لندن کې د نماینده گانو مجلس د مارچ پر ۲۴مه او ۲۵مه په ۱۲۰ رایو سره د کندهار تخلیه رسماً منظور او پاس کړه. برتانوي پوځ د پروگرام له مخې د ۱۸۸۱ د اپرېل تر ۲۷مې نېټې له کندهاره ووت او هغه یې عبدالرحمن خان ته وسپاره. د برتانیې بیرغ د یوویشت توپونو په سلامی سره راکښته شو او انگرېزان او افغانان دواړه په دې توگه د مبتلا مصیبته خلاص شول، خو دا چې د کندهار ځینې برخې لکه سیبی، کوټه، چاغي، ژوب، پښین، چمن... له انگرېزانو سره پاتې شول، مانا دا چې هغوی نیم کندهار په خپله واکمنی کې مدغم او له افغانستانه بېل کړ، په داسې حال کې چې امیرعبدالرحمن خان د مرکزي کندهار په وړیا اخیستو سره دومره خوشحاله شو، چې د پاتې کندهار غوښتنه یې (د عادت له مخې) هېره کړه.

لنډه دا چې ننني کندهار له ۸۸۸ ورځنۍ بېلتانه وروسته د میوند د تاریخي سوبې په نتیجه کې بېرته د خپل مورني هېواد افغانستان تودې غېږ ته ولوېد او د انگرېز - افغان دویمه جگړه په دې وتنه سره پای ته ورسېده، چې په بېلو وقفو سره یو لك او څلوېښت زرو انگریز پوځیانو برخه لرله او درې زره کسه یې تلفات او څلوېښت ملیونه پونډه یې لگښت وشو.

ایوب خان چې کله د ۱۸۸۱ د جولای پر ۲۷مه کندهار بېرته له امیر عبدالرحمن خان څخه ونیو، نو امیر د انگریزانو څخه د زیاتي مالي او پوځي مرستې تر اخیستو وروسته په سپتمبر کې د ایوب خان د دوو کابلي کنډکونو په پیرېدلو سره هغه بېرته مات او هرات ته وشاړه او تر یوې میاشتې وروسته یې هرات هم ور څخه ونیو، چې هغه ایران ته ولاړ. وایسرا د دغو پرمختیاوو په نتیجه کې د دولت وزیر ته وړاندیز وکړ، چې نور نو دې عبدالرحمن ته د "کابل او ورپورې سیمو" د امیر په بدل کې د "افغانستان او ورپورې سیمو" د امیر خطاب وکړل شي. لندن هم د دې

وړانديز تر منظورۍ وروسته د پر ژر عبدالرحمن په رسمي توګه د "افغانستان او د هغه د مربوطاتو" امير اعلان کړ.

تر دې وروسته افغانستان د انګريزانو د "پوځي جنګ" نه بېغمه شو، خو له بده مرغه د هغوی "په سياسي جنګ" کې راونغښت، چې په نتيجه کې پر ۱۸۹۳ کال د ډيورنډ د منحوس تړون په تحميل سره د انګريزانو د زره بړاس ووت او افغانستان د دريم ځل لپاره وسکڼل شو. په همدې مناسبت په ځينو برتانوي آثارو خپرونو کې دا خبره ذکر شوې چې "هېڅ يوه ولس انګليستان ته دومره ناګومانه سوغوتانه نه دي ورکړي، لکه افغانانو چې ورته تقديم کړي دي..."

هو، افغان ولس بالاخره په خپل مټ د همدې توږلې او نښتېځلي افغانستان سياسي خپلواکي د ۱۹۱۹ د اګست پر نولسمه د همدې انګريزانو څخه واخيسته چې د همغه اتيايمه کاليزه دې پر ناستو ټولو حاضرينو مبارك او نېکمرغه وي.

هيله ده چې پورتنۍ ليکنه د نن ورځې له موضوع سره د پره بې ربطه نه وي.

*اخځليک:*


۱- غبار، مير غلام محمد: افغانستان درمسير تاريخ، تله، ۱۳۴۶، کابل.
۲- رشتيا، سيدقاسم، افغانستان درقرن نزده، سلواغه ۱۳۴۶، دريم چاپ، کابل.
۳- کاتب، فيض محمد: سراج التواريخ، ۱۳۳۱هـ. ق. کابل.
۴- حبيبي، پوهاند عبدالحی: د افغانستان پېښليك، لومړی ټوك، ۱۳۵۳ل، کابل.
۵- عطايی، محمد ابراهيم: د اسيا په زړه کې توپان: ۱۳۵۹ل کابل.
۶- خالفين: نفتوله: انګلستان د افغانستان پر ضد، د شاه محمود نيك ژباړه، ۱۹۸۰، ماسکو.
۷- فرهنګ، مير محمد صديق: افغانستان در پنج قرن اخير، لومړی ټوك، ۱۳۷۱، مشهد، ايران.
۸- وفا جريده، شپږم کال، ۲۹-۳۰ ګڼه، حمل، ۱۳۷۶، پېښور.

9- D. P. Singhal: India and Afghanistan 1876-1907, 1962, New Delhi.
10- Ludwig W. Adamec, Who's Who of Afghanistan, Graz- Austria, 1975.
11- Ludwig W. Adamec, Historical Dictionary of Afghanistan. New Jersey, 1991.
12- Ludwig W. Adamec, Afghanistan Foreign Affairs to the Mid-Twentieth Century. Tucson, Arizona, 1974.




ACKU

ډاکټر رحمت ربي زيرکيار

# په لرې او برې پښتونخوا کې د روڼ فکرانو سیاسي پرځنګونه

د يوې ټولنې تنظيمول او د انتظام ساتل يوازې په زور نه چلېږي، بلکې تفکر ته هم کلکه اړتيا لري. روڼ اندي که څه هم په فکر (Idea) کې اخته وي او درناوی يې کوي، په مجموع کې په دې هم پوهېږي چې سپېڅلی فکر د خاورين انسان عقل او ابتکار ته پاټکه نيسي او فکر چې هر څومره مقدس وي، هغومره د خاورين انسان له سپېڅلي بغاوت سره لاس و ګرېوان وي. د ستالين، هيټلر، ماوتسيتونګ، پولپوت او... بشپړو خوبونو د خاورينو انسانانو ککرې وخوړلې. روښاندانو په تورتم کې ډيوې په لاس کې نيولې وي او د ناممکن په لټه کې وي. ډاکټر هينري کيسنجر چې د امريکې په بين المللي سياست کې نظري او عملي پوخوالی لري، منورين او واکمن له يو بل سره داسې پرتله کړي دي: "منورين د بين المللي نظامونو عمليات څېړني، واکمن يې جوړوي... تحليلګر د خپلې څېړنې موضوع غوره کولی شي، خو په واکمن باندې مسايل وړپتل کېږي، تحليلګر د خپلې څېړنې څخه د څرګندې پايلې د اخيستلو لپاره پوره وخت لري، خو د واکمنانو غټ مشکل دا دی چې د وخت د فشار سره مخامخ وي." يانې په تنګ وخت کې د واکمنانو پرېکړې تاريخ ته په ميراث رسېږي او د منورينو د څېړنو وړانګې د راتلونکي نسلونو په مغزو کې جاله جوړوي.

د یوویشتمې پېړۍ په درشل کې په وروسته پاتې افغانستان کې د روڼ اندتیا څېړنې کړکېچو ښکاري، خو دا چې په داخلي تخنیکي وروسته والي او د افغانانو په استعمار دښمن پرځنګ باندې رڼا واچول شي، استعمارچیانو به د خپلو (ملي) ګټو د خوندي کولو لپاره په مستعمرو کې د مصنوعي کرښو په واسطه مصنوعي "اداري ملتونه" (Administrative Nations) جوړول او د واحدو متلونو راشه درشه او قدرت به یې غوڅول.

انګریزي استعمار په نولسمې زېږدي پېړۍ کې لومړۍ او پښتنور د افغانستان څخه د رنجیت سینګ په واسیله وشوکاوه (۱۸۵۳). وروسته یې د ګندمک د رټلي معاهدې (۱۸۷۹) په واسطه افغانستان په نیمه مستعمر هېواد واړاوه (د افغانستان بهرنی او دفاعي سیاست د انګرېزانو په "غوښتنې او مشورې" پورې وتړل شو)، بحر ته یې د افغانستان لار غوڅه کړه او په دې ډول یې په ټول هېواد کې د راتلونکې اقتصادي پرمختګ لپاره یو غټ خنډ را پیدا کړ. اټکل (۱۵) کاله وروسته په ۱۸۹۳ زېږدي کال انګریز واکمنانو د "ډیورنډ" شرمونکې معاهده پر امیر عبدالرحمن ور وتپله. څلور کاله وروسته په جون (۱۸۹۷) کې افغان ملت د ډیورنډ د رټلي کرښې په دواړو خواوو کې د استعماري سیاست پر ضد ناڅاپي پاڅون پیل کړ. دغه پاڅون چې پوره یو کال دوام یې وکړ، په وزیرستان کې پیل شو او په شمال کې د چترال پورې وغځېده. د ملي پاڅون د مخنیوي لپاره انګرېزي استعمار پر ۱۹۰۱ زېږدي کال NWFP (شمال غربي سرحدي صوبه) جوړه کړه او په همدغه کال یې د فخر افغان (باچا خان) په وینا "تور" قانون راوویست چې Frontier Crimes Regulation نومېده.

لکه چې وینو په نولسمې زېږدي پېړۍ کې په افغانستان باندې د انګریزي استعمار د یرغلونو، ګواښونو او دسیسو په نتیجه کې د ویداند سیدجمال الدین افغان او د امیر شېر علي خان سمونیزې هڅې چې په افغانستان کې د مرکزي دولتي اداري په غښتلتیا را څرخېدلې او د ملي تولنې د جوړولو تنسته په کې غځېدلې وه- په زړه کې وچې شوې. دغه شان د افغانستان د ویشلو له امله منورین په لرې او برې خوا کې مجبور وو، چې بېلا بېل اصلاحي کوښښونه او ملي خوځښتونه پیل کړي. په دغو جریانونو کې یو له یل بل سره راشه درشه او پیوستون پوخوالي ته و نه رسېد. په لرې خوا کې د استعمار په ضد او پیوستون پوخوالي ته و نه

ACKU

رسېدل. په لرې خوا کې د استعمار پر ضد او دملي تولنې د ملي دولت د جوړولو لپاره پر ځنګ روان و. په برې خوا کې دولت شته و، خو کله به ګوډاګی و، کله به بې وسه و، کله به نسبتاً مستقل و او په هر حالت کې به د ملي هويت په بحران اخته و. بې کابله پښتون ورك و او بې پښتونوره کابل سپك.

کله چې "پولادي امير" يا امير عبدالرحمن خان په ورووسته پاتې او شليدلي افغانستان کې قدرت ته ورسېد (۱۸۸۰) مجبور و چې تر هر څه مخکې د دولت مرکزي قدرت غښتلی کړي. د دغه غټ ملي هدف لپاره امير عبدالرحمن د عسکرو او پوليسو تقوي ته کلکه اړتيا لرله. پولادي امير په دې پوهېده چې د هېواد او دولت موجوديت له دموکراسۍ څخه وړاندې دي.

عبدالرحمن خان په خپل کتاب کې د خپل زړه هيلي داسې کاږي: "که زه په خپل ژوند کې په دې بريالی نه شم چې د ګاډي پټلۍ وغځوم، د تلګراف تار په پښو ودروم، کارخانې جوړې کړم، معدونونه راوباسم، بانکونه پرانيزم، پيسې چاپ کړم... پوهنتونونه او نورې موسسې په افغانستان کې جوړ کړم، زما زامن او وارثان به زما د زړه هيلې وپالي..."

ميراجان کاکاخېل پر ۱۸۹۹ استراليا ته لاړ او هلته يې اوسېدونکي پښتانه په يوې سياسي تولنې کې راغونډ کړل، چې "مجلس وطن" نومېده. انګرېزانو نوموړی دې ته اړ کړ چې استراليا پرېږدي. کاکاخېل له هغه ځايه د امريکې کليفورنيا ايالت ته لاړ او هلته يې هم يوه سياسي تولنه جوړه کړه. د دغې تولنې له خوا د محمد عزيز يوسفزي په مشرۍ يوه جرګه ګۍ لر افغانستان ته ولېږله شوه، چې پښتانه استعمار دښمن پرځنګ ته راوپاروي. دغه جرګه ګۍ په سينګاپور کې د انګرېزانو په لاس کې ولوېدله. محمد عزيز يوسفزی زندۍ شو او د جرګه ګۍ نور غړي د تول ژوند په بنديتوب محکوم شول. د شلمې پېړۍ په سر کې ۱۹۰۴/۱۹۰۳ ميراجان کاکاخېل د جاپان، روسيې او اوسني افغانستان له لارې لرې پښتونخوا ته لاړ. دی د انګرېزي استعمار پر ضد پاڅون کې د خيبر د پښتنو له خوا مشر وټاکل شو. استعمارچيانو ټينګار وکړ چې کاکاخېل دې د سولې ترون لاسليك کړي. د ترون د لاسليك کولو په مراسمو کې کاکاخېل د انګرېزانو له خوا ونيول شو او مړ ژوندی يې ورك شو.

د پښتنو په ملي اسلامي پرځنګ کې فضل واحد مشهور په ترنګزو حاجي صاحب د پښتنو په ښوونې کې غوڅ رول لوبولی و. د مردان د سیمې د سوابۍ د علاقې په ګد نومي کلي کې یې "دارالعلوم" جوړ کړ (۱۹۰۸-۱۹۱۳) او په نورو ځایونو کې یې هم ښوونځي پرانیستل. د ترنګزو حاجي صاحب په تعلیمي فعالیت کې انګریزانو خپل توان لیده. له دې امله یې نوموړی لومړی بندي کړ (۱۸۱۴) او وروسته یې دې ته اړ کړ، چې خپله سیمه پرېږدي. تورنګزو حاجي صاحب د بونیر، سوات او باجوړ له لارې د ساپیو سیمې ته ورسې او هلته یې په لکړو نومي ځای کې کډه واړوله او له هغه ځایه یې د انګریزي استعمار پر ضد خپل ملي اسلامي پرځنګ وغځاوه. په لکړو کې د حاجي صاحب استوګن ځای دولس له خوا "غازي اباد" ونومول شو. پوهاند صدیق الله رښتین د ترنګزو حاجي صاحب د تعلیمي او ملي نغري هغه بخرکی و، چې په شلمې پېړۍ کې یې د افغانستان د ملي هویت د ټینګولو لپاره د پښتو مورچل ځلاند وساته. (د پوهاند رشتین ډژوند لپاره ولولئ: محمد همایون هما، د پښتو بابا، هیله، دریم کال، دویمه ګڼه، ۲۶-۳۲ مخونه، ۱۳۷۸)

عبدالغفار خان (باچا خان) د ترنګزو حاجي صاحب نوم او په اصلاحي او تعلیمي چارو کې د هغه کړانذې په درنښت یادوي (ولولئ: عبدالغفار، زما ژوند او مبارزه، کابل، ۱۳۵۳ل). عبدالغفار خان (د بهرام خان زوی او د سیف الله خان لمسی) د اشنغر په اتمانزو کلي کې د نولسمې (۱۹) پېړۍ په ایتایمو کلونو کې زېږېدلی و. باچا خان چې وروسته یې پر ۱۹۲۴ د فخر افغان مقام وګاټه، پر ۱۹۱۴ د مولوي فضل محمود مخفي په مرسته په باجوړ کې د ولس د وېښتابه او د کسبګرو د تولیداتو د غښتلي کولو لپاره یو مرکز جوړ کړ. د باجوړ د ماموندو سیمې په بدانو نومي کلي کې یې ګڼ شمېر جولاګان راغونډ کړل. دغې پروژې په ولس کې د "بدانو جولاګانو" په نامه نیك شهرت وګاټه. په لږ وخت کې به یې ډېره بیتی جوړوله او بیا به یې ولس ته په کمه بیه وړاندې کوله. د دغه مرکز غړو به بزګرانو ته د ځارویو د سرې د راغونډولو او د الوګانو او نورو ترکاریو د کرلو او سمبالولو اغېزمنې طریقې ورښودلې. د مرکز غړیو به په جرګو، جوماتونو، ودونو، سونتونو او خیراتونو کې خلکو ته نغوته (نصیحت) کاوه، چې د بې ځایه لګښتونو، ضررناکو رواجونو او غلیمیو

ACKU

څخه لاس واخلي او پر ځای یې د تعلیم او کسب خوا ته مخه کړي. دوی تیارخواره نه وو، بلکې هر چېرې به یې په پټې، د پرې کور او جومات کې د خلکو سره غبرګ کار کاوه او ولسیان به یې د یو بل مرستې ته هڅول.

باچا خان پر ۱۹۲۱ زیږدي کال په دیر او اتمانزو کې دوه ښوونځي جوړ کړل. د دغه "جنایت" په تور باچا خان سم له لاسه د دریو کلونو لپاره اړتون (جېل) ته وغورځول شو. باچا خان پر ۱۹۲۴ له اړتون څخه راووت او د اتمانزو د ښوونځي د درېیم کلن تلین په مناسب ورته ولس د فخر افغان لقب ورکړ. د محمد اکبر خان میا احمد شاه، قاضي عطاء الله، جعفر شاه کاکاخېل او عبدالکریم په مرستې فخر افغان پر ۱۹۲۱ کې د "انجمن اصلاح الافغانه" په نامه ټولنه جوړه کړه. یو کال وروسته پر ۱۹۲۲ عبدالملك فدا یې هم غړی شو. دغه انجمن عموماً د پښتنو په ټولنې کې په اصلاحاتو او په ځانګړي ډول د اتمانزو د ښوونځي په تقویې را څرخېدله. انګرېز کمېشنر فخر افغان ته داسې ګواښېږي: "څرګنده ده چې تاسې اوس ټولنيز خدمت کوئ، څرنګه به په راتلونکي کې تضمین کړئ چې کله پښتانه د تعلیم خاوندان شي، مشلکات به خلق نه کړي". پر ۱۹۲۵ خانمیر هلالي په دې بریالی شو "زلمی پښتون" خپور کړي، پر ۱۹۲۸ د باچاخان په لارښوونې "پښتون" نومې مجلې په خپرولو پیل وکړ. د دغو ټولو کلتوري، ټولنيزو او سیاسي ډلګیو، مرکزونو او ټولنو څخه پر ۱۹۲۹ د فخر افغان تر مشرۍ لاندې یو غټ تنظیم په اتمانزو کې رامنځته شو، چې خدايي خدمتګاران" نومېده.

د باچا خان (فخر افغان) پرځنګ د وینې تویولو او ټوپك چلولو پر ځای په خدايي خدمتګارۍ او عدم تشدد ولاړ و. د فخر افغان د ژوند طرز په دې ټکیو چلېده: په هسك څښتن ایمان، د هسك څښتن د بنده ګانو خدمت، عدالت، ورورولي، خپلواکي امن، عزت، له مظلوم او بې وزله سره مرسته، زده کړه، لارښوونه، مشوره، ساده ژوند او روڼ اندتیا یوې انګریزي مېرمنې چې د باچا خان له کورنۍ سره اوسېدلې وه، پر ۱۹۳۲ یوه انګریزي ژورنالیست ته وایي چې باچا خان له عیسیؑ سره پرتله کېدلی شي: "He is a christ". هغه معنوي مقام چې په شلمې پېړۍ کې مهاتماګاندي په هندویت (Hinduism) کې او په امریکې کې د توربوټکیو مشر ډاکټر مارتین لوترکینګ په عیسویت کې ګټلی دی، د یویشتمې



ACKU

پېژی په درشل کې به له سیاله په اسلامي نړۍ کې د باچا خان لپاره خوندي ښکاري، د باچاخان د ژوند او پرځنګ لپار لاندينی نوی چاپ شوی کتاب ولولئ:

Eknath Easaran, Nonviolent Soldier of Islam: Badshah Khan (Tomales, California, USA/ Nilgiri Press, 1999.

د دې لپاره چې د استعمار تور قانون (Frontier Crimes Regulations, 1901) پر اساس خدايي خدمتګارانو ته د جنايت دسيسه جوړه نه شي، د دغه تنظيمه هدفونه هم ټولنيزه سمونيزه محتوی لرله. د خدايي خدمتګارانو په لوړې کې لاندينی غټ ټکي خوندي شوي وو: "د هسك ځښتن په نامه به خدايي خدمتګاران د هسك ځښتن د بندګانو خدمت کوي، د جګړو، تربګنيو، غچ او نورو غير اجتماعي فعاليتونو څخه به لاس اخلي، هر پښتون به عملاً خپل ورور ګڼي، ساده ژوند به چلوي، له نامناسبو او بې انصافه اعمالو څخه به ځانونه ژغوري. خدايي خدمتګارانو به په کال کې له يوې څخه تر څلورو اوونيو پورې په کمپونو کې تېرولې، دغه تربيوي کمپونه د کلبونو په شان وو. هلته به ډرامې چلېدلې، شعرونه او ويناګانې به وړاندې کېدل او د سياسي او ملي شعور پالنه به کېدله. د خدايي خدمتګارانو غټه جرګه به هر کال په اتمانزو کې راغونډېدله. د خپلواکۍ په پرځنګ کې ښځينه پښتنو هم برخه لرله سيده بشرى بېګم او خادمه صاحبه يې ښې بېلګې دي. د دوی په شعرونو کې چې په (پښتون) کې خپاره شوي دي لاندينی موضوعات ليدل کېږي: د ولس سربښندنې، خپلواکي، د ښځو کلتوري او اخلاقي تربيه.

فخر افغان چې پر ۱۹۴۵ د انګرېزانو له اړتون (جېل) څخه راووت، خپل ولس ته يې په يوې ستري غونډې کې وويل: "موږ په خپلې منطقې کې ولسي حکومت غواړو..." داسې حکومت چې د "ولس په ارادې" ولاړ وي او "د ولس په خدمت کې وي". د فخر افغان دغه دريځ د بنو په تاريخي پرېکړې کې هم منعکس شوی دی. د پاکستان د جوړېدلو څخه يو څه وړاندې، د بنو پرېکړه هغه ملي سند دی چې په حقوقي، سياسي او ټولنيز لحاظ ځانګړې اهميت لري او له دې امله يې بايد د ټول متن د اصل کوپي وښودل شي:

# پښتنو دَ خپل آزاد حکومت فیصله اوکړه

## پښتانهٔ نهٔ هندوستان غواړی نهٔ پاکستان ؛

دَ صوبے دَ جرگے ۔ دَ اسمبلئ دَ ممبرانو ۔ دَ خدائی خدمتگارانو افسرانو او دَ "خلمی پښتون" دَ جرگے یو شریک اجلاس په یویشتم دَ جون ۱۹۴۷ء په مقام دَ بنوں کښ دَ خان امیر محمد خان دَ صدارت دَ لاندِ اوشو ۔ دے اجلاس په اتفاق سره دا فیصله اوکړه ۔ چه په دے ملک کښ د دَ ټولو پښتنو یو آزاد حکومت جوړ شی ۔ چه دَ هغے دَ آئین بنیاد به په اسلامی اُصولو جمهوریت ۔ مساوات او اولسی انصاف باندِ اینبودے شی ۔ دا اجلاس هر پښتون ته اپیل کوی ۔ چه دَ دے اعلیٰ مقصد دَ حاصلولو دَ پاره په یو مرکز باندِ راغونډ شی ۔ او بے دَ پښتون نه دِ دَ بل چا اقتدار ته سر تیټ نهٔ کړی +

له طرفهٔ صوبهٔ سرحد دَ لویٔ جرگے نه "

د بنو د تاریخي فیصلې اصل متن

ACKU

په پورتني ملي سند کې څو ټکي د پام وړ دي:

۱- دغه سند په مجموع کې د پښتنو د سمسمکي (Egalitarian) ټولنې ځرګندوی دی، د پښتنو په خپلې ژبې کې ليکل شوی دی او سبك يې موجز، متن يې پوخ او پيغام يې ځرګند دی.

۲- دغه سند د ټول (لر او بر) افغان د غتې سياسي موسسې يانې لويې جرګې له خوا منل شوی دی: "له طرفه د صوبه سرحد د لويې جرګې نه" په بلې وينا، لويه جرګه په لرې او برې خوا کې د ملي سياسي کلتور د ملا تير جوړوي او په دوارو خواوو کې د فوق العاده ملي موضوعاتو د پريکړې لپاره د رجوع منبع ده.

۳- په دغه سند کې ازاد او عادل جمهوري نظام غوښتل شوی دی: "د ټولو پښتنو يو ازاد حکومت... چې د هغه د ايين بنادي به په اسلامي اصولو جمهوريت مساوات او ولسي انصاف باندې ايښودی شي".

۴- زما په ډېر نري ګومان، په منطقي لحاظ به په برې خوا د شاهي دولت لپاره اسانه نه وه، چې په لرې خوا کې د ټولو پښتنو د عادل جمهوري نظام ننداره وکړي او خوند ورځنې واخلي.

۵- فرض کړئ چې که په لرې خوا کې ۵۲ کاله وړاندې پر ۱۹۴۷ د ټولو پښتنو يو داسې ملي نظام ټينګ شوی وای چې پر اسلامي اصولو، جمهوريت، مساوات، ولسي انصاف او پښتو چليدلی، په برې خوا کې به دربار چې عملا په فارسي او امتيازاتو چليده څه ډول عکس العمل ښودلی وای؟!

پر ۱۹۱۹ زېږدي کال افغان ملت د غازي امان الله په مشرۍ د خپل هېواد د يوې برخې خپلواکي وګټله. د دويمې نړيوالې جګړې په پای ته رسېدو سره، د ښکېل شويو ملتونو په زړونو کې د لوېديز ښکېلاك پر ضد ولولې راوپارېدلې او "د نړۍ د رټلو" د پاڅون حرکت ګړندی شو. د افغانانو لپاره په تاريخي او ملي لحاظ ناشونې وه، چې د دغه حرکت له مسير څخه شاګرځ وکړي. له دې امله د افغانستان حکومت نه مجبور وو چې په کوزې خوا د پښتنو او بلوڅو له خپلواکۍ د څواك سره ملاتړ ښکاره کړي.

فخر افغان وايي چې غازي امان الله خان هم له پښتنو سره مينه پيدا کړه او د خپلو دوستانو په همت يې "پښتون ږغ" نومې مجله راوويستله.



ACKU

یو جرمن محقق چې پر ۱۹۳۲ یې د خپلې ډاکټرۍ کتاب د افغانستان د دولت او د هغه د بین الدول اړیکیو په هکله لیکلی دی وایي چې "نظامنامه" یانې د افغانستان لومړی لیکلی اساسي قانون پر ۱۹۳۲ لومړی پر پښتو او ورپسې په فارسي خپور شوی و، ولولئ:

J. Schwager, Die Entwicklung Afghanistans als und seine Zwischenstaatli chen Beziehungen. Dissertation, Tuebingen, 1932.

په بریې خوا یانې اوسني افغانستان کې د منورینو پېته ډېره نرۍ وه. د امیر حبیب الله (۱۹۰۱-۱۹۱۹) په پاچاهۍ کې د حبیبیې ښوونځی پرانیستل شو (۱۹۰۳). د دغه ښوونځي زده کوونکیو، ښوونکیو، منسوبینو او دوستانو په برې خوا کې د نویو فکري مخکښانو د ډلې زړی جوړ کړ. "جمعیت سري ملي"، "حزب سري دربار" او "ځوانان افغان" د منورینو هغه ډلګۍ وې چې هڅې یې په مجموعه کې په استعمار دښمن دریغ، خپلواکۍ، پرمختګ او په مشروطې (مقیدې) واکمنۍ راڅرخېدلې د (سراج الاخبار یوازې یوه ګڼه پر۱۹۰۵ ز کې راووتله. دغه اخبار دویم ځل د محمود طرزي په مېرانه شپږ کاله وروسته پر ۱۹۱۱ راووت، اته کاله تر ۱۹۱۹ پورې وچلېده او د دربار تر لمن لاندې یې د ۱۹۰۹ کال له کودتا څخه د ژوندي پاتې شویو منورینو راشه درشه تینګه کړه. "تعداد مشترکین رسمی وغیر رسمی سراج الاخبار به ۱۴۰۰ نفر مرسید" [میر غلام محمد غبار له کتاب څخه].

د اعلیحضرت غازي امان الله په پاچاهۍ کې د یوې پرمختلونکې ملي تولنې د رامنځته کېدلو لپاره سریزې چارې پیل شوې. خو له بده مرغه د افغانستان منور پاچا امان الله او د پاچا په سیاست کې اغېزمن منورین په دې و نه پوهېدل چې د افغاني ټولنې ذهني شرایط په ډېره اسانۍ سره د استعمارچیانو له لمسه او ملاتړ د افغانستان په ویجاړولو کې استعمالېدلی شي، خپلواك او پرمختلونکی افغانستان په هند کې د برتانیې د ګټو لپاره د سترګو اغزی و. ناڅاپه یو ورك نومی سړی چې "سواد نداشت" د استعمار په مهارت او برکت د جاکړ په شان د امان الله پاچاهي ووهله. دغه ناڅاپي سړی چې حبیب الله کلکانی (بچه سقاو) نومېده، ځان یې "امیر" او "خادم دین رسول الله" وګڼه او خپله کړنلاره یې په "شفاهانه: ډول داسې معرفي کړه: "من اوضاع بیدینی و "لاتی ګری"

ACKU

حکومت سابق را دیده کمر خدمت دین بستم و شما را از کفر و لاتی گری نجات دادم، اینده من پول بیت المال را به تعمیر و مدرسه ضایع نکرده به عسکر و ملا خواهم داد که دعا کنند مالیات و عوارض بلدی و گمرك نخواهد گرفت، شما رعیت منید بروید و به خوشی بگذرانید". اقتباس د غبار په کتاب کې ولولئ. که ومنو چې لاتي گري له منورتوب سره یو څه سر خوري، نو بیا خو یوه منور ته لاتیگر او منورینو ته لاتي گران هم ویلی شو.

د امیر بچه سقاو په نه میاشتنۍ گډوډۍ (جنوري اکتوبر ۱۹۲۹) کې رنگه شوې لاتي گري یو ځل بیا، خو په ډېر احتیاط سره د اعلیحضرت محمد نادرشاه په واسطه خاپوړې وکړې. دغه تنکۍ لاتیگري د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په څلوېښت کلنه پاچاهۍ ۱۹۳۳-۱۹۷۳ او د سردار محمد داود په لس کلنۍ صدراعظمۍ (۱۹۵۳-۱۹۶۳) کې په لویو او خبرو راغله. د بېلگې په ډول: د ۱۹۷۵ پورې د یوې شمېرنې له مخې څه له پاسه یو سل و پنځلس زره (۱۵۰۰۰۰) بې تره لاتي گران رامنځ ته شوي وو او د یو بل اټکل له مخې اووه دېرش زره (۳۷۰۰۰) لاتي گران د تروال درجې ته لوړ شوي وو. "ماستر او "ډاکتر" ته تروال لاتي گران ویلی شو او پاتې نورو ته چې د دولسم ټولگي برې لیك (بکلوریا) یې تر لاسه کړې وي، بې تره لاتي گران.

هر څومره به چې د افغانستان رول په بین المللي او سیمه ییز سیاست کې فعال کېده، هغومره به د نوموړې نړۍ سره د افغانستان راشه درشه پخېدله او په افغانستان کې به لاتي گرۍ ته اړتیا زیاتېدله. هر څومره به چې لاتي گري زیاتېدله هغومره به د فرعون د طلایي خوسي (دولت) اطاعت کرکېچو کېده. د دویمې نړیوالې جگړې له پای راهیسې له دولت سره د لاتیگرانو ټکر په درې لویو سیاسي دریځونو کې څرگند شو:

۱- کیڼ لاتي گران (شعله یان، خلکیان، پرچمیان، ستم یان او د ستمیانو همزادان، ۲- ښي افراطیان (سني او شیعه گوندونه او غورځنگونه). او ۳- مینځگوره لاتي گران، یاني د وسط حد پلوین لکه افغان ملتیان، مساوتیان، لېبرالان او ملي وزمه قومي او دیني عناصر. درې واړه سیاسي درېځونه له یو بل سره په ټکر کې وو، خو دوی ټولو یو

کړ هدف لاره. هرې ډلې غوښتل چې د واکمنۍ تار (نظام) "بدل" کړي او ټول افغانستان له خپل میل سره سم یوې بلې خوا ته کوښه کړي.
سوربختان (کیڼ لاټي ګران) او شین بختان (ښي افراطیان) دواړه په تخنیکي لحاظ ورته دي: د دواړه لپاره درسي کتابونه په بهر کې چاپ شوي دي. دواړو د خپلو کتابونو له مخې دخوارکي افغانستان لپاره بشپړ خوبونه ویني. د دواړو په عملي سیاست کې د ملت اراده او عقل نامطلوب ګڼل شوي دي. دواړه پخوانۍ شعور په کوټکونو وهي. دواړه په ټولنې کې کرښې راکاږي، یو یې د پوړ (طبقې) په نامه او بل یې د سیکولر (Secular) په نامه. دواړه بل شان فکر نه شي زغملی او دواړه په غیر له خپل ځان څخه نور ټول بالقوه غلیمان ګڼي. دواړه په زړه کې ایډیالوژۍ ته په درنو سترګو نه ګوري (یو ایډیالوژي غلط شعور ته راټیټوي او بل یې دنیوي او د انسان دتصور محصول ګڼي چې د اسماني کتابونو له دینونو سره نه شي پرتله کېدلی). خو دواړه د خپلې واکمنۍ د چلولو لپاره په عمل کې ایډیالوژي د بدلون نه منونکي وسیلې په توګه استعمالوي، یانې ایډیالوژي د شرایطو څخه لوړ او بشپړ واقعیت ګڼي.
ایډیالوژي لږ تر لږه بر شپږو (۶) غټو تکیو ولاړه وي: ۱-په ایډیالوژۍ کې د اوسنۍ وضعې کتنه او د راتلونکې وضعې الهام انځورېږي. ۲- راتلونکې په کې رنګه او له هیلو څخه ډکه معرفي کېږي. ۳- د مطلوبې ټولنې (هدف) لپاره عمل (Action) او خاصې لارښوونې (Direction) په کې پوخ رول لوبوي. ۴- په ایډیالوژۍ کې د هر پام وګړیو (عوامو) ته کېږي، کارل مارکس، ولاډیمیر لینن، بیټوموسولیني، ادولف هیټلر، ماوتسیتونګ او ایت الله خمیني هر یوه خپلې غوښتنې د وګړو په مغزو کې ور ټومبلې. ۵- د دې لپاره چې د عوامو غټ شمېر ملاتړ ته چمتو شي او د مطلوبې (له نعمتونو څخه ډکې) ټولنې په لوري وخوځېږي. ایډیالوژي په ساده او احساساتي ژبې کې رانغښتل کېږي. ۶- په ایډیالوژۍ کې د ټولنې ذهني او مادي واقعیتونه داسې تنظیم مومي چې په اسانۍ سره خپل هویت "Self-identification" تامین کړي، یانې د خپل هویت په سمڅې کې "موږ نورو" او "خپل پردو" ته مورچل ونیسي. په بلې وینا، په ایډیالوژۍ کې عضوي ملاتړ (Organic Solidarity) په میخانیکي ملاتړ

(Mechanic Solidarity) اوړي او د ایډیالوژۍ په مریدانو کې په پتو سترګو د سربښندنې احساس (Devotion) غښتلی کېږي.

شین بختانو او سور بختانو دواړو یو ګډ خوی هم لاره او هغه دا چې دواړو په اسانۍ سره خړبختان (مینځګوره لاثي ګران) ټکولای شول: یوه ورته د "تفکیر" توره برېښوله او بل به ورباندې د "مرتجع" چغړبه (هورا) کوله. خړبختان هغه رټلي لاثي ګران وو چې نه د دې دنیا شول او نه د هغې دنیا.

د پوهاند محمد حسن کاکړ په یوه مضمون کې (روښن فکران څوک دي؟) داسې راغلي دي: ۱- په افغانستان کې د شلمې پېړۍ له نیمایي راهیسې د منور "Intelligentsia" کلمې پر ځای د روښانفکر "Intellectual" ټکي چلن ومیند. ۲- د پېنځه کلنو پلانونو له پیل راهیسې افغانستان نور د "مینځنیو پېړیو یو ګوښه هېواد نه و" او ۳- ولس هم "د خپل سلیم عقل په حکم" روښانفکرانو ته "تر پخوا زیات د قدر په سترګه کتل." ۴- روښانفکرانو د فکر د استقلال پر ځای د نورو څېرو او پېښو ته مخه کړې وه، چې په نتیجه کې یې په افغانستان کې "سیاسي زلزلې" رامنځته شوې. (افغان ملت، ۸۰-۸۱- پرله پسې ګڼه، ۲۲-۱۲-۱۹۹۸)

د افغانانو د یوه اسلامي تنظیم مشر په روښانفکرانو د "ګیدړانو" ټاپه ووهله. استاد حبیب الله رفیع په پېښور کې د روغې پوهې خاوند دی. ګومان کوم چې ده به کیڼ لاثي ګران (خلکیان او پرچمیان) د روښانفکرانو پر ځای "راشن فکران" ګڼلي وي؟ دلته راشن د انګریزي کلمې (Ration) یانې جیرې په مانا استعمال شوی دی. دجهاد "د پاګلو قلندرانو" یو کړکېچو دپلومات ټول روښانفکران بې له توپیره راشن فکران ګڼلي دي. (دا معلومات مې د یوه دوست له خولې تر لاسه کړل.)

په غیر له خلکیانو او پرچمیانو چې د پخواني شوروي اتحاد د وسلو پیسو او یرغل په مټ یې په افغانستان کې بې دانې بوس بادول، په مجموع کې نورو ټولو سیاسي عناصرو او ډلو یو ګډ هدف درلود: ټولو غوښتل چې افغانستان خپلواک کړي، د هر یوه افغان په تېره بیا د وسط حد د سیاستوالو پوهه او تجربه د جهاد په سرلوړۍ کې ارزښتناکه وه. خو د "ورونو او دوستو" دولتونو د تبعیض پال"سیاست له امله د وسط حد سیاستوال له دې ځخه محروم شول، چې له جهاد افغاني هویت غښتلی

کړي او د جهادي تنظیمونو د مشرانو په خوا کې د مجاهدینو سره د دین او هېواد په خدمت کې غبرګ تکامل وکړي او د دین او دنیا په منځ کې د ټول افغانستان په کچه تفاهم رامنځته کړي.

په پېښور کې د جهاد بین المللي دکان پرانیستل شو او یو شو تنه پاګل قلندران د سپېڅلي جهاد د تحویلداری لپاره معرفي شول. دغو تحویلدرانو ته په زانګو کې ویل شوي وو چې په جهاد کې ملي ګټې (د ټول افغانستان ګټې) حرامې دي او دوی باید هغه څه وکړي چې د نورو (اسلامي او غیر اسلامي) دولتونو ملي ګټې په کې په لومړۍ درجه خوندي شوي وي. اغېزمن منورین د اسلامي افراطي تنظیمونو په محاکمې کې د شهیدالفکری بالقوه کاندیدان وو. غربیان د شورویانو د وینې تږي وو او په افغاسنتان کې د یرغلګرو شوروي پوځونو د موجودیت له امله جنت هم د مسلمانو افغانانو د کورونو په درشل کې پروت و. منورینو به چې له ډېرو لوړو هیلو سره ځانونه پېښور ته راورسول هر یوه به لږ و ډېر په دې پوه شول چې په کابل کې یې تن په خطر کې و او په پېښور کې یې سر.

د شهید پوهاند بهاء الدین مجروح څخه واورئ:

*ځم ورځم ورته بـه غم کرم چې بېدار شئ*
*د عالم له تېښتـ او پـــــــاسه خبردار شئ*
*یا به دی اخر خبر شي لــــــه خپل ځانه*
*یا به ما هم ځان سره ورك کړي له جهانه*

پوهاند سید بهاء الدین مجروح چې د فسلفې او روحیاتو په قلمرو کې لاروی شوی و، د سیاست په ډګر کې په پېښور کې د خپل دفتر یانې د "د افغان اطلاعاتي مرکز" په درشل کې د خپلواك فکر د غلیمانو له خوا په ګولیو غلبېل شو (۱۱-۲-۱۹۸۸) ښاغلی عبد الله غمخور په دې سترې ضایعې پوهېږي:

*تسلي د اهل بیتو به څوك وکړي*
*چې امام د روښن فکرو د حلقې ولاړ*

د غزل پلار امیر حمزه شینواری په دوو بیتونو کې د افغان روڼ اندتیا د نولسمې او شلمې پېړۍ تنسته رالنده کړې ده:

له "جمال افغان" نه پس په پښتونخوا کې
هم دا یو بهاء الدین و چې رخصت شو

(ولولۍ: پوهاند بهاء الدین مجروح، نااشناسندرې، افغان اطلاعاتي مرکز، پېښور، ۱۳۶۸ل، ۵۷، ۱۱۳، ۱۲۵مخونه).

یو مشهور امریکایي ټوکي په خپل کتاب کې (۱۹۹۱) د امریکې د بهرنیو چارو په سیاست ملنډې وهي او په دغه اړه د افغانانو په جهاد پسې هم یوه چیچونکي ټوکه توغوي: "واشنګټن له [مُج] یانې مجاهدینو سره د افغانستان د خپلواکۍ لپاره مرسته وکړه. خو افغانستان یوازې [یو روښانفکر] درلود، چې هغه یې هم په جهاد کې له لاسه ورکړ"*[1].

په دغه ټوکه کې له "یوه روښانفکر" څخه مطلب پوهاند بهاء الدین مجروح دی. غربیانو په تېره امریکایي خپلې ګټې د افغانانو د نفس په تزکیې او د شورویانو د وینو په تویولو کې لیدلې. د دغه هدف لپاره سیاسي تفکر ته اړتیا نه وه. د جهاد په انتظام کې سنګر او دفتر یو له بل څخه لرې وساتل شول او د مجروح په شان د نورو افغانو منورینو سرونه هم وربېل شول. د بېلګې په ډول دکړوخېل، چینزي، محمد ذاکر، لودین، غروال، الفت، کټوازي، څدراڼ او کرزي نومونه اخلم.

مینځګوره منورینو (د وسط حد سیاستوالو) تر سختو شرایطو لاندې په ناممکن پسې ډېرې هڅې وکړې. د بېلګې په ډول یو څو یې د پام وړ دي:

۱- پر افغانستان باندې د شوروي له یرغل سره جوخت د ۱۹۸۰ په جنورۍ کې "جبهه ازادیخواهان" عملاً د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي د استادانو په واسطه رامنځته شوه. د ازادۍ غوښتونکې جبهې ډېر ژر د عبدالملك عبدالرحیم زي (۱۹۵۴-۱۹۵۷ د مالیې وزیر او وروسته سیاسي بندي) سره په ډېر پټ ډول تماس ونیو. د دواړو خواوو تر منځ افکار په لیکلي ډول تیر او راتېر شول. په یوې جنازې کې عبدالرحیم زي او د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي استادانو (د ازادۍ غوښتونکې د جبهې غړیو) ګډون کړی و. دجنازې د مراسمو په پای او د بېرته راستنېدلو پر مهال دواړو خواوو په ډېر احتیاط سره یو بل ته غوږونه نږدې کړل. د ۱۹۸۰ په فبرورۍ کې د ازادۍ غوښتونکیو د جبهې په

---

[1]- P. J. O'Rourke, Parliament of Whores: Alone Humorist Attempts to explain the Entire U.S Governmernmetn. New York: The Atlantic Monthly Press 1991.

ابتکار په کابل پوهنتون کې د "درس تحریم" پیل شو چې په نتیجه کې د کابل ښار د خلکو د پاڅون (د کب درېیمه) سریزه شو.

ارواښاد پوهاند سیفي چې د ازادۍ غوښتونکیو د جبهې یو موسس غړی و، لیکي چې: "جبهه ازادي خواهان افغانستان همچون مشروطه خواهان در شرایط نهایت دشوار سیاسی و در برابر نیرومندترین قدرت استعماری یعنی روس دست به مبارزات ازادي خواهانه ملی اکادمیك و میتودیك زده و اعضای ان سخاوتمندانه سر در کف گرفته بجنگ استعمار سرخ شتافتند و به این تلاشها بحیث قدمی در راه مبارزات ملی روشنفکران ارج میگذاریم." (د پوهاند سیفي لاسي لیکنه چې ما ته د ۱۹۹۳ کال په دسمبر کې راورسېدله.)

۲- د ۱۹۸۰ د می په میاشت کې په پېښور کې د "ممثله لویه جرگه" جوړه شوه. د ممثلې لویې جرگې په اړه پوهاند بهاء الدین مجروح چې په پېښور کې به ورته ما پټ پټې "امیر المنورین" وایه، د مسوولیت څخه ډك گامونه واخیستل. زه د همدې کال د می په دویمه نېټه پېښور ته رسېدلی وم او دی څه له پاسه دوه میاشتې وړاندې په فبروۍ کې زه به له استاد مجروح سره غلی غلی گرځېدلم او د ممثلې لویې جرگې د بنستیزې په لیکلو کې مې ورسره خپله ماته گوده مرسته وکړه. ممثله لویه جرگه په لنډ ډول په دې فکر راڅرخېدله چې د جهاد افغاني هویت ټینگ کړي او د ملي مشرتابه د سیاسي مشروعیت د بحران مخه ونیسي.

۳- اتکل پنځلس میاشتې وروسته: ۱۹۸۱ په اگست کې د سویس په مانټر (Montreux) ښار کې "جمعیت تحکیم وحدت و مبارزه ازادی افغانستان" جوړ شو. داسې معلومېږي چې د دغه سازمان په رامنځ ته کېدلو کې ارواښاد ډاکټر محمد یوسف او ډاکټر عطا نورزایي غوڅ رول لوبولی و.

۴- د ۱۹۸۶ په جولای کې د "جلاوطن حکومت" چغه په امریکې کې پورته شوه. د دغه ابتکار په تبلیغ کې پوهاند نیك محمد کامراني (د جنوبي کیلفورنیا په پوهنتون کې د اقتصاد استاد) او ضیا نصري د څرگندې برخې خاوندان وو.

۵- د ژنف له موافقو (اپرېل ۱۹۸۸) څخه یو څه وروسته د ډاکټر محمد یوسف په مشرتابه د جریان "نهضت صلح در افغانستان" اعلامیه

خپره شوه (اګست ۱۹۸۸). د دغه غورځنګ په اهدافو د مباحثې لپاره ډاکټر محمد یوسف د ډاکټر عطا نورزایي او یو څو نورو افغانانو سره یو ځای امریکې ته سفر وکړ. (سپتمبر ۱۹۸۸).

د سولې د غورځنګ په اعلامیه کې داسې وړاندیز شوی و: ژره تر ژره دې "په افغانستان کې د سولې کانفرانس" په یوه ناپېیلې هېواد کې جوړ شي. په دغه کنفرانس کې دی "دو صد الی سه صد افغانهای مقیم افغانستان و خارج آن" برخه واخلي او "د سولې انتقالي حکومت لپاره یوه طرحه" دې ترغور لاندې ونیسي.

د دغه جریان د "جمعیت ارزو" دا وه چې "یکی یا چند نفر از رهبران جهادی تشبث دعوت باین کنفرانس را بعهده ګیرند و در آن همه رهبران جهاد و قوماندانان بارز و شخصیت های ذیصلاح شرکت نمایند." دغه جمعیت "برای هیچ فردی فعالیت نمی کند". له دې جملې څخه داسې معلومېږي چې ذکر شوی جمعیت د افغانستان د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه یا د کوم بل شخص د لاس اله نه ده.

۶- د سولې د غورځنګ له فعالیت څخه یو کال وروسته په امریکې کې د یو شمېر افغانانو په ابتکار "د افغانستان د ملي استقلال جبهه" رامنځ ته شوه. (وږی ۱۳۶۸، سپتمبر ۱۹۸۹) د ملي استقلال د جبهې په مرامنامه کې راغلي دي چې: "د افغانستان د ملي استقلال جبهه د جهاد په نامه د سیاسي قدرت انحصار او احتکار نه مني. د هېواد روښان ضمیره کارمندان، صاحب نظران او علما د کمونستانو او تنظیمي اختلافونو په واسطه په لسوګونو زره شهیدان شول او له بلې خوا یې په جهاد کې د ګټورتوب او موثریت مخه و نیول شوه او د دغې عملیې تاثر د جهاد په روانې ګډوډۍ کې هره ورځ زیات ترګندېږي. له بده مرغه د خونړې وضعې په ارتباط کې ډېر چټك پرمختګونه د افغانستان په ضرر روان دي. له هغې نېټې را په دې خوا چې د شوروي روسیې پوځونه په افغانستان کې له ماتې سره مخامخ شول او ووتل، په هېواد کې روانه فاجعه یوه نوي پړاو ته رسېدلې ده، چې ملت په کابل کې د کابل د ګوډاګي حکومت او د تنظیمونو د نفاق ګرو مشرانو په منځ کې برمته شوي دی."

د افغانستان د ملي استقلال جبهه په خپله مرامنامه کې زیاتوي چې: "په دغسې زړه بوږنوونکې وضعې کې دا د هر هېوادپال افغان ملي او

اسلامي وجيبه او مشروع حق دی چې ملت د تباهی له دغه حالت څخه خلاص کړي، د جهاد افغاني هویت تامین او تقویه کړي او د سیاسي مشروعیت د نشتوالي او پرله پسې بحران مخه پرې ونیسي... د خپل سرنوشت په ټاکلو کې د افغانانو حق خوندي دی او د دغه حق په اساس هر افغان که نارینه وي او که ښځینه د افغانستان د اوسني بحران په رفع کولو کې برخه اخیستلای شي، خصوصاً د محمد ظاهرخان په شان یو شخصیت چې تر ځلوېښتو کلونو څخه د زیاتې مودې لپاره د دولت په سر کې ولاړ و، باید په دې بحراني وضع کې د هېواد په وړاندې خپل وجایب پر ځای کړي. دافغانستان اوسني مسایل جدي دي او دجدي او ثابت قدمه سیاستمدارانوسرښندنو ته اړتیا لري."

۷- په تېر بحث (لومړي ټکي) کې مو په (جبهه ازادي خواهان) کې رڼا واچوله. ډاکټر طاهر هاشمي د دغې جبهې یو موسس غړی دی، نومړی د ۱۹۹۰ په جنوري کې په دې هڅه کې شو، چې که یاده شوې جبهه بیا را ژوندۍ او اساسنامه یې تعدیل شي. په دغه اړه د ډاکټرهاشمي په توضیحي لیك کې راغلي دي: "دهه هشتاد دهه مبارزات گرم و جهاد مسلحانه بود، که توجه مردم ما کاملاً بآن معطوف بود، بناءً بامر سازماندهی و تنظیمی روشنفکری کمتر رسیدگی بعمل آمد، خروج عساکر شوروي از افغانستان مردم ما را در برابر وجابب و مسوولیت های نوینی ناشی از مرحله تکاملی جهاد قرار داد... رویدادهای اخیر بالاخص پس از خروج ارتش شوروي گویای این واقعیت تلخ است که رشد سیاسی در سطح پیروزی های جهادی نبوده و برخورد با مسایل به نحوی که متضمن فردای روشن کشور باشد صورت نمیگیرد.

د افغانستان د ازادۍ غوښتونکیو د جبهې د اساسنامې د تعدیل په وړاندیز کې خوندي شوي دي: "باتوجه به این امر که مبارزات و جهاد مردم مسلمان ما در حساسترین سطح ان به تشتت و پراگندگی رو برو شده و این حالت موجب دوام حکومت کابل و خونریزي ممتدهموطنان ما شده است..." د تعدیل په وړاندیز کې درې هدفونه ښودل شوي دي:

۱- "جستجو و ارائه راه حل سیاسی به بحران موجوده کشور".

۲- "اعاده و تامین استقلال سیاسی کشور از طریق سازماندهی یک مبارزه موثر و گستره به مقصد باندازی قطعی حکومت کابل و قطع مداخلات خارجي.

۳- "ایجاد تفاهم به منظور تهیه شرایط و امکات لازم برای بنیان گذاری یك حکومت انتقالي اسلامي و ملي بر مبنای اراده مردم و مرکب از عناصر ملي و غیر وابسته."

ما په خپل ځوابي لیك (۹-۱۲-۱۳۶۸) کې ډاکتر طاهر هاشمي ته یوه دا هم ور په زړه کړه چې "متاسفانه کدام کوپی اساسنامه اصلی (اولی) جبهه ازادی خواهان که در شهر کابل نوشته شده و توسط اقای عبدالشمس (رئیس موسسه افغانستان در شمال کلیفورنیا) و یا کمك وی به انګلیسي ترجمه شده، تا به امروز بمن نرسیده و ازینرو نتوانستم که فرق و شباهت [جبهه ازادی خواهان] را به [جبهه ازادی خواهان افغانستان] مطالعه کنم."

۸- په کلیفورنیا کې د یو شمېر اوسېدونکیو افغانانو له خوا د ۱۹۹۰ د دسمبر په نیمایي کې "په افغانستان کې د انتخابي حکومت دجوړولو حرکت" رامنځ ته شو او دوه میاشتې وروسته یې "په افغانستان کې د انتخابي حکومت د جوړېدو لپاره طرح" وړاندې کړه. (۱۶-۲-۱۹۹۱). دغه حرکت خپل خپروونکی ارګان (جرګه) ونوماوه چې لومړۍ ګڼه یې د ۱۹۹۱ کال په فبرورۍ کې راووتله. په ذکر شوې طرحه کې داسې راغلي دي:

"څنګه چې حکومت په خپلو سیاستونو او کړنو سره د هېواد د ټولو وګړیو پر ژوند اغېز لري او څنګه چې د افغانستان هېواد د هغه د واکمنۍ په څېر نه وېشېدونکی دی او په ټولو افغانانو پورې اړه لري، څرګنده ده چې د سیاسي مشرتابه او د حکومت رغونه یوازې او یوازې په خپله د افغانانو اختیار او ملي او دیني وظیفه ده. نو سیاسي مشرتوب او حکومت هغه وخت جوړېدلی او ټینګېدلی شي چې د ملي واکمنۍ د اصل په رعایت جوړ شي." د طرحې لنډیز داسې دی:

"په افغانستان، سیمه او نړۍ کې د عمومو د ذهنیت په درناوي د سیاسي ملي مشرتابه او د حکومت د جوړېدنې په مقصد دغه تجویز وړاندې کېږي، خو لومړۍ باید چې په انتقالي پړاو کې حکومت جوړ شي چې د عمومي انتخاباتو له لارې د ملي حکومت د جوړولو لپاره لاره هواره

کړي. د دغسې دولت جوړېدنه په لويې جرګې سره چې د ملي کشالو د هوارولو لپاره د افغانانو ګټوره او اغېزمنه عنعنه ده، کېدونکې او عملي ښکاري." يو اجرائيه هيئت به د تدوير او انسجام کمېسيون د رابللو په لوري فعاليت کوي چې وظيفه به يې د لويې جرګې "لپاره د تدبيرونو نيول وي." د لويې جرګې "اساسي دنده د دولت د سروال په حيث د دغسې يوه شخصيت غوره کول دي چې په ښه نامه ياد وي او خلک يې غواړي." (ولولئ: جرګه، لومړی کال، لومړی ګڼه، کب، ۱۳۶۹).

۹- ډاکټر سيد عبد الله کاظم په کليفورنيا کې اوسېدونکی افغان او د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي پخوانی رئيس، ليکي چې د ۱۹۹۱ په پای کې دې ته اړتيا وليدل شوه چې "ځرخ نهضت [وحدت ملي] را دوباره بعين نام بفعاليت اندازيم".

د کابل پوهنتون د اقتصاد او طب پوهنځيو اووه تنه استادان او يو تن عسکر ډاکټر د ثور له رټلي کودتا څخه اتکل يوه مياشت وروسته په دې بريالي شول چې د ۱۳۵۷ د جوزا په لومړيو ورځو کې "تنهضت وحدت ملي" په کابل کې تاسيس کړي. د بيا را ژوندي کولو هڅې يې د ۱۹۹۳ په وروستيو مياشتو کې د (آيينه افغانستان) په درې پرله پسې ګڼو (۳۱-۳۲-۳۳) کې څرګندې شوې دا ځل د "تنهضت وحدت ملي افغانستان" په نامه معرفي شو.

له دې څخه اتکل يو نيم کال وړاندې (د ۱۹۹۲ په نيمايي کې) په پېښور کې هم "د افغانستان د ملي وحدت غورځنګ" رامنځته شوی و. د موقتې کمېټې په بلن ليک کې راغلي دي: "د افغانستان د ملي وحدت غورځنګ چې له څلورو مياشتو راهيسې... په پېښور کې د يو شمېر... منورينو، قومي مشرانو، قوماندانانو او مذهبي علماوو د تماسونو، د افکارو د تبادل او اوږدو خبرو په نتيجه کې رامنځته شوی اوس په يوه داسې موقعيت کې قرار لري چې ګران هېوادوال يې له موجوديت او سياسي فعاليتونو څخه خبر شي." (د بلنليک نېټه، ۲۵-۶-۱۹۹۲).

داسې معلومېږي چې د دغه جمعيت له ډلې څخه به ۱۹۹۳ په مارچ کې په پېښور کې "د افغانستان د تفاهم او ملي وحدت شورا" راوتلې وي. ډاکټر سيد خليل الله هاشميان د (ايينه افغانستان) مسوول مدير ليکي: "تشکيل شورای تفاهم و وحدت ملي در پشاور يک قدم مهم در زمينه

محسوب میشود. بتاسی از این اقدام و ایجاد موثریت مزید باین نظر امدیم، تا (نهضت وحدت ملی) را که پانزده سال قبل در شرایط حساس و خطیر تهداب آن در... پوهنتون کابل گذاشته شده بود و از مدتی به اینطرف ضرورت احیای مجدد آن بیشتر محسوس میگردید دوباره رویدست گیریم..."

ډاکتر سید عبد الله کاظم چې پر ۱۳۵۷ (۱۹۷۸) کې د (نهضت وحدت ملي) یو اصلي غړی و، په دې عقیده دی چې "دواړه حرکتونه" یانې په کلیفورنیا کې (نهضت وحدت ملي افغانستان) او په پېښور کې (د افغانستان د تفاهم او ملي یووالي شوری) "در بسا مسایل اساسي و مهم دارای وجوه مشترك میباشد." د ډاکتر کاظم د وینا له مخې دواړه حرکتونه: دملي ګټو په محور را څرخي، د اسلام د سپېڅلي دین په اساساتو ولاړ دی، افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور ګڼي. افغان ملت ته "یك ملت واحد و غیر قابل انقسام" وایي، د افغانستان په قضیې کې د نظامي حل لار او بهرنی لاسوهنې غندي، د افغانستان د قضیې د حل په اړه د ملګرو ملتونو همکاري اواقدامونه روغ ګڼي او د ملګرو ملتونو د منشور اساسونو او د بشر د حقوقو درناوی کوي. "آنچه این دو حرکت را از هم متمایز میسازد بیشتر در روش و تاکتیك ها و هم در شرایط محلي است." د تفاهم او ملي وحدت د شورا د هدفونو لپاره ولولئ: [جرګه، درېیم کال، ۶ ګڼه، اکتوبر، ۱۹۹۳، ۲۸-۲۹مخونه.]

د "شرایط محلي" یو سیاسي تعبیر دا دی چې په پېښور کې د افغانانو هېڅ ډول سیاسي خوځښت دجهاد په شان د پاکستان له ملي ګټو څخه سر نه شي غړولی، که څه هم دروغ نیتو افغانانو په لاس به اداره کېږي.

په شاهي دوره کې د افغانستان د پوهنې وزیر ډاکتر عبدالقیوم وردګ د لاسي لیکنو له جملې څخه یوه د ډاکتر محمد حسن کاکړ په وینا د منورینو "په عملي رول" را څرخېږي. دغه لیکنه یې په ۲۵ مخونو کې د ۱۹۹۶ کال په سر کې یانې هغه مهال کښلې وه، چې د کاکړ په وینا "افغانستان د سالم زعامت د نه لرلو په وجه د جنګ او خطر په حال کې و." پوهاند ډاکتر عبدالقیوم منورینو ته د "پرارزش ترین ثروت جامعه" په سترګو کسي. له بده مرغه افغان روڼ اندي د جهاد او ورپسې د تنظیمونو د ګډوډۍ په اوږدو کې په دې بریالي نه شول، چې تر خپلې ډله ییزې

ACKU

مشری لاندې د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو لپاره يو سياسي او نظامي سازمان جوړ کړي. د دې پر ځای به يې يا د اسلامي تنظمونو د مشرانو په اوږو پورې سپوږمۍ ليدله او يا به يې د يتيمانو په شان د افغانستان د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه ته سترګې غړولې.

د پوهاند ډاکټر عبدالقيوم وردګ په وينا د افغانستان منورينو "مفكوره تازه از خود نيافريدند، برنامه مشخص خلق ننمودند و در ساحه عمل از خود هيچګونه زعامتی نشان ندادند و با هر سفر غير مثمر خود به روم (نزد شاه سابق) دنيای بيرونی را متيقن ساختند كه (خودشان) جز يك دسته منيجران مطيع و فرمانبرداری بيش نيستند".

ډاکټر عبدالقيوم وردګ له افغانستان څخه د شوروي پوځونو تر تمبولو درې (۳) کاله وړاندې يانې پر ۱۹۸۶ کې هڅه وکړه چې که منورين د افغانستان د ملي ګټو د ساتنې لپاره د يوه سياسي او نظامي سازمان خاوندان شي. پوهاند محمد حسن کاکړ، چې د منورينو د عملي رول په هکله يې د ډاکټر عبدالقيوم وردګ لاسي ليکنه لوستې ده، داسې کاږي: "محترم ډاکټر عبدالقيوم د منورينو په ډله ييزې سروالی سره د يو سياسي او نظامي سازمان د جوړولو په منظور او د آينده احتمالي کورني جنګ د مخنيوي لپاره د عربستان د مالي مرستې د جلبولو لپاره د دغه هېواد د باندنيو چارو د وزير ښاغلي فيصل موافقه تر لاسه کړه، مګر په غالب احتمال د امريکې د مخالفت په وجه يې دغه پروژه شنډه شوه." په دې اړه له ډاکټر عبدالقيوم وردګ څخه هم واورئ: "من در پی نجات ميهن خود بودم و آنها در صدد خلقت يك ويتنام شوروی در افغانستان." (د نيغو ويناوو لپاره د پوهاند کاکړ ليکنه په افغان ملت کې ولولئ: ۸۰+۸۱ ګڼه، ۲۲-۱۲-۱۹۹۸).

د افغانستان مينځکوره لاېي ګرانو يانې د وسط حد سياستوالو که څه هم په سياسي ډګر کې بې وسه ساتل شوي وو، خپل ملي سياسي نظرونه يې خپل ملت ته په ډاګه کړي دي، هغه ملت ته چې هېواد، ژوند او احساس يې د "روس او امريکې په جنګ" کې يرغمل شوي وو. تيره دېرش کلنه تجربه ښيي چې سوربختان او شين بختان يانې کيڼ او ښي لاېي ګران د افغانستان د ورانولو لپاره روزل شوي وو. سوربختان هغه سياسي ډله وه، چې د ټول افغانستان څخه يې د بين المللي کمونيزم د سياسي مشق

تخته جوړه کړې وه. د دې پر ضد شین بختان یانې اسلامي افراطیان د ګاونډیو "ورونو" او لوېدیزو "دوستانو" په لاس تنظیمېدل. د اسلامي ډلو پاګل قلندران عملا په دې پسې اړم وو، چې د ټول افغان د سپېڅلي جهاد څخه د پردیو د غشیو لینده جوړه کړي، دجهاد افغاني هویت ژوبل کړي، ملي احساس حرام وګڼي او په ویجاړ او بې واکه افغانستان کې د پردیو د محلي صوبدارانو او خودمختاره اولدارانو په څېر د ټول افغانستان عزت او ملي حیثیت خاورې ایرې کړي. د بېلګې په ډول د دوو تنو خړبختانو یانې د وسط حد د روڼ اندانو ملي زګیرویو ته غوږ ونیسي:

حقوق پوه ډاکټر عطا نورزایی چې په شاهي دوره کې د پروان والي و او د اوږدې مودې لپاره د (۱۹۸۰) تر نیمایي پورې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي استاد و، په دې بریالی شو، چې د شوروي پوځونو تر یرغل اتکل شپږ میاشتې وروسته ځان له کابل څخه فدرالي جرمني ته سلامت ورسوي. په لوېدیز جرمني کې یې د ډاکټر حجار په نامه د ۱۹۸۵ په اکتوبر کې یو کتاب خپور کړ، چې سرلیک یې دی: "افغانستان در بازی ابرقدرت ها"

په ۹۶ مخونو کې د ډاکتر حجار کتاب "وطنپرستان مبارز افغانستان" ته ډالۍ شوی دی. د افغانستان ملت او پاچا امان الله خان په غبرګه سره په "یوه ناسیونالیستي زوګ د الله اکبر تر لوا لاندې د جهادجنډه هسکه کړه او د افغانستان خپلواکي یې وګټله". خو پاچا امان الله دخپل ملت د سیاسي بېدارۍ د نشتوالي له امله تر شک لاندې راغی. عامه ذهنیت نور د پاچا امان الله امرونه "مبني بر ارشاد بازیګران اصلي قبول نداشت." او هغه ځمکه چې پخواني غازي امان الله پرې ودرېږي ورکه شوه." (۴-۶ مخونه).

د کین لاس ګرانو یانې خلکیانو له کودتا څخه یو څه وړاندې د جمهوري افغانستان د دولت رئیس محمد داود اسلامي هېوادونو ته سفر وکړ. د دغه سفر وروستنی تم ځای پاکستان و (مارچ ۱۹۷۸). د دې سفر په پای سره د سردار محمد داود رول هم په سیاسي لوبه کې پای ته ورسېد. "نقشی را که باید بازی مینمود، بازی کرد و صفحه را که به اصطلاح باید میخواند، خواند." نوموړی باید "د سیاست له ډګر څخه لرې شي، تر څو د اسلامي انقلاب لپاره زمینه برابره شي.(۶۵مخ) ډاکتر حجار په دې عقیده دی چې د لوبې په دې پړاو کې شوروي اتحاد او أمریکا "تصادفا در اتفاق

عمل قرار گرفته، نه تنها در از بین بردن سردار داود همکاری برادرنه(؟) نمودند، بلکی در بر قدرت رسانیدن رژیم تره کی نیز این همکاری را صمیمانه(؟) پیش بردند." (۷۱مخ) د شوروي اتحاد واکمنو په افغانستان او خاصتا د افغانستان په پارلمان کې د خلکیانو په موجودیت ټینګار کاوه. "مونارشي افغانستان... این نمایش سیاسي را به راه انداخته حتی وجود یکی دو نماینده شان را در پارلمان نیز حتمی میدانست." ډاکټر حجار په افغانستان کې د غټو قدرتونو د لوبې د ښودلو لپاره زیاتوي: "به همین تناسب امریکا هم ارزو داشت تا در افغانستان این (حزب [خلق] موجود باشد، و به فعالیت های متعرضانه خود، به حیث عمل، باعث عکس العمل ها گردند، که احیای "اسلام انقلابي" را در قبال خود داشته باشد و قسمیکه اوضاع سیاسی دهه ۶۰ بعدا نشان داد، در این بازی هم خیلی ها موفقانه به پیش میرفتند." (۵۹مخ).

ډاکټر سید عبد الله کاظم، د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي پخوانی رئیس په دې اند دی چې "د دین او هېواد دفاع" د افغانانو د جهاد اصلي هدف و، خو په پېښور کې د تنظیمونو په چوکاټ کې د افغانانو جهاد ته "محض اسلامي ماهیت ورکړی شو." او محلي جهادي کوماندانان دې ته اړ شول چې د وسلو او مالي مرستو د لاس ته راوړلو لپاره د تنظیمونو مشرانو ته مخ وراوړوي: "دیری نگذشت که پایگاه های مردمی این قوماندانها مبدل به پایگاه های تنظیمی شد و جهاد نیز از شکل مردمی به شکل تنظیمی تغیر ماهیت داد، که در نتیجه دست پاکستان از ان به بعد مستقیما در جبهات داخلی جهاد دراز گردید...: اساسا جهاد مردم افغانستان محض در جهت مقابله با کفر و الحاد اغاز نشد، بلکه مردم به وضاحت می گفتند، هیچ قدرتی نیست که بتواند دین و ایمان را از ما بگیرد. انچه را از ما خواهند گرفت، همانا سرزمین پدری و مهد و جودی ما خواهد بود، که پرورشگاه سالم دین و ایمان ما است." (دهلیز هرات: شکارگاه جدید پاکستان، سن هوزه - کلیفورنیا مورخ اول دسمابر ۱۹۹۴، ۳-۴ مخونه).

له خپلې دې لیکنې څخه اتکل یو نیم کال وړاندې، ډاکټر کاظم د ۱۹۹۳ زیږدي کال د جون پر شپږمه نېټه په یوې بلې لیکنې کې ملي ګران (نشنلستان) له کمونستانو او بنسټپالو سره داسې پرتله کړې دي:

"کمونستها و بنیادگراها هر دو فعالیت خود را در چوکات یک ایدیـنوژي مشخص سیاسي پیش برده که در چوکات معین دستوری از خارج وارد شده با پول و نیروی خارج شکل گرفته، سازمان یافته و بحرکت امده است، در حالیکه ملیگراها از وطن و مردم خود الهام گرفته، منافع و مصالح ملی را بالاتر از هر نوع تعهدات خارجی دانسته، مداخله را از هر کسی و بهر نهویکه باشد رد و محکوم میکنند، چه عرب باشد چه عجم، چه سرخ، چی سبز، چه ابر قدرت یا غیر آن" (موقف و مکلفیت های ملیگراها، ایینه افغانستان، پرله پسې ۳۱مه گنه، اپریل - می ۱۹۹۳، ۲۰مخ).

د ډاکټر کاظم پر اند کمونستان، بنستیان او بین المللي حامیان یې د ملیگرانو په دې "تاریخ رسالت" پوهېږي چې د کمونستانو او بنستیانو د ناکامو او ویجاړوونکو سیاستونو د روند بار پر خپلو ژوبلو شویو اوږو د هدف په لوري راکاږي. "از همین جست که هر دو در برابر ملیگراها بعین شکل جبهه میگیرند هر دو ملتگرایی را معادل به قوم پرستی، تبعیض طلب و خود خواهی توجیه کرده، مورد بهتان و دسیسه قرار میدهند و اینکه میخواهند صف واحد ملت را به ملیت های کوچک تقسیم کنند تا قدرت اتحاد و همبستگی ملت را در هم شکنند." (۲۱مخ).

د نهضت وحدت ملي افغانستان، په اړه چې د تېرو مخونو په نهمه گنه کې مو پرې بحث وکړ، ډاکټر کاظم په "مسئله شخصیتهای سرشناس" گرېږي، نوامبر ۱۹۹۳ د ده په فکر د لویانو تجربه او د ځوانانو انرژي د نهضت وحدت ملي په پرمختگ کې اغېزمن رول لوبوي. داسې برېښي چې د ده نهضت د مرامنامې د مسودې (۲۷-۵-۱۹۹۲) په لیکلو کې به ده ډېر غټ رول لوبولی وي. ډاکټر کاظم لیکي چې د ۱۹۹۱ په پای کې د نهضت وحدت ملي ځینو غړیو "بخصوص ډاکتر لودین و اینجاب (ډاکتر کاظم) تصمیم گرفتیم، تا با تجدید بر مرامنامه، چرغ نهت را دوباره بعین نام بفعالیت اندازیم."

د افغانستان د ملي وحدت د نهضت د مرامنامې په نوي مسودې کې د اصولو او شخص په اړه داسې راغلي دي: "زعامت و قیادتهای شخصي ما را بسوی کیش شخصیت برستي کشانیده و از اعتقاد به اصول محروم

ساخته است. از انرو قیادت "اصول" را بجای قیادت "شخص" مقبول و مرجع میدانیم." (دویم فصل، لسمه ماده).

مخکې تر دې چې د اصولو د مشرتوب غریزه د نهضت وحدت ملي په مشرتابه کې غښتلې شي. له بده مرغه په خپله دغه نهضت د افغانستان د ملي استقلال د جبهې په شان د خپلې مرامناني په اصول او بیوکراسی کې یرغمل شو او پر ۱۹۹۵ یې زور غلی شو. د ۱۹۹۶ په سپتمبر کې د مسعود - رباني ډله له کابل څخه په ماتې ووتله او طالبان هلته ور ننوتل.

له دې څخه اتکل یوه میاشت وروسته (۲۰-۱۰-۱۹۹۶) ډاکټر کاظم یو مضمون خپور کړ چې سرلیك یې و "راه سوم - راه نجات". دلته راغلي دي چې "در شرایط موجود یگانه شخصیتي که با نور ضعیف ولی امیدبخش راه سوم بوده میتواند و همه اقشار مردم بدو ش حلقه خواهند زد، همانا شاه سابق (محمد ظاهرشاه) است و بس" [کاروان، ۳۵گڼه، ۱۹۹۶-اکتوبر ۲۵).

دلته وینو چې پر ملي سطحه کې د اصولو قیادت، د شخص قیادت ته اړ کېږي. د خپل ملي تفکر پر اساس ډاکټر کاظم هڅه کوي چې که په پخواني پاچا، د کونینو د ګوتلو په شان د افغانستان تبه وشلولی شي. په بلې وینا، پخوانی پاچا په "راه سوم - راه نجات" کې د افغاني ټولنې "د ټولو اقشار" لپاره د محور رول لوبولی شي. "و بس".

ډاکټر کاظم که د شخصي قیادت د ټول افغانستان د نجات په خاطر په ضمني ډول اصولي ګڼي، نو په عین وخت کې د ټول افغانستان د خیر لپاره پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه ته په ډاګه وایي چې د جبهه شمال سره د پخواني پاچا یو اړخیزه راشه درشه د "تهداب کج" په شان "بیموازنګي" را منځ ته کړې ده. ډاکټر کاظم دا پوښتنه روغه ګڼي چې "چگونه با پیوستن و همکار شدن با یکي از جناحهای متخاصم و در گیر جنګ میتوان هدف مصالحه و وحدت ملي را در کشور براورده ساخت؟... این که همچو بیموازنگی از اغاز تا حال چگونه مورد تایید روم [مطلب یې پخوانی پاچا دی] قرار گرفت، سوالیست که ذهن اکثر هموطنیان را به خود مشغول داشته است زیرا این وضع با موقف مصلحانه همیشه گی اعلیحضرت پادشاه سابق وفق ندارد." (ولولی: تفاهم بین الافغاني، حالت اضطراری و

دوره انتقالی" د ډاکټر کاظم لیکنه په ازاد افغانستان، میاشتنی، پنځمه ګڼه ۱۳۷۷ ل)

د اسلامي تنظیمونو فساد د غویي د کودتا له دریم پړاو (اپریل ۱۹۹۲ غویي ۱۳۷۱ راهیسي ډیر ښانګور شو چله دغه اړه د هغو اشخاصو قضاوتونه د پام وړ دي چې ځیني "امیران" وو او ځیني یې د امیرانو یاران. د دوی په قضاوتونو کې د جهاد د امیرانو باطن او ظاهر ډاندس شوی دی. د دغو شواهدو لپاره زما یوه لیکنه ولولئ چې سرلیک یې و "امیران د امیرانو او یارانو په قضاوت کې". دغه لیکنه مې د ۱۹۹۶ د مې په ۳۱ مه نېټه بشپړه کړې وه او ورپسې ګومان کوم چې په (افغان ملت) کې خپره شوې وه. یو څو اقتباسونه به دلته ورڅخه بېلګه کړم

- "ملت تنظیم ها را به دیده نفرت می نګرد". (حکمتیار)

- "قیادت حزب ناروا ترین قیادت هاست" (سیاف)

- "په خپله استاد رباني او استاد سیاف دواړه د تنظیمات خارجي سره ارتباط لري او له هغوی سره یې تعهد کړی دی، له هغوی سره یې بیعتونه کړي دي، قراردادونه ورسره لري او د هغوی له خوا تقویه کېږي، نو په دې اساس افغانستان د خارجي لاسونو او خارجي تنظیماتو یوه مستعمره شوه." (صبغت الله مجددي)

- "رهبران خو ملت نه دي تراشلي، اولس نه دي تراشلي، په خارج کې یې جوړ کړي دي، په افغانستان کې خو دا رهبران نه دي جوړ شوي (کوماندان قاري بابا).

- "تمام این احزاب بر اساس روابط موهوم یا مادی بوجود امده... این احزاب نخبه های سیاسي این ملت نیستند. این ها روی عوامل مخصوص به وجود امده اند. بنا بر ان ما نمی توانیم بالای انها خیلی اعتماد کنیم." (شیخ محسني).

- "افغانستان چې ټکه ټکه شو، دې ایډیالوژیو ټکه ټکه کړ... دا کوم سیاسي تنظیمونه چې فعلا وجود لري دا یو هم داسې یو سیاسي تنظیم نه دی. چې... واقعا یوه ملي صبغه ولري." (کوماندان عبدالحق).

" مولوي محمد نبي محمدي په یوه لیک کې برهان الدین رباني ته "... در اثر حوادث تقریبا ۴ سال مسلط بر افغانستان اسلام بدنام، جهاد

ACKU

برباد، ملك و ملت در به در و خاك بر سر شد و عامل این بدبختیها همانا تشبث شما است بر کرسی قدرت و مخالف ملت است از این تشبث...»

زه (لیکوال) به په پنځو ټیکو کې هغو علتونو ته ګوته ونیسم چې د افغانستان د فاجعې په حل کې يې د وسط حل د سیاستوالو د ابتکار او مشرتابه مخه نیولې ده:

۱- د افغانستان په وروسته پاتې ټولنه کې منورينو په تېره د وسط حد سیاستوالو ډېره لږه موقع لرله چې په سر کې يې د مشرتابه خیالونه وګرځي، د اقتصاد شخصي سکتور ډېر وروسته پاتې و او د منورينو لپاره په دولت کې ماموریت، د پرمختګ او ټولنيز اعتبار یوازینی سرچینه وه. د مشروطه واکمنۍ ډېر لنډ پړاو (۱۹۶۴-۱۹۷۳) هم روڼ اندانو ته د دې مجال ور نه کړ چې د افغان ملت د سیاسي ژوند په تنظیم کې د ابتکار او سیالۍ له لارې د خپل مشرتابه تجربه پخه کړي.

۲- په کابل کې د پرمختګ او عدالت په نامه د سوربختانو له لارې د تېري او د ظلم شدت متقابل عکس العمل یانې په پښتنبور کې د شین بختانو تقويه کولو ته اړتیا حتمي کړه. خوارکی افغانستان چې د شوروي اتحاد لپاره د خطر سمڅه وه او د امریکې لپاره د امید رڼوځی و. د غلیمو قدرتونو په لوبه کې کېووت. غربیان په تېره امریکایان د شورویانو د وینې تږي وو. د افغانانو جهاد چې اصلاً د دین او د هېواد د دفاع لپاره پیل شوی و. د اسلامي تنظیمونو په برکت د پردیو د غشو لینده وګرځېده. په دغسې وضعې کې ملي سیاسي تفکر او د ملت ارادې ځای نه لاره، د خړبختانو یانې د وسط حد د لاېي ګرانو لپاره ناشونې وه چې په دریو جبهو کې له کمونستانو، اسلامي افراطیانو او امریکایانو سره ډغرې ووهي.

۳- د وسط حد په لاېي ګرانو کې يو داسې مېړنی راڅرګند نه شو چې د دین او دنیا په منځ کې منځګړی شي. د شاهي دورې وروستنی صدر اعظم شهید موسی شفیق د دې تومنه لرله چې دین او دنیا سره جرګه او پخولا کړي او د (الله اکبر!) تر ناري لاندې د افغان ملت احساس او سربښندنې د افغانستان د ملي ګټو لپاره تنظیم کړي. په دغه ډول تاریخي رسالت کې اوس ډاکټر صمد حامد اغېزمن رول لوبولی شي.

۴- د وسط حد د سیاستوالو د ځکې پټې یانې د پخوانیو لوړ رتبه دولتي مامورينو څخه ګیله کېږي، چې د خپل مقام پر وخت يې له ولس

 څخه لرې او بې ژمنې اشخاص پاتې شوي وو. پر ځان يې ويسايي نه لرله او د مشرتابه ادعا يې نه شوه کولی. تر اوسه د زعامت ادعاګانو کومه ګټه نه ده رسولې. سره له ذکر شويو ګيلو هغوی له خپل وس سره سم په بېلا بېلو سويو هڅې کړې دي. په دې هيله چې که د افغانانو سپېڅلی جهاد د دين او د افغانستان د دفاع لپاره د برياليتوب پړاو ته ورسېږي او ټول افغان ملت ته د دې زمينه برابره شي، چې په خپلو سياسي چارو کې د زماني شرايطو په تناسب وينې او تکړه شي. د بېلګې په ډول د ډاکټر صمد حامد، ډاکټر عبدالقيوم وردګ، استاد شمس الدين مجروح، او ډاکټر محمد يوسف نومونه اخلم. دوی د خپل الله(ج) خپل هېواد او خپل ملت په وړاندې خپل مسووليت ادا کړی دی، که څه هم بريالي شوي به نه وي.

۵- د وسط حد د سياسيونو په منځنۍ پوړۍ کې سياسي فعاليت او سياسي سوسيالوژي د ژنف د تړون (اپرېل ۱۹۸۸) راهيسي هم ګړندي شول او هم يې پيغام تېره شو. د بېلګې په ډول په افغانستان کې د سولې غورځنګ (۱۹۸۸)، د افغانستان د ملي استقلال جبهې (۱۹۸۹)، په افغانستان کې د انتخابي حکومت د جوړولو حرکت (۱۹۹۱)، د افغانستان د ملي وحدت د جبهې بيا را ژوندي کول (۱۹۹۲)، د افغانستان د تفاهم او ملي وحدت شورا (۱۹۹۳) ته ګوته نيسم. د مجموعي تفکر په دغو ټولو سازمانونو کې د واکمنۍ د مشروعيت لپاره لږ و ډېر د افغان ملت په اراده، د افغانستان د خاورې په بشپړتيا او خپلواکۍ، په ملي يووالي، د بهرنيو لاسوهنو په ردولو، د ملګرو ملتونو د منشور په منلو او د بشر دحقوقو په درناوي ټينګار شوی دی. د دغو سازمانونو د غړيو انفرادي هڅې (ليکنې، مرکې او په کنفرانسونو کې ګډون) هم د افغانستان دملي ګټو په خوندي کولو راڅرخېدلې دي. د دوی تر شا د غربيانو وسلې او پيسې نه وې ولاړې او د هغوی نعمتونو څخه هم محروم و، چې د پاکستان، ايران او عربستان د ملي ګټو لپاره د اسلامي تنظيمونو د مشرانو په برخه شوي وو. دوی دخپل ملي او اسلامي مسووليت په بنسټ نه غوښتل چې د افغانستان ملي ګټې ليلام کړي او اسلام بدنام. په ويجاړ شوي افغانستان کې د ملي ټولنې په جوړولو کې خرېختانو ياني د وسط حد سياستوالو ته ډېر درونډ مسووليت په ميراث رسېدلی دی.



ACKU

*اخځلیکونـه:*


۱- اکنـاف اشوران، د اسلام بې تشدد ده سرتېرى، بـاچـا خـان، تومـالیس، کلیفورنیا، نیلـګري پریـس ۱۹۹۹.

۲- د وارد شیلس، روڼ انـدان، تولنـیز علـوم، ټوک، ۷، ۱۹۶۸.

۳- پـاول جـانس، روڼ انـدان، کـره کتنـه، د پـاول هولیندرټولنـه، ۲۶ ټوکـه، ۶ ګڼه، ۱۹۸۹.

۴- راینـهارد، بنډیکس، پـه نـوې نړۍ کـې د روڼ اندانـو معضلـه، ټولنـه، ۲۵ ټوک، لومـړۍ ګڼه، ۱۹۸۷.

۵- خپلواکـي، ۶-۷ ګڼه، ۱۳۶۶.

۶- هینـري کیسنجر، ډیپلوماسـي، ۱۹۹۴.

۷- میر غـلام محمـد غبـار، افغانسـتان در مسیر تـاریخ، ۱۹۶۷.

۹- محمـد حسـن کـاکړ، روشـنفکران څوک دي. افغـان ملـت، ۸۰-۸۱ پرلـه پسـې ګڼه، ۱۹۹۸/۱۲/۲۲.

۱۰- عطـاء نورزایـی، افغانسـتان در بـازی ابرقـدرت هـا، لویدیـز جرمنـي، اکتوبـر، ۱۹۸۵.

۱۱- پ. ج. اور ورك، د فاحشـو پارلمـان، نیویـارك، ۱۹۹۱.

۱۲- سید عبـد الله کـاظم، د هلیز هـرات، شـکارګاه، جدیـد پاکسـتان، سـن هوزی، کلیفورنیـا، دسـمبر، ۱۹۹۴.

۱۳- سـید عبـدالله کـاظم، راه سـوم، راه نجـات، کـاروان، ۳۵ ګڼه، د اکتوبر ۲۵مـه، ۱۹۹۶.

۱۴- سـید عبـد الله کـاظم، تفـاهم بیـن الافغـاني، حـالت اضطـراری و دوره انتقـالی، ازاد افغانسـتان، میاشـتنی، ۵ ګڼه، ۱۳۷۷ل.

۱۵- جرګه، لومـړی کـال، لومـړی ګڼه، ۱۹۹۱.

۱۶- بـهاء الدیـن مجـروح، نااشـنا سـندرې، افغـان اطلاعـاتي مرکـز، پـېښور ۱۹۸۹.

۱۷- رحمت ربي زیرکیـار، امـیران د امـیرانو او یـارانو پـه قضـاوت کـې، ۱۹۹۶/۵/۳۱.

۱۸- ج. شـواګر، د دولـت پـه حیـث د افغانسـتان پرمختـګ او بیـن الـدول اړیکـي یـې، د ډاکټرۍ تېزس، تیوبینګیـن، جرمنـي، ۱۹۳۲.



PROPERTY OF ARIC Established

ARIC
B
4.3833
GHA
8667

# په دغه ټولګه کې د دغو ليکوالو ليکنې لولئ.

زرين انځور
غوث خيبري
پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ
پوهاند ډاکټر حبيب الله تږی
جنرال رحمت الله ساپی
پوهنوال ډاکټر روستار تره کی
پوهاند قانونپوه ډاکټر بورګی
صالحه خالقي
حبيب الله رفيع
محمد ګل وطنپال دياني
نبي مصداق
ډاکټر داود جنبش
آذرخش حافظي
شريف بهاند
ع. ترنل
ډاکټر طارق رشاد
پوهاند ډاکټر روستامل
ډاکټر نثار احمد صمد
او ډاکټر رحمت ربي زيرکيار

ACKU

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني
VEREIN ZUR FÖRDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V
د خپرونو لړ (۱۱)